تفسیر ایوبی حنفی

تالیف

علامۂ عصر وحید الدہر ابو الفضل مولانا محمد عبداللہ سعید الایوبی
القندہاری السلیمانخیلی الحنفی النقشبندی عفی عنہ

الناشر
مکتبۃ القراۃ والتجوید
کانسی روڈ شالدرہ کوئٹہ

بسم الله الرحمن الرحيم

په پښتو ژبه کښي اولنی او په افغاني تاريخ کښي بې ساری په
زرګونو جديدو مسئلو باندي مشتمل

تفسير ايوبي حنفي

شپږم ټوک

اِلَيْهِ يُرَدُّ (٢٥) حٰمٓ (٢٦)

تاليف او تصنيف

د علامة العصر ابو الفضل شيخ التفسير والحديث فقيه دوران مفسر الزمان

حضرت مولانا محمد عبيد الله الايوبي

الکندهاري السليمانخيلي الحنفي النقشبندي حفظه الله تعالى

مکتبة القرأة والتجويد
کاسي روډ شالدره کوټه

د کتاب پیژندنه

د کتاب نوم .... تفسير ايوبي پښتو شپاړسم ټوک

مفسر .... الحاج مولنا محمد عبيد الله الايوبي الكندهاري السليمانخيلي الحنفي حفظه الله تعالى بفضله الوهبي

کمپوزر .... حبيب الحق حقاني

ټايپ .... حقاني کمپيوټر اداره

نشر کوونکې اداره .... مكتبة القراءت والتجويد کاسي روډ کوټه

د چاپ ځای .... لاهور پاکستان

یو نظر دې خوا

هيڅ يو مسلمان هم په قرآن مجيد، احاديثو يا د فقهي په كتابو كي په قصده سره غلطي نه كوي، زموږ اداره تر خپله وسه پوري د كتابو تر ليكلو وروسته تصحيح ته زياته پاملرنه كوي، چي له دې كبله زموږ كتابونه معياري دي، خو بيا هم بنده بنده دی، یو نه یو ځای څه ناڅه غلطي په املاء کي يا په يوه جمله کي ځني صادره سي، نو زموږ د ټولو ناظرينو څخه دا خواست دی چي که ستاسي تر نظر داسي غلطي تېره سي لطفاً زموږ سره تماس ونيسئ، تر څو د كتاب د دوهم وار په چاپ كي د هغې تېروتنې اصلاح وسي.

په درناوي ستاسي ورور شمس الحق شمس



بسم الله الرحمن الرحيم



الطبعة الاولى


١٤٣٢ هجري - ٢٠١١ ميلادي

مكتبة القراءة والتجويد

شارع كانسي كوئته - باكستان
رقم الجوال ٠٣٠٠٣٨٨٥٥٣٥

MAKTABTUL-QIRRAT
WALTAJWEED
KANSI .ROAD .QUETTA
BALOCHISTAN

ISBN 2-7451-3140-0

90000
9782745131409

الحمد لله الذي انزل القرآن، ليكون هداية للانس والجان، والصلوة والسلام على رسوله محمد النبي الامي الذي هدانا سبل الرشد والايمان.

وبعد: دا يو ځلاند حقيقت دی چي د ټولو علومو سرچينه قرآن مجيد دی، او ټوله مروجه علوم طالبان د قرآن مجيد په اسرارو او حکمتونو باندي د پوهيدلو لپاره وايي، لکه چي شاعر وايي:

جميع العلم في القرآن لكن
تقاصر عنه افهام الرجال

الله تعالى لره دي حمد وي چي دا دی ستاسو د مستجابو دعاګانو په وجه د قرآن مجيد پنځه ويشتمه پاره "اليه يرد" او شپږويشتمه پاره "حم" له چاپه څخه راووتل.

او حضرت ايوبي مدظله العالي هم الحمد لله د تفسير وکار ته خپل ټوله وختونه وقف کړي دي، او نور ټوله مصروفيتونه او مشاغل يې ورته پرې ايښي دي، خو څرنګه چي حضرت ايوبي په هفته کښي څو مره ليکي، سمدستي يې موږ هم ورسره ليکو او

چاپ ته يې چمتو کوو

دا تفسير ايوبي ولې ځنډېږي؟

او دا حقيقت هم ستاسي په وړاندي ايږدو، چي حضرت ايوبي چي څرنګه څه ليک وکړي سمدستي يې موږ په کمپيوټر باندي ليکو، داسي نه ده چي حضرت ايوبي مدظله العالي ټوله تفسير ليکلی دی او موږ يې په کرار کرار چاپوو، بلکې څرنګه چي دده لخوا تفسير پوره کېږي فوراً يې وچاپ ته اماده کوو، خو ددې ټولو کارونو تر شا ستاسي دعاګانې هم دي، که چېري حضرت ايوبي د نوي کالو په عمر کښې ليکل کوي او بالکل د صحت او جوړتيا په حالت کښې دی، او همدارنګه موږ ته الله تعالی د ليکلو او چاپولو توفيق راکوي، نو دا ستاسي همکاري ده چي له دعاګانو څخه مو نه هېروئ.

او الحمد لله مکتبه القرائت والتجويد په دې وياړي چي د قرآن مجيد ودې ستر خدمت ته يې ملا تړلې ده او د تجويد د کتابونو سره سره يې د علم تفسير، علم فقه او علم عقائد کتابونه هم چاپ ته سپارلي دي.

ستاسي د دعاؤ په هيله

والسلام

قاري فضل الحق حقاني
باني مکتبة القرائت والتجويد

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سکين او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العلمين الرحمن الرحيم ملک يوم الدين اياک نعبد و اياک نستعين، اى في العبادة عبادة التفسير القرآن الكريم (٢٥) جزء، ٩ بجې د جمعې شپه، ٦ من شهر ربيع الاول من سنة (١۴٣٢ هـ) وأساله الله عزوجل تفسيره على وجه السداد مع توفيق رب العباد بالصحة والسلام وكمال المحبة والصلوة والسلام على سيد البرية وآله وصحبه البررة، واحفظني من الآفات المانعة من هذه الخدمة العالية واسأل الله عزوجل القبول عنده عند العلماء والطلباء والعوام من قوم افغان وعليه التكلان واجعله لوجه الكريم بدون الشرک الخفي من الرياء والسمعة اللهم منک واياک تباركت وتعالى.

الهى عبدک العاصي اتاکا .... مقر بالذنوب وقد دعاکا

فان ترحم فانت لذالک اهل .... وان تطرد فمن ترحم سواکا

دا باران چي پر همهٔ مځکو اوري .... مشرفه يې کړې ذات د کيميا ولي

اِلَيْهِ يُرَدُّ عِلْمُ السَّاعَةِ ؕ

اى علم قيامت يعني متى هي.

فائده: فيجب على كل مؤمن حين سئل عن وقت قيامها ان يقول الله اعلم بها ولهذا قدم اليه على عامله اعني يرد لافادة القصر الحقيقي يعني د قيامة الساعة په وخت نه نبي مرسل په خبر دى او نه ملک مقرب، فعلينا معشر المؤمنين التصديق والاعتقاد والايمان بوقوعها ونقول وقت قيامها اى بتعينها ليس الينا.

وَمَا تَخْرُجُ مِنْ ثَمَرٰتٍ مِّنْ اَكْمَامِهَا وَمَا تَحْمِلُ مِنْ اُنْثٰى وَلَا تَضَعُ اِلَّا بِعِلْمِهٖ ؕ

د خپل پوسو څخه کم ده کم ده.

پوهه: چي كلمه د ما الاول نافيه ده او كلمه د من اولى مزيدة لاستغراق النفي، او ثمرات لفظًا مجرور دى لكن په محل كي د رفع دى او دا احتمال هم سته چي كلمه د ما دي موصوله وي معطوف پر ساعة، والتقدير اليه يرد علم ما تخرج من الثمرات آه، بخلاف قوله تعالى: وما تحمل من انثى فانها نافية (ولا تضع) اى الانثى وو كلمة لا زائدة البته لورود الاستثناء بعده الا بعلمه اى متعرفًا بعلمه، والمراد انه كما لا يعلم الساعة الا الله كذالک ماتخرج من الثمرات وما تحمل

الانثى الا هو، فالاستثناء مفرغ ويتوجه اليه الافعال الثلثة على سبيل التنازع اعمل الاول وقدر في الاخرين، وقال الآلوسي رح الاستثناء من اعم الاحوال اى ما يحدث شيئ من خروج ثمرة ولا حمل حامل ولا وضع واضع ملا بسًا ومصاحبًا بعلمه المحيط سبحانه، واقعًا على تعلق علمه وارادته به.

سوال: تخرج چي مؤنث فعل دى او مسند دى و ما ته نو د تانيث د فعل وجه څه ده؟

جواب: تانيث يې په اعتبار د معنى د ما دى لابمعنى السمرة.

وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ أَيْنَ شُرَكَاءِي

هغه ورځ چي نداء وكړي خداى و كفارو ته چي چېري دي شريكان زما په معبوديت كي؟.

فائده: دا نداء او نسبت د شركاء خداى ﷻ و ځان ته وكړى بناء پر زعم ددوى دى لكه په هغه آيت كي چي تصريح په سوې ده كريمه ''اين شركائى الذين تزعمون''

پوه سه: چي يوم منصوب په اذكر مقدر سره دى كما هو المتعارف.

فائده: ددې پوښتني د خداى عزوجل مطلب تهكم او توبيخ ددوى دى او مجمع عام رسوايي ده ددوى او پر منظر عام اقرار ددوى پر خپل خطا في الدنيا.

قَالُوٓا آذَنَّٰكَ مَا مِنَّا مِن شَهِيدٍ ﴿٤٧﴾

مشركينو وويل موږ خبر كړو تا اى خدايه اوس چي نسته هيڅ څوك د موږ څخه چي شاهدي دي وركړي بتانو ته په شراكت د معبود بالحق سره په معبوديت يعني دوى بېزاره سي له بتانو څخه چي عذاب د خداى ﷻ ويني، او يا معنى د آيت داده چي ما منا من احد چي دوى يعني بتان دي ويني لانهم دوى غائب دي.

وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَدْعُونَ مِن قَبْلُ وَظَنُّوا مَا لَهُم مِّن مَّحِيصٍ ﴿٤٨﴾

يعني لاينفعهم او غاب عنهم ولايرون (ماكانوا يدعون) اى يعبدون (من قبل) ذالک في الدنيا.

پوه سه: چي په علم نحو كي وايي چي قبل چي مضاف اليه يې حذف سي (يعني ذالک) په عوض كي د هغه مضاف اليه دى مبني پر ضمه كرځي، او هم دا سبب دى چي سره د دخوله د من جاره قبل مضموم دى وهذه القاعدة جارية في جميع

القرآن بل في جميع لسان العرب فاحفظها تنفعک في مواضع شتّٰی.

درويش وايي: چي ظن دلته په معنی د يقين دی او ددوی يقين سو چي نسته دوی لره ځای د تېښتي له عذاب څخه د خدای ﷻ، وبالفارسية يقين دانند که از عقاب الهی نيست ايشان را هيچ گريز گاه.

فائده: عاقل لره په کار ده چي هرب او فرار و خدای ﷻ ته وکړي کما قال ففروا الی الله چي فرار و خدای ته وکړئ زړه به يې ارام سي او خدای ﷻ به يې انيس سي، قانون: والانيس لايخاف قهر الانيس او هو عل الملاطفة معه علی کل حال.

حکايت: ذو النون المصري قدس سره وايي چي موږ يو وخت په يوه کښتۍ کي سپاره ؤ او زموږ سره يو ځوان صبيح الوجه چي ښه روښان مخ يې ؤ، نو صاحب د کښتۍ وويل چي يوه هميانۍ چي په هغې کي نقود وه ورکه ده او د سپرو خلګو تلاشي يې شروع کړه د هر راکب تلاشي يې کوله، نو چي نوبت د تلاشي هغه ځوان صبيح الوجه ته ورسېدی چي تلاشي يې وکړي نو ځوان وغورځېدی له کښتۍ څخه پر څپو د درياب کښېنستی څپه داسي ورته وګرځېدله لکه سرير، ذو النون رح وايي چي موږ له کښتۍ څخه ورته کتل ځوان وويل يا مولای ان هؤلاء اتهمون، زه يې متهم کړی يم په غلا سره واني اقسم عليک يا حبيب قلبي چي امر کړه هره دابه بحري چي دلته موجوده وه ماهيان وغيرها چي سرونه دي راوباسي له اوبو څخه او په خولو کي دي جواهرات د درياب وي، دي چي دا خبره لا نه وه پوره کړې چي له دريابه ماهيانو سرونه راپورته کړه چي په خوله کي د هر يوه دريابي غمی يا ملغلره وه چي برېښېدل، وروسته ځوان له څپې څخه درياب ته وغورځېدی او په خيال و ناز پر اوبو د درياب روان سو حتی غاب عنا چي زموږ څخه غائب سو، و يقول اياک نعبد واياک نستعين، ذو النون مصري رح وايي چي زه د دغه ځوان قصې باعثه کړم پر سياحت، ذونون رح وايي چي زما په ياد سو ددې ځوان له حالاتو څخه قول د نبي کريم ﷺ لايزات في امتي، همېشه به زما په مجموع امت کي دېرش (۳۰) کسه وي چي قلوبهم علی قلب ابراهيم خليل الرحمن (يعني دومره قوي زړونه به يې وي لکه د ابراهيم خليل الرحمن چي نمرود چي دده لاسونه ورتړلي وه اور ته يې وغورځاوه او اور ته نا رسيده جبرئيل ورته راغلی او ورته وه يې ويل هل لک من حاجة؟

ابراهيم عليه السلام ورته وويل اما اليک فلا، تا ته خو مي حاجت نسته جبرئيل ورته وويل چي خداى جل جلاله ته خواست وکړه چي له دې اوره نجات درکړي، ابراهيم عليه السلام وويل حسبه من سؤالي علمه بحالي، کافي ما لره د سوال څخه علم د خداى زما په حال سره، نو خداى جلت قدرته وعست رحمته اور ته خطاب وکړى يا نار کوني بردًا وسلامًا على ابراهيم الى اخير قصة ابراهيم عليه السلام، او عليه الصلوة والسلام زياته کړه چي هر وخت چي يو له دې دېرشو کسانو څخه وفات سي بدل الله مکانه آخر.

درويش وايي: چي دغو دېرشو کسانو ته ابدال وايي، نو له دې حکايت څخه معلومه سوه چي هغه ځوان ته د کښتۍ خداى جل جلاله په نظر د لطف کتلي وه چي له قهره د درياب نه بېرېدى او درياب ورته مسخرؤ.

لَا يَسْـَٔمُ الْاِنْسَانُ مِنْ دُعَآءِ الْخَيْرِ

نه ستړى کېږي انسان له دعاء څخه د خير يعني مال او غنٰى او صحت وعافيت (مراد له دې انسان څخه کافر دى لدلالة مابعده عليه)

وَاِنْ مَّسَّهُ الشَّرُّ فَيَـُٔوْسٌ قَنُوْطٌ ﴿۴۹﴾

او که ده ته ورسېږي شر لکه فقر او مرض (فيؤس) اى فهو يؤس (حذف د مبتداء فقير اشاره وکړه تا چي جمله سي او جزاء د ان شرطي وګرځي) او معنى د يؤس نا اميده له رحمت څخه د خداى جل جلاله (قنوط) د قنوط معنى مبالغ په قطع کي د اميد له فضل څخه د خداى جل جلاله.

درويش وايي: چي دمخه فقير وويل چي له انسان څخه کافر مراد دى له دې سببه چي مؤمن خو دعاء د خير کوي او چي خير ورورسېږي شکرېږي وايي او که مسئ ورورسېدى له فضل څخه د خداى جل جلاله او له رحمت څخه د خداى نا اميده نه ګرځي بلکې په ډېر نياز او عجز او په کمال اميد دفع د شر د خداى جل جلاله څخه غواړي.

وَلَئِنْ اَذَقْنٰهُ رَحْمَةً مِّنَّا مِنْۢ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ لَيَقُوْلَنَّ هٰذَا لِيْ

پوهسه: چي کلمه د لام جواب د قسم محذوف ده او کلمه د ان شرطيه ده، والمعنى که موږ ورسوو هغه انسان کافر ته رحمت يعني صحت، مال او عافيت زموږ د خوا وروسته تر هغه ضراء چي دى يې مسه کړى ؤ (ليقولن هذا لي) دا جمله جواب د قسم

ده لفظًا او جواب د شرط ده معنی وغرضه چي دا مال او عافیت زما حق دی ولي چي په ما کي فضل او عمل سته یعني د تجارت په لارو چارو ښه پوهیږم او دوا ګاني د ناجوړیو ښه را معلومي دي، او یا معنی د آیت داده هذا بي دائمًا لا یزول.

وَمَآ اَظُنُّ السَّاعَةَ قَآئِمَةً

او زما ګمان نه کیږي چي قیامت یعني بعث بعد الموت دي قائم او راسي، قالوا من یحیی العظام وهي رمیم.

وَّلَئِنْ رُّجِعْتُ اِلٰی رَبِّیْٓ اِنَّ لِیْ عِنْدَهٗ لَلْحُسْنٰی

او که فرضًا زه راجع کړه سوم ورب ته زما یعني بعث بعد الموت قائم سو او زه هم را ژوندی سوم، په تحقیق د هغه سره به ماله وي حالت ښه من المال والجاه والجلال کما في الدنیا ولي چي دده عقیده داده چي ماته چي مال او منال او جاه وجلال را کړه سوی دی په دنیا کي دا کرامت زما پر خدای جل جلاله دی او دا کرامت به په قیامت کي هم پاته وي، خدای جل جلاله ددوی په جواب کي وایي:

فَلَنُنَبِّئَنَّ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا بِمَا عَمِلُوْا وَلَنُذِیْقَنَّهُمْ مِّنْ عَذَابٍ غَلِیْظٍ ﴿٥٠﴾

جواب د قسم محذوف دی او فاء سببیه ده، یعني والله هر آئینه به موږ خبر کړو هغه کسان چي کفریږي کاوه په دنیا کي، ابن عباس رضي الله عنهما وایي چي د عملوا ترجمه داسي ده چي موږ به دوی ته جزاء ورکړو په سبب د ما عملوا ای في الدنیا من الکفر والمعاصي، او هر آئینه به په دوی وڅکو یعني وبه رسوو دوی ته له هغه عذاب څخه چي ډېر به سخت وي یعني عذاب د جهنم.

وَاِذَآ اَنْعَمْنَا عَلَی الْاِنْسَانِ اَعْرَضَ وَنَاٰ بِجَانِبِهٖ

او هغه وخت چي موږ احسان وکړو یعني په نعمت سره لکه مال او صحت وغیرهما پر کافر، نو دی اعراض کوي له شکر څخه د هغه نعمت (وَنَاٰ بِجَانِبِهٖ) النای ثنی الجانب په پښتو بغل وپیچي، یعني تباعد عنه تعالی بکلیة لفرط غفلته.

وَاِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ فَذُوْ دُعَآءٍ عَرِیْضٍ ﴿٥١﴾

او چي دی یعني کافر مسه کړي یعني ده ته ورسیږي (لفظ د مس چي پر ادنی

سوء کوي اشاره ودې ته ده چي يو ادنى سوء و کافر ته ورسيږي) نو دى اوږده دعاء په دفع کي د سوء کوي كه فقر وي او كه ناجوړي وي الى غير ذالک.

سوال: دعاء خو جسم نه دى چي عرض يا طول ولري؟

جواب: هو! لكن دا لفظ مستعار دى مماله عرض وسيع من الاجسام لكثرة الدعاء والعرب يستعمل العرض والطول في الكثرة يقال فلان اطال في الكلام والدعاء واعرض، فلاني سړي ډيري اوږدې خبري وکړې او ډيره اوږده دعاء يې وکړه واعرض او ډيري پسروري خبري يا دعاء يې وکړه اى كثير، وانما قال عريض ولم يقل طويل ولي چي عريض ابلغ دى تر طويل، ولي طول الاشياء ډير دي والعرض اقله والعمق اقل من كليهما يعني في العرف فاذا كان عرضه كثير فالطول بالطريق الاولى كثير دى قال الله تعالى في صفت الجنة عرضها السموٰات.

پوښتنه: د مخه يې داسي وويل په حال کي د كافر ''اذا مسه السوء فيؤس قنوط'' او دلته يې دا وويل ''فذو دعاء عريض''؟

جواب: دواړه آيته په کافرانو کي دي، والمعنى اذا مسهم الشر دعوا مخلصين له الدين (وهذا معنى د ذو دعاء عريض) بيا چي په اجابت کي د دعاء تاخير وويني يئسوا ويقطعوا بخلاف المؤمنين الصادقين فانهم لا يقنطوا ويرون في تاخير الاجابة حكمة الله عزوجل، او پر مؤمن چي انعام وکړل سي د خداى ﷻ له خوا شخه شكر وايي ولانا بجانبه، او بل د اصل سوال دادى يعني د دفع د تعارض يؤس قنوط بالقلب للنظر الى كفره ومعاصيه و ذو دعاء عريض باللسان بالنظر الى كثرة رحمته تعالى، او بل جواب د و قنوط من الاصنام و ذو دعاء عريض من الله، او هغه جواب چي بعض مفسرينو راوړى دى چي اول آيت يعني فيؤس قنوط په کافرانو کي دى او دوهم آيت يعني ذو دعاء عريض په مؤمنانو عاصيانو کي دى انتهى، فليس بشيئ لانه خروج من سوق الكلام لان الآيات ههنا في بيان حال الكفرة كما لا يخفٰى.

فائده: وفي الحديث الصحيح من احب ان يستجاب دعائه في الشدة (كه د چا خوښه وي چي زما دعاء دې په حال کي د شدت لكه مرض او فقر وغير ذالک قبول سي) فليكثر الدعاء في الرخاء، نو دي ډيره دعاء کوي په حال کي د رخاء يعني لكه صحت او غنٰى وغير ذالک.

قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ كَانَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ

و وايه يا محمد (ﷺ) و كفارو ته د مكې چې تاسې خبر را كړئ (مجموع ارئيتم په عربي ژبه كې په معنى د اخبروني دى بالاتفاق) كه چېرې وي قرآن له جانبه ځخه د خداى.

فائده: ان شرطيه چې لپاره د شک دى رايې وړى او اذا يې نه راوړى نظرًا انكارهم كون القرآن من عند الله وليس الشک راجعًا اليه ﷺ فافهم.

ثُمَّ كَفَرْتُمْ بِهٖ مَنْ أَضَلُّ مِمَّنْ هُوَ فِىْ شِقَاقٍۭ بَعِيْدٍ ۝٥٢

وروسته تاسې كفر و كړئ په قرآن سره يعني چې من عند الله نه دى بلكې مفترى د محمد (ﷺ) دى، نو څوک ډېر ګمراه دى تر هغه چا چې په اختلاف بعيد كې وي له حق ځخه.

فائده: دا آيت متصل دى په هغه قول پورې د خداى ﷻ "قل هو للذين آمنوا هدًى وشفاء".

سوال: مناسب ضمير نه ؤ يعني من اضل منكم، نو د اسم ظاهر د راوړلو څه حكمت دى؟

جواب: حكمت يې دا دى چې موصول په ممن كې په ځاى كې د ضمير راوړى لپاره د بيان د حال ددوى چې دوى په شقاق بعيد كې دي له حق ځخه وتعليلاً وعلت بيانول دي چې په دوى مزيد ضلال سته، لان ترجمة الآية يعني حاصلها ان القرآن من عند الله كان حقًا بلاشبهة وبعد ذالک كان الكفر به شقاقًا بعيدًا من الحق وانتم مع ذالک كفرتم به فلا اضل منكم.

سَنُرِيْهِمْ اٰيٰتِنَا فِى الْاٰفَاقِ وَفِىْٓ اَنْفُسِهِمْ

ژر دى چې موږ به و وينو په دوى آيات د قدرت خپل په اطرافو كې ددوى يعني اهل مكه، ابن عباس رضي الله عنهما وايي يعني منازل الامم الخالية (يعني كورونه او ښارونه د پخوا امتو چې هلاک سوي بالاستيصال او دوى يعني كفار مكه هغه منازل مهلكه ويني په اسفارو كې ددوى شام ته لكه ديار د ثموديانو او وطنونه د قوم لوط.

"وَفِىْٓ اَنْفُسِهِمْ" عطف على في الافاق باعادة حرف الجر يعني في الاستقلال كواحد منها يعني يوم بدر چې سره د كثرته د عدد د مشركانو د مكې چې تخمينًا

(۱۰۰۰) کسه ته بالغ وه او ټوله هم مسلح وه او عليه الصلوة والسلام سره د مؤمنانو فقط (۳۱۳) کسه وه او سلاح يې هم نهايته محدوده وه، با اين همه له کافرانو څخه اوويا (۷۰) کسه ووژل سول او اوويا يې په بند کي د مسلمانانو بنديان سول او هغه نور وتښتېدل، نو دا ټوله واقعه له آثارو څخه د قدرت د خدایؒ وه، او بعض مفسرين وايي چي له في انفسهم څخه مراد بلايا او امراض دي، او مجاهد او السدي وايي چي مراد له آياتو افاقيه ؤ څخه فتح د دقرىؤ ده على محمد ﷺ والمؤمنون وفي انفسهم فتح د مکې ده او عطاء او ابن زيد وايي چي آيات في الآفاق مراد ځني اقطار السمٰوات والارض دي من الشمس والقمر والنجوم والنبات والاشجار والانهار او ايات في انفسهم من لطيف الصنعة وبديع الحکمة، او بيضاوي وايي چي مراد له آيات في الآفاق څخه ما اخبرهم النبي ﷺ من الحوادث الآتية واثار النوازل الماضية وما يسر الله ولخلفائه من الفتوح والظهور على ممالک الشرق والغرب على وجه خارق للعادة، وفي انفسهم ماظهر فيما بين اهل مکة وما حل بهم کفتح مکة او يا ما في بدن الانسان من عجائب النعمة الدالة على کمال القدرة.

درويش وايي: چي علامه بغداد السيد محمود الآلوسيؒ د بيضاوي و تفسير ته نژدې تفسير کړی دی، او علامه البرسويؒ هم تر تفسبر د بيضاوي او د آلوسيؒ طويل تفسير کړی دی چي يې هم پکښي داخل کړی دی، نو زه هم وايم والله اعلم.

حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ اَنَّهُ الْحَقُّ

حتى چي ښکاره به سي دوی ته چي قرآن حق من عند الله دی او رسول دده محمد ﷺ مبعوث من عند الله دی، او يا معنی داده چي توحيد مؤيد من عند الله دی او دين حق دی او شرک باطل دی عنقريب.

اَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ اَنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ شَهِيْدٌ

کلمه د باء زائده ده او "ربک" مرفوع محلاً دی که څه هم په سبب د دخول د باء مجرور دی لکن حقيقةً فاعل د کفٰی دی.

قانون: زيادت د باء نه راځي مګر د کفٰی سره يعني د فاعل شرط د کفٰی.

پوه سه: چي "انه آه" بدل دی د فاعل څخه د كفٰى والمعنى او لم يكف ان ربک على كل شيئ شهيد، او استفهام لپاره د انكار دی او كلمه د واو لپاره د عطف ده پر محذوف كما مر مرارًا في هذا التفسير، تقديره اتشک يا محمد (ﷺ) في عاقبة امرک ولم يكف انه تعالى على كل شيئ شهيد، نو هغه خدای به اظهار د معجزاتو چي وعده يې كړې ده د تا سره كما حقق سائر الاشياء الموعودة او يا معنى د آيت داده چي خدای عالم په حال ستا او د كفارو د مكې دی، يا معنى د آيت داده چي آيا نه منع كيږي انسان له معاصيو څخه او ده لره كافي نه ده چي دی منع كړي له ګنهو څخه هغه دا چي خدای مطلع دی پر هر شي ولايخفٰى عليه خافية نو بيا به جزاء وركړي، او مقاتل وايي او لم يكف بربک شاهدًا على ان القرآن من الله وشهادته على ذالک جعله معجزًا، وقيل غير ذالک.

أَلَآ إِنَّهُمْ فِى مِرْيَةٍ مِّن لِّقَآءِ رَبِّهِمْ ۗ أَلَآ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَىْءٍ مُّحِيطٌۢ ﴿٥٤﴾

آګاه اوسئ چي دوی يعني كفار مكة په شک كي دي بلكې په انكار كي دي له ملاقات څخه د خدای ددوی (يعني بالبعث بعد الموت والجزاء اى العذاب على الكفر والثواب على الشكر) آګاه اوسه چي خدای پر هر شي احاطه كړې ده يعني من حيث العلم اجمالاً وتفصيلاً او من حيث القدرة التامة لايفوته شيئ منها.

درويش وايي: چي تفسير د سورة فصلت د تفسير ايوبي پر شپږم تاريخ د ربيع الاول په وخت كي د مازديګر د ورځي د يكشنبې پای ته ورسېدی (۱۴۳۲) من الهجرة النبوية على صاحبها الصلوة والسلام والتحية وعلى آله واصحابه البررة الكملة والحمد لله على توفيقه لهذا العبد الضعيف لتفسير كلامه المجيد وصلى الله تعالى على خير خلقه محمد وآله وصحبه اجمعين.

مصرع: من نيز حاضر ميشوم تفسير قرآن دربغل

وما توفيقي الا بالله عليه توكلت واليه انيب الله منک واليک تباركت ربنا وتعاليت لا ملجأ ولا المنجأ الا اليک.

سُوْرَةُ الشُّوْرٰى مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَلٰثٌ وَّخَمْسُوْنَ اٰيَةً وَّخَمْسُ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

حٰمٓ ① عٓسٓقٓ ②

پوښتنه: بغوي وايي چې د حسن بن الفضل څخه چا پوښتنه وکړه چې ولې يې حٰمٓ عٓسٓقٓ دوه ځايه کړې، او كٓهٰيٰعٓصٓ چې پنځه حروفه دي دوه ځايه يې نه کړې؟

هغه په جواب کې ورته وويل چې دا سورت له هغو سورتونو څخه دى چې په سر کې يې حٰمٓ دى نو يې هغسې راوړى لکه نور حواميم سورتونه يعني چې يوازې حم پکښې وي په اول کې، او بل جواب يې دا و وايه چې په دې سورت کې حم مبتداء ده او عسق يې خبر دى ځکه حم عسق دوه آيته بلل سوي دي، ولې چې مبتداء او خبر خو يو ځاى نه ليکل کيږي بخلاف کهيعص هغه يو آيت کښل سوى دى، او بعض داسې جواب ورکوي چې اهل تأويل په کهيعص اختلاف نه لري چې دا حروف دي د تهجي وي وکذا في اخوانه مثل المص لا غير التهجي بخلاف حم عسق فانهم اختلفوا فيه قال بعضهم حم د حروفو څخه نه دى او دوى يې فعل بولي معناه حم اى قضى ماهو كائن بلکې عکرمة له ابن عباس رضي الله عنه څخه داسې روايت کړى دى چې تهوله حٰمٓ عٓسٓقٓ كه د حروف تهجي څخه نه دى بلکې (ح) حلم ته د خداى اشاره ده او (م) مجد د خداى دى او (ع) علم د خداى دى او (س) سنا يعني بلندي د خداى ده او (ق) قدرت د خداى دى، اقسم الله بها اى بحلمه ومجده وبعلمه وسنائه وقدرته، دغه رنګه له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دى ما من نبي صاحب كتاب الا وحيت حٰمٓ عٓسٓقٓ.

پوښتنه: د مخه تېره سوه چې حم مبتداء ده او عسق يې خبر دى نو د حمل يې څه معنٰى ده؟

ځواب: حم په معنى د هذه السورة عسق دى يعني نوم يې عسق دى.

درويش وايي: چې جواب د مبتداء او خبر ضعيف دى جدًا.

فائده: سورة الشورى روح المعاني، روح البيان، مظهري، بيضاوي او نور ګڼ شمېر مفسرين يې مکيه بولي من غير استثناء، لکن په بحر العلوم کې وايي هي مكية الا اربع آيات من قوله تعالى لا اسئلكم اجرًا الا المودة في القربى الى

اخیر اربع آیات فانها مدنیة، وقال مقاتلؒ چي په دي سورة کي مدني دی دا قول د خدای ﷻ ذالک الذي یبشر الله عباده الی الصدور، او بعض مفسرانو دا آیت هم استثناء کړی دی ام یقولون افتراه الخ، جلال الدین السیوطيؒ وایي دلالت کوي چي دا آیت هم مدني دی ما اخرجه الطبراني والحاکم في سبب نزولها انها نزلت في الانصارؓ، او دا آیت هم مدني ګڼل سوی دی "ولو بسط الله الرزق العباده الخ" فانها نزلت في اصحاب صفةؓ او دا آیت هم بعضو مدني ګرځولی دی "الذین اذا اصابهم آه" حکاه ابن الفرس.

پوښتنه: دومره ډېر مستثنیات چي لري نو ولي روح المعاني، روح البیان، مظهري، بیضاوي او نور ګڼ شمېر مفسران یې یوازي مکي بولي؟

جواب: اطلاق د مکي پر دغه سورت په اعتبار د اغلب اجزاؤ دی.

كَذٰلِكَ يُوْحِيْٓ اِلَيْكَ وَاِلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكَ ۙ اللّٰهُ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ③

ای مثل ما في هذه السورة من المعاني او یا معنی داده چي مثل ایحاء ددې سورت خدایؑ اوحی الله الیک والی الرسل من قبلک.

سوال: وحي و من قبل الرسول ﷺ ته خو ماضي وه، نو مضارع یې ولي راوړه؟

ځواب: لپاره د احضار د حالت ماضیه او بل لپاره د تنبیه پر دې چي ایحاء د خدای ﷻ عادت مستمره دی (نو مضارع لپاره د استمرار ده)

فائده: د عزیز معنی غالب ده فیما اراده لایمنعه مانع عن فعل مایریده، او د حکم معنی معبب في حکمه ولا یصدر عنه عبث.

لَهٗ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الْاَرْضِ ۭ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ ④

پوهسه: چي جمله صفت ده الله بتقدیر الذي یعني الذي له آه خدای لره دي ملګا وخلقًا وعبیدًا هغه شیان چي په اسمانو کي دي من ذوی العقول کالملائکة او غیر ذوی العقول کالشمس والقمر والکواکب وغیرها مما لایعلمه الا الله (دا تعمیم بناء پر دې دی چي کلمه د ما عامه ده دواړو فریقینو ته شامله ده وهو الاصح) او هغه شیان چي په مځکه کي دي من ذوی العقول کالانس والجن اوغیرهم من الحیوانات الماکولة وغیرها من الجبال والانهار والدفائن والخزائن

من الجواهرات والذهب والفضة وغيرها مما لايعلمها الا الله عالم الغيب، او خدایؒ علٰی او بلند دی په قدرت پر خپل العظيم حكمته.

تَكَادُ السَّمٰوٰتُ يَتَفَطَّرْنَ

يو قرائت يې په ياء هم راغلی دی يعني يكاد لان الفاعل وهو السمٰوات مؤنث غير حقيقي يجوز فيه التذكير والتانيث كما حقق في النحو ''يتفطرون'' والمعنى قريب ده چي اسمانونه سره وچوي، قتادهؒ وايي من عظمة الله جلاله جل شانه، او بل جماعت د مفسرينو وايي منهم الحاكم وصححه عن ابن عباسؓ انه قال تكاد السمٰوات يتفطرون اى من ثقلها لكنها لم يتفطرون بقدرة الله تعالىٰ وقيل چي له سبب څخه د ترک د مشرکانو او يا د سبب څخه د نسبت د ولد و خدای ﷻ ته لكه نصاری چي وايي عيسى ابن الله كما في سورة مريم لقد جئتم شيئًا اذًا ان دعوا للرحمن ولدًا، تكاد السمٰوات يتفطرون، وقيل يتفطرون من كثرة الملائكة كما روى ابن مردوية عن انسؓ والذي نفس محمد بيده ما فيها اى والسمٰوات موضع بشر الا فيه جبهة ملك ساجد يسبح الله بحمده، وروى البغويؒ بلفظ مافيها موضع قدم الا وعليه ملك قائم او راكع او ساجد.

مِنْ فَوْقِهِنَّ

كلمة من للابتداء يعني ابتدا د انفطار به يې له لوړې څخه د اسمانو كېږي.

پوښتنه: جهة فوق يې ولي په انفطار سره خاص كړی؟

ځواب: لوی والی د عظمة د خدای او د جلال دده د لوړي خوا څخه دی من العرش والكرسي او صفوف د ملكو چي تسبيح او تحميد او تهليل وايي حول العرش هم ده لوړي خوا څخه دی، فالمناسب ان يكون ابتداء التفطر للسموات من تلک الجهة الفوقانية، يعني اول به لوړ اسمان كښته راولوېږي ثم وثم الى ان ينتهى الى اسفلها فيطفر الاسفل على الارض فلا يبقىٰ سماء الاسقت على الاخرى كما في قوله تعالى في سورة مريم ''تكاد السموات يتفطرون منه وتنشق الارض وتخر الجبال هدًا ان دعوا للرحمن ولدًا'' نو دا آيت دلالت پر دې كوي چي تفطة ده دس تهدېن به ضرور او په طريق اولی كېږي، ولي چي دغه كلمه محال ده چي رحمن

لره ولد سته خو د مځکي والو څخه صادره سوې ده نو چي دغي كلمه شعساء پر لوړو اسمانو تاثير وكړي نو پر كښته به په طريق اولى تاثير كوي.

درويش وايي: چي علماء د تفسير د قرآن عزيز وايي چي د قرآن مبارک ايتونه على الاكثر تفسر بعضها بعضًا دي، نو چي په سورت مريم كي لكه عنقريب چي ذكر سو چي انفطار د اسمانو له سببه څخه د نسبت د ولد و خداى ﷻ ته دي چي عيسى ابن الله يې باله نو په دې اوسني آيت كي چي عنقريب ذكر سو يعني تكاد السموات يتفطرون د فقير په شخصي رايه سره هم هغه تفسير د سورة مريم اولى بالقبول دى ،، مصرع: وللناس فيما يعشقون مذاهب.

وَالْمَلٰٓئِكَةُ يُسَبِّحُوْنَ

او ملكي دده تنزيه وايي عما يقول الظالمون من نسبة الولد اليه تعالى شانه وبل عن كل ما لايليق بشانه تعالى خاضعين لما يرون (اى يعلمون) من عظمة الله "بحمده) اى ملابسين بحمده تعالى يعني سبحان الله وبحمده لپاره د شكر د انعامامو د خداى ﷻ پر دوى.

بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيَسْتَغْفِرُوْنَ لِمَنْ فِى الْاَرْضِ ؕ

او طلب د مغفرت كوي د هغه چا لپاره چي په مځكه كي وي (اى المؤمنين په سبب د اخوة په ايمان كي)

اَلَآ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ۝

آگاه اوسه چي خداى غفور بخښونكى د گنهو د بندگانو بالتوبة جزمًا و بلا توبة ان شاء او خداى پاک مهربان دى پر بنده گانو باندي چي مهلت وركوي او ژر عذاب نه پر نازلوي خصوصًا امت د نبي الرحمة ﷺ

بيت: .. صبا دينے ميں ہم غريبوں كا سلام كہنا.... نہيں ہے كوئى بجز تمہارى بس ميرا اتنا پيام كہنا

فائده: جمله د "وستغفرون" حال ده له فاعل څخه د يسبحون.

وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ اللّٰهُ حَفِيْظٌ عَلَيْهِمْ ۖ

او هغه كسانو چي اخستي يې دى ما سوى د خداى څخه شركاء او انداد (كه

بتان وي او که ملکي دي) حفيظ يعني رقيب او ساتندوی او خبر دی ددوی په احوالو او عمالو، نو هغه حالات او اعمال ددوی د خدای ﷻ سره محفوظ دي فيجازيهم في الدنيا والآخرة.

وَمَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ بِوَكِيْلٍ ۝۶

او ته نه يې يا محمد پر دوی باندي وکيل چي ته به دوی و هدايت او اسلام ته رسوې، يعني ما عليک الا البلاغ المبين وقد فعلت فلا تحزن بعدم ايمانهم.

وَكَذٰلِكَ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا

پوه سه: چي کذالک اشاره ده مصدرية ته يوحی او قرآنًا چي عربيًا يې صفت دی منصوب دی مفعول به د اوحينا دی، او يا کذا اشاره ده معنی ته د آيت متقدمه فانه مکرر في القرآن في مواضع نو کاف يې مفعول به او قرآنًا عربيًا يې حال دی، حسين کاشفي رحمه الله سليس ترجمه اين آيت نمود وميگويد همچنانکه وحي کرده ايم هر پيغمبر را قرآنيکه بلغت قوم او و وحي کرديم بتو قرآني بلغت عرب که قوم تو اند تاکه ايشان فهم کنند انتهی.

لِّتُنْذِرَ اُمَّ الْقُرٰى وَمَنْ حَوْلَهَا

ای اهلها چي مراد ځني مکې وال دي، ولي اکثر عرب د مکې څخه وتلي دي.

فائده: مکه مکرمه يې ام القرى وبلل تشريفًا لها واجلالاً، ولي د مکې په ښار کي بيت الله المکرم ومقام ابراهيم عليه السلام موجود دی، او بل په دې سبب چي په حديث شريف کي راغلي دي چي مځکه ټوله لاندي تر مکې مکرمې خدای جل جلاله غوړولې ده، نو محل د نورو قريو مکې ته لکه محل د لوښو دی و مور ته.

"وَمَنْ حَوْلَهَا" چي شاوخوا د مکې چي نور عرب دي.

ترجمه: ددې لپاره مي قرآن عربي تاته يا محمد وحي کړی تا چي ته وېروې په دغه کتاب عربي سره اهل د مکې او شاوخوا د مکې چي نور عرب دي (تا چي دوی ټوله ستا سره په اعلاء کي د کلمة الله مرسته وکړي) او يا مراد قرې د ټولي مځکي دي مشرقها ومغربها جنوبها وشمالها، کما جاء في الحديث الصحيح کما رواه

الطبراني بسند صحيح عن السائب بن يزيد قال رسول الله ﷺ (۱) فضلت على الانبياء بخمس (ماته تفضيل راکړل سوی دی پر نورو انبیاؤ په پنځه شیانو) بعثت الى الناس كافة (زه استول سوی یم و ټولو خلګو ته بخلاف سائر الانبياء فانهم مخصوص بقوم لکه موسیٰ و عیسی علیهما السلام الی بني اسرائیل فقط لا العرب مثلاً) (۲) و ذخرت شفاعتي لامتي (ما ذخيره کړی شفاعت خپل د خپل امت لپاره يعني في يوم القيامة) (۳) ونصرت بالرعب شهرًا امامی وشهرًا خلفي (زما سره کومک کړل سوی دی يعني د خدای ﷻ له جانبه څخه چي زما څخه بېرېږي يعني کافران يوه مياشت مسافت د مخ د خوا او يوه مياشت مسافه د شا د خوا.

سوال: که کفار له ده څخه بېرېدلای نو بدر، احد او احزاب ته ولي دده د جنګ لپاره راتله؟

ځواب: جنګ خو منافي له بېري سره نه دی، ژوندی مثال يې د افغانستان جنګ دی بې چاره بې سلاح يو محدود نفر طالبان د دين اسلام د ساتني لپاره د امريكا او ناټو د عسكرو سره جنګېږي، سره ددې چي امريكايان او ناټو په بمبار طيارو پر دوی بمباری کوي او نوري درنې وسلې پر دوی استعمالوي.

(۴) وجعلت لی الارض مسجدًا وطهورًا (او ماته ګرځول سوې ده ځمکه مسجد (يعني د لمانځه ځای، يعني هر ځای د ځمکي چي وخت د لمانځه راغلی هورې زه کولای سم چي لمونځ وکړم بخلاف اهل الاديان الاخر چي د هغو لمونځونه مخصوص په کنائسو او مبيع سره ددوی وه او بل دا چي زما لپاره ځمکه چي او به نه وي ځای د طهارت ده يعني بالتيمم عند عدم الماء او په نورو امتو کي تيمم لپاره د لمانځه یا نور لکه مسح المصحف روا نه ؤ.

(۵) واحلت لي الغنائم ولم يحل لاحد من قبلي (او ماته روا سوي دي يعني د خدای ﷻ له خوا څخه غنيمتونه او د غنيمت اخذ و هيڅ چا ته د نورو امتو نه ؤ روا (بلکې د نورو امتو قانون شرعي دا ؤ چي غنيمتونه به يې جمع کړه که به په غنيمتو کي چا غلا نه وه کړې د اسمان له خوا څخه به اور راغلی ټول غنيمتونه به يې وسوځل، او که به په غنيمتو کي غلا سوې وای نو اور خو به راغلی د اسمان له خوا څخه لکن غنيمتونه به يې نه سوځل، دا علامه نه قبول وه بيا به نبي د هر امت

چي به ؤ د خلکو سره به يې قومًا قومًا بيعت کاوه د هر سړي لاس چي به د نبي له لاسه نه جلا کېدی هغه غل ؤ، نو هغه غله چي به غلا کړی شی راوړی وای او پر غنيمتو يې ايښی وای وروسته به اور سوځل) او مسلم په کتاب صحيح کي او ترمذي له ابی هريرة رضی الله عنه څخه داسي روايت کړی دی چي عليه الصلوة والسلام وويل: فضلت على الانبياء بست، په شپږو شيانو، او شپږم يې دا روړی دی وختم بی النبيون او ختم کړل سوي دي په ما سره انبياء يعني تر ورځي د قيامت بل نبي نسي راتلای (ځکه يو لقب د رسول الله صلی الله علیه وسلم خاتم الانبياء دی).

وَتُنْذِرَ يَوْمَ الْجَمْعِ لَا رَيْبَ فِيْهِ ط

او چي ته وبېروې (يعني اهل مکه ومن حولها (دا مفعول به د تنذر دی) حذف کړل سوی دی لپاره د تعميم او تهويل) له يوم الجمع څخه مراد قيامت دی، وجه التسمية لانه يجمع فيه الخلائق من الاولين والآخرين واهل السموات والارض او عمل کونکی سره د عملو.

پوښتنه: چي يوم ظرف نه دی بلکي کلمه د باء ورسره محذوفه ده ای بيوم الجمع کما في قوله تعالى لتنذر يوم التلاق، في سورة حم ای بيوم التلاق.

"لَا رَيْبَ فِيْهِ" کلمه د لا لپاره د نفي جنس ده يعني هيڅ شک نسته په وقوع کي د يوم الجمع.

پوښتنه: د يوم الجمع څخه مراد ورځ د قيامت ده، منکران يې تر حد تېر دي فضلاً عن الشاکين نو د نفي الجنس څه توجيه ده؟

ځواب: قرآن مبارک خو داسي وايي چي هيڅ شک په راتلو کي د يوم الجمع نسته دا نفي خو صحيح دي يعني چي نظر صحيح ولري نو خو بايد په دې يې يقين سي چي په دنيا کي خو عاملين د ايمان او طاعت سته او عاملين د کفر او معصيت سته، ددې دوو ډلو تر منځ امتياز ضروري دی بالثواب للفريق الاول والعقاب للفريق الثاني، په دنيا کي خو امتياز کلي نه دی سوی فلا بد من الدار الآخرة يمتاز الفريقين فيه او انکارًا يا شک د منکرانو خو ددوی په زړو کي، ولنعم ماقيل: الشمس شمس وان لم يرها عين الضرير (يعني پر لمر يې ستړکي برېښي)

والعسل عسل وان لم يجد طعمه فاه المرير (چي خوله يې ترخه يعني صفراوي وي) حاصل د جواب دادی چي تاوان او شک په يوم الجمع کي چي قرآن په ناطق دی نسته، تاوان د منکرانو په زړو کي دی.

فَرِيقٌ فِي الْجَنَّةِ وَفَرِيقٌ فِي السَّعِيرِ ۝٧

يوه ډله د مجموع د وو ډلو څخه به په جنت کي وي او يوه د مجموع د وو ډلو څخه به په اور کي وي.

پوه سه: چي پر مجموع لفظ د جمع دال دی.

درويش وايي: چي بعد جمعهم في الموقف لانهم يجمعون اولاً في الموقف ثم يفرقون فريق منهم يعني المؤمنين في الجنة وفريق وهم الكافرون في السعير، فيحصل الامتياز الكلي بين قسمی المجموع الكلي فافهم.

سوال: فريق خو په دواړه ځايه کي مبتداء ده او في الجنة يا في السعير يې خبر دی نو د فريق چي نکره ده نکره ابتدائيه يې څرنګه صحيح کيږي؟

ځواب: دا نکره متخصصه ده په صفت سره چي منهم محذوف دی يعني فريق منهم په دواړه ځايه کي ويدل على المحذوف بانی الکلام يعني المجموع الذي دل عليه لفظ الجمع فتدبر.

وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَجَعَلَهُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً

که د خدای ج اراده وای ګرځولي به يې وای دوی يعن دغه امت چي دوې فرقې سو امت يو، قال ابن عباس رض پر يوه دين واحد چي دين د اسلام دی کما جاء في اية أخری ولو شاء الله لجمعهم على الهدی.

پوه سه: چي مراد له دې شرطيه څخه يعني ولو شاء الله آه مشيت تکويني دی يعني بدون اختيارهم لکن چونکه بنده ګان خدای پاک و خپل اختيار ته سپارلي دي په دنيا کي چي ايمان مختاره کوي يا کفر لهذا امة واحدة نه وګرځيدل بلکې فريقين.

درويش وايي: چي شرطيه يې مصدر په لو امتناعي سره کړی دد دې لپاره چي داسي اراده خدای جل جلاله چي حکيم مطلق دی خلاف د حکمت څخه ده لان الايمان الاضطراري موجب د ثواب نه دی په اخرت کي او نه کفر اضطراري سبب د عذاب

دی، نو معنی د آیت داده که فرضًا خدای ﷻ یو د دغو دوو ارادو څخه کړې وای یعني ایمان الجمیع یا کفر الجمیع هغسي به سوي وای لکن چي داسي اراده يې نه وکړه له دې جهته څخه چي فائده د خلق الله الاختيار في عباده ظاهره سي يعني دخول د جنت به مربوط باختيارهم الايمان والطاعة في الدنيا و دخولهم النار به په سبب د کفر اختياري ددوی په دنيا کي به مربوط سي فلا يبقى للكافرين موضع اعتذار في دخولهم النار.

وَّلٰكِنْ يُّدْخِلُ مَنْ يَّشَآءُ فِىْ رَحْمَتِهٖ ط

لکن خدای داخلوي چي ورته اراده يې يې په رحمت کي يعني الهداية الى دين الاسلام باختياره.

وَالظّٰلِمُوْنَ مَا لَهُمْ مِّنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ۝٨

او ظالمون يعني کافران په اختيار سره ددوی کفر بالاختيار نسته دوی لره په ورځ د اخرت کي نه دوست او نه مرسته کونکی چي دوی له عذاب څخه د اور خلاص کړي.

فائده: د ولي او نصير تر منځ عموم او خصوص من وجه دی، ګاهي د سړي ورور يا زوی چي دده د ورور يا پلار سره د چا جنګ وي هغه بل ورور يا زوی مرسته ورسره وکړي د ظالم دفع څني وکړي، وهذه مادة الاجتماع للولي والنصير، او ګاهي پردی سړی د مظلوم پر پله ودرېږي او له ظالم څخه يې خلاص کړي، نو دلته دا بيګانه سړی نصير دی او ولي نه دی، او ګاهي د يو سړي د زوی د يو چا سره جنګ سي پلار يې حاضر وي لکن ناجوړی يا سپين ږيری وي له زوی څخه ظالم نسي دفع کولای نو دا پلار ولي دی نصير او کومک کونکی نه دی، نو کافرانو ته په قيامت کي نه ولي سته او نه کومکي چي دفع د عذاب له ده څخه وکړي.

نکته: په دې وروستنی ډله کي چي کافران دي خدای ج داسي نه وويل ويدخل من يشاء في نقمته (ای عذابه) چي صريح مقابل به وای د يدخل من يشاء في رحمته اشاره ودې ته ده چي ادخال في العذاب سبب يې په خپله داخلان دي بسبب سوء اختيارهم الكفر في الدنيا لا من جهة الله تعالى فقط لكونه ح ظلمًا كما في

الادخال في الرحمة فانه من عنده تعالى چي مؤمن ته يې توفيق د هدايت او ايمان ورکړی چي موجب د ادخال في الجنة يې په خپل خدا داده اختيار سره مختار کړی بخلاف الکافر لانه صرف الاختيار الى الکفر چي موجب د اورؤ.

سوال: که خدای جل جلاله کافر ته توفيق د موجب د جنت ورکړی وای خو هغه به هم ايمان راوی وای؟

ځواب: کافر خو خپل خدا داده اختيار و کفر ته مبذول کړی نو بيله اختياره دده هدايت په کافر پيدا کول امر تکويني دی، هغه دمخه موږ بيان وکړی چي خدایؒ داغسي نه کوي فتدبر غاية التدبير.

اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ

آيا دوی يعني المشرکين مختار کړي ماسوٰی له خدایؒ څخه دوستان، دا جمله عطف ده پر والظالمون.

پوه سه: چي کلمه د ام منقطعه ده معنی يې بل ده، او همزه کلمه د بل لپاره د انتقال ده د ماقبل کلام څخه و مابعد ته او همزه لپاره د انکار دی د وقوع دده اتخاذ من دونه اولياء چي مراد ځني بتان او شيطانان دي ای لاينبغي ذالک يا معنی داده چي تتخذون اوليا نه دي.

فَاللّٰهُ هُوَ الْوَلِيُّ

خدایؒ فقط ولي دی کما يدل على قيد فقط چي فالله مبتداء ده او الولي يې خبر دی او هو ضمير فصل دی چي ضمير فصل په قول د نحاتو دلالت کوي پر حصر د خبر پر مبتداء يعني ههنا حصر الولي پر الله باندي.

فائده: دا جمله جواب د شرط محذوف ده ګويا چي ابطال د ما اتخذوا اولياء يې وکړی ان ارادوا الولي في الحقيقة فالله هو الولي الذي يجب ان يتخذوه المولی ويعتقدون انه تعالى هو المولى لا ولي سواه يعني هو تعالى متولي الامور من الخير والشر والنفع والضرر لا الاصنام لانها لاتنفع لمن يعبدوها ولا تضر لمن ينکر عن عبادتها.

وَهُوَ يُحْيِ الْمَوْتٰى وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝

خدای چي ژوندي کوي مړي يعني بالنفخة الثانية، ثم ترقى من احياء الموتى الى عموم قدرته تعالى على كل شيئ اراده، يا دا جمله علت ده لقوله هو الولي يعني نسته په اسمانو او مځکه کي داسي معبود چي مړي دي ژوندي کوي كما قال ابراهيم عليه السلام لنمرود ربى الذي يحيى ويميت.

وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيْهِ مِنْ شَيْءٍ فَحُكْمُهٗٓ اِلَى اللّٰهِ ؕ

او هغه شی چي ستاسي پکښي اختلاف وي ای خلکو يعني من الدين (لکه چي د مؤمنانو او کافرانو چي اختلاف دی هريوه ډله وايي چي زموږ دين حق دی او د مقابلې ډلي دين باطل دي) "فحكمه الى الله" د مختلف فيه من الدين حکم مفوض دی و خدای ته چي خدای به فيصله کوي په ورځ کي د قيامت، نو تميز به د محق د مبطل څخه کوي يعني فريق في الجنة وهم المؤمنون وفريق في السعير وهم الكافرون.

ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبِّيْ

يعني قل لهم يا محمد دغه ثوک چي حکم کوي په مختلف فيه کي بين الناس من امر الدين الله وبس "ربي" چي زما خدای دی.

فائده: ربي يا بدل دی د لفظ الله څخه يا عطف بيان دی د الله څخه.

عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ۖ وَاِلَيْهِ اُنِيْبُ ۝

"عليه توكلت" پر هغه رب زما توکل دی په دفع کي د شر د اعداء الدين بل في الامور كلها، او ده رب ته زما رجوع په ټولو مشکلاتو کي (يعني د دنيا او د آخرت)

فَاطِرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا

چي خالق دی د اسمانو او د مځکي (دا خبر آخر د ذالكم او يا خبر د مبتداء محذوف دی ای هو فاطر آه) پيدا کړي يې دي هغه خدای ستاسي د نفع لپاره ستاسي له جنس څخه چي هغه هم انسانان دي ماينې ستاسي، ولي پر خلاف الجنس باندي لکه انسان ماينه چي خره وي فوائد د ازدواج نه مرتبېږي من النسل واللبن وغيرهما.

وَّمِنَ الۡاَنۡعَامِ اَزۡوَاجًا ۚ

يعني جعل الانعام من الانعام ازواجًا ذكور و اناسًا متفقة في النوع مثلاً د اوښ زوج به اوښه وي وهكذا د غوايي دا به غوا وي وهكذا الضان والمعز.

يَذۡرَؤُكُمۡ فِيۡهِ ؕ لَيۡسَ كَمِثۡلِهٖ شَيۡءٌ ۚ

مشتق دی له زرؤ څخه چي معنا يې كثرة دی يعني په فوائد او تناسل سره به هر نوع انعام ډېر سي كما نراهم.

پوه سه: چي ضمير د كم مخاطبين او انعام دواړو ته راجع دی تغليبًا للمخاطبين على الانعام ''فيه'' يعني په تدبير الهي كي، او بعض مفسرين وايي چي في په معنی د باء ده فالمعنى بكثركم بالتزويج په انسانانو كي والانعام فرع لهم في ذالک.

پوه سه: چي لفظ د مثل زائد دی ای ليس هو كشيئ فادخل المثل التاكيد كما في قوله تعالى فان آمنوا بمثل ما آمنتم به وقيل الكاف زائدة ای ليس مثله شيئ يناسبه، قال ابن عباس رض ليس له نظير، يعني كه مثل زائد كړې او كه كاف معنی يې ليس له نظير ده فافهم، اهل المعاني وايي چي كاف په معنی د مثل دی، فالتقدير ليس مثل مثله شيئ او دا كنايه د عدم المثل له تعالى، ولي چي كه خدای لره مثل وای نو خو بې مثل لره هم مثل وای چي عين خدای ؤ، او بعض مفسرين وايي لكه په قول د يو سړي چي بل ته وايي مثلک لايفعل كذا بطريق المبالغة في نفي الفعل عنه فانه اذا نفي عمن يناسبه كان نفيه باطريق الاولى واذا كان ليس كمثله شيئ كناية لايشترط في الكناية امكان المعنى الحقيقي ای المثل له تعالى كما في قولهم فلان طويل النجاد كناية عن طول القامة وان لم يكن له نجاد اصلاً (يعني د توري بند) و نظيره بل يداه مبسوطتان كناية عن قوله تعالى جواد كريم مع استحالة الجارحة عليه تعالى ای اليد، وقيل معنى الآية داده چي مثل په معنی د صفت دی ای ليس كصفته صفت شيئ بحذف المضاف.

وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ ﴿١١﴾

او خداى عالم دى په ټولو مسموعاتو سره او عالم دى بما هو من جنس المبصرات.

لَهُ مَقَالِيدُ السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضِ

مظهري ؒ يې تفسير داسي کړى دى "اى لله تعالى خزائن الرزق في السمٰوات والارض، قال الكلبي اى المطر والنبات انتهى.

درويش وايي: چي دا لفظي ترجمه د مقاليد نه ده بلکې حاصل د معنى دى، اصلي ترجمه يې ما نقله البرسويؒ عن الجواليقي في کتابه المعرب المقليد (يعني چي مقاليد يې جمع ده) المفتاح فارسي معرب بل لغت د مقليد اقليد دى، قال البرسوي وهي كناية عن الخزائن وقدرته تعالى عليها وحفظه لها ومثل ذالک قال الکاشفيؒ "کليدهاى اسمانها وزمينها يعني مفاتيح رزق چه خزائن آسمانها باران است و گنجينهٔ زمين نبات است انتهى، ابن عطاءؒ وايي چي مقاليد الارزاق صحة التوكل عليه تعالى ومقاليد القلوب صحة المعرفة بالله ومقاليد العلوم الجوع انتهى.

يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَن يَشَاءُ وَيَقْدِرُ إِنَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿١٢﴾

فراخي کوي د رزق د هغه چا چي د خداى اراده ورته وسي (يعني امتحانًا لشکره) او تنګوي رزق (د من يشاء امتحانًا بصبره) په تحقيق خداى پر هر شي علم لري فيفعل ما ينبغي.

درويش وايي: چي په دې آيت سره دفع سو ما عسى ان يتوهم بعض الناس چي امتحان ته څه ضرورت دى د شکر او د صبر خداى ﷻ خو په ټولو حالاتو خبر دى.

حاصل الدفع يې دادى چي خداى ﷻ خو بيشکه په هر شي خبر دى لکن مناط د ثواب او د عقاب د دنيا امتحان دى بالشکر وعدمه والصبر وعدمه.

شَرَعَ لَكُمْ مِّنَ الدِّيْنِ مَا وَصّٰى بِهٖ نُوْحًا

مشروع كړى تاسي ته يا امة محمد (ﷺ) له دين څخه هغه دين دى چي وصيت كړى ؤ په هغه دين يعني توحيد الله وغيره من العقائد الحقة التي لا اختلاف للرسل فيها و نوح عليه السلام ته.

پوه سه: چي نوح يې اول راوړى لانه اول من اتى بالشرائع الجديدة من الحلال والحرام.

وَالَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهٖٓ اِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى وَعِيْسٰٓى

او هغه دين چي ما يې وحي كړي دي وتاته اهغه دين دى چي موږ وصيت كى دى په هغه دين سره ابراهيم، موسٰى او عيسٰى (عليهم السلام) ته.

پوه سه: چي حقيقت د وصيت او وحي يو دى، يو ځاى وحي ويل بل ځاى وصيت ويل تفتن في العبارة دى الذي هو من شعب البلاغة القرآن.

پوه سه: چي په دې ايت كي تنبيه پر دې ده چي اسلام دين قديم دى اجمع عليه الرسل چي مشاهير د رسولانو اوالوالعزم د دوى پر هغه دين متفق دي او هر يوه د دوى امر جدي كړى دى و خپل امت ته په هغه دين سره.

پوښتنه: تخصيص د مذكورين په ذكر سره د څه حكمت لپاره وكړى؟

ځواب: اشرنا اليه من قبل چي دغو مذكورينو علوشان درلودى او په تاريخ كي انبياؤ ډېر شهرت درلودى، او بل ځواب دادى چي د دې انبياؤ عليهم السلام په راوړلو كي رغبت كول دي د كفارو من المشركين واليهود والنصارى الى دين محمد ﷺ لكون دينه ﷺ دين انبيائهم لان هذه الفرق حتى المشركين كلهم متفقين على دين ابراهيم، كريمه (واجعل لي لسان صدق في الآخرين) حكاية عن قول ابراهيم عليه السلام وحاصل الآية چي دين د اسلام چي خداى جل جلاله مشروع كړ ځولى دى لپاره د امت د محمد ﷺ يو نوى كار نه دى بلكې دغه دين د ټولو انبياؤ دين دى فان الحق لايكون الا واحدًا وما بعد الحق الا الضلال، او اهل كتاب يعني يهوديان او نصارى چي انكار كوي د دين څخه د محمد ﷺ صرف او صرف عنادًا او تكبرًا يې كوي.

درويش وايي: چي امام مظهري" وايي چي دين (يعني ما مضٰى شرع لكم في الدين) هو الايمان بالله وحده وبصفاته وبانبيائه وكتبه وملائكته والبعث بعد الموت وبكل ماجاء به الانبياء (يعني چي په امنت بالله وملائكته وكتبه ورسله واليوم الآخر والقدر خيره وشره من الله تعالى والبعث بعد الموت) سره جمع دي وروسته يې ويلي دي وهذا امر جامع للشرائع والمتفق عليها، وروسته يې سوال د نسخ د بعض احكام شرعيه ؤ راوړی دی چي دا نسخ اختلاف لره د اديانو مستلزمه نه ده انتهى.

درويش وايي: چي مظهري" چي د دين معنى بيان كړه او وروسته يې دا هم وويل وهذا امر جامع الخ نو خو دديې تو هم ځای نه سو پاته چي څوک دي توهم وكړي چي نسخ د بعض فزوعي احكامو به مستلزم اختلاف لره د اديانو حتى چي دفع ته دي ضرورت وي لانه لمن يشک في ان اجتماع النقيضين وكذا ارتفاعهما محال.

اَنْ اَقِيْمُوا الدِّيْنَ وَلَا تَتَفَرَّقُوْا فِيْهِ ؕ

پوه سه: چي كلمه د ان مصدريه ده اى اقامة الدين والمصدر بدل دی د ما وصى څخه چي مفعول د شرع ؤ، يا مصدر خبر دی د مبتداء اى هو چي محذوف دی او راجع دی و ما وصى آ ته، اقامة الدين اى خذوا ما اتاكم الرسول بلا زيغ وانحراف وهذا معنى د اقيموا الدين ده.

"ولا تتفرقوا فيه" او تاسي تفرق او اختلاف مه كوئ په اصولو كي د دين باتباع الاراء او بالتعصب والعناد لكه امت د عليه الصلوة والسلام چي دروا وويا (۷۳) فرقې ګرځيدلي دي كما اخبر به المخبر الصادق ﷺ ستفترق امتي على (۷۳) الى اخير الحديث، دا افتراق په متابعت د اهوا او ارا دی، او يهودانو او نصارى چي ترک د ايمان بمحمد ﷺ وكړی صرف تعصب او عناد ؤ كما مر عنقريب، د علي رضي الله عنه څخه روايت دی لا تتفرقوا فالجماعة (اى الاتفاق) رحمة، والفرقة عذاب، قال رسول الله ﷺ من فارق الجماعة شبرًا (يعني يوه لوېشت) فقد خلع ربقة الاسلام عن عنقه (ده وكښې وړغندی د اسلام له غاړي څخه) رواه احمد وابو داؤد عن ابى ذر رضي الله عنه، وعن ابن عباس رض قال قال رسول الله ﷺ يد الله على الجماعة، رواه الترمذي وحسنه (اى حفظ الله نصرته على الجماعة).

حکایت: یو حکیم وصیت وکړی و اولاد ته خپل چي دی د مرګه سره مخامخ سو چي هغه زامن یې جماعت وه یعني ډېری وه هغو ته یې وویل چي ورسئ في نفر یوه لکړه راوړئ هغهٔ چي هغو لکړي راوړې حکیم ټولي سره جمع کړې زامنو ته یې وویل چي ماتي یې کړئ یوه نه سوې ماتولای، وروسته یې یوه یوه لکړه کړه هر زوی ته چي به یې ورکړه چي ماته یې کړه هغه به ماته کړه، نو حکیم زامنو ته وویل هکذا انتم بعدي لن تغلبوا ما اجتمعتم (زما وروسته به تاسي داسي یاست تاسي به د دښمن له خوا نه مغلوبه کېږئ تر هغه وخته چي تاسي په اتفاق یاست) واذا تفرقتم تمکن عدوکم (چي تاسي سره په اختلاف سوا ست دښمن به قدرت پیدا کړي پر تاسي او ټوله به هلاک کړي) وعن معاذ بن جبلؓ قال قال رسول اللهﷺ ان الشیطان ذئب الانسان کذئب الغنم (یعني شیطان داسي لېوه دی د انسان لکه لېوه د مېږو او د پسو) چي لېوه د مېږو یا د پسو هغه پسه خوري چي د نورو پسو څخه جلا وي یا لېري وي یا په یوه ناحیه کي وي، ایاکم والشعاب وعلیکم بالجماعة والعامة (زه تاسي منع کوم له کڅو څخه د غرو یعني د جماعت څخه د وتلو خلګو لکه روافض، خوارج، معتزله، کرامیه، شیعه، سلفیه، وهابیه چي د اهل السنة والجماعة د لوی ډلي څخه یې ځانونه ګوښه کړي وي او هوای نفساني یا د غرض نفساني په وجه جلا سوي وي، و علیکم پر تاسي لازمه ده پیروي د جماعت او د اکثریت د خلګو، رواه احمد، الحدیث المتفق ستفرق امتي (۷۳) فرقة کلهم في النار الا الناجیة، الحدیث.

كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِينَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ

ګران پرېوځي پر مشرکانو هغه دین چي ته دوی ورته رابولې چي دین محکم دی چي ناطق دی بالتوحید و ترک عبادة الاصنام والبعث بعد الموت وغیر ذالک.

اللَّهُ يَجْتَبِي إِلَيْهِ مَن يَشَاءُ وَيَهْدِي إِلَيْهِ مَن يُنِيبُ ﴿۱۳﴾

خدای مختاروي الی دینه او الی ما تدعوهم الیه او یا و خپل ځان ته، چي د خدای ورته اراده سي (خواه د هغه سړي ورته اراده وي او که نه وي په زړه کي یې داعیه د ایمان او اسلام ورپیدا کړي) او د حق لاري ښوونه ورته کوي چي خدای

ته رجوع وکړي یعني له خدایه طلب د توفیق د حق لاري و غواړي، اهل التصوف وایي چي خدای پاک و ځان ته جلبوي بعض کسان بیله اختیاره هغه نو دې ډلي ته مراد الله وایي انبیاء علیهم السلام دي، ځکه چي نبوت موهبي دی کسبي نه دی، والصدیقون او هغه ډله چي اناب الی الله دي یعني رجوع و خدای جل جلاله ته وکړي بالمعنی المذکور قریبًا او خدای جل جلاله هدیت دې ډلي ته ورکړی دی، دې ډلي ته مریدون وایي یعني اختیار ددوی دخل پکښي کړی دی وهم الاولیاء الله الصالحون، وفي الحدیث القدسي ان تقرب العبد مني شبرًا (یوه لوېشت) تقربت الیه ذراعًا (یو ګز) وان تقرب مني ذراعًا تقربت الیه باعًا (یوه غېږ) وان اتاني یمشي (که بنده عادي ماته را روان وي) آیتیته هرولة (په ځغاسته سره) والحاصل ان قرب الله تعالی من العبد ضعف قرب العبد منه.

درویش وایي: چي دا حدیث پر حقیقت نه دی محمول بلکې تمثیل دی له دې سببه چي قرب د خدای جل جلاله و بنده ته ډېر دی تر قرب د بنده و خدای جل جلاله ته، حاصل دادی چي بنده باید همېشه و رب عزوجل ته په طاعاتو ځان نژدې کوي او په عمل صالح سره یمحوا الله خطایاه. فان العبد اذا رجع عن السیئات واناب الی الله اصلح الله شانه، فقیر وایي داده معنی د و یهدي الیه من ینیب.

وَمَا تَفَرَّقُوْٓا اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْیًا بَیْنَهُمْ ط

عطف علی شرع قال ابن عباس رض یعني اهل الکتاب من الیهود والنصارٰی.

ترجمه: نه دي سره متفرق سوي اهل کتاب مګر وروسته تر دې چي دوی ته راغلی علم د کتب سماویه ؤ چي دمخه نازل سوي وه علم پر دوی چي دین د انبیاء ع د ټولو یو دی و ان اوحی الی محمد صلی الله علیه وسلم هو الذي جاء به ابراهیم و موسٰی و عیسٰی ع، نو څه وجه ده اهل کتابو لره یعني یهود او نصارٰی چي پر محمد صلی الله علیه وسلم باندي ایمان نه راوړي، ددې سببه خدای جل جلاله په دې آیت کي بیان کړی دی "بغیًا بینهم" له جهته د عناد او تکبرًا علی محمد صلی الله علیه وسلم، في القاموس بغی علیه یبغی بغیًا، علا (ځان یې لوړ باله) وظلم (او ظلم یې وکړی) وعدل (د حق لاري څخه یې عدول وکړی) یعني اهل کتاب ښه په دې پوهېدل چي محمد صلی الله علیه وسلم د خدای رسول دی بدلالة المعجزات علیه او قرآن کتاب الله دی بدلالة اعجازه علیه، کریمه "ان کنتم في

ريب مما نزلنا على عبدنا فأتوا بسورة آه" لکن مانع د منلو يې طلب د جاه و جلال او طلب د دنيا و طلب ملكها و سياستها وحمية الجاهلية في المشركين لا لان لهم شبهة في نبوته ﷺ وحقية القرآن... بيت:

تکبر عزازيل راخوار کرد........ بزندان لعنت گرفتار کرد

وهم اى المشركين واليهود والنصارى مثله، نو دوى هم په زندان کي د لعنت لکه شيطان ګرفتار دي.

وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى لَّقُضِيَ بَيْنَهُمْ ؕ

که نه واى يوه خبره چي خداى ﷻ د مخه په لوح محفوظ کي د مخه کړې ده يعني تاخير عذاب المجرمين تر وعدې پورې چي هغه مدت معلوم دى چي په دار الجزاء قيامت کي مجرمينو ته عذاب ورکول کيږي "لقضى بينهم" فيصله به کړل سوې واى يعني د خداى ﷻ له خوا څخه په مابين کي د من آمن و من كفر يعني په دنيا کي چي کفار به په استيصال سره (يعني يکلخته) له منځه وړي واى او مؤمنان به يې پر دوى مسلط کړي واى.

وَإِنَّ الَّذِيْنَ أُوْرِثُوا الْكِتٰبَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ

او هغه کسان چي کتاب ورکول سوى دى يعني يهودان چي تورات يا نصارى چي انجيل و دوى ته په ميراث ورپاته سوى دى وروسته تر انبياء ددوى، او بعض مفسرين وايي بعد الامم الماضية، او بعض مفسرين وايي چي مراد مشركين د مکې دي او له کتاب څخه مراد قرآن مبارک دى او دهم ضمير راجع دى و اهل کتابو ته.

لَفِىْ شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيْبٍ ۝١٤

دوى يعني اهل کتاب په شک کي دي د خپلو کتابو څخه يعني دوى علم نه پر لري، ولي چي په کتابو کي د زيادت او نقصان ددوى د علماؤ له خوا څخه لاس وهل سوى دى لاغراض فاسدة ولاجل حب الدنيا وحب حفظ رياستهم على العوام يا د مشرکانو شک دى په قرآن مجيد کي، کريمه "لولا انزل هذا القرآن جملة واحدة" يعني لکه تورات او انجيل، کريمه "كذالك ليثبت به فؤادك الاية" (مريب) چي دوى يې په قلق او اضطراب کي اچولي دي.

فَلِذٰلِكَ فَادْعُ ۚ وَاسْتَقِمْ كَمَآ اُمِرْتَ ۚ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ ۚ

ای للتفرق من اهل الكتاب "فادع" ته دعوت ورکوه خلګو ته.
ته پر خپل دعوت ثابت قدم اوسه او متابعت مه کوه د خواهشات زائغهؤ د اهل کتابو یا د مشرکانو د مکې، په صحیح حدیث کي راغلي دي "شیبتنی هود" (زه سپین ږیری کړم سورت هود و امثالها) چا ورته وویل ولي یا رسول الله؟ فقال لان فيها فاستقم كما امرت، او حقیقت استقامت امر عظیم شدید دی، لایستیقمها الا الانبیاء علیهم السلام، ولهذا خاطب في هذه الآية رسول الله ﷺ بحسب استعداده الكامل في امر الله وقال هو لاجل ضعف استعداداتهم استقيموا ولن تحصوا ای لن يطيقوا يعني حقيقة الاستقامة التي امرت بها، حسین کاشفي په تفسیر حسیني کي وايي در تبیان اورده که ولید بن مغیره بآنحضرت گفت از دین و دعوت که داری رجوع کن تا من نصفی از اموال خود بتو دهم، و شیبه وعده کرد که اگر به دین پدران باز آیی دختر خود درعقد نکاح تو آرم، این آیت نازل شد که بر دعوت خود مقیم ودر ملت ودین خود مستقیم باش ولا تتبع اهوائهم الباطلة.

فائده: کلمه د فاء جواب د اما شرطیه محذوف ده تقدیره اما انت فادع الناس الى اقامة الدين واتباع ما اوتيت وعدم التفرق.

وَقُلْ اٰمَنْتُ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنْ كِتٰبٍ ۚ وَاُمِرْتُ لِاَعْدِلَ بَيْنَكُمْ ۗ

او ته وو ايه یا محمد ما ایمان راوړی دی په هغه سره چي خدای نازل کړي دي هر کتاب چي وي) يعني بجميع الكتب المنزلة لا كما قالت اليهود والنصارى نؤمن ببعض اليهود بالتورات ونكفر ببعض اليهود بالانجيل والقرآن والنصارى نؤمن بالانجيل ونكفر بالتورات والقرآن يريدون ان يتخذوا بين ذالک سبيلاً.

"وامرت آه" زه امر سوی یم په عدل سره چي عدل وکړم په مابین کي په تبلیغ کي د شرائع یعني ټولو ته یې على السواء ورسوم د چا مراعات ونه کړم او که څوک ما ته مخاصمه پیش کړي یعني که څه هم د مؤمن او د کافر پر یوه مځکه وغیره سره دعوه وي زه باید د مؤمن مراعات ونه کړم چي حق د کافر په جانب کي وي.

په حدیث شریف کي راغلي دي چي تقریباً ټولو صحیح کتابو د احادیثو راوړی

دی یو وخت د یو مؤمن منافق او د یهودي په یوه شي کي سره خصومت ؤ او په واقع کي حق په جانب یهودي ؤ، نو یهودي و ظاهر الامر مسلمان ته وویل چي راځه چي فیصله ستاسي پر نبي وکړو، ولي یهودی په دې پوهېدی چي محمد رسول الله ﷺ حق وایي مراعات د چا نه کوي او رشوت هم نه اخلي، ظاهر الامر مسلمان ورته وویل چي راځه فیصله پر کعب بن الاشرف چي د یهودانو مشرؤ وکړو، چي هغه ډېر رشوت خوره ؤ، ددې حدیث مضمون په قرآن کریم کي بیله نومانو اخستلو راغلی دی.

اَللّٰهُ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ ۭ لَنَآ اَعْمَالُنَا وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ ۭ لَا حُجَّةَ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ ۭ

الله تعالی زموږ رب دی او ستا هم لانه خالق الکل ومتولي امور الکل، موږ لره خپل عملونه دي او تاسي لره خپل یعني هر چا ته به د خپل عمل جزاء ورکول کېږي په ورځ کي د قیامت اما الجنة واما النار، هیڅ خصومت زموږ او ستاسي تر مابین نسته ستاسي عملونه موږ ته تاوان نه رسوي او زموږ عملونه تاسي ته تاوان نه رسوي، لاتذر وازرة وزر اخرٰی بلکې زه تاسي رابولم و اسلام ته د نصیحت د لاري فلا وجه للخصومة.

فائده: دا آیت په مکه مکرمه کي نازل سوی دی قبل الامر بالقتال والمعادات، نو ایه د قتال دا ایت منسوخ کړی دی قال الله تعالی "یا ایها الذین آمنوا لاتتخذوا عدوی وعدوکم اولیاء الی قوله بدا بیننا وبینکم العداوة والبغضاء ابدًا حتی تؤمن بالله وحده.

اَللّٰهُ يَجْمَعُ بَيْنَنَا ۚ وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ۝۱۵

خدای به جمع کړي موږ تول یعني په ورځ کي د قیامت، هورې به خدای قضاوت وکړي په حق، او خدای ته دی رجوع د تولو.

شان نزول: ابن المنذرة د عکرمه څخه روایت کړی دی چي دا سورة چي نازل سو اذا جاء نصر الله والفتح (ای فتح مکة) ورئیت الناس یدخلون فی الدین الله افواجًا" مشرکانو د مکې و مسلمانانو ته چي په مکه کي ددوی سره موجود وه یعني د پسخنده "قد دخل الناس فی دین الله افواجًا فاخرجوا من بین اظهرنا" نو تاسي مسلمانان زموږ د مابین څخه ووځئ، کم تقیمون بین اظهرنا، تر څو به تاسي زموږ په مابین اوسېږئ.

پوهسه: چي لفظ د اظهر مقحم دی والاصل بیننا فنزلت هذه الآیة.

وَالَّذِيْنَ يُحَآجُّوْنَ فِى اللّٰهِ

او هغه كسان چي بې ځايه حجت وايي په خداى ؑ كي، اى في دينه وقدرته، او قتاده ؒ وايي چي مراد ځني يهود او نصارى دي دوى به ويل كتابنا (زموږ كتاب يعني تورات او انجيل د مخه دي ستاسي تر كتاب يعني القرآن) ونبينا اى موسىٰ و عيسىٰ ؑ د مخه دي تر نبي ستاسي يعني محمد ﷺ فنحن خير منكم فهذه خصومة محضة.

مِنْۢ بَعْدِ مَا اسْتُجِيْبَ لَهٗ حُجَّتُهُمْ دَاحِضَةٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ

يعني وروسته تر دې چي خلګو ته دعوت محمد ﷺ وركړى نو اسلام يې راوړى ودخلوا في دينه لظهور معجزته وحسن دعوته، نو ددوى دليل او خصومت باطل دى په نېز د خداى ؑ (يعني چي دوى په تقدم ددوى د كتابو او د نبيانو ددوى دليل وايي كمامر)

وَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ وَّلَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ﴿۱۶﴾

او پر دوى غضب د خداى ﷻ دى چي ستاسي سره باطل دلائل وايي، او دوى لره دى عذاب سخت په سبب د كفر ددوى بعد ما وضح الله طريق الهدى يعني تكبرًا وعنادًا.

اَللّٰهُ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ وَالْمِيْزَانَ

الالف واللام للجنس چي شامل ټولو كتبو الهيه ؤ ته دي (بالحق) متلبس په حق سره بعيدًا من الباطل (مراد له حق څخه عقائد حقه او احكام شرعيه دي).

پوه سه: چي مراد له ميزان څخه استعارةً ده، والمعنى المراد ٓ الشرع الذي يوزن به الحقوق ويسوى بين الناس كالميزان العرفى (يعني ترازو) چي په هغه تلل كيږي حقوق واجبة بين الناس في البيع والشراء وغيرهما، او يا مراد انزال د نفس او تسويه دى، نو معنى داده چي په الهيه كتابو په عدل سره، نو تسميه ده په ميزان تسميه د مسمىٰ ده په اسم د اله فان الميزان العرفي آلة العدل.

فائده: د انزال څخه مراد يا معنى حقيقي ده چي آدم ؑ ته نازل سوه ټوله آلات د صنائعو له اسمانه څخه، يا مجازي معنىٰ ده اى انزل الامر به من السماء بواسطة الروح الامين.

وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ السَّاعَةَ قَرِيبٌ ﴿١٧﴾

پوه سه: چي قريب يې مذکر راوړی سره د تانيث د ساعة، اما لان القريب بمعنی ذات قرب يا ساعة په معنی د بعث بعد الموت دی، او يا د دې سببه چي ساعة مؤنث غير حقيقي دی وفي يجوز التذكير والتانيث.

ترجمه: ته څه شي خبر کړی يې شايد قيامت به نژدې وي، يعني فالتبع الكتاب واعمل بالشرع و واظب على العدل د مخه تر دې چي نابيره قيامت درباندي را نه سي او ميزان د عدل الهي قائم نسي، مقاتلؒ وايي چي عليه الصلوة والسلام د قيامت ذکر کاوه وعنده قوم من المشركين، نو هغو و عليه الصلوة والسلام ته وويل په لهجه د تکذيب متى الساعة؟ کله دی قيامت چي ته يې هر وخت موږ ته ذکر کوې او موږ ځني ډاروې؟ فانزل الله تعالى هذه الآية.

يَسْتَعْجِلُ بِهَا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِهَا ۚ

طلب د ژر راتګ کوي په ساعت هغه کسان چي دوی ايمان نه لري پر قيامت، يعني استهزاءً دا خبره کوي چي الساعة کله دی او ددوی غالب ظن دا دی چي قيامت يعني بعث بعد الموت نسته بلکه محال يې بولي، کريمه کيف يحيي العظام وهي رميم.

وَالَّذِينَ آمَنُوا مُشْفِقُونَ مِنْهَا وَيَعْلَمُونَ أَنَّهَا الْحَقُّ ۗ

او هغه کسان چي ايمان يې راوړی وي پر خدای او پر رسول او پر قرآن، هغه ېرېږي له قيامت څخه (لاحتمال العذاب يفعل الله مايشاء) او دوی يقين لري چي قيامت حق دی يعني هرو مرو راتلونکی دی.

أَلَا إِنَّ الَّذِينَ يُمَارُونَ فِي السَّاعَةِ لَفِي ضَلَالٍ بَعِيدٍ ﴿١٨﴾

خبر او سه چي هغه کسان چي ناحقي بحث کوي چي مجادله يې بولي او شک لري په قيام کي د قيامت (په قاموس کي وايي چي مرية په کسره د ميم او په ضمه د ميم شک ته وايي) هر آئينه په لويه ګمراهي کي دي عن الحق، ولي بعث بعد الموت خو له غائباتو څخه دی لکن مشابه د محسوساتو سره دی، يعني د خزان په وخت کي

چي سرسبزه ځکه وي په نباتاتو سره سپېره ودرېږي يعني هيڅ شين بوټې پاته نه سي دا د ځمکي مرګ دی، بيا چي مياشتي د پسرلي راسي تولهٔ تخمونه د ځمکي څخه راووځي او ځکه از سر نو سر سبز او شاداب وګرځي دا بعث بعد الموت د ځمکي ژوندی، نو هغه څوک چي له بعث څخه منکر وي مع کمال قدرته تعالى او کتاب الله او سنة نبوي شاهدي ورکړې او عقل هم شاهد پر دار الجزاء دی تا چي د مؤمن او کافر امتياز سره وسي او دغه رنګه د مطيع او عاصي فرق سره وسي دا سړی نو د ابتداء څخه وحق ته ډېر لېري دی وهذا معنى قوله تعالى لفي ضلال مبين.. بيت:

برگ درختان سبز در نظر هوشیار..... ہر ورقی دفتریست معرفت کردگار

درويش وايي: چي له دې آيت څخه څو شيان ښکاره سول (۱) الاول: ذم الاستعجال، ولذا قيل العجلة من الشيطان، خدای ﷻ چي شيطان امر کړی په سجده وآدم عليه السلام ته ده عجولانه بلا تفکر دا وويل انا خير منه، فقهاءؒ وايي چي عجلت مذموم دی مګر نه په شپږ ځايه کښي (۱) اداء الصلوة اذا دخل الوقت يعني چي وخت د يوه لمانځه داخل سي سړی دي په مقدماتو د لمانځه لګه اودس، و مسجد ته تلل تاچي جماعة ځني فوت نه سي (۲) دفن الميت اذا حضر داسي نه کوي چي فلانی نه دی راغلی (۳) تزويج البکر اذا ادرک چي مړاني ووهل داسي دي نه کوي چي زه يې په لکهاؤ روپۍ ولور ورکوم يا يې د خان صاحب زوی ته ورکوم (۴) وقضاء الدين اذا وجب چي وخت يې پوره سي که موجلؤ (۵) و اطعام الضيف اذا نزل داسي به وايي چي موږ پر لس بجې مثلاً ډوډی خورو، ولي چي شايد مېلمه به ډېر وږی وي (۶) تعجيل التوبة اذا اذنب چي ګناه وکړي ژر دي توبه کاږي... بيت:

توبہ بکن امروز تو ہر گز مگو پر داکنم ... شاید بمیری صبحدم فردا نیابی در شمر

(۲) الثاني: التصديق والايمان وذالک بجميع مايکون به المرء مؤمنًا خصوصًا الساعة، (۳) والثالث الاستعداد لها ای للساعة بالاعمال الصالحات.

(۴) والرابع: مدح العلم اذا قرن الخوف والخشية، نو بايد عالم دي په علم خپل اعجاب نه کوي، ولي چي د فرعون علم پر نبوت د موسیٰؑ ؤ لکن د ربوبيت دعوی دې ايمان څخه منع کړي، او يهودانو علم درلودی پر نبوت د عليه الصلوة والسلام، کريمه: يعرفونه کما يعرفون ابنائهم لکن جاه و جلال په بني اسرائيلو کي مانع

دايمان وګرځيدل، غير ذالک من الفوائد ونسب الى الامام اعظم ابو حنيفةؒ
جميع العلم في القرآن لكن تقاصرت عنه افهام الرجال.. پښتانه وايي:
درياب که لوى دى چمچې دي خپله ده.

اَللّٰهُ لَطِيْفٌۢ بِعِبَادِهٖ

خداى مهربان دى پر خپلو بندګانو، قال ابن عباسؓ حفى بهم، معنا يې قهرمان دى، وقال عكرمهؒ بار بهم احسان كونكى دى، وقال السديؒ رفيق بهم ددې معنا هم مهرباني كونكى دى.

درويش وايي: چي ددې تفسير يو مآل يو دى صرف په لفظ كي يې فرق دى معنا يې يوه ده، وقال مقاتلؒ لطيف بالبر والفاجر حيث لم يهلكهم (يعني فاجران) جزاء لمعاصيهم (په جزاء كي د ګنهو ددوى يې دوى نه دي هلاک کړي) بيت:

ادیم زمین سفرهٔ عام اوست ..... بدین خوان یغما چه ظالم چه دوست
ای کریمی که از خزانه غیب .... گبر و ترسا وظیفه خور داری
دوستان را کجا کنی محروم .... تو که با دشمنان نظر داری

وقيل: لطيف (اى عليم) بالغوامض علمه وعظيم من الجرائم حلمه وينشر عن المناقب ويستر عن العيوب، ويعطى العبد فوق الكفاية ويكلفه بالطاعة دون الطاعة.

درويش وايي: چي دا معاني او خواص په خداىؒ كي سته لكن تفسير يې په دې آيت كي د مفرد لفظ كول مشكله ده، دا معاني ټولـه مظهري راوړي دي، ودل هذه الآية على بعض التفاسير المذكورة ان الله مطلع باحوال العباد فلا بد من تصحع الحال ومراقبة الاحوال، لـه ابن مسعودؓ څخه روايت دى چي دى سره د بعض اصحابو وصحراء ته وتلي وه لنزهة الخاطر، نو هوري يې كتو غوښي پخې کړې، نو ډوډۍ او غوښي چي پخې سوې او دوى د ډوډۍ د خوړلو اراده وكړه هوري يو شپانه پسونه پوول هغه يې هم راوبولى چي راسه زموږ سره به ډوډۍ وخورې، راعي ورته وويل: كلوا وانا صائم (تاسي يې خورئ زما روژه ده) د تجربې لپاره دوى راعي ته وويل كيف تصوم في مثل هذا اليوم الحار شديد الحرارة، راعي دوى ته وويل ان نار جهنم اشد حرارة من هذا اليوم اصحابوؓ دده جواب ډېر خوند

ورکړی، بیا اصحابو ورته وویل چي پر موږ یو پسه خرڅ کړه من هذه الاغنام (له دې پسو څخه) موږ به یې تاته ثمن درکړو سره د یو څه غوښو، راعي ورته وویل چي پسونه زما نه دي زما د بادار دي چي زه یې مریی یم فکیف ابیعکم مال الغیر، اصحابو لپاره د تجربې د پوهني دده ورته وویل چي پر موږ یې خرڅ کړه بادار که پوښتنه درڅخه وکړه ته ورته ووایه چي هغه پسه لېوانو وخوړی، راعي ورته وویل فاین الله؟ زه که درواغ ووایم خدای به چېري وي یعني خدای پر ما علم لري، صحابه کرامو ته دده جواب معقول ډېر خوند ورکړی صحابه چي مدینې منورې ته راستانه سوه ابن مسعود د مالک څخه هغه راعي مریی سره د اغنامو رانیوی سمدستي یې راعي مریی ازاد کړی او پسونه یې ټول هغه ته وروبخښل، نو ابن مسعود چي به کله هغه راعي ولیدی نو داسي به یې ورته وویل فاین الله.

درویش وايي: چي دا د مریي خبره فاین الله په اصطلاح کي د صوفیه کرامو مراقبه وايي، په دې مناسبت دا یو حکایت عجیب او غریب واورئ چي یو نبي له انبیاؤ څخه په یوه غره کي عبادت کاوه.

پوه سه: چي غرونه کراسي د انبیاء علیهم السلام دي الاتری ان النبي ﷺ قبل النبوة په غار حراء کي تعبد کاوه کما في صحیح البخاري، آیا ما مع الماء بقدر الضرورة والطعام ایضًا، یعني دومره اوبه او ډوډۍ به یې ورسره وړه چي دده به نیت ؤ د اوسېدو په غار حراء کي او داغه رنګه لوی مشائخ کرام او اولیاء الله په غرو کي تعبد کاوه، تاسي ورسئ د هرات د ښار د مزاراتو مطالعه وکړئ چي ټول یا په غرونو کي دي یا غرونو ته نژدې دي)

درویش وايي: چي دا جملې معترضه وې اوس بیرته د حکایت پر لور د هغه نبي چي په غره کي یې عبادت کاوه، راوي وايي چي نژدې و هغه نبي ته یوه جاري چینه وه، نو پر آس سپور سړی له هغې چینې څخه اوبه وڅیښلې یو ګړی یې ارام وکړی د هغه فارس سره یوه همیانۍ وه چي په هغه کي زر دینار وه، همیانۍ یې په وخت کي د ارام د ملا څخه خلاصه کړه په وخت کي د تګ هغه همیانۍ څني هېره سوې وه، بل سړي چي چیني ته راغلی همیانۍ چي یې ولیدل هغه یې یوړه، نبي دا ټوله حالات مشاهده وليدل، وروسته نو یو فقیر راغلی چي یوه پلنډه بټي یې ټول

کړي وه او به یې وڅیښلې پرېوتی د استراحت لپاره، هغه اول فارس چي همیانۍ یې د دې چینې سره ځني هېره سوې وه ډېره زمانه وروسته یې ورپه یاد سوه چي همیانۍ خو ستا څخه پر هغه چینه پاته سوه بیرته راو ګرځېدی چینې ته راغلی، هغه فقیر پروت ؤ هغه ته یې وویل چي زما څخه دلته همیانۍ هېره سوې ده، فقیر ورته وویل چي ما خو همیانۍ نه ده لیدلې او نه مي اخستې ده، همیانۍ والا چي هرڅه تلاشي وکړه د فقیر په پلنډه کي همیانۍ نه سوه پیدا، نو فقیر یې تر عذاب لاندي راوستی حتی چي مړ یې کړی، فقال ذالک النبي الٰهی همیانۍ خو دغه فقیر نه وه اخستې بلکې بل ظالم واخسته یعني تر مالک د همیانۍ وروسته راغلی الٰهی تا دغه مالک د همیانۍ مسلط کړی پر دغه بېچاره فقیر باندي حتی چي ناحقه یې قتل کړی، نو خدای ﷻ نبي ؑ ته وحي راواستولې ان اشتغل بعبادتک یعني خپل عبادت کوه فلیس معرفة سر هذه الواقعة الیک، نبي ؑ و خدای ﷻ ته التجاء وکړه چي ماهم په دې سر خبر کړې خدایه، وحي ورته راغلې چي دغه فقیر پلار د هغه اول فارس چي همیانۍ ځني پاته سوې وه وژلی ؤ ما هغه فارس ته قدرت ورکړی پر قصاص د پلار، او پلار د فارس اول زر دینار من مال آخذ السرقة فرددته الیه من ترکته، ذکر هذه القصة الامام الهمام ابو حامد محمد الغزالي ؒ، حافظ شیرازي ؒ وایي:

درگاه خانۀ که ره عقل و فضل نیست .... فهم ضعیف وراې فضولی چرا کند

يَرْزُقُ مَنْ يَّشَآءُ

رزق ورکوي و هغه چا ته چي د خدای ؑ اراده ورته وسي یعني مایشاء، نو خدای ؑ خاصه وي هر څوک د بندګانو څخه بنوع من البر علی ما اقتضته حکمته (څرنګه چي حکمت د خدای ؑ یې تقاضا کوي) او هر چا ته چي خدای ؑ رزق ورکوي من مؤمن و کافر و ذی روح لکه حیوانات بري او بحري فهو ممن یشاء الله ان یرزقه، د جعفر بن محمد څخه روایت دی چي لطف په رزق کي د دوو جهتو څخه دی (۱) انه جعل رزقک من الطیبات (ای الحلالات) (۲) والثاني انه تعالی لم یدفعه بمرة واحدة بل یرزقک تدریجًا.

وَهُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيْزُ ﴿۱۹﴾

او هغه الله ښکاره دی قدرت دده غالب دی، څوک مانع د ارادې دده نسي کېدلای، دا جمله حال ده.

مَنْ كَانَ يُرِيْدُ حَرْثَ الْاٰخِرَةِ نَزِدْ لَهٗ فِيْ حَرْثِهٖ

د چا چي اراده وي کښت د اخرت، في القاموس و الحرث الكسب وجمع المال والزرع آه، والمراد ههنا ثواب الاخرة.

پوه سه: چي ثواب د آخرت يې مشابه کړی په کښت سره لانه ثمرة العمل في الدنيا ولهذا قيل الدنيا مزرعة الآخرة يا يې مشابه کړی د کسب سره فانه (اى ثواب الآخرة) يحصل بما كسب في الدنيا من اعمال الخير والطاعات.

''نزدله فى حرثه'' موږ زياتوب کوو په کسب او په کښت دده کي، ادنى مرتبه يې په يوه حسنه لس ضعفه ورکوم رفته رفته په سبب د اخلاص او نيت او وخت حتى چي (۷۰۰) قال الله عزوجل كمثل حبة انبتت سبع سنابل في كل سنبلة مائة حبة'' لکه مثل د يوې دانې چي شنه کي اووه وږي په هر وږي کي سل دانې وي.

وَمَنْ كَانَ يُرِيْدُ حَرْثَ الدُّنْيَا نُؤْتِهٖ مِنْهَا وَمَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ نَّصِيْبٍ ﴿۲۰﴾

که څوک اراده لري په طاعت سره برخه د دنيا يعني جاه و جلال او شهرت په دنيا کي لکه مرائي يعني رياء کار، موږ به د دينا يو شی ورکړو چي موږ دده په قسمت کړی ؤ يعني هغه مخصوص شی هم نه چي ده غوښتنه کول، او نسته ده لره په اخرت کي د ثواب هيڅ برخه کلمه د من لپاره د استغراق د نفي ده، دا جمله عطف ده پر نؤتيه، په حديث متفق عليه کي د بخاري او مسلم له عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روايت دی، ده وويل قال رسول الله ﷺ انما الاعمال بالنيات (يعني ثواب د اعمال يعني له قسم څخه د طاعت، په نياتو پوري د عمل کونکو مربوط دی) وانما لكل امرئ ما نوى فمن كان هجرته (چي په هغه زمانه کي هجرت له مکې څخه مدينې منورې ته فرض ؤ) الى الله ورسوله (يعني د خدای او رسول د رضا لپاره) فهجرته الى الله ورسوله.

سوال: کلمه د من شرطيه ده څرنګه شرط او جزاء سره يو ځای سوه؟
ځواب: په قيد سره جلا کيږي يعني من کان نيته بالهجرة کذا و کذا فهجرته ثوابًا الی الله ورسوله، ومن کانت هجرته الی دنيا يصيبها، يعني چي انصار د مدينې ډيري مالي مرستې ورسره کوي، او امرئة يتزوجها (لکه مهاجر د ام قيس، يو سړی وُ د ام قيس سره يې وعده کړې وه چي زه هجرت کوم مدينې ته که ته هم هجرت وکړې نو هورې ستا سره نکاح کوم، نو دې مهاجر لپاره د نکاح د ام قيس هجرت وکړی) فهجرته الی ماهاجر اليه (يعني ثواب د هجرت يې نسته)
او بغوي ؒ له ابی بن کعب ؓ څخه روايت کړی دی قال قال رسول الله ﷺ بشر هذه الامة بالبناء والرفعة (دا يې عطف تفسير دی) والنصرت والتمکين في الارض (دا دوهم عطف تفسير دی) فمن عمل عمل الآخرة للدنيا لم يکن له نصيب في الآخرة.

اَمْ لَهُمْ شُرَكٰٓؤُا

آيا دوی لره، يعني اهل مکه لره شرکاء سته، کلمه د ام منقطعه ده په معنی د بل لانتقال الی مضمون آخر والهمزة للانکار لکه دوی چي دا زعم کوي، تخصيص د شرکاء چي يې په دوی سره وکړی لانهم اتخذوها شرکاء لله ﷻ في العبادة.

شَرَعُوْا لَهُمْ مِّنَ الدِّيْنِ مَا لَمْ يَاْذَنْۢ بِهِ اللّٰهُ ؕ

شرعوا (ای تلک الشرکاء شرعوا صفت د شرکاء دی) قال ابن عباس ؓ شرعوا دينًا غير دين الاسلام يعني الشرک وانکار البعث والعمل للدنيا (ومعنی الانکار چي داسي خو نه ده لان شرکائهم جمادات.
پوهسه: چي جمله د مالم يأذن به الله متصل ده بقوله شرع لکم من الدين.

وَلَوْلَا كَلِمَةُ الْفَصْلِ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ؕ

که نه وای کلمه يعني خبره د قضاء سابق الهي بتاخير العذاب الی يوم القيامة، هر آئينه فيصله به سوې وای په منځ کي د مؤمنانو او کافرانو، او خدای به ځان فارغ کړی وای له تعذيب څخه د من کذبک يا محمد ؐ.
پوښتنه: څه سِر دی په قضاء سابق کي چي عذاب د کافرانو به تر ورځي د قيامت ملتوي وي او په (لقضی بينهم) سره کار ګذاري ونه سوه؟

ځواب: که عمل په لقضي بينهم په دنيا کي کړه سوی وای نو ايمان اضطراري کېدی او اضطراري ايمان خدای ته مقبول نه دی او ايمان د مؤمنانو مشاهده کېدی والمعتبر عند الله الايمان بالغيب دی، وجه يې داده چي تعذيب د کافرانو خو په دوږخ سره دی نو سره د دوږخ د ليدلو بيا چا انکار کولای سوای له اسلام څخه، ولهذا قيل لايدخل النار يعني للتاييد الا مؤمن ای مؤمن ذالک اليوم، او داغه رنګه که قضاء په دنيا کي سوې وای ايمان د مسلمانانو له دائرې څخه د غيب و مشاهدې ته رسېدی وکلا الامرين مخالف للحكمة الالٰهية، والله اعلم بالصواب.

وَإِنَّ الظّٰلِمِيْنَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيْمٌ ﴿٢١﴾

او په تحقيق سره دی د ظالمانو لپاره (مراد ځني مشرکان دي چي اعلیٰ درجه ظالمان وه ولي چي معنٰی د ظلم وضع د شي ده بې ځايه ولا ظلم اعظم من ظلم المشركين حيث وضعوا معبوديت چي حق د خالق مطلق دی في الجمادات چي بتان دي) دوی لره دی عذاب درد ورکونکی ای في الآخرة (اليم چي پر وزن د فعيل دی له بابه څخه د مجرد دی په معنی د مفعل دی يعني اسم فاعل له بابه د افعال) کما قول الشاعر:

امن ريحانة الداعی السميع .... يورقنی واصحابی هجوع

چي په شعر کي سميع په معنی د مسمع دی، ولهذا الشعر قصة طويلة.

نکته: اسم ظاهر يعني الظالمين په ځای کي د ضمير راوړی يعني ولهم لپاره د تسجيل عليهم بالظلم.

فائده: مسلمان لره په کار ده چي په هر مشکل کي متوجه و خدای ته او سي لیندفع الشر وينعكس الامر، په حديث شريف کي راغلي دي چي سالم بن عوف رض د ښمنانو په بند نيولی ؤ، نو پلار يې و عليه الصلوة والسلام ته راغلی د زوی قصه يې ورته وکړه، عليه الصلوة والسلام ورته وويل: اتق الله، واكثر من قول لاحول ولاقوة الا بالله ففعل فجاء ابنه بعد مدة ومعه مائة ابل، قال الحافظ الشيرازي رح:

سرور عالم نسيم بشارتی خوش داد .. که کس هميشه بگيتی دژم نخواهد ماند

تَرَى الظّٰلِمِيْنَ مُشْفِقِيْنَ مِمَّا كَسَبُوْا

ته به ووينې يا به ستا علم راسي ظالمان يعني المشركين يوم القيامة يعني چي دوى دوږخ ته ځي (مشفقين) خائفين چي بېرېږي به (مما كسبوا) اى من جزاء ما كسبوا في الدنيا مِن الشرک والمعاصي.

فائده: مشفقين مفعول ثاني دى د ترى كه رؤيت علمي وي مفعول اول الظالمين دى، يا حال دى د الظالمين څخه كه رؤيت بصري وي چي يو مفعول غواړي.

وَهُوَ وَاقِعٌۢ بِهِمْ ؕ

او هغه اى جزاء ما كسبوا كه دوى بېرېږي او كه نه جزاء د ما كسبوا پر دوى واقع ده دا حال مقدره بولي په نحو كي، نحو قوله تعالى چي كفار چي دوږخ ته داخل سي خالدين فيها يعني مقدر خلودهم فيها، دلته يې ترجمه داده مقدر وقوع الجزاء بهم.

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فِيْ رَوْضٰتِ الْجَنّٰتِ ۚ

او هغه كسان چي ايمان يې راوړى وي او اعمال صالحه يې هم كړي وي په باغو كي د جنتو به وي.

پوه سه: چي روضات هغه ښو ښو ځايو ته د جنت وايي.

لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيْرُ ﴿۲۲﴾

او دوى لره ثابت دي، له مايشاؤن څخه مراد ما يشتهونه من الحورات والثمرات وغيرها، په نېز د خداى ج د دوى (ذالک) اى ما ذكرت من روضات الجنات په تأويل د مذكور (تا چي صحيح سي تذكير د ذالک) دا كاميابي ده لويه يعني تر ټولو كاميابيو د دنيا لويه كاميابي ده.

ذٰلِكَ الَّذِيْ يُبَشِّرُ اللّٰهُ عِبَادَهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ؕ

دا ثواب مذكور زېرى كوي خداى ج و خپلو هغو بندګانو ته چي ايمان يې راوړى وي او اعمال صالحه يې هم كړي وي، اللهم اجعلنا من اهل هذه البشارة بلطفه و كرمه .... بيت:

بضاعت نه اورده ايم الا اميد .... خدايا ز لطفم مكن نا اميد

اگرچه گفته اند:

کار نیکو کن اگر مزد نیکو میطلبی .... کن چرا ہر که نیکو تر بنیکو کار دهند

پوښتنه: الذي موصول دی او يبشر الله يې صله ده په صله کي خو عائد و موصول ته ضروري دی؟

ځواب: عائد و موصول ته خو ضروري دی که مذکور وي او که محذوف دلته محذوف دی، والتقدير يبشر به الله، وروسته يې حرف جر حذف کړی بيا يې ضمير عائد و موصول ته چي مجرورؤ حذف کړی کما هو عادة العرب من التدريج في الحذف، روح المعاني وايي ولا مانع کما قال الشهاب من حذفها معًا انتهی، او مظهري هيڅ اشاره نه ده ورته کړې، روح البيان اشاره ورته کړې ده سوال او جواب يې نه دی راوړی، في روح البيان: ای يبشرهم به علی لسان النبي ﷺ انتهی، ايوبي په سوال او جواب سره راوړه.

قُلْ لَّآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا اِلَّا الْمَوَدَّةَ فِى الْقُرْبٰى ؕ

ته ووايه يا محمد و کفارو ته د مکې چي زه سوال نه کوم (يعني نه غواړم پر تبليغ د دين و تاسي ته او پر نور بشارت تاسي ته پر ايمان راوړلو باندي) اجراً" ای نفعًا "چي په عرف کي مال ځني مراد دی" مګر نه محبت ستاسي "في القربٰی" ای لقرابتي منکم، نو کلمه د في لپاره د سببية ده، کما ورد في الحديث النبوي "ان امرئة دخلت النار في هرة" په سبب د پشي چي يو جنايت يې کړی ؤ ښځي دا وتړل نه يې ډوډۍ ورواچول او نه يې ايله کول چي خپله يو موږک ونسي او ځان په موړ کړي حتی چي پشي دې ښځي د لوږي مړه کړه والی هذا ذهب مجاهد وقتاده وجماعة، والخطاب يعني في لا اسئلکم اما لقريش علی ما قيل چي قريشو يو څه مبلغ سره جمع کړی ؤ چي و عليه الصلوة والسلام ته يې په رشوت کي ورکړي چي ته زموږ خدايانو ته بد مه وايه يعني چي دا جمادات دي لاتنفع ولا تضر، يعني دا نقود به تاته فائده سي، و نزلت هذه الآية، او عليه الصلوة والسلام لره په ټولو قريشو کي قرابت ؤ، اخرج احمد والشيخان والترمذي وغيرهم عن ابن عباس رضي الله عنهما چي له ده څخه چا پوښتنه وکړه عن قوله تعالی الا

المودة في القربى فقال سعيد بن جبير قربى آل محمد ﷺ فقال ابن عباس رض يعني لسعيد بن جبير علجت (تلوار دي وکړی) ان النبي ﷺ لم يكن بطن من قريش (يو قوم د قريشو) الا وله ؑ قرابة فيهم، او يا ضمير و انصار ته راجع دی بناء على ما قيل چي انصارو عليه الصلوة والسلام ته څه مال راوړی يعني هغه وخت چي دی ؑ په مکه کي ؤ چي دی صرف کړي په خپلو خواهشو کي، نو دا آيت نازل سو نو عليه الصلوة والسلام مال ور رد کړی او عليه الصلوة والسلام لره قرابت ؤ په انصارو کي چي دده ماماګان وه فان ام عبد المطلب بنت زيد النجارية (يعني د بني النجار له قومه څخه وه) وكذا اخوال آمنه يعني ام رسول الله ﷺ) كانت على ما في بعض التواريخ من الانصار ايضًا، او يا خطاب و ټولو عربو ته دی لقرابته عليه منهم جميعًا في الجملة، والمعنى ان لم تعرفوا قدري لنبوتي وكوني رحمة عامة (وما ارسلناک الا رحمة للعالمين) ونعمة لامة فلا اقل الا مودتي لاجل حق القرابة وصلة الرحم چي تاسي په هغه سره يعني په صله رحمي سره غمخوري کوئ.

درويش وايي: چي دا ټوله روايات تاسي واورېده وظاهر هذه الروايات ان الخطاب لقريش كما اخرجه سعيد بن منصور وعبد بن حميد والحاكم صححه ابن مردوية والبيهقي في الدلائل عن الشعبي قال اكثر الناس علينا في تفسير هذه الآية يعني لا اسئلكم الآية، نو موږ ابن عباس رض ته خط نوشته کړی ددې د تفسير لپاره، ده رض موږ ته داسي جواب راواستاوه چي ان رسول الله ﷺ كان وسط النسب في قريش ليس بطن من بطون قريش الا ولدوه يعني اما من جانب الاب ومن جانب الام، قال الله تعالى لا سئلكم عليه اجرًا يعني على التبليغ وايصال امر الله تعالى اليكم الا المودة في القربٰى يعني زما سره محبت وساتي لقرابتي منكم وتحقونني بها، قال البغوي رح قال قوم هذه الآية منسوخة، ولي چي دا آيت په مکه مکرمه کي نازل سوی دی چي کفارو د مکې عليه الصلوة والسلام ته ډېر اذيت ورساوه فانزل الله تعالى هذه الآية فامرهم، نو دوی يې امر کړه په مودة سره د رسول الله ﷺ په سبب د قرابت په دوی کي يعني په هر بطن کي د قريشو كما مر في حديث ابن عباس رض، وروسته چي عليه الصلوة والسلام هجرت وکړی مديني منورې ته او انصارو ځای ورکړی او فوق العادة کومک يې ورسره وکړی، نو الله عزوجل دا اراده وکړه چي

علیه الصلوة والسلام د نورو ورونو سره دده چي انبياء علیهم السلام دي چي د هغه نورو انبياؤ په باره کي دا آیت نازل سوی دی حیث قالوا "وما اسئلکم علیه من اجر یعني پر تبلیغ د رسالت من اجر ان اجري الا علی رب العالمین" فالآیة الاولی یعني ما اسئلکم الا المودة في القربی، الاولی منسوخة په دغه آیت سره چي آنفًا ذکر سو، وایضًا په دې آیت هم منسوخ دی "قل لا اسئلکم علیه من اجر وما انا من المتکلفین" وغیرها من الآیات، والی هذا ذهب الضحاک بن مزاحم والحسین بن الفضل قال البغوي في الآخیر وهذا قول غیر مرضی لان مودة النبي ﷺ واقاربه وکف الاذی عنه وعن اقاربه فریضة محکمة لایحتمل النسخ لحدیث انس رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ لایؤمن احدکم حتی اکون احب الیه من والده وولده والناس اجمعین، او له حضرت انس رضی الله عنه څخه داسي حدیث هم منقول دی چي درې خویه په سړي کي وي وجد بهن حلاوة الایمان (د ایمان خوند به وویني) (۱) من کان الله ورسوله احب الیه مما سواهما (۲) چي څوک محبت د مؤمن بنده سره کوي د الله عزوجل لپاره (یعني محبت د بنده سره به نه وي مګر لپاره د خدای جل جلاله مثلاً ښه عالم یا ښه عابد سړی دی یعني دنیایي غرض نه پکښي لري) (۳) ومن یکره ان یعود في الکفر بعد ان انقده الله منه کما یکره ان یلقی في النار، روی الحدیثین للبخاري ومسلم في الصحیحین وعلی هذا انعقد الاجماع انتهی قول البغوي.

درویش وايي: چي مظهري دا خبره پسي څېړلې ده حتی درې صفحې يې په ډکي کړي دي کما هو رأیه چي نقل يې موجب د تطویل بلا فائدة دی نو ځکه درویش هغه صرف نظر کړی.

وَمَن يَقْتَرِفْ حَسَنَةً نَّزِدْ لَهُۥ فِيهَا حُسْنًا ۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ شَكُورٌ ﴿٢٣﴾

څوک چي فعل د یو ښه خصلت وکړي، مظهري وايي چي مراد له دې څخه حب رسول الله ﷺ وحب آله او محبت د نائبانو دده لکه خلفاء راشدین رضی الله عنهم، ولې که دا نه وي مراد نو دا جمله د سابق سره ارتباط نه لري یعني قوله تعالی "الا المودة في القربی" لکن لفظ يې عام دی ټولو حسناتو ته شامل دی لکن محبت رسول الله ﷺ وآله په دخول اولی پکښي داخل دی، او روح البیان وايي چي ایة حسنة کانت سیمًا حب رسول الله وحب آله، او ابن عباس رض یوازي محبت د قرابت د علیه

الصلوة والسلام مراد کړی دی ''نزدله فيها حسنًا'' ای مضاعفة الثواب فيها بای معنى كانت اقتراف الحسنة وقيل نزلت هذه الآية في ابی بکر رضی الله عنه لغاية حب رسول اللهﷺ وقوله ای ابو بكرؓ ارتبقوا محمدًا في آله (ان الله غفور شكور) يغفر ذنوب من يحب رسوله وآله وكذا لک غفور لكل من تاب عن معصية، او شكور دی لمن لمن تاب عن معصية، يا معنى داده چي ثواب ورکوي پر طاعت او پر محبت د آل الرسول، والثاني هو الاولى لئلا يلزم التكرار في غفور و شكور كما لايخفىٰ.

قال الجاميؒ:

بصـــدق و صفا همی گویند جامی ..... غـــلام غلامان آل محمد

بيت: هر دم از ما صد درود وسلام ..... بر روان پاک آنحضرت مدام

بيت: حسن را خاتمه بر خير گردان ..... بحق مـــصطفى و چار ياران

دو بيت معنوي:

لسعت حية الهوى كبدی ..... فلا طبيب لها ولا راق

الا الحبيب الذی شغفت به .... فعنده رقيتی وترياقی

ترجمه: لسع: د زهري حيوان لكه لړم مار خوړلو ته وايي، وحاصل معنى البيت، وخوړل مار د عشق حقيقي.

پوه سه: چي اضافة د حية الهوى اضافت د مشبه به دی و مشبه ته يعني هغه عشق حقيقي لكه مار داسي دی يعني سړی بيقراره کوي، نو نه طبيب سته د دغي هوی او نه دم كونكی. مگر نه هغه حبيب چي زه پر عاشق يم (د شغف معنى سخت عشق دی چي عشق حقيقي دی) نو په نيز د هغه حبيب زما د مار خوړلو دم دی (د رقيقة معنى دم دی پر مار خوړلي باندي) او په نيز د هغه حبيب زما ترياق دي، ترياق يوه مركب دوا ده چي د ماريا لړم خوړلي لپاره دوا ده.

درويش وايي: چي پر هامش د مكتوبات لمجدد الالف الثاني الشيخ احمد السرهندي قدس سره دغه دواړه بيتونه موجود دي، كه څه هم د مكتوبات په نسخه كي صرف دغه عبارت راغلی دی ''فلا طبيب لها ولا راق'' په هامش كي د مكتوبات داسي روايت راغلی دی چي عليه الصلوة والسلام د يوه صحرايي ښځه دغه دوه بيته واوريده او امر يې کړی په تكرار سره، والله اعلم بالصواب.

درويش وايي: چي دا حكايت او دوه بيته ما په مناسبت د محبت د رسول الله ﷺ او د اولاد دده راوړل.

اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا

پوه سه: چي كلمه د ام منقطعه ده او دا جمله متصله ده په هغه جمله پوري "قل لا اسئلكم عليه اجرًا" او ام په معنى د بل دى، كلمه د بل لپاره د انتقال ده من مضمون الى اخر، او همزه يې لپاره د انكار او توبيخ دى، والمعنى بل ايقولون كفار مكة (افترى على الله كذبًا) دروغ وايي محمد (ﷺ) په دعوى كي د نبوت من جانب الله دى، يا قرآن منزل من جانب الله بولي.

فَاِنْ يَّشَاِ اللّٰهُ يَخْتِمْ عَلٰى قَلْبِكَ

كه د خداى ج اراده واى ستا پر زړه باندي به يې مهر لګولى واى.

پوه سه: چي دا جمله معترضه ده دديې لپاره يې راوړه چي دا بعيده خبره ده چي تا غوندي سړى دي افتراء پر خداى ج وايي، ولي چي افتراء پر خداى ج هغه څوک وايي چي مختوم على قلبه وي جاهلاً بربه، فاما من كان ذا بصيرة و معرفة بربه، هغه پر خداى ج افتراء نه وايي كانه قال ان اراد الله خذلانك ستا ناكامي په دې دعوى كي د نبوت، نو ستا پر زړه به مهر درلګولى واى تا چي ته دلاوره سې پر افتراء على الله، واذ ليس فليس، او مجاهد رح وايي: يربط على قلبك بالعبر حتى لايشق عليك اذاهم وقولهم انك مفتر، او قتاده رح وايي كه د خداى ج اراده واى ستا پر زړه به يې مهر لګولى واى او دا چي كفار وايي چي دا قرآن افتراء على الله دى او محمد (ﷺ) يې له ځانه جوړوي، دا قرآن به يې له تا څخه هېر كړى واى، نو حاصل دا دى چي ته چي مسلسل دا قرآن وايې او احكام او معاني يې و خلګو ته بيانوې، نو ته مفتر نه يې بلكي رسول برحق يې او قرآن منزل من عند الله دى.

وَيَمْحُ اللّٰهُ الْبَاطِلَ وَيُحِقُّ الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ

دا جمله مستأنفه ده لنفي الافتراء عما يقوله محمد ﷺ بانه لو كان ما يقوله محمد ﷺ خداى ج به محوه كړي واى اذ من عادته عزوجل محو الباطل واثبات الحق.

پوه سه: چي د كلمات تفسير چا په وحي سره كړي دي او بعض په قضاء سره كړي

دي او چا په وعده سره کړي دي یعني خدای ﷻ وعده کړې ده چي باطل به محو کېږي لکه شرک او اثبات د حق به کېږي په قرآن سره یا په قضاء د خدای ؒ الذي لامرد له.

إِنَّهُۥ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿٢٤﴾

په تحقیق خدای ؒ بنه خبر دی په هغه څه چي د خلګو په سینو کي وي یعني په زړو کي وي.

وَهُوَ ٱلَّذِى يَقْبَلُ ٱلتَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِۦ

او خدای ؒ هغه مهربان ذات دی چي قبلوي توبه د خپلو بندګانو څخه که توبه له کفر څخه وي او که له نورو ګنهو څخه وي.

پوهسه: چي توبه په لغت کي مطلق رجوع ته وایي، او په شرع کي قیل التوبة ترک المعاصي نیة وفعلاً والاقبال علی الطاعة نیة وفعلاً، او سهل بن عبدالله وایي: التوبة الانتقال من الافعال والاحوال المذمومة الی الافعال والاحوال المحمودة ومآلها واحد، او بیضاوي ؒ د علي ؓ څخه روایت کوي چي لفظ د توبه په شپږو شیانو پوري مربوط دی (۱) پر تېرو سوو ګنهونو باندي پښېماني (۲) د ضائع کړل سوو عبادتونو لکه لمونځونه روژې راګرځول (۳) او د مظالمو رد یا عفو له مظلوم څخه غوښتل (۴) اذابة النفس في الطاعة: ویلول دي د ځان په طاعت کي لکه ده چي ویلي کړی ؤ په معصیت کي (۵) تلخګي د طاعت به برداشتوي لکه ده چي خوند اخستی ؤ پر معصیت (۶) البکاء بدل الضحک وقت المعاصي.

درویش وایي: چي داسي توبه د اولیاء الله توبه ده، او بغوي ؒ په شرح السنة کي له ابن مسعود ؓ څخه روایت کړی دی: الندم التوبة والتائب من الذنب کمن لا ذنب له، فقیر وایي چي دا سهل او اسانه معنی د توبې ده.

درویش وایي: چي الله عزوجل په توبه د خپل بنده په سبب د غایت رحم ډېر خوشحاله کېږي، چنانچه مسلم له انس بن مالک ؓ څخه روایت کړی دی قال قال رسول الله ﷺ الله اشد فرحًا بتوبة عبده حین یتوب الیه من احد کم (الله عزوجل سخت او ډېر خوشحاله کېږي په توبه د خپل بنده هغه وخت چي بنده خدای ﷻ ته توبه وکاږي له یوه ستاسي څخه) کان راحلته بارض فلاة علیها طعامه و شرابه (چي وي

راحله یعني اوښه دده په داسي ځمکه کي دښت و بیابان وي چي پر هغه اوښه دده ډوډۍ او اوبه وي) په بل روایت کي راغلي دي چي ده اوښه چوکه کړې وه او د ګرمۍ له کبله د یوې درختي لاندي پرېوتی بیده سو، د اوښي ګوډه چونکه ده نه وه تړلې نو اوښه د باره سره و ځنګه ته د خورک لپاره ولاړه دی چي ویښ سو سترۍ سوی هم ؤ چي وې کتله اوښه نه معلومېږي، هذا ما في روایة اخری، نو هر څه طلب چي یې وکړی له اوښي ناامیده سو، نو یې د ځان سره فکر وواهه چي تر هغې درختي لاندي به پرېوځي تر څو چي مري د تندي له سببه، په دې دوران کي چي دی د مرګ په انتظار ؤ بیده سوی ؤ چي راکښېنستی اوښه یې سره د طعام او شرابو سر ته چوکه ده، اوښه یې تر مهار ټینګه کړه او د ډېري خوشحالي یې داسي وویل: اللهم انت عبدي وانا ربک (ته زما بنده یې زه دي رب یم) یعني خوله یې خطا وتل، دده خیال خو دا ؤ چي داسي ووایي اللهم انت ربي وانا عبدک لشدة الفرح.

درویش وایي: چي په لږ تفاوت د الفاظو البغويؒ هم روایت کړی دی په خپل سند له حارث بن سوید څخه چي دی وایي چي عبدالله چي مریض ؤ د پوښتنې لپاره ورغلی ؤ هغه وویل چي سمعت رسول الله ﷺ ثم ساق الحدیث المذکور بادنی تفاوت في الالفاظ وروی مسلم عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ ان العبد اذا اعترف بذنبه (چي بنده اقرار وکړي په خپله ګناه سره) ثم تاب، تاب الله علیه، متفق علیه، نو خدای ﷻ یې توبه قبلوي.

فائده: په دې حدیث کي د توبې نسبت و بنده ته هم وسو او خدای ته هم سبب یې دا دی چي اصل معنی د توبې رجوع ده چي بنده ته یې نسبت وسي معنی یې رجوع له معصیت څخه و طاعت ته او چي خدای پاک ته یې نسبت وکړل سي معنا یې رجوع ده له عقوبت څخه و مغفرت ته، له ابن عباس رض څخه روایت دی چي توبه عامه ده للمؤمن یعني العاصي چي له عصیانه توبه وکاږي والکافر چي له کفره توبه وکاږي) والولي والعدو (له ولي څخه مؤمن مراد دی له عدو څخه کافر مراد دی) وقال السري السقطيؒ چي توبه حقیقي داده چي یوه ګناه چي سړی وکړي مثلاً زنی وروسته توبه وکاږي نو چي بل وخت هغه ګناه وریاد سي په زړه کي خوند د هغې ګناه نه ورګرځېږي بلکې کراهت د فعل یې په زړه کي پیدا سي.

نصيحت: په توبه كي تلوار په كار دى من يوم الى غد ته دې نه ځنډوي . بيت:

توبه بکن امروز تو ہر گز مگو پر دا کنم ... شاید بمیری صبحدم فردا نیابی در شمر

وروى عبد العزيز ابن اسماعيل يعني قال رسول اللهﷺ يقول .. (تعجب دى و حال ته د بني آدم) يذنب الذنب ثم يستغفر (اى بعد الندم على الذنب) فاغفرله لاهو يترك ذنوبه ولا هو ييأس من رحمتي (نه دي نا اميده كيږي له رحمت څخه زما) بالندم والاستغفار اشهدكم (يعني يا ملائكتي) اني قد غفرت له.

فائده: كه چا د توبې پر شرائطو برابره توبه وكښل وروسته يې په دې كي شك ؤ چي زما توبه به خداى ج قبوله كړې وي او كه نه، نو دا شك يې گناه كبيره ده لان الله تعالى قد قال في مواضع عديدة ان الله هو التواب الرحيم.

اميان وايي: خداى ج دي مو توبه قبوله كړي، دا خواست غلط دى، داسي بايد ووايي خداى ﷻ دي د توبې توفيق راكړي، لان قبول الله التوبة موعود من الله.

پوه سه: چي توبه د خولې شى يوازي نه ده لكه عوام چي وايي توبه مي ده خدايه بلكې هغه شرائط لري چي يو له هغو څخه الندم بالقلب دى.

پوه سه: چي يو سړي كه گناه كول وروسته له هغې گناه كولو څخه عاجزه سو وروسته ووايي چي زما توبه ده، دا توبه د عجز ده، مثلاً يو سړى غلاوي كوي د خلكو كورو ته ورلوېږي، وروسته په ستر گو ړوند سي يا شل سي بيا وايي چي خدايه زما توبه ده له غلا څخه، دا توبه نه ده داسي توبه خو فرعون هم وكښه چي په درياب كي غرق سو او اوبو پورته كړى ده داسي وويل لا اله الا الله الذي آمنت به بنو اسرائيل يعني توبه يې وكښل، دې قول ته توبه د اياس وايي، په يوه حديث كي راغلي دي چي: الله افرح بتوبة العبد (هر آئينه خداى ﷻ ډېر زيات خوشحاله كيږي په توبه د بنده) من المضل الواجد (د يو چا څخه چي شى ورك سي او پيدا يې كړي) ومن العقيم الوالد (چي د سړي عيال نه كيږي ډېره زمانه، يعني وچ وي او والد وگرځي يعني عيال خداى ج وركړي) ومن الظمأن الوارد (تر ډېر تږي چي اوبو ته ورسيږي)

وَ يَعۡفُوۡا عَنِ السَّيِّاٰتِ

او خدای پاک عفو کوي د ګنهو صغيرها و کبيرها بالتوبة وبلا توبة لمن شاء، بخاري او مسلم له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت کړی دی قال قال رسول الله ﷺ قال رجل لاهله (يعني چي هيڅ کار د خير يې نه ؤ کړی خپلو قريبانو ته يې وويل) اذا مات فحرقوه (چي دی مړ سي يعني زه مړ سم ما په اور وسوځئ، بيا نيمايي د ايرو مي په درياب کي و پاشئ او نيمايي په وچه کي) فو الله لئن قدر الله عليه (قسم دی زما په خدای که خدای قادر سو پر ما)

سوال: ددې سړي خو د خدای جل جلاله په قدرت تامه کي شک ؤ، نو دا سړی خو مسلمان نه ؤ؟

ځواب: دا سړی امي ؤ په دې جهل او شک کي معذور دی.

ليعذبنه عذابًا لايعذبه احدًا من العالمين (خامخا به عذاب ورکړي ده ته دومره عذاب چي هيڅ چا ته يې د عالميانو به دومره عذاب نه وي ورکړی) فلما مات (نو څه وخت چي هغه سړی مړ سو ورثه ؤ يې دده وصيت پر ځای کړی يعني و يې سو او په بحر او بر کي يې دده ايرې وپاشلې، نو خدای پاک درياب امر کړی فجمع ما فيه (درياب هغه دده ايرې راجمع کړې، او بر يې امر کړی هغه هم ايرې راجمع کړې ما فيه) نو هغه سړي ته خدای عزوجل وويل چي دا کار دي ولي وکړی؟ قال من خشيتک يا رب (ستا له بيري څخه ای زما ربه) وانت اعلم (او ته زما په حال بنه خبر يې) فغفرله، وروی احمد عن ابی الدرداء رضي الله عنه انه سمع النبي ﷺ بقول على المنبر يعني پر منبر ولاړ ؤ داسي يې وويل: ولمن خاف مقام ربه جنتان (هغه چا لره چي بېرېږي له درېدو څخه و خدای ته يعني په ورځ د قيامت دوه جنته دي) ابو الدرداء رض وايي ما ورته وويل: ان زنٰى وان سرق يا رسول الله، بيا دوهم وار عليه الصلوة والسلام هغه آيت مکرر کړی، بيا ما دوهم وار ورته وويل وان زنٰى وان سرق يا رسول الله؟ بيا دريم وار رسول الله ﷺ هغه آيت تلاوت وکړی، ابو درداء رض وايي چي بيا ما ورته وويل وان زنٰى وان سرق يا رسول الله؟ فقال وان رغم انف ابی الدرداء، که څه هم پزه د ابو الدراء په خاورو کېږي، فقير وايي چي دا يوه مقوله ده چي عرب يې په ذلت کي استعمالوي.

وَيَعْلَمُ مَا تَفْعَلُوْنَ ۝۲۵

او خداى علم لري پر كارو چي تاسي يې فعل كوئ، يعني من الطاعة و العصيان، په يوه روايت كي راغلي دي چي يو سړي د الدينوري ځخه پوښتنه وكړه "ما اصنع فكلما وقفت على المولى صرفنى البلوى (زه څرنګه وكړم حتى چي زه هر وخت ودرېږم پر دروازې د مولى يعني د خداى ﷻ زما ځخه بلوى نه دفع كوي) دينوري ورته وويل: كن كالصبي مع امه فكلما ضربته يجزع بين يديها ويتضرع فلا يزال كك حتى تضمه اليها، ترجمه: اوسه د خداى ﷻ سره لكه كوچنى د مور سره چي مور هر وار چي دا خپل زوى په چپلاخه مثلاً ووهي كوچنى ورته ژاړي مور ته عجز كوي، رفته رفته مهربانه موريې اخير په غېږ كي ونيسي نو هغه د كوچني مقصد كه يې تى غوښتى كه يې ډوډۍ وغيره غوښتل ورته حاصل كړي، په يوه صحيح حديث كي راغلي دي چي بعض ګناه كاران لاسونه پورته كړي خداى ﷻ ته يعني دعاء د مغفرت د ګنهو ځني كوي فلا ينظر اليه بالرحمة يعني خواست يې نه كړي قبول ثم يدعوا ثانيًا فيعرض عنه يا په نظر د رحمت نه ورته ګوري، درېيمه پلا يا زارى او عجز ورته وكړي، نو خداى ﷻ ملكو ته ووايي: يا ملايكتي قد استحيت من عبدي وليس له رب غيري فقد غفرت له، ما بخښلى دى.

درويش وايي: چي حياء په جناب كي د خداى ﷻ مجاز دى، وقد مر بيانه في سورة البقرة في تفسير قوله تعالى ان الله لا يستحيى ان يضرب مثلاً الى اخير الآية... بيت

كرم بين ولطف خداوندگار ..... گنه بنده كردست واو شرمسار

بايزيد البسطامي قدس سره سلطان العارفين په يوه مناجات كي و خداى ﷻ ته داسي د عجز بيت ويلى دى:

چهار چيز اورده ايم شاها كه در گنج تو نيست
عـــاجـزى و مسـكينى فقر و گناه اورده ايم

درويش په خپل وار خداى ﷻ ته دا بيتونه وايي:

الهـــى يـا الـهـى يا الهى ..... ندارم جـز اميدت تكيه گاهى
نـدارم تـوشـهٔ راه قيامت ..... بجز شـرمندگى و رو سـيـاهى

ندارم طاعت مقبول درگاه ..... اشـک نـدامـت آه آهـی
شفیع آورده ایم روئ محمد ..... مرا از ذنب خود کن عذر خواهی
بحق و حرمت فـرقان اعظم ..... کـرم کـن بر من گم کرده راهی

وَيَسْتَجِيبُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ

دا جمله عطف ده پر یقبل، قبلوي خواست د هغو کسانو چي ایمان یې راوړی وي او اعمال صالحه یې هم کړي وي که مالي وي او که بدني وي، که ظاهري وي او که باطني وي.

سوال: یستجیب خو متعدي بنفسه نه دی، نو دلته یې څرنګه متعدي بنفسه ګرځولی دی و الذین ته؟

ځواب: لام جاره ورسره محذوف دی کما في قوله تعالی واذا کانوهم ای کانوا لهم، او عطاء" د ابن عباس‎ؓ څخه روایت کړی دی چي معنی د آیت یې داسي کړې ده "ویثبت الذین آمنوا بالقول الثابت" الی اخیره، او بیضاوي" وایي چي معنی د استجابة الاثابت علی الطاعت.

وَيَزِيدُهُم مِّن فَضْلِهِ ۚ وَالْكَافِرُونَ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ﴿٢٦﴾

او ورکوي خدای پاک دوی ته زائد پر هغه شي چي دوی یې خواست کاوه یا یې دوی مستحق وه، او ابو صالح" له ابن عباس‎ؓ څخه روایت کړی دی چي د یستجیب معنی ده "یستجیب الذین آه" چي ددوی شفاعت قبلوي په اخوان کي ددوی او یزیدهم من فضله چي شفاعت ددوی په اخوان الاخوان کي، او کافرانو لره دی عذاب سخت.

پوه سه: چي مراد له شدت څخه شدت في نفسه دی او یا معنی داده چي نسبت و بعضو مؤمنانو ته که چیري وکړل سي لکن عذاب دومره نه وي لکه د کافر في الکم والکیف فتأمل، دا جمله عطف ده پر هو الذي یقبل التوبة.

پوښتنه: بعض کسان خدای" ته په عاجزۍ درخواستونه وکړي لکن خواست یې نه وي قبول سوی یعني هغه شی چي ده له خدایه غوښتی وي هغه په لاس نه وي ورغلی؟

ځواب: (۱) په صحیح حدیث کي راغلي دي چي سعد بن وقاص و علیه الصلوة

والسلام ته وویل چي ته خدای ته خواست وکړه چي زما خواست دي قبلوي، علیه الصلوة والسلام ده ته وویل یا سعد اجتنب الحرام فان کل بطن دخله لقمة من الحرام لایستجاب دعوته اربعین یومًا (ای سعده له حرامو څخه اجتناب وکړه، ولي چي یوه ګوله د حرام که چیري د چا نس ته داخله سي، نو څلوېښت ورځي به د هغه دعاء نه قبلیږي) (۲) او په بل صحیح حدیث کي راغلي دي چي ان الرجل یطیل السفر ای في طریق (لکه مثلاً حج یا عمرې ته روان وي) اشعث (سرېي بېروي) اغبر (پښې یې سپېرې وي) یقول یا رب (یعني د یو شي خواست خدای ته کوي) لاسونه یې د اسمان و خوا ته پورته نیولي وي) و مطعمه حرام و شربه حرام (د خوراک او څېښاک شی یې حرام وي) وغذا بالحرام (او غذاء یې له حرامو څخه وي) فانی یستجاب لذالک الرجل دعائه (نو چیري به قبلونه وسي د دغه سړي د دعاء)

په تفسیر بحر العلوم کي وایي چي د نیابت د اجابت مضامین ټوله مسلم دي او مقبول دي، ولي چي آیتونه پر دې دلالت کوي چي د مطیع لربه خواستونه ټول مقبول دي علی کل حال، او دا نه ده لازمه ان یستجاب لکل مؤمن فان بعض الذنوب یمنع الاستجابة ویرد الدعوت کما اذا کان المطعوم وا لمشروب حرامًا والقلب لاهیًا غافلاً، یعني دعاء یې صرف په خوله وي زړه یې غافل په لهو کارو کي فکر وهي په خوله دعاء کوي.

درویش وایي: چي په نننۍ زمانه کي دعاء پر شرطو د استجابت ډېره نادره ده الا من بعض اولیاء الله والخواص من العباد لان اکل الحرام لایخلو عنه الا من شذ وندر.

(۲) ځواب: د عمومي خلګو دا خیال دی چي قبلونه د دعاء فقط دا ده چي هغه شي چي ده غوښتی له خدای څخه هغه شی خدای ورکړي لکن استجابت په دغه کي حصر نه دی، ګاهي یو بنده یو شی له خدایه غواړي مثلاً چي ماته یو ښه موټر د سپرلي لپاره راکړې خدای پاک د هغه په عوض کي تر هغه ښه شي ورکړي، مثلاً ښه صالح عالم زوی خدای ورکړي، او ګاهي یو سړی له خدایه زوی غواړي لکن په علم د خدای زوی دده لپاره شر وي، خدای په عوض کي د هغه یو شر چي ده ته متوجه وي ځني دفع کړي مثلاً یو دښمن چي دده د قتل نیت یې کړی وي د زړه یې ځني وباسي.

(۳) ځواب: د بعضو دعاګانو د اجابت خدای پاک دده لپاره ذخیره وګرځوي

د آخرت، کما ورد چي په ورځ د قیامت بعض مؤمنان چي خپل جنت ته ورسي جنت تر خپلو اعمال صالحهؤ ډیر بالا په خیال ورسي، ولي په جنت کي د هر عمل صالح عوض جلا دی، نو دديٖ سړي چي په جنت کي دده تر عمل بالا شیان په خیال ورسي من قصور و غلمان وحور، نو دی په جناب کي د رب العزة پوښتنه وکړي چي دا بالا شیان زما لپاره په جنت کي د څه سببه دي، خدای پاک ورته ووایي چي دا بالا بود شیان له دیٖ کبله دي چي تا به ماته خواستونه کول یعني د دنیا د یو شي چي هغه کار په ذخیره په جنت کي درته درکړل سو، نو هغه داسي تمنا وکړي چي کاشکي په دنیا کي زما غوښني خلګو په غچیو پريٖ کولای او ما خدای ؒته خواست کولای او هغه خدای ؒنه قبلولای او د اخیرت لپاره یيٖ ذخیره کولای.

(۴) څلورم ځواب: کـه څـوک اطاعـت د خـدای ؒد امـر نهـي وکـړي یعنـي استجابت د خدای د دعوت وکړي، خدای ؒبه دده استجابت کړی وای.

(۵) پنځم ځواب: علماء وایي چي استجابت د دعاء ګاهي طول زمان غواړي په علم کي د خدای ؒلکن داعي یيٖ ژر غواړي نو چي خدای د داعي مطلوب بالدعء شی ده ته نه کړي ور، نو دی وایي زما دعاء قبوله نه سوله، فقیر وایي الی غیره من الجوابـات، حاصـل دادی چـي روایـت سـوی دی چـي دعــاء او عجـز و خـدای ؒتـه عبادت دی کما ورد في الحدیث الصحیح ''الدعاء مخ العبادة'' نو مسلمان ته په کار ده چي د یو ادنٰی شي چي محتاج سي د الله عزوجل څخه ديٖ غواړي د مخلوق طمع دي له زه څخه وباسي، د ابو هریره ﷺ څخه روایت دی قال قـال النبي ﷺ ان الله یغضب علی من لایسئله ولایفعل ذالک احد غیره تعالی، انتهی.

وَلَوْ بَسَطَ اللّٰهُ الرِّزْقَ لِعِبَادِهٖ

که خدای ﷻ فراخه کړي رزق و خپلو بندګانو تـه، چـي مراد ځني مؤمنان دي، البغوي ؒوایي چي خباب بن الارت وایـي چي دا آیت پـه موږ یعني مساکینو کي نازل سوی دی، ولي چي موږ به و کتل بني قریضه او بني النضیر او بني قنقاع ته چي د یهودانو د درو قبیلو نومان دي، یعني چي دا قبیلي په عیش کي د دنیا وي، نو موږ مساکینو هم دا تمنا وکړه چي کاشکي موږ هم په ورتـه عیش او نوش کي وای، فنزلت هذه الآیة ولو بسط الله الرزق لعباده.

لَبَغَوۡا فِي الۡاَرۡضِ

دوی به تکبر او فساد کړی وای په مځکه کي يعني ليبغي بعضهم على بعض استيلاءً واستعلاءً، قال ابن عباس رضي الله عنهما بغيهم طلبهم منزلة بعد منزلة ومركبًا بعد مركب وملبسًا بعد ملبس كما هو عادة الاغنياء في الدنيا خصوصًا الكفرة.

پوه سه: چي اصل بغي تجاوز دی تر حد د اعتدال او اقتصاد فيما يتجرٰى كمية و كيفية.

پوه سه: چي لزوم د بغي پر بسط باندي بناء پر غالب دی، والا فقد يكون فقيرًا متكبرًا وظالمًا لكن البغوي مع الكبر اقل، ولي چي فقريې اکثر سبب د انکسار دی والبغي في الاكثر مؤدي الى البغي، حسين كاشفي رح وايي: واين درغالب است که ذی النورين رضي الله عنه مالدار ترين مردم بود برو گز ايشان بغي وطغيان ظاهر نه شد، و گفته اند مال دنيا بمثال باران است که بر تمام زمين ميبارد و از هر قطعه ازان گياه ديگر رويد ... بيت:

باران كه در لطافت طبعش خلاف نيست .... در باغ لاله رويد ودر شوره بوم

قال عليه الصلوة والسلام: هغه ډېر چي زه ېېرېږم پر امت خپل زهرة الدنيا وكثرتها.

ع:.... نفس رابد خونباز ونعمت دنيا مكن.

وَلٰكِنۡ يُّنَزِّلُ بِقَدَرٍ مَّا يَشَآءُ ؕ اِنَّهٗ بِعِبَادِهٖ خَبِيۡرٌۢ بَصِيۡرٌ ﴿۲۷﴾

خدای ج نازلوي ارزاق ددوی په اندازه د حکمت خپل چي و غواړي، په تحقيق خدای پاک په خپلو بندګانو سره ښه خبر دی او ليدونکی دی چي ددوی پټ احوال ورته معلوم دي، او مآل د امورو ددوی هم ورته معلوم دی (کلمه د ما موصوله ده مفعول به ده د ينزل، و بقدر حال دی منه مقدم عليه)

فائده: اخرج الحاكم وصححه چي دا آيت په اصحاب صفه ؤ کي نازل سوی دی چي فقراء د مسلمانانو وه او په صفه کي د مسجد نبوي به اوسېدل دوی به ويل: لو ان لنا اموالاً فتمنوا الغنى، وهذا حديث مروي عن علي كرم الله وجهه.

درويش وايي: چي مظهري د بغوي رح يو طويل حديث رانقل کړی دی چي ډېر متشابهات عبارات پکښي دي چي مبتدي بلکي ډېر ملايان يې په تأويل نه پوهېږي،

نو فقير له دې کبله نه کړی را نقل چي مطالعه کونکي د تفسير ايوبي د نفع اخستلو په ځای کي واقع نه سي، انما الاعمال بالنيات، حديث في صحيح البخاري فافهم.

پوښتنه: ته خو يې په تأويل سره خبر يې، نو ته يې تأويل و کړه؟

ځواب: زه خو يې په خپله تأويل نه سم کولای البته د متأخرينو له کتابو څخه به يې تأويلونه رانقل کوم، زه په خپله بېرېږم چي غلط تأويل را څخه ونسي، ولي د متأخرينو په کتابو کي مختلف تأويلات د مذکوره حديث کړل سوي دي، زه کوم تأويل رانقل کړم، يا دا چي مطالعه کونکو ته د تفسير ايوبي څه ګټه نه لري.. بيت:

نه مجتهد يم، نه قاضي يم، نه مفتي ... خوشه چين د کتابو د اهل تفسير يم

حاصل دا چي لوی بار بايد څوک نه کړي په شا امکان لري چي ملا يې ماته کړي... بيت:

آے تھے ہم مثل بلبل سیر گلشن کر چلے ... دیکھ مالی باغ اپنا ہم تو اپنے گھر چلے

وَهُوَ الَّذِي يُنَزِّلُ الْغَيْثَ

خدای هغه مقتدر خدای دی چي نازلوي باران.

پوه سه: چي غيث هغه نافع باران ته وايي چي خلک وساتي له جدت څخه ای القحط.

پوه سه: چي جمله د وهو الذي عطف ده پر وهو الذي يقبل التوبة آه باندي، او په مابين کي جمله شرطيه يعني ولو بسط الله آه جمله معترضه ده.

مِنۢ بَعۡدِ مَا قَنَطُواْ وَيَنشُرُ رَحۡمَتَهُۥۚ وَهُوَ ٱلۡوَلِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ۲۸

چي خلک له نزول څخه د باران نا اميده سوي وي... بيت:

چه خوش باشد که بعد از انتظاری .... باميد رسد اميد اوری

"وينشر رحمته" او وېشي پر خلکو خپل رحمت چي باران دی يا مراد له رحمت څخه رزق دی په سهل مځکه کي او په غرو او ښاره مځکو کي من النباتات للانس والحيوانات "وهو الولي الحميد" خدای دی چي تولی او تصرف کوي د خپل مخلوق په احسان سره او په نشر د باران، او خدای مستحق د حمد دی في ذاته وعلی احسانه، يعني اولاً خدای مستحق د حمد دی في ذاته ولو لم يجده احد او بيا په احسان سره، روی عن عمر رضي الله عنه چي چا ورته وويل: اشتد القحط

وقنط الناس (سخته سوه کاختي د باران او خلګ هم نا اميده سوه له باران څخه) فقال مطروا اذن (باران به وسي چي قحط سخت سو، او خګ نا اميده سوه واشار الى هذه الآية .. مثنوي معنوي:

تا فرود آید بلابی دافعی .... چون نباشد از تضرع شافعی

تا سقاهم وبهم آید خطاب .... تشنه باش والله اعلم بالصواب

وفي الحديث القدسي: لو ان عبادي اطاعوني سقيتهم المطر ليلاً (زه پر اوروم باران د شپې، يعني دوی بېغمه خپل خوب وکړي او کالي يې په اوبو لانده نه سي) واطلعتم الشمس (او پر دوی راخېژوم لمر د ورځي تاچي خپل کار او کسب وکړي، تجارت، مزدوري، دکانداري وغيره) وما اسمعتم (او زه په دوی د تالندي اواز نه اورم، ولي چي دوی به د تالندي د ږغ په وخت کي په خواږه خوب بيده وي) وجاء في الحديث الصحيح المرفوع: ما من سنة بامطر من الاخرى (نسته يو کال چي ډېر باران دي پکښي اوري تر بل کال) لکن اذا عمل قوم بالمعاصي حول الله ذالک الى غيرهم (لکن چي عمل وکړي يو قوم د ګنهو خدایٔ دغه حصه باران د دوی وبل چاته واړوي) فاذا عصوا جميعًا صرف الله ذالک الى الضيافي والبحار (او چي ټوله په عصيان اخته وي خدایٔ هغه د دوی برخه باران واړوي وبيابانو او دريابو ته)

درويش وايي: چي صاحب د روح البيان الشيخ اسماعيل حقي البرسوي چي وفات يې په (۱۱۷۲هـ) کي سوی دی په خپل تفسير کي وايي چي انسان بايد لايضحک دائمًا يعني چي په حالت کي د بسط وي، ولايبکی دائمًا چي حال د قبض وي، يعني بسط او قبض يتعاقبان على الانسان، ده د خپل ځان يوه قصه رانقل کړې ده، دی وايي چي ډاکو ګانو د عرب غارت وکړی په لاره کي د شام نو زه هم په دغو حاجيانو کي وم، نو ما په خپل اختيار سره ټوله ما معي من الاموال والنقود ځان مي مجرد کړی يو قميص او يو پرتوګ مي اغوستی ؤ په دې سبب چي غله د ښمنان د مال دي، فمشيت على وجهي ماته په زړه کي وويل سول چي پر راسته طرف ولاړ سه، ما هم هغسي وکړه حتى لم يبقى لي طاقة على المشي من الجوع والعطش، نو زه د لوږي او د تندي له کبله غځار سوم پر ريګ باندي او له

ژونده نا اميده سوم، وليس معي احد الا الله تعالى فقيل لي في سمعي يعني ماته په غوږ کې وويل سول يعني ما واورېدل .. قول الشاعر:

عسى الكرب الذى امسيت فيه .... يكون لمرئه فرج قريب

فخرج الله بعد ساعات مما يطول بيانه بل يجب اخفائه.

وَمِنْ اٰيٰتِهٖ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

او بعض د دلائل د قدرت تامه او د توحيد د خداى و صفات جلاله وجماله، پيدا کول د اسمانو او د مځکي دي، ولي چي اسمانونه او مځکه په خپل ذات او صفاتو او حالاتو دلالت کوي پر وجود د صانع حکيم قادر مطلق بلا مشارکة احد في خلقه، کريمه: لو كان فيهما آلهة الا الله لفسدتا، فقير ترجمه په بعض سره وکړه يعني من يې د تبعيض لپاره وباله لان دلائل قدرته الكاملة وتوحيد و وجوب وجوده ليست منحصرة في خلق السمٰوات آه، قال السعدي الشيرازي قدس سره:

برگ درختان سبز درنظر هوشيار ..... هر ورقى دفتريست معرفت کردگار

وَمَا بَثَّ فِيْهِمَا مِنْ دَآبَّةٍ ؕ

او هغه چي خداى متفرق کړي دي په مځکه کي.

فائده: وما من عطف دى پر سمٰوات يا پر خلق، او دابة په اصل کي مايدب على الارض ته وايي (چي حرکت کوي پر مځکه، نو چونکه حرکت پر مځکه سبب يې حيوة دى نو لفظ د دابة په معنى د حيٌ دى يعني اطلاق د اسم د مسبب دى پر سبب، نو پر دې تقدير يشمل لفظ الدابة للملائكة والجن والانس والشياطين وسائر اليحوانات.

درويش وايي: چي ابن المنيرؒ پر دې باندي سخت اعتراض او انکار کړى دى، ده ويلي دي چي اطلاق د دابة على الاناسي بعيد في عرف اللغة فضلاً على الملائكة، ده ويلي دي اصح داده دأب في الارض على عرف اللغة لاغير.

سوال: دواب په معنى لغوي سره خو يوازي په مځکه کي دى په آيت کي خو ما بث فيهما راغلى دى يعني په اسمانو او مځکه کي، نو په اسمانو کي خو دابة په معنى لغوي نسته؟

ځواب: ابن المنير ؒ ددې په ځواب کي ويلي دي چي ما في احد الشيئين لکه دواب په مځکه کي دا پر صادق کېږي چي په دواړو کي چي دي يعني په اسمانو او مځکه کي في الجملة کما في قوله تعالى: يخرج اللؤلؤ والمرجان يخرجان من الملح، والدليل على قول ابن المنير ؒ قوله تعالى في سورة البقرة: وبث فيها (اى في الارض) من كل دابة.

القول الفصيل: درويش وايي چي که نظر وکړل سي و معنٰی لغوي ته د دابة، نو قول د ابن المنير ؒ پر ذروة د تحقيق دی، او که نظر و بيان ته د قدرت شامله د بيان د الله عزوجل، نو هغه د مخه معنٰی چي ذکر مسبب دی مراد ځندي سبب دی اولی بالارادی، والله اعلم بالصواب واليه المرجع والمآب.

وَهُوَ عَلٰى جَمْعِهِمْ إِذَا يَشَآءُ قَدِيْرٌ ﴿٢٩﴾

او هغه پر ټوله هغه څه باندي چي اراده يې سي قدرت لرونکی دی، يعني فيجمعهم يوم القيامة.

وَمَآ أَصَابَكُمْ مِّنْ مُّصِيْبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيْكُمْ

پوه سه: چي کلمه د شرطيه يا موصوله ده متضمن معنٰی لره د شرط ده، هم دا سبب دی چي په خبر کي يې فاء راوړه.

ترجمه: هغه شی چي تاسي ته ورسېږي د يو مصيبت څخه، تنوين د مصيبت لپاره د تحقير دی، يعني که څه هم لږ مصيبت وي په سبب د هغو معاصيو چي تاسي کړي وي.

وَيَعْفُوْا عَنْ كَثِيْرٍ ﴿٣٠﴾

او خدای عفو کوي د ډېرو ګنهو، يعني په عوض کي مصيبت نه درنازلوي، الحسن ؒ وايي چي دا آيت نازل سو قال رسول الله ﷺ والذي نفسي بيده، زما دي قسم وي په هغه خدای ؒ چي زما روح دده په قدرت کي دی، ما من خدش (يو ځوز چي په سړي جګ سي) ولا عنترة قدم (يا نوک ووهي يا يې پښه و ښويېږي) ولا اختلاج غرق (يا يو رګ يې حرکت وکړي) الا بذنب (مګر د يوې ګناه په سبب دی)

وما عنه اکثر، الدیفاوي وايي چي دا آیت مخصوص دی په مجرمینو سره یعني په ګناه کارانو سره و، اما غیرهم لکه کامل مسلمانان او اولیاء الله هغه ته چي مصیبت رسیږي هغه د نورو اسبابو له کبله یعني یا اجر عظیم ورکوي په سبب د صبر پر هغه مصیبت، الا ترٰی ایوب علیه السلام مبتلا سو په ډېري ناجوړی حتی چي بدن یې چینجیان وکړه چي قصه یې مشهوره ده او مخته تاسي ته په تفسیر کي تېره سوه، نو دا خو سبب د ګناه نه ؤ بلکي لپاره د رفع د درجاتو دده، لان الانبياء علیهم السلام معصومون من المعاصي (درویش په دې باره کي یوه رساله لیکلې ده چي نوم یې کشف الغطاء عن عصمة الانبياء چي یو وار دمخه چاپ سوې وه او اوس به بیا عنقریب ان شاء الله تعالی له چاپه راووځي، په ذریعه د مکتبة القرائت والتجوید للقاري فضل الحق سامحه الباري چي اوله طبعه یې تقریبًا و درجې ته د غایت ندرة رسېدلې وه او غوښتونکي یې بېخي ډېر وه)

البغوي وايي قال عکرمه ما من نکبة اصاب عبدًا فما فوقها الا بذنب لم یکن الله لیغفره الا بها او درجة لم یکن الله لیبلغه الا به، وروی البغوي بسنده عن علي رضی الله عنه چي ده و خلګو ته وویل چي زه تاسي خبر نه کړم په افضل آیت سره د کتاب الله عزوجل چي ما ته بیان کړی دی رسول الله ﷺ هغه آیت "وما اصابکم من مصیبة فبما کسبت ایدیکم ویعفوا عن کثیر" کما مر مع الترجمة، او رسول الله ﷺ وویل سافسرها لک یا علي (ژر دی چي زه به د هغه تفسیر درته وکړم ای علي (هغه دادی) یا علي ما اصابکم.

درویش وايي: چي که څه هم مخاطب علي کرم الله وجهه ؤ لکن ددې سببه چي احکام د شریعت عام دي، نو که علیه الصلوة والسلام ضمیر د کم جمع راوړی دی من مرض او عقوبة (مرض تر عقوبت عام دی) او بلاء في الدنيا فبما کسبت ایدیکم والله اکرم من ان یثنی علیهم العقوبة في الآخرة (او خدای ډېر مهربان دی چي پر فاعل د ګناه دي پر کونکو د ګنهو دي عذاب مکرر وګرځوي په اخرت کي) وما عفا الله في الدنیا فالله احکم ان یعود (ای جزاء ته د هغې ګناه چي ده عفو په دنیا کي و بنده ته کړې وه، رواه احمد وغیره.

پوه سه: چي حكيم الترمذيؒ په نوادر الاصول كي وايي چي بلا پر درې قسمه ده (١) تعجيل العقوبة للعبد، لكه يوسف عليه السلام ته چي پېښه سوه من لبثه في السجن بقوله واذكرني عند ربک فانساه الشيطان ذكر ربه ولبث في السجن بضع سنين (٢) دده امتحان تاچي ښكاره سي دده ما في الضمير او خلكو ته دده په نېز د خدایؒ كما نزل بايوب عليه السلام قال الله تعالى انا وجدناه صابرًا نعم العبد انه اواب (٣) چي دده كرامت ښكاره سي او قرب الى الله تعالى كما نزل بيحيٰى بن زكريا عليهما السلام مع ان يحيىؑ لم يعمل خطيئة ولم يهم بها فذبح ذبيحًا او دده سر يې و يو ړندې ته د بني اسرائيلو په لاس وركړى.

فائده: رسول الله ﷺ د ټولو ورته عقوباتو څخه پناه غوښتې حيث قال واسئل الله العافية من كل بلية.

وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ فِى الْاَرْضِ ۚ وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿٣١﴾

تاسي نه ياست عاجزه كونكي د د خدای په مځكه كي چي پر تاسي باندي دي ما اراد من المصائب نه كړي نازل، او نسته تاسي لره ماسوى له خدایؒ څخه يو دوست چي تاسي دي عقوبت څخه د خدای وساتي او نه كومكي چي عذاب د خدای ستاسي څخه دفع كړي بالغلبة والقهر.

فائده: دا جمله حال ده له مفعول څخه د ما اصابكم او پر دې جمله عطف دى قوله تعالى "ومن آياته"

پوه سه: چي په مابين كي د ولي او نصير عموم و خصوص من وجه دى ولايخفٰى على الذكي مادتى الافتراق ومادة الاجتماع، فتدبر فيها.

وَمِنْ اٰيٰتِهِ الْجَوَارِ فِى الْبَحْرِ كَالْاَعْلَامِ ﴿٣٢﴾

د خدای د دلائلو څخه د قدرت كامله دده دي دريابونه (كلمه د من لپاره د تبعيض ده ولي چي آيات د قدرت د خدایؒ لاتعد ولا تحصٰى دي چي جوار مذكوره يې بعض دي.

پوه سه: چي جوار جمع د جارية ده چي مراد ځني كښتيانې دي په درياب كي "كالاعلام" لكه غرونه، دا صفت د جوار دى، وجه التشبيه يې د غرو سره داده چي په كښتيو كي ډېر خلك او هغه خوراكي مواد او تجارتي مالونه پكښې وي.

إِنْ يَّشَأْ يُسْكِنِ الرِّيْحَ فَيَظْلَلْنَ رَوَاكِدَ عَلٰى ظَهْرِهٖ

که د خدای اراده سي باد به ودروي چي هغه سبب د جريان د کښتۍ دی، نو به ولاړي ولاړي ته پر شا د درياب، يعني حرکت به کوي پر يو خوا ولي چي د کښتۍ حرکت په باد سره مربوط ؤ او باد خو ودرېدی.

إِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ﴿٣٣﴾

په دغه مذکوره بيان د کښتيو دلائل دي د قدرت رباني هر هغه چا لره چي پر مصائبو صبر کوي او د نعمتو د الله عزوجل شکر وايي، دواړه لفظه لپاره د مبالغې دي ای کثير الصبر و کثير الشکر مراد ځني مؤمنان دي، قال رسول الله ﷺ الايمان نصفان نصفه في الصبر ونصفه في الشکر.

فائده: دا جمله معترضه ده په مابين کي د احوال د کښتۍ.

أَوْ يُوْبِقْهُنَّ بِمَا كَسَبُوْا وَيَعْفُ عَنْ كَثِيْرٍ ﴿٣۴﴾

عطف دی على يظللن يعني که خدای دوام ورکړي و سکون ته د ريح، نو دا کښتۍ به هلاکي کړي، يعني اهل د کښتيو، او کلمه د با سببيه ده او يا مصدريه ده ای کسببهم من الشرک والمعاصي، او يا ما موصوله دی عائد يې محذوف دی ای بما کسبوه، او نجات ورکوي بعض کسانو ته، چي سواريان د کښتيو دي، عفو کوي نو کښتۍ يې غرقه نه سي بلکې سالمه د سواريانو سره تر درياب راووځي.

وَّيَعْلَمَ الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِنَا ؕ مَا لَهُمْ مِّنْ مَّحِيْصٍ ﴿٣۵﴾

او چي پوه سي هغه کسان چي ناحقه بحثونه کوي زموږ په آياتو کي په تکذيب او په ابطال سره يعني چي زموږ آيات قرآنيه له منځه ځخه يوسي، نسته دوی لره ځای د خلاصون له عذابه څخه د خدای، والمعنى ای يعلمون چي ودوی ته معلومه سي يعني هغه کسانو ته چي تکذيب، د قرآن د آياتو يې کاوه او اعتبار يې نه ورکاوه و آياتو ته د رحمان چي دوی خدای لره ورسي بعد البعث چي ځای د تېښتي له عذاب څخه د خدای نسته دوی لره.

پوه سه: چي ليعلم الذين عطف دی پر علت مقدره مثل لينتقم الله منهم وليعلم.

فَمَآ اُوْتِيْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَمَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

هغه شی چي تاسي ته درکړه کېږي (يعني په دنيا کي من المال والنعم والعيش وغيرها) د نفع شيان دي د دنيا چي تاسي به نفع پر اخلئ په دې نژدې ژوند کي.

پوه سه: چي دنيا صفت دی د حيوة، نو که دنيا مشتق وي د دنو چي معنی يې نژدېوالی ده، نو د دنيا معنی قربی يعني تر اخروي ژوند نژدې ده او که دنيا مشتق د دنائت څخه سي چي معنی يې حقارت دی، نو حاصل دادی چي يو څو ورځي به نفع پر واخلي مدة حياتکم يا به تاسي څني ځئ، او ما اوتيتم به پاتېږي يعني د آخرت تو بنه يې نه وي، نو مسلمان ددې په طلب کي بايد ډېر حريص نه وي بلکې په قدر د ضرورت يې طالب وي.

درويش وايي: چي په اوسني زمانه کي پر ما يکفی صبر کول ډېر شاذ او نادر دی الا من شاء الله تعالی.

وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى

او هغه شيان چي د خدای سره دي، چي جنت و نعيمها دي هغه ډېر ښه دي تر نعمتو د دنيا.

پوه سه: چي نعمتونه د آخرت كمًا و كيفًا تر نعمتو د دنيا ډېر دي يعني په عدد کي هم پراخه دي لان جميع تلک النعم مقدارها في علم الله او تر ټولو نعمتو د دنيا په خوند کي او په لذت کي هم تر بالا دي.

لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ﴿٣٦﴾

د هغه خلګو لپاره چي ايمان يې راوړی وي او توکل او اعتماد يې پر کړی وي پر خدای، والحاصل في هذه الآية بيان ان المؤمن والکافر سره برابر دي في ان الدنيا متاع لهما يتمتعان بها فاذا صاروا الى الآخرة کان ما عند الله خير للمؤمنين وعذاب للكافرين.

وَالَّذِيْنَ يَجْتَنِبُوْنَ كَبٰٓئِرَ الْاِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ

او هغه کسان چي پرهېز کوي د لويو څخه د ګنهو، دا جمله عطف ده پر هغه جمله للذين آمنوا، بعض مفسرين وايي چي فواحش تفسير د کبائرو دی، او السدي وايي هي الزنی.

سوال: فواحش خو جمع ده او زنٰی خو یو فعل دی؟

جواب: جمعیت یې په اعتبار د فاعلانو د زنٰی دی، او مقاتلؒ وایي چې فواحش هغو گنهو ته وایي چې حد شرعي پکښې لازم وي لکه زنٰی، سرقه، قطع الطریق وغیرها، په کشف الاسرار کي وایي چې اضافت د کبائر یې واثم ته وکړی فان الاثم هي الصغیرة وهي مغفورة اذا اجتنب الکبائر، د مثال په توگه مسه کول د ښځي یا مچه ځني اخستل صغیره دي او زنی یې کبیره ده کما في قوله ان تجتنبوا کبائر ما تنهون عنه نکفر عنکم سیئاتکم، او ترجمان القرآن عبدالله بن عباس رضی الله عنهما وایي چې کبائر الاثم ټوله معاصي المؤبقة ته وایي وهي الشرک بالله ای الکفر مطلقًا که څه هم عبادت د بت نه وي (۱) وقتل النفس بغیر حق سواء کان نفسه او غیره (۲) وقذف المحصنة (یعني نسبت د زنٰی کوي دی و هغې ښځي ته چې مکلفه یعني صغیره نه وي او مسلمانه وي او زنٰی او نور قبائح افعال هم نه وي پکښې (۳) والزنٰی (چې معنی یې ده وطي کول په قبل کي د ښځي چې خالي وي د ملک النکاح او ملک الیمین څخه، نو وطي د خرې وغیره من البهائم واللواطة زنٰی نه ده) (۴) والسحر ویقتل الساحر ذکرًا او انثی اذا کان سعیه بالافساد یعني په مځکه کي فساد کوي او خلک په سحر هلاکوي (۵) واکل مال الیتیم (یعني الا باجازة الشرع لکه د یتیم د باغ باغواني چې خپل مزدوري ځني خوري، قال الله تعالی ولاتقربوا مال الیتیم الا بالتي هي احسن (۶) وعقوق الوالدین المسلمین او احدهما الا اذا کان مؤدیًا الی اضاعة حق الله لکه مثلاً پلار زوی ته وایي ورسه فلانی سړی مړ کړه (یعني بغیر حق) والا فلا طاعة لمخلوق في معصیة الخالق، او که والدین کافران وه نو په کفر کي دې په خوله نه کوي او نور احسان دي ورسره کوي (۷) والالحاد في الحرم او گناه کول په حرم شریف کي ولو صغیرة فالکبیرة فیه کبیرتان (۸) واکل الربوا.

پوه سه: چې مراد د اکل څخه اخستل دي د سود که یې خوري که یې په بل مصرف کي صرفوي.

نکته: اکل یې ذکر کړی لانه معظم منافعه (۹) والسرقة.

پوه سه: چې نصاب د سرقة یعني غلا په نیز د امام المسلمین ابو حنیفة غفرله

الباري قدر عشرة دراهم عينًا كان او قيمة وهذا نصاب السرقة في حق قطع اليد او په باره کي کي د ګناه کم تر عشرة دراهم ګناه ده (١٠) وشرب الخمر وبيعه وشرائه.

درويش وايي: چي د خمر په باره کي مسائل او ماهيت د شرابو د فقه شريفي په کتابو کي مطالعه کړئ (١١) وقطع الطريق: لار قطع کول پر مسافرو خصوصًا اذا کان مع اخذ اموالهم فانه فوق السرقة (١٢) وشهادة الزور: او شاهدي په دروا غو اداء کول چي په صحيح حديث کي راغلي دي چي عليه الصلوة والسلام چي په لړ کي د کبيره ګنهو شهادة الزور ته راورسېدی داسي يې وويل: الا وشهادة الزور درې واره يې دا کلمه مکرره وويل (١٣) واليمين الغموس.

پوه سه: چي يمين غموس هغه قسم ته وايي چي پر ما مضى کار باندي ناحقه قسم واخلي يعني دی په خبر وي چي داسي نه ده پېښه، پر دې قسم په نېز د امام اعظمؒ کفاره نسته بېله توبې، او بل قسم يمين لغو دی چي پر ما مضى شي باندي قسم واخلي چي دده په خيال ځان صادق بولي او په واقع کي هغه شی نه وي په دې قسم کي نه ګناه سته او نه کفاره سته، درېيم قسم يمين منعقدة دی چي پر مستقبل شي باندي قسم واخلي مثلاً بالله چي زه د راتلونکي جمعې په ورځ روژه نسم، نو حکم يې دادی چي که يې روژه ونيول خو خبره خلاصه سول او که يې روژه نه ونيول قضاء يې هم پر سته او ګناه هم ده لهتک حرمة اسم الله تعالى.

(١٤) وسوء الظن بالله: بد ګماني پر الله عزوجل (١٥) حب الدنيا: د دنيا محبت يعني امور شرعيه لکه د جماعت لمونځ پر قضاء کول يا درواغ ويل يا ناحقه قسمونه اخستل، نفس محبت يې ګناه کبيره نه ده، عبدالرحمن باباؒ وايي:

ښه ده ښه ده دا دنيا چي توښه ده د عـقبٰی
که فقير ته يې ورکړې فقير درومي په خندا

مطلب دادی چي په نيت د ښو کارو د دنيا سره محبت کول يعني چي مثلاً يو مسجد په جوړ کړم يا د يو قريب سره صلة الرحم په وکړم يا به حج يا عمره په وکړم يا نور ورته کارونه به وکړم، نو داسي محبت د دنيا ګناه کبيره نه ده بلکي صغيره هم نه ده (١٦) وسب الرجل والديه: که بې واسطې وي لکه په اوسني زمانه کي بعض جهال مور او پلار ته او يا يوه ته ددوی ښکنځل وکړي، يا په واسطه سره مثلاً يو سړی د چا

مور او پلار ته ښکنځل وکړي هغه سړی دده مور او پلار ته ښکنځل وکړي، نو ګويا ده ښکنځل خپل مور او پلار ته وکړه (١٧) ازار رسول دي و عليه الصلوة والسلام ته، که څه هم وروسته تر مرګ وي، فان هذه الاذية فوق عقوق الوالدين (١٨) سب و دوو زومانو ته د عليه الصلوة والسلام يعني عثمان او علي رضي الله عنهما، په خلاصه کي وايي کفر نه دی، لکن دا خبره مشکل ده لان سب اهل العلم عمومًا اذا کان کفرًا فکيف لايکون سب الختنين کفرًا (١٩) سب العالم بالعلوم الدينية على وجه المزاح کبيرة، تعزير دي قاضي ورکړي (٢٠) الاصرار على الصغيرة: ولي چي په حديث شريف کي راغلي دي چي لاصغيرة مع الاصرار ولا کبيرة مع الاستغفار، انتهى.

درويش وايي: چي دديٖ سبب دادی چي استغفار چي دی وايي نو په معنی کي دی پر هغه ګناه پښيمانه دی، والندم هو التوبة (٢١) ومنها الغنا: يعني سروز، علاؤ الدين الترکستاني الحنفي رحمه الله په منظومه کي وايي چي غناء له کبائرو ګنهو څخه ده وهو رفع الصوت بالاشعار والابيات على وجه مخصوص.

درويش وايي: چي لکه دديٖ زمانيٖ په ودو کي چي بعض جاهلان يې کوي چي د نرو ميلمنو لپاره په اصطلاح شوقيان راولي چي ربابونه، تبليٖ او باجيٖ ورسره وي، او د ښځو لپاره مسليانيٖ چي ښځي دي غزلي وايي، امام همام ابو حامد محمد الغزالي رحمه الله په احياء العلوم کي وايي: واحتجوا على حرمة الغناء بما رواه ابو امامة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم انه قال ما رفع احد صوته بالغناء (يعني على الوجه المذکور) الا بعث الله له شيطانين على منکبيه يضربان باعقابها على صدره حتى يمسک.

درويش وايي: چي مراد له شيطانانو څخه هغه شی دی چي حرکت ورکوي زړه ته بما هو مراد الشيطان من الشهوة ومحبة النساء الى غير ذالک لا ما يتحرک الشوق الى الله تعالى کاشعار اهل الله من العاشقين (٢٢) ومنها الظلم (٢٣) ومنها الغيبة والبهتان (٢٤) والتجسس: د چا د بدو افعالو پلټنه کول (٢٥) والتخفيف: کمښت کول په ترازو کي يا په پيمانه کي شی کم ورکول (٢٦) والکبر: کبر کول والعجب خود بيني کول او تر چا ځان غټ ګڼل (٢٧) والحسد: د چا سره حسد کول يعني حب زوال النعمة منه (٢٨) ترک الوفاء بالعهد چي د چا سره وعده نه پر ځای کوي (٢٩) ترک الصوم بلا عذر (٣٠) ترک

الزكوة: يعني د نقود وغيرها زكوة نه وركول (٣١) والحج: حج پر فرض وي د هغه نه كول چي مانع نه وي (٣٢) هېرول د قرآن كريم، فقهاءً وايي چي په قرآن كريم كي نسي ويلاى لا مجرد عدم الحفظ (٣٣) پټول د شاهدى ولو كان على قريبه من الاب والاخ وغيرهما (٣٤) قطع د صله رحمى عند الاحتياج (٣٥) والسعي بين الاثنين بالفساد چي د دوو كسانو په منځ كي شيطانت كوي (٣٦) والحب لغير الله (٣٧) والسجدة للمخلوق كالصنم يا رئيس ته د قوم (٣٨) والحلف بغير الله، قسم په ماسوا د خداىً اخستل، لكه پښتانه چي وايي زما دي په كعبه شريفه قسم وي و الى غير ذالك، حتى پښتانه وايي چي زما دي په شاه آغا قسم وي.

سوال: په محاكمو كي د افغانستان به قرآن كريم ايښوول كېدى، نو قرآن كريم خو هم غير الله دى، نو قاضيانو ولي په قرآن كريم سره قسم وركاوه؟

ځواب: قاضيانو به داسي ويل چي ستا دي قسم په الله عزوجل وي او پر دې قرآن كريم لاس كښېږده.

حكايت: په افغانستان كي د دوو كسانو سره دعوه وه، يو منكر ؤ يعني مدعي عليه، نو دوى فقير ته راغله، نو فقير منكر ته وويل چي ته به وايي چي زما دي قسم په خداى وي او پر دې قرآن لاس كښېږده، منكر راته وويل والله بالله كه د مدعى دعوى پر ما حق ده لكن قرآن والله كه واخلم چي دا ويا له راكوي.

حكايت: يوه بله ورځ هم دوه كسان په مخاصمت كي فقير ته راغلل چي مدعي شاهدان نه درلوده ما مدعى عليه ته وويل چي پر تا قسم كېږي په نامه د خداىً جانب مخالف يعني مدعي راته وويل چي ته څرنګه قسم وركوې؟ ما ورته وويل چي په خداىً به قسم اخلي او پر قرآن كريم به لاس ايږدي، نو مدعي راته وويل چي پر ما دې سړي ډېر ظلم كړى دى ته داسي قسم ورته كښېږده چي ددې سړي كور ورخراب كړي، فقير ورته وويل چي هغه نو كوم قسم دى؟ مدعي راته وويل چي دى دي د شاه آغا و خوا ته اووه ګامه ولاړ سي پر اووم ګام دي ووايي چي زما دي په شاه آغا قسم وي كه دده دعوه پر ما صحيح ده چي شاه آغا يې كور ورخراب كړي، فقير ورته وويل چي د داسي قسم په شرع كي حق نه پر لرې، سړى راهي سو چي بل قسم زه نه وركوم (وذالك لغاية جهله)

پوښتنه: دا جهالت په پښتنو کي له څه پيدا دی؟

ځواب: د کوچنيوالي څخه دوی پر هر شي وايي والله بالله که دا کار داسي دی، نو د خدای د نامه عزت او عظمت ددوی له زړو څخه وتلی دی ولي چي عادت سوي يې دي، له ابو هريره رضي الله عنه يا غيره څخه روايت دی چي صحابه کرامو به خپل کوچنيان پر دې کلمه وهل يعني والله بالله تاچي عادت يې نسي، والله اعلم.

(۳۹) وترک الجمعة والجماعة: چي عذر نه لري قصدًا يې نه کوي (۴۰) ان يقول لمسلم يا کافرًا يا يهودي وغير ذالک (۴۱) او د امير جائر (يعني ظالم) سره مصادقت يعني همکاري ورسره کول (۴۲) ونکاح الکف: يعني په لاس کي ځان انزالول، په يو حديث کي راغلي دي "ناکح اليد ملعون" کذا في شرح المنار لابن الملک رح، لکن امام رهاوي رح وايي: لم اجد في کتب الحديث وانما ذکره المشائخ في حواشي البخاري، الاستمناء باليد حرام (اى تحريمًا) نو له ګناه کبائرو څخه ده لقوله تعالى: والذين هم لفروجهم حافظون الا على ازواجهم او ما ملکت ايمانهم الى قوله تعالى: فاؤلئک هم العادون اى المتجاوزون من الحلال الى الحرام، نو ناکح اليد خو په ماوراء کي داخل دی.

مسئله: په نيز د امام اعظم رح او د امام احمد رح استمناء باليد روا ده چي سړی پر ځان له فتنې څخه بېرېږي اى الزنٰى، او يا مراد تسکين د شهوت يعني لا لمجرد اللذة، وکذا يباح الاستمناء بيد امرئته او امته عند الضرورة مثلاً ماينه يې ناجوړې وي د جماع طاقت نه لري وهکذا الامة (۴۳) والقصاص بغير عدل: مثلاً يو چا د بل سړي زوی يا ورور وژلی ؤ او حکومت اسلامي نه وي په ملک کي، نو د مقتول وارث په خپله قصاص اخستلو ته مجبور ؤ نو چي قدرت يې پر قاتل پيدا کړی اول يې پزه او غوږونه مثلاً څني پرېکړه بيا يې قتل کړی او سره ددې چي قاتل داغسي نه وه کړي (۴۴) والخلوة بالاجنبية: د بېګانه ښځي سره خلوت کول (يعني چي مانع د جماع نه وي او ډېر سالخورده سپين ږيرې نه وي) (۴۵) د خپلي ماينې سره د حيض په وخت کي جماع کول، يعني په فرج کي نه تر فرج لاندي په ورنو کي (۴۶) وترک العدل في القسم يعني د سړي متعددي ماينې وي، نوبت يعني شپه تېرول د هري يوې سره نه کوي.

مسئله: په محبت قلبي د يوې سره ګناه نه ده، ولي چي دا محبت په اختيار دده نه دى، او داغه زنګه د يوې مايني سره په نوبت كي د هغې جماع ورسره كوي او د بل مايني سره جماع نه كوي مثلاً يا سپين سرې وي يا ډېره بدرنګه وي، ولي چي آله د جماعو دده په اختيار كي نه ده (۴۷) د حيوان مثلاً د خرې يا د يو بل حيوان سره جماع كول.

حكايت: يو جاهل باحكام الشرع چي ډېر زاهد او عابد ؤ او ماينه يې نه درلوده، نو يوه خره يې درلودل چي دده مريدانو به يې ډېر خدمت كاوه، يو وخت يو عالم دده د زهد په سبب دده ملاقات ته ورغلى ؤ هغه عالم چي فكر وكړى چي دا د زاهد مريدان ددې خرې ولي دومره خدمت كوي او دا زاهد ماينه ولي نه كوي؟ حتى چي عالم په يو فرصت او خلوت كي له دې زاهد څخه پوښتنه وكړه چي تا ماينه ولي نه ده كړې؟ زاهد په جواب كي ورته وويل چي د خداى له ذكر څخه پر وځم، ماينه خو نفقه غواړي او كه يې عيالونه پيدا سي هغه هم نفقه او كالي او فراش مثلاً كمبله، تلتك وغيره غواړي، بيا عالم ورته وويل چي دا خره نو څه كوې؟ جاهد زاهد ورته وويل چي ګاهي چي شهوت زور راباندي وكړي نو د دغي خرې سره جماع وكړم، نو عالم ده ته وويل چي ماينه كول سنت د انبياء عليهم السلام دى او د مايني او د عيال نفقه وغيره خو عبادت موجب د ثواب دى، او د خرې سره جماع كول خو حرام قطعي دى، نو هغه زاهد دستي طلب د نكاح وكړى ماينه يې پيدا كړه او خره يې خرڅه كړه (۴۸) واللواطة ولو كان مع زوجته (۴۹) او له كبائرو ګنهو څخه دى تصديق د كاهن يعني غيب ګوى چي د امور آتيه ؤ بيان كوي، نو كه يې څوك تصديق وكړي هغه ګناه كبيره ده (۵۰) ومنها القمار: پر هر شي كه پر كتار وي چي څوارلس ګيتي پر ايږدي او كه پر شترنج وي او كه د كركانو يا د زركو پر جنګو وي او يا پر بل شي، قال صاحب الهداية يكره اللعب بالترد والشطرنج والاربعة عشر لانه ان كان قامر بها فالميسر (يعني قمار حرام دى بالنص او ميسر د هر قمار نوم دى) وان لم يقار بها فهو عبث وان لم يكن كبيرة، او امام شافعي يې لپاره د تېزوالي د اذهانو مباح بولي خلافًا لابى حنيفة (۵۱) او بل له ګناهو څخه نياحة دى يعني پر مړي په زوره چغي وهل يا كالي پر ځان څېرل يا د سر وېښتان شكول لكه د

بعض ښځو چي عادت دی او مباح يې ګڼل (يو دادی چي په وخت کي د مصيبت د سرې او ښکي تر ستر ګو راځي هغه غير اختياري دي ګناه نه ده، په بخاري وغيره کي راغلي دي په روايت د ابن مسعود رضي الله عنه چي ابراهيم رضي الله عنه چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم اخيري زوی ؤ د ماريه رضي الله عنها څخه چي د دايي په کور کي رضيع ؤ د شپږو مياشتو په شاوخوا کي ناجوړی سو او عليه الصلوة والسلام يې پوښتنې ته ورغلی او د ابراهيم رض زکندن ؤ عليه الصلوة والسلام په غېږ کي کښېښوی او تر ستر ګو مبارکو يې اوښکي جاري سوې، يو صحابي رض ورته وويل وانت يا رسول الله صلى الله عليه وسلم؟ يعني ته هم ژاړې، د هغه صحابي دا خيال ؤ چي مطلق ژړا به ممنوع وي، عليه الصلوة والسلام ورته وويل هذه رحمة دا ژړا يعني نفس اوښکي تويول رحمت دی، وانما يرحم الله من عباده الرحماء ثم اتبعه باخری وقال انا بفراقک يا ابراهيم لمحزون ولا نقول الا انا لله وانا اليه راجعون او کما قال رسول الله صلى الله عليه وسلم (۵۲) بلکه ګناه کبيره اظهار د صلاح دی او اخفاء د فسق ده لکه بعض ټګان پيران چي يې کوي.

تاريخ وايي: وايي چي يو ټګ پير ؤ چي ډېر مريدان يې هم درلوده او يو ډېر مالدار سړی په سبب دده د ظاهري کار ليدلو څخه د هغه شيخ مريد سوی ؤ، نو رفته رفته رفت ؤ آمد شروع سو، يوه ورځ مالدار مريد ورته وويل چي ننه شپه زما مېلمه يې سره د صاحب زاده يعني زوی، شيخ دعوت قبول کړی او سرمايه داره مريد ډېر فوق العادة خواړه په کور کي پر خپل کور والا باندي زېرمه کړي وه چي ننه شپه پير صاحب زموږ مېلمه دی بايد ښه خواړه تيار کړئ، خير ماښام چي پير صاحب او زوی راغله او سترخوان هوار سو رقم رقم خواړه پر کښېښول سوه، پير صاحب يو څو ګولې د يو قسم خوړو څخه وخوړلې او داغه رنګه د بل قسم خوړو څخه يعني په محدود ډول يې وخوړلې، نو پير صاحب تر شا سو ډوډۍ يې بس کړه، سرمايه دار مريد ورته وويل چي صاحب ډوډۍ دي ولي بس کړه؟ پير صاحب ورته وويل چي ډېره ډوډۍ خوړل سړي ته ډېر خوب ورولي او د شپې زموږ د وظائفو مانع ګرځي، هرڅه ټينګار چي سرمايه داره مريد وکړی پير صاحب انکار کاوه، او د پير صاحب زوی په ماړه نس ډوډۍ وخوړل، سترخوان چي ټول سو مريد ورته وويل چي تبرګا به د ماخستن لمونځ موږ ته په دې مهمان خانه کي په جماعت

راکوې، پیر صاحب د مخه سو جماعت پسي محدود نفر ودرېدل، سرمایه دار او د
هغه مزدوران او د پیر صاحب زوی پسي ودرېدل، پیر صاحب په ډېره خشوع او په
نهایت تعدیل الارکان لمونځ وکړی او یوازي دوه رکعته سنت یې وکړه وتریې و
تهجد ته پرېښول، خیر پیر صاحب د خپل سرمایه دار مرید څخه رخصت واخستی
دی او زوی یې کور ته راهي سوه، پیر صاحب چي کور ته ورغلی ماینې ته یې
وویل چي سترخوان راواخله ډېر وږی یم، ماینې یې ورته وویل چي د مهمانی
څخه ځرنګه وږی راغلې هورې به دي ځان ښه موړ کړی وای، پیر صاحب پر ماینې
منت وکړی چي ځرنګه ناپوه یې، که ما هورې ځان موړ کړی وای د سرمایه داره
مرید زما څخه عقیده اوښته چي دا ځرنګه خېټور پیر دی، خیر ماینې یې وچه
ډوډی راواخستل، پیر صاحب د اوبو په کومک ځان تر پزي په موړ کړی، زوی
ورته ګوري، پیر صاحب چي له ډوډی څخه فارغه سو، زوي یې ورته وویل چي
بابا لمونځ دي هم راوګرځوه، ولي تا خو کور داسي لمونځ نه کاوه لکه د سرمایه
داره په کور کي چي دي په خشوع و خضوع او تعدیل الارکان سره وکړی (۵۳) او
بله ګناه عیب ویل دي پر یو چا مثلاً د پلاني پزه پیته ده د فلاني پنډ شوندان دي
لکه د خره الی غیر ذالک، روایت دی لقمان حکیم په رنګ ډېر بد رنګه ؤ یو چا
ورته وویل چي حکیم صاحب ته څومره بد رنګه یې؟ لقمان ورته وویل که
اعتراض د بد رنګی پر ما کوې زما خو دا بد رنګ په اختیار کي نه ؤ یعني خدای
دغه بد رنګ راکړی دی او که پر خالق د دې بد رنګ ویل کوې نو کافر یې (۵۴) او
بله ګناه کبیره استماع الملاهي: اورېدل د سروز لکه رباب او تبله الی غیر ذالک،
وفي الحدیث استماع صوت الملاهي (په اختیار سره، د فقیر په دې قید کي غرض
دادی چي په اوسنی زمانه کي د بعض جاهلانو د زوی یا ورور واده وي، نو
سروزو ته ګویا وي کښېږدي چي تر نژدې کورو پوري ټولو ته اواز د سروز رسېږي
او بې اختیاره یې هر څوک اوري، نو هغه بې اختیاره اورېدل یې کبیره نه ده)
اورېده د اواز د ملاهي معصیت دی، والجلوس علیها فسق والتلذذ بها کفر.
درویش وایي: چي دا تهدیدًا او زجرًا دی کما في قوله علیه الصلوة والسلام
لاصلوة لجار المسجد الا في المسجد الی غیر ذالک من التهدیدات والزواجر.

مسئله: که تنبور، رباب، ډولک وغیره چا په کور کي ایښی ؤ لکن استعمال يې نه کاوه ګناه کار دی، لان امساکها عادة للهو (۵۵) او بله کبیره ده پر رباب وغیره رقص کول (۵۶) و نامحرمه کورته ورتلل بېله اجازې (۵۷) د بل و کورته د دروازې تر چولو کتل (۵۸) و ښائسته هلک ته په شهوت کتل.

پوه سه: چي حد د شهوت دادی چي آله يې پورته سي والا فصغیرة.

مسئله: د صبیح الوجه حکم د ښځي دی باید ستر په وکړي او پلار دې کوښو ته نه پرېږدي ولي فتنه ورته پېښه نه سي، ولذا قیل مع کل امرئة شیطان ومع صبیح الوجه شیطانان، په تاریخ کي د امام الائمة ابو حنیفة علیه من الله الرحمة التامة راغلي دي چي امام محمد الشیباني رحمه الله صبیح الوجه ؤ چي پلار يې د امام اعظم و درس ته راوستی، نو امام اعظمؒ به دی یعني امام محمدؒ په درس کي تر شا کښېناوه یا تر شا د تنبې د مسجد حتی لا یقع علیه بصره مخافة خیانة الاعین من کمال تقواه.

فائده: په بستان کي د فقیه ابو اللیث السمرقنديؒ وایي چي سړی دي د نو سنو ځوانانو یا کوچنیانو که څه هم صبیح الوجه نه وي یا د بې عقلانو سره دي ناسته ولاړه نه کوي ولي د سړي آبرو او مهابة ته نقصان دی (۵۹) او بله کبیره ګناه ترک د امر بالمعروف او نهي عن المنکر دی حتی الوسع (۶۰) بله کبیره ګناه د عوامو مسخرې دي (۶۱) بله کبیره ګناه اخستل دي د اعطاء او صلة الرحم من اهل الجور، او بعض علماء وایي چي صلات د بادشاهانو روا دی و غني او فقیر ته چي ته ده یقیناً نه وي معلوم چي دا صلات حرام دي، نو که حرامي وي په واقع کي نو ګناه يې پر معطي ده پر آخذ نه ده، امام غزاليؒ په احیاء العلوم کي وایي چي که ظاهر د سړي یعني معطي صلاح وه او حال يې مستور ؤ فلا حرج علیک في قبول صلاته وصدقته (او خیرات د هغه) او پر تا نه ده لازم چي تجسس د حال او د مال د هغه کوې فان تلک سوء الظن علی الرجل المسلم وهو حرام انتهی.

پوښتنه: د عقائدو په کتابو کي کبائر ګڼهونه یو اوویا (۷۱) هم ذکر سوي دي تا ایوبي نه وربیول؟

ځواب: فرق يې د کلیاتو او جزئیاتو دی یعني کلیات يې (۴۱) دي او جزئیات يې (۷۱) دي فافهم هداک الله تعالی.

وَاِذَا مَا غَضِبُوْا هُمْ يَغْفِرُوْنَ ﴿۳۷﴾

دا جمله عطف ده پر يجتنبون باندي او ظرف يعني اذا متعلق دی په يغفرون پوري، والحاصل چي سړي ته درد ورسي پر يو بل چا په يو سبب دوی بخښنه ورته کوي، ولي چي بخښنه اولی او افضل ده، قال عليه الصلوة والسلام اتقوا الغضب (له غضب څخه ځان ساتئ) ولي چي غضب لکه سکروټه د اور ده في قلب بني آدم الم تروا في انتفاخ اوداجه وحمرة عينيه (تاسي نه وينئ چي د غاړي رګونه يې وپړسيږي او ستر ګي يې سرې سي) وهم مبتداء ده ويغفرون خبره، والمغفرة ههنا بمعنى العفو والتجاوز والحلم والكظم، په يو حديث کي راغلي دي چي بعض انبياء عليهم السلام ته خدای ﷻ وحي وکړې چي ته چي صبا له کوره ووځې اول چي هر شی په مخه درغلی هغه وخوره، او دوهم وار چي په مخه درغلی هغه پټ کړه او دريم چي په مخه درغلی مخ ځني واړوه، نو نبي ؑ چي صبا له کوره ووتی اول لوی غر په مخه ورغلی، نبي ؑ امتثالاً لامر الله د غره و خوړلو ته اراده وکړه که څه هم خورک د غره له امکانه لېري کار ؤ نو څرنګه چي ده د خوړلو اراده ورته وکړه هغه سيب سو يعني منه په مزه يې وخوړی فوجدها الذ شيئًا، دوهم واري يو د سرو زرو لګن پيدا کړی نو ده چي هر څو کوشش د پټېدو وکړی يو ځای به يې ښکاره سو، درېم وار د مردار يو اچولو ځای باندي پيښنو په اصطلاح تپ يې بولي، نو ده مخ ځني واړاوه، فقيل اما الجبل فشدة الغضب فعند ظهورها يرى كالجبل، نو چي ده صبر پر نوشولو د غضب وکړی يعني عفو يې مختاره کړه نو ډېر مزه داره شی جوړ سو يعني که ده پر مقتضٰی د غضب رفتار کړی وای جنګ و جدل به جوړ سوی وای.. بيت:

تحمل نمايد چو زهرت نخست ❋❋❋ ولی شهد ګردد که در طبع رست

يعني صبر کول پر شدت لکه زهر وتا ته معلومېږي اول وار، مګر شهد ګرځي چي سړی ورسره اموخته سي.

او هغه د سرو زرو لګن چي ده به پټاوه هغه به ښکاره کېدی عبادت د خدای ؑ دی چي هر څو يې دی پټوالی کوي الله ﷻ يې ښکاره کوي ... بيت:

اګر مسک خالص نداری مګوی ❋❋❋ وګر هست خود فاش ګردد به بوی

یعني د مشکو بوی خپله ښکاره کیږي او ستا په وینا سره چي اصلي مشک نه وي مشک نه ګرځي.

وَالَّذِیْنَ اسْتَجَابُوْا لِرَبِّهِمْ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ

پوهه: چي استجابوا په معنی د اجابوا دی والمعنی چي دوی قبلونه کړې ده د هغه شي چي خدای دوی ته دعوت ورکړی یعني طاعت او عدم العصیان.

"واقاموا الصلوة" او دوی کوي پنځه وخته لمونځونه.

فائده: د اقامة الصلوة معنی داده چي په مراعات د واجباتو او سنن او تعدیل الارکان سره وي.

فائده: په قرآن کریم کي هر ځای چي اقامة الصلوة راسي یا به لفظ د مصدر وي او که په لفظ د مشتق وي لکه مقیمي الصلوة معنی داغه ده بخلاف القیام الی الصلوة کما جاء في وصف صلوة المنافقین واذا قاموا الی الصلوة قاموا کسالی الخ.

سوال: تخصیص د لمانځه یې ولي وکړی او نور عبادات یې ذکر نه کړل کالزکوة والصوم مثلاً؟

ځواب: ولي چي نسته په منځ کي د عبد او د ایمان الا اقامة الصلوة ګویا نسه په منځ کي د عبد او کفر الا ترک الصلوة، ولذا ورد في الحدیث الصحیح الصلوة عماد الدین فمن اقامها فد اقام الدین ومن هدمها (ای الصلوة) فقد هدم الدین او کما قال رسول اللهﷺ، وایضًا قد ورد في الحدیث اول ما یحاسب العبد یوم القیامة عن الصلوة فان صلحت افلح وانجح (نو له عذاب څخه یې خلاصون پیدا کړی او کامیاب سو) وان فسدت فقد خاب وخسر (ناکام او نا امیده سو) ... بیت:

روز محشر که جان گداز بود *** اولین فرسش نماز بود (یعني في حقوق الله)

مسئله: د مثال په توګه که یو چا دواړه لاسونه د مرفقینو سره پرېوه او یا یې دواړي پښې د کعبینو سره پرېوې فمحل وضوئه پاته اندامونه دي.

وَاَمْرُهُمْ شُوْرٰی بَیْنَهُمْ

او کار ددوی (یعني په امر مهم کي) یو د بل سره مشوره کول، یعني تلوار نه کوي څو مشوره ونه کړي لان التعجیل اولاً صدر من الشیطان چي خدای پاک ده

ته وويل چي آدم ته سجده وکړه، ده عجولانه وويل انا خير منه.

پوه سه: چي يو مسلمان چي د بل مسلمان سره مشوره وکړي پر ده واجب ده چي په خير سره به يې امر کوي يعني چي دده خير په دنيا او آخرت کي وي دده په عقل، قال رسول الله ﷺ المستشار مؤتمن، رواه مسلم، وعن علي ﷺ المستشار مؤتمن (هغه څوک چي دده څخه بل سړی مشوره وغواړي هغه امين د هغه بل سړي دی، نو لازمه داده چي داسي مشوره دي ورکړي يعني د خير لکه د ځان لپاره)

وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿٣٨﴾

او بعض د هغه مال څخه چي موږ ورکړی دی په موارد او ځايو کي د خير انفاق وکړي لکه صلة الرحم او يا و غزاتو ته د مؤمنانو مالي کومک ورکړي الی غير ذالک.

فائده: د روښ لفظ د بعض ووايه له دې سببه چي اعطاء د جميع المال حال دی د اخص الخواص کابی بکر الصديق ﷛ حيث تصدق بجميع ماله في سبيل الله في غزوة تبوک، عليه الصلوة والسلام چي پوښتنه ځني وکړه چي عيال ته دي څه پرېښول؟ ده ورته وويل الله ورسوله، لکن ميانه خوی مؤمنانو لره صرف د بعض مال محمود دی.

وَالَّذِيْنَ اِذَآ اَصَابَهُمُ الْبَغْيُ هُمْ يَنْتَصِرُوْنَ ﴿٣٩﴾

او هغه کسان دي چي دوی ته ورسېږي ظلم او عدوان د يو چا له خوا څخه (هم ينتصرون) يعني دوی خپل کسات او انتقام اخلي له ظالم څخه بيله تجاوز تر خپل حق.

پوه سه: چي ابن زيد ؒ وايي چي خدایؒ مؤمنان دوه صنف ګرځولي دي، يو صنف هغه کسان دي چي عفوه کوي و خپل ظالم ته او بل قسم هغه دی چي انتقام او کسات اخلي له ظالم څخه پر دوی، وهم الذين ذکروا في هذه الآية، قال عطاء المراد في هذه الآية هغه مؤمنان چي دوی کافران د مکې مجبور کړه دوی چي مکه مکرمه پرېږدي بغير حق الا بان قالوا ربنا الله وحده، بيا هغو مظلمانو ته خدایؒ قدرت ورکړی په مځکه کي، نو دوی خپل انتقام د هغو څخه واخستی، او بيضاويؒ وايي چي خدایؒ موصوف کړه مؤمنان په امهات الفضائل سره چي يو په کراهة التذلل دی وظالم ته او دا منافي نه دی د غفران او عفو و خپل ظالم ته ولي چي د غفران لار دوی هلته غوره کول چي ظالم به د تذلل لار خپله کړه توبه بې وکښل دوی بخښه

ورته کول، والحلم والعفو عن العوام محمود والحلم عن المتغلب والخصم المقاوم مذموم، ولي وداسي سړي ته حلم کول اجراء على البغي باعث کول دي د هغه پر نور ظلم باندي، بعض مفسران وايي که دغه ظالم متعدي پر حق الله ؤ وعامة المؤمنين ؤ فالاولى بل الواجب انتقام دی چي ددې فتنې دروازه بنده سي او هغه ظالم متعدي پر يوه سړي ؤ نو د هغه انتقام اخستل من غير تجاوز که څه هم روا دی لکن عفو او اصلاح بهتر ده لان دفع السيئة بالحسنة افضل.

وَجَزٰٓؤُا سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا ۚ

جزاء د بد عمل (تانيث په اعتبار د خصلة دی) چي څو يې وکړي د بل سره.

پوه سه: چي دا جمله بيان دی د حق د منتصر يعني چي کسات کاږي.

سوال: جزاء د سيئه خو بد کار نه دی بلکې خپل حق غوښتل دي؟

ځواب: لپاره د مشاکلة ده او بل جواب دادی چي مثلها چي يې وويل لپاره د اشاره و دې ته ده چي انتصار که څه محبوب دی لکن په شرط د مماثلت چي منتصر دي د جاني تر فعل بالا بود نه کوي په انتصار کي، وهذا امر عسير جدًا وفيه حث على العفو احتياطًا تا چي په انتصار کي بالابود ځني ونسي فافهم.

فَمَنْ عَفَا وَأَصْلَحَ فَأَجْرُهُ عَلَى اللّٰهِ ؕ

که چا عفوه وکړه و جاني ته او اصلاح يې وکړه يعني د جاني له جنايت څخه يې سترګي پټي کړې، نو ثواب يې پر خدای دی يعني رب جل وعلا اعظم الجزاء ورکوي، له الحسن څخه روايت دی اذا کان يوم القيامة نادٰى مناد من کان اجره على الله فليقم فلا يقوم الا من کان عفى عن الجاني.

إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ ۝

په تحقيق د خدای نه دی خوښ يعني يبغضهم، له ظالم څخه دلته مراد يا ابتداءً ظلم کونکی دی او متجاوز تر حد په کسات اخستلو کي، او ابن عباس رضي الله عنه وايي چي مراد له ظالمين څخه هغه کسان دي چي ابتداءً يې ظلم کړی وي، د ابن عباس رضي الله عنه د قول دليل هغه حديث ګرځېدای سي، المستبان اثمهما على الباري منهما لافعلى منهما حتى يتعدى المظلوم (دوه کسان چي يو و بل ته ښکنځل سره

کوي ګناه يې پر شروع کونکي د ښکنځلو ده تر هغو چي له مظلوم څخه تجاوز ونسي تر خپل حد) رواه احمد، مسلم و ابو داؤد عن ابی هريرةؓ.

فائده: له دې حديث څخه دا معلوميږي چي شروع کونکی د ظلم اظلم دی او مجيب ته نوع د رخصت سته، له ابو هريرهؓ څخه روايت دی چي يو منافق ښکنځل وکړه و ابوبکرؓ ته والنبي ﷺ جالس فيتعجب (يعني وحلم ته د ابوبکر او تبسم يې کاوه او هغه منافق مکرر وارونه ښکنځل ورته کول، اخيرًا ابوبکرؓ ته درد ورغلی نو ابوبکرؓ جواب ورکړی فغضب النبي ﷺ وقام، نو ابوبکرؓ پسي ولاړ سو فقال يا رسول الله هغه سړي چي ما ته ښکنځل کول او ته ناست وې چي ما د بعض ښکنځلو دده جواب ورکړې تا ته درد درغلی او ولاړ سوې عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي تا چي جواب نه ورکاوه ستا سره ملکه وه هغې به ستا جواب ورکاوه ولما رددت بعض قوله وقع الشيطان، نو زه ولاړ سوم د شيطان سره ناسته ما مناسب نه بلل، وروسته وويل عليه الصلوة والسلام يا ابابکر ثلاث لهن حق ما من عبد ظلم مظلمة (نسته يو بنده چي پر ده يو څوک ظلم وکړي) نو دی بخښه د هغه ظلم ورته وکړي لپاره د خدای ﷻ (يعني نه د بېري څخه) الا اعزه الله بها نصرة (مګر خدای ﷻ وده ته نصرت ورکوي) الی اخير الحديث، وفي الحديث الذي رواه مسلم عن عياض بن حمادؓ لايکون اللعانون (چي يو بل ته لعنت وايي) شهداء ولا شفعاء يوم القيامة.

وَلَمَنِ انْتَصَرَ بَعْدَ ظُلْمِهٖ

پوهسه: چي ظلمه مصدر مضاف دی ومفعول ته ای ظلم الظالم اياه، يعني پر ده باندي ظالم ظلم وکړی او ده خپل کسات څني واخستی.

فَاُولٰٓئِكَ مَا عَلَيْهِمْ مِّنْ سَبِيْلٍ ۝٤١

نو دغه کسان نسته پر دوی باندي مواخذه او ګناه.

فائده: اولئک اشاره ده ومن ته او عليهم ضمير هم ومن ته راجع دی.

سوال: من خو مفرد دی اشم اشاره او ضمير خو دواړه جمع دي؟

ځواب: جمعيت يې په اعتبار د معنٰی د من دی، وجه د نفي د السبيل پر دوی لانهم فعلوا ما ابيح لهم من الانتصار.

إِنَّمَا السَّبِيلُ عَلَى الَّذِينَ يَظْلِمُونَ النَّاسَ

لار د عذاب د آخرت او عتاب و مواخذه په دنيا کي پر هغو کسانو ده چي شروع او ابتداء د ضرر رسولو و خلگو ته کوي په ځانو کي د هغو يعني يا ضرب و کوب ورکوي يا شتم و ښکنځل ورته کوي يا په اموالو کي د هغو چي نقود په زوره ځني غواړي يا يې آبروی کړي يعني داسي خبري او تهمت پر وايي چي د هغه بې آبرويي پکښې وي.

وَيَبْغُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ۚ أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٤٢﴾

او ظلم او تجاوز کوي په مځکه کي ناحقه او ځان پر خلگو لوړ بولي تکبرًا، داسي کسانو لره عذاب دردناکه سته په دنيا او آخرت کي.

وَلَمَنْ صَبَرَ وَغَفَرَ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ ﴿٤٣﴾

هر آئينه څوک چي صبر وکړي پر ظلم د ظالم او دده تر ازار ورتېر سي يعني انتقام نه ځني واخلي، نو په تحقيق د غه غفر او صبر د معزوماتو کارو څخه دی (يعني عزم مصدر دی په معنی د مفعول دی) يعني مطلوب شرعًا دی، او الزجاج وايي: يؤتي الله صبره ثواب جزيل فالرغبة في الثواب اتم عزم، روايت دی چي په مجلس کي د الحسن البصري يوه سړي بل سړي ته سخت ښکنځل وکړه هغه مسبوب صبر وکړی يعني جواب يې نه ورکاوه لکن پر تندي به يې خوله راتله له درد څخه، نو ده به خوله پاکول ورو سته دی ولاړ سو او دا آيت يې ووايه ولمن صبر الآية، الحسن وويل دا سړی په دې ايت پوهېدلی دی عقلها وفهمها اذ ضيعها الجاهلون.

وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِن وَلِيٍّ مِّن بَعْدِهِ ۗ

او څوک چي خدای گمراه کړي نو نسته هغه لره کومک کونکی يعني چي هدايت دي ورته وکړي او له عذاب څخه د خدای دې خلاص کړي، يعني وروسته تر خزلان د خدای.

پوښتنه: بعض جاهلان دا سوال کوي چي دغه سړی چي خدای گمراه کړی ؤ نو دا خو مجبور دی نو بيا عذاب په ورځ د آخرت ولي ورکوي؟

ځواب: دا گمراه کول تکويني نه دی لکه د چا مرگ عند انقضاء الاجل بلکې دا

اختياري كار دى د بنده نسبت و خداى ته چې وكړى له دې سببه چې خداى پاک امر تكويني سره و ده ته هدايت ونه كړي لان مدار الثواب والعقاب هو الفعل الاختياري.

درويش وايي: چي دا مذهب د اهل السنة والجماعة دى چي متوسط په مابين كي د مذهب د جبريه ؤ دى چي بندګان په ايمان او كفر، طاعت او عصيان كي مجبور محض بولي، فقير وايي چي پر دې مذهب منحوس ارسال ته د رسولانو او انزال د كتب الٰهية ؤ څه ضرورت سته او په ورځ كي د قيامت چا ته جنت وركول او چا ته دوږخ وركول ظلم على اهل النار تعالى الله عن ذالک علوًا كبيرًا، وايضًا يلزم الترجيح بلا مرجح وهو خلاف العقل، او په مابين كي د مذهب د قدريه ؤ چي بنده خالق د خپلو افعالو من الايمان والكفر والطاعة والعصيان بولي فقير وايي وهذا المذهب خلاف قوله تعالى: والله خلقكم وما تعملون، التفصيل في كتب علم الكلام كشرح العقائد وشرح المقاصد كليهما للعلامة الثاني سعد الملة والدين التفتازاني رحمه الله والمواقف وشرحه للسيد الجرجاني وغيرها.

وَتَرَى الظّٰلِمِيْنَ لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ

ته به ووينې يعني په ورځ د اخرت (دا خطاب دى و مخاطب غير معين ته، والغرض منه ان هذه الروية غير مخصوص بالرائي دون الرائي) هغه وخت چي دوى وويني عذاب.

سوال: رأوا خو ماضي ده او دا رؤيت په مستقبل كي يعني په ورځ د قيامت راځي؟

ځواب: هغه شى چي حتمًا راتلونكى وي مستقبل يې لكه ماضي دى.

يَقُوْلُوْنَ هَلْ اِلٰى مَرَدٍّ مِّنْ سَبِيْلٍ ﴿٤٤﴾

آيا سته و رد ته د دنيا يوه لار:

پوه سه: چي دا قول استفهام دى لفظًا معنى يې سوال دى د رجعت و دنيا ته، غرض د دوى په دې سوال كي دا دى چي كه موږ و دنيا ته رد سوو موږ به ايمان راوړو پر وحدانيت د خداى ﷻ او د هغه ذات والاصفات به طاعت كوو، لكن هيهات الرد الى الدنيا بعد اذ رأو العذاب -- بيت

تو پيش از عقوبت در عفو كوب ❁❁❁ كه سودى ندارد فغان زير چوب

وَتَرٰىهُمْ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا

ستا به علم راسي پر دوی چي دوی پیشیږي اورته.

پوښتنه: ضمیر مؤنث د علیها خو نار ته راجع دی (چي مؤنث سماعي دی) او د نار لفظ خو دمخه نه دی ذکر سوی، نو اضمار قبل ذکر المرجع به نه وي؟

ځواب: ذکر د مرجع لفظًا شرط نه دی په ارجاع کي د ضمیر بلکي ذکر حکمي هم کافي دي او دلته لفظ د عذاب دال دی پر نار، ولي چي عذاب د یوم القیامة محضور دی پر نار فافهم.

خٰشِعِيْنَ مِنَ الذُّلِّ يَنْظُرُوْنَ مِنْ طَرْفٍ خَفِيٍّ

"خاشعین" ای خاشعین متذللین په سبب د ذلت ای مما یلحقهم من الذلة، دا جمله "ینظرون آه" حال بعد الحال ده له فاعل څخه د یعرضون، کلمه د من لپاره د ابتداء ده ای یبتدء نظرهم من تحریک لاجفانهم (بانوګان) له جهته څخه د خوف او ذلت، په پښتو کي د سترګو تر کونجیانو لکه یو څوک چي محکوم بالقتل سي د سیاف و توري ته د سترګو تر کونجیانو ګوري یعني په پوره نظر نه سي ورته کتلای.

وَقَالَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ الْخٰسِرِيْنَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ وَاَهْلِيْهِمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

او وایي هغه کسان چي ایمان یې راوړی وي یعني په دنیا کي چي په تحقیق لوی تاوانیان هغه څوک دي چي په خسران کي یې اچولي وي خپل ځانونه او اتباع ددوی په کفر کي.

پوه سه: چي "ان الخاسرین" تر پایه پوري مقوله د "قال الذین آه" ده.

اَلَآ اِنَّ الظّٰلِمِيْنَ فِيْ عَذَابٍ مُّقِيْمٍ ﴿۴۵﴾

په ورځ د قیامت (یوم ظرف دی د خسران) آګاه اوسه چي په تحقیق ظالمان یعني کافران په عذاب دائم کي دي، دا جمله یا تمامه ده د قول د مؤمنانو یا تصدیق دی د خدای ج له خوا ددوی د قول.

وَمَا كَانَ لَهُمْ مِّنْ اَوْلِيَآءَ يَنْصُرُوْنَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۗ

نسته دوی لره يعني کافرانو لره دوستان چي له دوی څخه دي عذاب دفع کړي ماسوی له خدای ﷻ څخه (حال دی من اولياء)

وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ سَبِيْلٍ ۝

او هغه څوک چي په علم ازلي کي د خدای ﷻ ګمراه وي نو نسته هغه لره لار و حق ته في الدنيا والى الجنة في العقبٰى يعني بندي دي تولي لاي د خير پر دوی.

اِسْتَجِيْبُوْا لِرَبِّكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهٗ مِنَ اللّٰهِ ۗ

تاسي قبلونه وکړئ د داعي الى الله محمد رسول الله ﷺ (فالعبارة بحذف المضاف اى لداعي ربکم) دمخه تر دې چي راځي هغه ورځ يعني يوم القيامة چي ردېدل يې نسته د خدای ﷻ له خوا چي راغله.

مَا لَكُمْ مِّنْ مَّلْجَاٍ يَّوْمَئِذٍ وَّمَا لَكُمْ مِّنْ نَّكِيْرٍ ۝

نسته تاسي لره ځای د پناه يعني له عذاب څخه د خدای ﷻ په هغه ورځ او نه هم انکار کول له خپلو اعمالو څخه (نکير مصدر دی پر وزن د فعيل) انکار په دې نسي کولای چي ستاسي د اعمالو په صحائفو کي نوشته دي او که تاسي هغه نه منئ يعني دا چي په مونږ پسي ناحقه کرام کاتبين نوشته کړي دي بيا به ستاسي ژبي او نور اعضاء د جسد ستاسي به پر تاسي شاهدي اداء کوي کما جاء في الحديث الذي رواه البخاري وغيره.

فَاِنْ اَعْرَضُوْا فَمَآ اَرْسَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ؕ

که دوی روی ګرداني وکړه ستا له اجابت څخه يا محمد (ﷺ) نو ته نه يې استولی مونږ پر دوی رقيب محافظ د اعمالو ددوی.

پوه سه: چي اصل جزاء د شرط محذوف ده ده دليل د جزاء يې په ځای کي د جزاء ور درولی دی، والتقدير فان اعرضوا فلا تحزن (ته غم مه کوه) لانا ما ارسلناک علهيم رقيبًا چي ددوی پر اعراض پر تا اعتراض وي د خدای ﷻ.

إِنۡ عَلَيۡكَ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُۗ

نسته پر تا باندي مګر رسول د اوامرو د خدای وقد بلغت حق التبلیغ مرات وکرات لیلاً ونهارًا وقد اوذیت في ذالک نهایة الاذی.

وَإِنَّآ إِذَآ أَذَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِنَّا رَحۡمَةٗ فَرِحَ بِهَاۖ

او چي موږ ورسوو (ولیس من ذوق الفم، او پوه سه: چي مراد جنس انسان دی) زموږ له خوا څخه نعمت په دنیا کي، ابن عباس رض وايي ای الغناء والصحة، نو دی خوشحاله سي په هغه نعمت سره کما هو تبع الانسان.

درویش وايي: چي ذکر ددې دوو نعمتو علی سبیل التمثیل دی په قول د ابن عباس رض من دوران هذین المذکورین والا فلا تنحصر انعم الله في ذالک:

وَإِن تُصِبۡهُمۡ سَيِّئَةُۢ بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيهِمۡ فَإِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ كَفُورٞ ۝٤٨

که دوی ته ورسېږي یو تکلیف (لکه کاختي یا فقر یا مرض وغیر ذالک) یعني په سبب د ګنهو ددوی، هغه انسان چي په نعمتو کي خوشحاله ؤ (کفور) صیغه د مبالغې ده ای بلیغ الکفران یعني د هغو سابقو نعمتو یعني هغه يې هېر سي یا منکر سي (یعني باقل شیئ من الشدة) دی هېر کړي ټوله نعم الٰهیه سابقه او دا موجوده سیئه د شکایت په توګه يې ذکر کوي.

پوه سه: چي تعبیر په "ایدي" سره په سبب ددې دی چي اکثره افعال په لاسو کول کېږي.

سوال: دا احکام خو د مجرمانو دي، او تا دمخه وویل چي لام د جنس دی؟

ځواب: هو چونکه په هر عصر کي مجرمان ډېر دي، نو ددې اسناد د افعالو ددوی و جنس ته يې وکړی، البته که فقیر لام د استغراق بللی وای، نو دا سوال به وارد نه ؤ.

فائده: د رحمت په بیان کي يې اذا راوړی چي دال پر تحقق دی لان الرحمة واصابت النعمة عادته تعالی في جمیع الازمنة، او د سیئه په بیان کي يې ان راوړی چي لپاره د محتمل الوقوع شیانو استعمالېږي ولي اصابة السیئة محتمل الوقوع ده، فتدبر بالعقل السلیم.

راغب اصفهاني رح وايي: کفر النعمة وکفرانها سترها (پټول د نعمت دي)

بترک اداء شکرها، واعظم الکفر جحودهم (انکار ددوی دی یعني انکار) للوحدانية او النبوة او الشريعة والكفران في جحود النعمة اكثر استعمالاً. والکفر في الدين اكثر استعمالاً والكفور په راوړو کي جميعًا يعني كفر النعمة والكفر في الدين، امام ماتريدي ؒ فرموده كه كفران مؤمن آنست كه ترک شکر کند آه ---ع:. درشكر همچو چشمه ودرصبر همچو خاره ايم

وقال علي رضي الله اقل ما يلزمکم من الشکر ان لاتستعينوا بنعمة الله في معاصيه.

لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۖ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۖ

خدای ؒ لره ده بادشاهي د اسمانو او مځکي، نو ده لره دی تصرف په دواړو کي کيف يشاء که چا ته انعام ورکوي او که انتقام ځني اخلي، پيدا کوي هغه شی چي دده ورته اراده سي، دا جمله علت ده د ماقبل جملې او دا وروسته جمله بيان دی للخلق على حسب المشية.

يَهَبُ لِمَنْ يَّشَآءُ اِنَاثًا وَّيَهَبُ لِمَنْ يَّشَآءُ الذُّكُوْرَ ۙ﴿٤٩﴾

ورکوي خدای ؒ بعض انسانانو ته فقط لوڼې، ولا يكون له ولدًا ذكرًا، او بعض خلګو ته ورکوي خالص زامن چي لور هيڅ نه لري.

فائده: بعض اکابر وايي چي له برکت ښځه د ښځي دادی چي اول يې لور پيدا سي وروسته زوی لان الله بدء بالانثى.

تنبيه: لوڼې يې دمخه کړې على رغم انف المشركين چي دوی به لوڼې ژوندي ښخولې.

اَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَّاِنَاثًا ۚ وَيَجْعَلُ مَنْ يَّشَآءُ عَقِيْمًا ۗ اِنَّهٗ عَلِيْمٌ قَدِيْرٌ ﴿٥٠﴾

او ورکوي بعض کسانو ته زامن او لوڼې ګډ وډ، او ګرځوي بعض کسان بې عياله چي په پښتو يې وچ بولي چي نه زوی لري او نه لور، نو هغه خدای عالم دی په ما يخلق او قادر دی پر ما يشاء فيفعل بحكمته واختياره ليس له شريک في الملک والخلق.

درويش وايي: چي اولاد که نر وي او که ښځي له مواهب څخه د رحمن دي وعطاياه، له دې سببه چي چاته زېری وسي د ولد، نو سنت دی چي اظهار د

خوشحالي دي وکړي او له نعمت څخه د خدای دې بولي.

فوائد شتّي: (۱) عيسیٰ عليه السلام عقيم ؤ يعني اولاد يې نه درلودی، ولي چي ده ازدواج نه دی کړی، نعم وروسته تر نزول دده له اسمان څخه په اخير الزمان به نکاح وکړي او يوازي يې لوڼې پيدا کېږي، او يحيیٰ عليه السلام که څه هم تزوج کړی ؤ لکن لم يقرب يعني وطي يې نه دي ورسره کړي لکی عزيمت فلي شريعته يعني نکاح دي وکړي لکن نزدېکت دي نه سره کوي يعني صرف په نکاح کولو سره به موافقت د نور انبياؤ حاصل کړي.

(۲) قد ورد في الحديث النبوي ﷺ الولد في الدنيا نور وفي الآخرة مسرور، وفي حديث آخر ريح من ريح الجنة، وفي الحديث آخر سواد (توره ښځه) ولود (چي عيال يې کېږي) خير من حسناء (تر ښائستې ښځي) چي عقيم وي يعني وچه وي.

(۳) عقيم د ښځو هغه ده چي مني د زوج يې رحم نه ساتي، ولي چي د رحم د خولې کشان يې سست وي د نر مني بيرته څني راتوی سي په سبب د يو آفت، او نر هم عقيم کېدای سي سبب يې دادی چي په نطفه کي يې تخم نه وي، والله اعلم بحقيقة الحال.

وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ اَنْ يُّكَلِّمَهُ اللّٰهُ اِلَّا وَحْيًا

نه ده ممکنه او نه ده صحيح هيڅ بشر لره چي خبري دي ورسره وکړي خدای، بغوي وايي چي يهودان راغله و نبي عليه السلام ته او وه يې ويل چي که ته نبي يې د خدای سره خبري وکړه، او ورته وګوره لکه موسیٰ چي خبري ورسره وکړې او خدای يې هم وليدی، عليه الصلوٰة والسلام ورته وويل چي د موسیٰ خبري د خدای ﷻ سره صحيح دي لکن خدای يې نه دی ليدلی، فانزل الله تعالیٰ هذه الآية نو معنی د آيت داده چي نظر و خدای ته عند الوحي په دنيا کي شرط نه دی نو مراد د وحي څخه القاء د کلام بسيط في القلب ده.

"او من وراء حجاب" څخه مراد هغه کلام مسموع دی بلا توسط ملک کما اتفق لموسیٰ عليه السلام في طوی والطور چي موسیٰ عليه السلام خبري د خدای ﷻ اورېدې بيله توسطه د ملکي لکن خدای يې نه ليدی، کذا قال البغوي.

اَوْ مِنْ وَّرَآئِ حِجَابٍ اَوْ يُرْسِلَ رَسُوْلًا فَيُوْحِيَ بِاِذْنِهٖ مَا يَشَآءُ

او يا ورته واستوي رسول، يا جبرئيل يا بله ملكه، نو وحي وكړي دغه ملكه د مرسل اليه سره په اجازه د خدای ﷻ چي د خدای ﷻ ورته اراده وي لكه جبرئيل ؑ اكثرًا د قرآن كريم د آياتو يا د سورتو القاء و عليه الصلوٰة والسلام ته كوله، حاصل دا چي تكلم د خدای ﷻ حصر دی په دوه قسمه كي بلا واسطة الملک ويقابله ارسال الملک بكلامه تعالى الى الانبياء، له عائشي رضي الله عنها څخه روايت دی چي حارث بن هشام پوښتنه وكړه د رسول الله ﷺ څخه: يا رسول الله كيف يأتيک الوحي؟ تاته څرنګه وحي راځي؟ فقال رسول الله ﷺ احيانًا يأتيني مثل صلصلة الجرس يعني لكه مسلسل ږنګ چي څوک وهي، وهو اشد علي (دا صورت د وحي پر ما ډېر سخت پرېوځي، ولي فهم د خبرو د مسلسل ږنګه څخه ډېر ګران دی) بيا هغه ږنګ قطع سي او ما هغه خبري په ياد كړي وي يعني د قلب اطهر مقدس پر ورقو نوشته سوي وي، واحيانًا تمثل لي الملک رجلاً (ګاهي ماته ملک په صورت كي د رجل راسي، چي په صورت د دحية بن خليفة الكلبي وي) زما سره خبري وكړي زه يې په ياد كړم.

تفريع: نو اول قسم تكلم د خدای ﷻ بېله واسطې دی، او دوهم قسم په واسطه د ملكي دی، سيدتنا وامنا عائشة رضي الله عنها وايي چي ما ليدلي دي چي پر ده مبارک به وحي نازلېدې (تعني مثل صلصة الجرس) في اليوم الشديد البرد چي ډېره يخه ورځ به هم وه، وحي چي به قطع سوې د عليه الصلوٰة والسلام پر تندي به خولې روانې وې، بخاري مسلم، او د عباس رضي الله عنه څخه روايت دی اقام رسول الله ﷺ بمكة خمس عشر سنة (۲۵) كاله رڼا به يې ليدل او اواز به يې اورېدی ولايری شيئًا (هيڅ شی به يې نه ليدی، او اته كاله وحي ورته كېدې (يعني دواړه قسمه) واقام المدينة (۱۰) كاله وحي جاري وې، وتوفى بالمدينة ۶۵ متفق عليه.

اِنَّهٗ عَلِيٌّ حَكِيْمٌ ﴿٥١﴾

الله عزوجل لوړ دی له صفاتو څخه د مخلوق، هر كار يې له حكمت سره دی يعني عبث كار نه كوي (يعني ګاهي د چا سره خبري بلا واسطه كوي كما في مثل صلصلة الجرس، او ګاهي په واسطه سره د ملكي)

وَكَذٰلِكَ اَوۡحَيۡنَاۤ اِلَيۡكَ رُوۡحًا مِّنۡ اَمۡرِنَا ؕ

او داغه رنګه لکه موږ بيان تاته وکړی موږ وحي وتاته کړي د روح چي مراد ځني قرآن دی (ولي په قرآن سره حيوة د زړو دی لکه چي په روح متعارف سره حيوة د ابدانو دی) کذا قال الکلبي ومالک بن دينار، او الربيع وايي چي له روح ځخه مراد جبرئيل دی، نو پر دې تقدير مراد له اوحينا ځخه ارسلنا دی او ابن عباس وايي چي مراد له روح ځخه نبوت دی، وقال الحسن چي مراد له روح ځخه رحمت دی، نو مراد ځني هم قرآن دی فان القرآن اثر الرحمة والنبوة دی "من امرنا" ظرف مستقر دی ای روحًا کائنًا من امرنا.

مَاكُنۡتَ تَدۡرِىۡ مَا الۡكِتٰبُ وَلَا الۡاِيۡمَانُ

ته نه وې خبر يا محمد يعني د مخه تر وحي (چي تاته به څه شی راسي يعني من النبوة والوحي والقرآن) "ما الکتاب" ساد مسد د معفولي د تدري دی "ولاالايمان" مراد له ايمان ځخه نفس تصديق په وحدانيت د خدای نه دی لان الانبياء عليهم السلام معصومون من ذالک، بلکې مراد هغه شرائع او احکام دي چي بيله سمع لار ورته نه وي کالصلوة والزکات والصوم وغيرها.

درويش وايي: چي که تفصيل د انبياء عليهم السلام قبل النبوة و بعدها ځوک غواړي، نو رساله په نامه د کشف الغطاء عن عصمة الانبياء، چي د فقير تصنيف دی په غور سره دې مطالعه کړي، حاصل دادی چي انبياء عليهم السلام ته الهام کيدی د علم پر صانع المتوحد بصفات الکمال المنزه عن النقص والزوال، مظهري تبعًا للبيضاوي وايي و ماقيل ان النبي ﷺ کان قبل الوحي يعبد الله على دين ابراهيم فشيئ لايصاعده العقل والنقل ولي چي رسول الله ﷺ خو نبي امي ؤ يعني لم يقرء الکتاب ولم يکن دين ابراهيم شائعًا في قريش لانهم کانوا يعبدون الحجارة، لکن روح البيان په نقل د ابن قتيبة ځخه وايي لم تزل العرب (هميشه عرب) پر بقايا د دين اسماعيل بن ابراهيم عليهما السلام وه په ډېرو کارو کي من الحج والختان (سنتي) والنکاح وايقاع الطلاق، والغسل من الجنابة وتحريم نکاح ذوات المحارم لکه مور خور لور وغيرها، يا په مصاهرة سره ناروا لکه خوابنې يا جمع د دوو خوندو

په نکاح وکان رسول اللهﷺ على ما نوا عليه في مثل هذه الاحكام ويبغض اللات والعزى وغيرهما من الاصنام وكان ؑ يحج ويعتمر ويتبع شريعة ابراهيمؑ انتهى قول روح البيان والنقل عن القتيبي، والله اعلم بالصواب.

وَلٰكِنْ جَعَلْنٰهُ نُوْرًا نَّهْدِيْ بِهٖ مَنْ نَّشَآءُ مِنْ عِبَادِنَا ؕ

او موږ ګرځولی ؤ هغه (ابن عباسؓ وايي يعني الايمان وما قال السدي يعني القرآن فهو تفصيل لقول ابن عباسؓ) نهدی ای نوصل به العقيدة الحقة في الدنيا والى الجنة ومراتب القرب الى الله.

وَاِنَّكَ لَتَهْدِيْۤ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۙ﴿۵۲﴾

په تحقيق ته يا محمد (ﷺ) هر آئينه هدايت کوې ټولو انسانانو ته (نو مفعول د تهدی محذوف دی ای کافة الناس) و هغې لارې ته چې اسلام دی چې موصل الى الجنان ورضي الرحمن ده.

پوه سه: چې د هدايت دوې معناوي دي، يوه معنى ارائة الطريق ده يعني لارښوونه که څوک عمل په وکړي او که يې نه په وکړي، په دې معنى عليه الصلوة والسلام هادي د کافة الناس دی په دې سره نفي د عليه الصلوة والسلام روا نه دي، او بله معنى يې دلالت موصله دی چې په هغه آيت کي مراد دی انک لاتهدي من احببت الآية، په دې معنى سره هدايت خاص په خدایﷻ سره دی ځکه په مذکور آيت کي نفي د عليه الصلوة والسلام څخه وکړې.

صِرَاطِ اللّٰهِ الَّذِيْ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ

لاره د الله "صراط الله" بدل دی د اول صراط څخه، ده لره دي يعني ملګا وخلقًا هغه شيان چي په اسمانو کي دي لکه ملائکه، لمر او سپوږمۍ، ستوري وغيرهن، او چي په مځکه کي دي يعني يا پر ظاهره د مځکي دي لکه حيوانات او نباتات او درختي وغيرها يا په مابين کي د مځکي دي لکه معدنيات.

اَلَاۤ اِلَى اللّٰهِ تَصِيْرُ الْاُمُوْرُ ؑ﴿۵۳﴾

ای امور الخلائق کلها في الآخرة.

پوه سه: چي په دې آیت کي وعد حسن دی د مطیعینو سره د خدای په دنیا کي او وعید عظیم دی للمجرمین ای الکافرین.

درویش وایي: چي د سهل بن ابی الجعد څخه روایت دی چي یو وخت قرآن مبارک اور واخستی ټولي اوراقي یې وسوځلې الا قوله تعالی الا علی الله تصیر الامور، والمعنی اګاه اوسه چي ټوله امور د خلکو خدای ته راجع کېږي، والسر في ذالک ان هذه الایة کالحاصل لجمیع آیات القرآن چي وعد دی للمؤمنین او وعید دی للکافرین او امثال او قصص قرآنیه ددې دوو څخه خالي نه دي کما لایخفی علی المتدبر في الآیات القرآنیة والله اعلم بالصواب.

درویش وایي: چي تفسیر د سورة الشوری په اخیر کي د ربیع الثاني په وخت کي د ظهر وپای ته ورسېدی، وروسته به تفسیر د سورة الزخرف شروع سي ان شاء الله تعالی سنه (۱۴۳۲هـ) وصلی الله تعالی علی سیدنا خیر خلقه ونو رعرشه محمد و آله وصحبه اجمعین --- مصرع:

دا باران چي پر همه وو مځکو اوري ❊❊❊ مشرف یې کړی ذات د کېمیا ولي

صبا مدینے میں مصطفیٰ سے ہم غریبوں کا سلام کہنا ❊❊❊ نہیں کوئی بجز تمھاری بس میرا اتنا پیام کہنا

جمیع العلم في القرآن لکن ❊❊❊ تقاصرت عنه افهام الرجال

متل:. دریاب که لوی دی چمچې دي خپل ده.

مناجات بدرگاه قاضی الحاجات:

الهی عبدک العاصي اتاکا ❊❊❊ مقرا بالذنوب وقد دعاکا

فان ترحم فانت لذاک اهل ❊❊❊ وان تطرد فمن ترحم سواکا

روز محشر ہر کہ آید تصویر جانان در بغل ❊❊❊ من نیز حاضر میشوم تفسیر قرآن در بغل

تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا سکین او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

سُوْرَةُ الزُّخْرُفِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ تِسْعٌ وَّثَمَانُوْنَ اٰيَةً وَّسَبْعُ رُكُوْعَاتٍ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

حٰمٓ ﴿۱﴾ وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ﴿۲﴾

پوه سه: چي حم د متشابهات قرآنيه څخه دی، او کلمه د واو لپاره د قسم ده يعني قسم دی په هغه قرآن کريم سره چي بيانونکی د هدايت او د ضلالت دی چي ځوک په غور سره په خالي زړه د حسد او عناد څخه دده آياتو ته و ګوري سبب د ايمان او تصديق په شرائع سره چي ثمره يې فلاح د دنيا او آخرت دده و ګرځي.

اِنَّا جَعَلْنٰهُ قُرْءٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۳﴾

موږ ګرځولی هغه کتاب (دا جمله جواب د قسم ده) په عربي ژبه.

فائده: خدای پاک قسم واخستی په قرآن سره پر دې چي قرآن يې په عربي ژبه ګرځولی دی لتناسب المقسم به والمقسم عليه، وهذا من البدائع.

پوه سه: چي لعل په معنی د لام کی دی، يعني موږ وګرځاوه قرآن په لغت ستاسي ددې لپاره تاچي تاسي يې معاني وفهموئ او د قرآن بلاغت او فصاحت به تاسي ته معلوم سي چي د طوق څخه د بشر خارج دی بل هو کلام خالق القوي والقدر دی فتؤمنوا به ومن جاء به يعني محمد ﷺ.

وَاِنَّهٗ فِيْٓ اُمِّ الْكِتٰبِ لَدَيْنَا لَعَلِيٌّ حَكِيْمٌ ﴿۴﴾

هذه الجملة عطف على انا جعلناه، والضمير راجع الى القرآن، د ام الکتاب څخه مراد لوح محفوظ دی، وجه تسميه اللوح المحفوظ بام الكتاب لانه اصل لكل كتاب منزل على الانبياء عليهم السلام (لدينا) ای محفوظة لدينا يعني محفوظ من التغيير (لعلي) ای رفيع شانه في الكتب السماوية لكونه معجز من بين الكتب الالهية يعني چي ځوک اتيان په مثل سره نه سي کولای فالقرآن معجزة لرسول الله ﷺ کر الازمان مر الدهور بخلاف غير القرآن من الكتب السماوية فانها ليست بهذه المثابة.

اَفَنَضْرِبُ عَنْكُمُ الذِّكْرَ صَفْحًا

همزه لپاره د انکار دی او فاء عطف ده پر مقدر، والتقدير انهملكم (آيا تاسي مهلت درکړم) الذکر ای القرآن يعني قرآن له تاسي څخه بند کړم او پر تاسي يې نه کړم نازل له تاسي څخه يې ليري کړم.

درويش وايي: چي وروسته تر دې چي خداى ﷻ لوړ شان د قرآن بيان كړى وحقق جل وعلا چي انزال يې په لغت د عربو ددې لپاره دى چي اهل مكه په پوه سي او د تكبر او عناد څخه خالي له عقل څخه كار واخلي او ايمان پر راوړي او موافق د قرآن عظيم الشان د ښوونكو احكامو سره عمل وكړي، وروسته خداى ﷻ په استفهام انكاري سره چي خلاف ددې نسي كېداى افنضرب عنكم الذكر چي د آيت ترجمه مو عنقريب واوريدل.

فائده: په دې عبارت كي مجاز دى له هغه محاورې څخه منقول دى ''ضَرَبَ الْغَرَائِبَ عَنِ الْحَوْضِ'' وه يې شړل ناولده اوښان له خپل حوض څخه يعني مشابه يې كړى ځان د قرآن عظيم الشان او تنحيه عن اهل مكة بحال غرائب الابل د خپل حوض څخه بيا يې مستعمل كړى ما كان في تلك القصة، دلته په حال كي د قرآن په دې عبارت كي خداى ﷻ تنبيه وكړه پر دې چي حكمت الهي تقاضا لري چي حتمًا به دا ذكر او قرآن دوى ته متوجه كېږي.

درويش وايي: چي ورته عبارت ته په علم بيان كي استعاره تمثيليه وايي چي تفصيل به يې پر متعلمينو ګران پرېوزي الا العلماء بفن اقسام الاستعارات المذكورة فيه، ژوندى مثال يې قول د حجاج بن يوسف دى چي ده په خپله خطبه كي د اهل عراق د تهديد (د بېرولو) لپاره ووايه ''لاضربنكم وضرب غرائب الابل عن الحوض آه)

اَنْ كُنْتُمْ قَوْمًا مُّسْرِفِيْنَ ﴿۵﴾

په سبب ددې چي تاسي په كفر كي ډېر تر حد تجاوز كړى دى، وحاصل معنى الآية افترك عنكم الوحي ونمسك عنكم القرآن فلا نأمركم ولا نهاكم من اجل اسرافكم في الكفر، فافهم والله اعلم بمراده في كتابه.

وَكَمْ اَرْسَلْنَا مِنْ نَّبِيٍّ فِى الْاَوَّلِيْنَ ﴿۶﴾

او ډېر را استولي دي موږ نبي په اولينو امتو كي.

فائده: كم خبر دى مفيد د كثرت دى په محل كي د نصب دى چي مفعول مقدم د ارسلنا دى او من نبي يې تميز دى د كم او في الاولين متعلق دى په ارسلنا پوري.

وَمَا يَأْتِيهِمْ مِّنْ نَّبِيٍّ إِلَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِءُونَ ۝٧

نه راتلی دوی ته (نو ضمیر د یأتیهم راجع دی و اولین ته)

پوه سه: چي دا حکایت د حال ماضیه دی لان ما انما تدخل علی مضارع في معنی الحال یعني ان عادة الامم الماضیة الذین یدعونهم الی الدین الحق (چي انبیاء به دوی بلل و دین حق ته چي ایمان او توحید دی) او دوی به پسخند په واهه او تکذیب به یې کاوه، غرض په دې آیت کي تسلي ده و علیه الصلوة والسلام ته چي باید د خپل قوم د تکذیب او استهزاء څخه ډېر مغموم نه سي لما قیل ان المصیبة اذا عمت خفت، او پښتانه وایي: بلا چي عامه سي اسانه سي.

فَأَهْلَكْنَا أَشَدَّ مِنْهُم بَطْشًا وَمَضَىٰ مَثَلُ الْأَوَّلِينَ ۝٨

او موږ هلاک کړي سخت تر مجرمینو یعني تر قوم اهل مکه، یعني د مخه تېري سوي په قرآن عظیم الشان کي قصص عجیبه د هغو چي حق یې دا ؤ چي متلونه ګرځېدلي وای.

فائده: اشد حال دی له مفعول محذوف څخه د اهلکنا وتقدیر الکلام فاهلکنا الاولین (هذا هو المفعول المحذوف) حالکونهم اشد من مشرکی مکة (بطشًا) ازروی قوة، دا تمییز د نسبت څخه د اشد یا مفعول مطلق دی د اهلکنا من غیر لفظه، په دې کي وعده ده د علیه الصلوة والسلام سره چي تا ته به هم نصر درکړم پر مشرکینو د مکې و وعید للمشرکین المستهزئین به علیه الصلوة والسلام، وبالفارسیة اقربائی ایشان را هلاک کردیم وشدت وشوکت ایشان مارا عاجز نداشت.

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ خَلَقَهُنَّ الْعَزِيزُ الْعَلِيمُ ۝٩

او که ته یا محمد (ﷺ) د اهل مکه د مشرکانو څخه پوښتنه وکړې (کلمه د لام لپاره د قسم ده) چي چا پیدا کړي دي اسمانونه او مځکه، نو دوی به وایي چي خدای پیدا کړي دي دغه اسمانونه او مځکه عزیز غالب، او ښه خبر دی په حال د هر چا خدای.

پوښتنه: دا سوال له کفارو څخه په ډېرو ځایو کي د قرآن کریم کړه سوی دی، په جواب کي د دوی فقط لفظ الله ویلی دی، او دلته یې عزیز حلیم ور سره زیات کړی، وجه یې څه ده؟

ځواب: دا لازم ددوی د قول سره دی چي اسم جليل د الله دی لان الله اسم للذات العزيز العليم وغيرهما من الصفات الجليلة، نو دلته هغه لازم ددوی د قول سره چي الله ؤ په ځای د ملزوم ودراوه لالزام الحجة عليهم.

سوال: دا وروسته صفات يعني الذيَ جعل آه د څه حکمت لپاره راوړي دي؟

ځواب: هغه يعني الذي جعل لكم او معطوف پر هغه يعني والذي نزل من السماء الى اخيره جمل مستانفه دي لپاره د بيان د العزيز العليم فافهم.

الَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ مَهْدًا وَّجَعَلَ لَكُمْ فِیْهَا سُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿۱۰﴾

هغه خدای دی چي ګرځولې يې ده مځکه فراش چي تاسي پر ګرځي من موضع الى موضع وتنامون عليها، د مثال په توګه لکه زانګو د طفل چي د هغه خوابګاه ده او د استراحت ځای دی، او پيدا کړي دي خدای پاک په مځکه کي ستاسي د نفع لپاره لاري چي د هغو لارو په ذريعه د تجارت او نورو مقاصدو لپاره رفت او آمد وکړئ.

پوه سه: چي لعل په معنٰی د لام کی دی ای کی تهتدون الى مقاصدكم او تهتدون الى حكمة الصانع بالتفكر فيها.

وَالَّذِیْ نَزَّلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءًۢ بِقَدَرٍ

او هغه خدای دی چي را اوروي له اسمان يا د وريځي څخه (لان كل ما علاك سماء) اوبه يعني بارانونه په اندازه سره چي په فائده سره ستاسي د کښتو او باغو تمامېږي، او ضرر نه رسوي يعني داسي نه دی لکه طوفان نوح عليه السلام.

سوال: عادي بارانونه ګاهي د بعض خلګو ضعيفه ودانۍ ونړوي؟

ځواب: ترک د خير کثير لپاره د دفع د شر قليل خارج له قانون څخه د حکمت الهي دی وايضًا قال الشاعر:

نقصان ز قابلست وگرنه علی الدوام ..... فيض سعادتش بهمه کس برابر است

يعني باران د سعادت و ټولو انسانانو برابر دی لکن نقصان په زړه خونه کي ؤ چي د باران له سببه ونړيده.

فَاَنْشَرْنَا بِهٖ بَلْدَةً مَّیْتًا ۚ كَذٰلِكَ تُخْرَجُوْنَ ﴿۱۱﴾

نو موږ ژوندی کړی په هغو ابو سره (فانشرنا) په دې عبارت کي التفات دی له

غیبت ځکه چې په ماقبل عبارتو کې ؤ وتکلم ته، وهذه الانتقالات من التکلم الی الغیبة او الخطاب او من الغیبة الی التکلم والخطاب او من الخطاب الی التکلم و غیبت ته چې مجموع شپږ دي د محسناتو ځکه د عربیت کما تقرز في علم البیان، معنی د انشرنا احیینا ده، بلدة ته په معنی معروف نه دی یعني ښار، بلکه یو ځای او ځکه چې د مخه تر او ربنت مړه وه (مړګ د ځکي عدم النباتات علیها) (کذالک) ای اخراجًا وانشاءً مثل انشاء الارض بالمطر، تاسي به راوځي له قبرو ځکه او حیث ما کنتم امواتًا یعني ژوندي به سي عند نفخة الصور الثانیة لاسرافیل[۴].

درویش وایي: چې بخاري او مسلم چې په اصطلاح د اهل الحدیث یې شیخان بولي او ددوی دوو کتابو نه صحیحین بولي، روایت کړی دی ابو هریره رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ مابین النفختین اربعون، خلګو ورته وویل یا ابا هریرة اربعون یومًا؟ (څلویښت ورځي دي) ده ورته وویل "ابیت" (زه له دې ځکه ابا کوم یعني نه وایم چې څلویښت ورځي دي) قالوا اربعون شهرًا؟ قال ابیت، قالوا اربعون عامًا؟ قال ابیت، راوي وایي چې سبب د ابیت ویلو د ابی هریره رضي الله عنه دادی چې دده لفظ مسموع د علیه الصلوة والسلام ځکه هېر ؤ، ثم قال ابو هریرة رضي الله عنه ثم ینزل الله من السماء ماءً، بیا خدای ج باران شروع کړي (وفي روایة ختها او به لکه نطفه) نو دا انسانان له ځکي ځکه راووځي لکه وابنه د ځکي له تخمو ځکه، ابو هریره په روایت د علیه الصلوة والسلام وویل: لیس من الانسان شیئ الا ابتلی (هیڅ شی له انسانانو ځکه نسته یعني صحیح اندام نسته مګر خاوري کېږي او رژېږي) الا عظمًا واحدًا وهو عجب الذنب (مګر نه یو هډوکی چې ګردی هډوکی دی هغه نه خاوري کېږي او نه ورستېږي) پر هغه د انسان ترکیب کېږي لکه پر تخم چې ترکیب د نبات کېږي، او ابن ابی حاتم له ابن عباس رضي الله عنهما ځکه روایت کړی دی چې وروسته روحان راخوشي کړل سي او د خدای جل جلاله له خوا امر ورته وسي چې هر روح دي خپل بدن ته داخل سي چې په دنیا کي ؤ.

پوښتنه: هر روح خپل بدن څنګه پېژني؟

ځواب: په حدیث شریف کي راغلي دي لکه هر انسان چې په دنیا کي خپل کور ته ورتلی د بل چا په کور نه ورننوتی، همدا رنګه د روح مثال دی.

درویش وايي: ولا یدرک قدرة الله الا هو، نو دا د حیرانتوب خبره نه ده نظر و قدرت تامه کامله ته د خدای ﷻ بلکې یجب الایمان به.

وَالَّذِیْ خَلَقَ الْاَزْوَاجَ

پوه سه: چي ازواج دلته په معنی معروف سره نه دی بلکې په معنی د اصناف الخلائق، او له ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چي ازواج دلته په معنی د انواع او اقسام دی کالحلو (شیرین) والحامض (تریخ) والابیض (سپین) والاسود (تور) والذکر (نر) والانثی (ښځه)

وَجَعَلَ لَكُمْ مِّنَ الْفُلْكِ وَالْاَنْعَامِ مَا تَرْكَبُوْنَ ۱۲

او ګرځولي يې دي يعني پيدا کړي يې دي ستاسي د نفع لپاره له کښتيانو څخه او د چارپايانو څخه يعني چي صالح د سپرتيا وي لکه اوښان او غوايي نه پسه يا بزه، هغه شيان چي تاسي پر سپرېږئ.

پوه سه: چي کلمه د ما موصوله ده عائد يې محذوف دی ای ترکبونه.

پوه سه: چي رکوب نظر و کښتۍ ته متعدي په حرف جر ده وهو في کما في قوله تعالی: واذا رکبوا في الفلک، بخلاف الرکوب بالنظر لا اليه فانه يتعدی بنفسه کما في قوله تعالی لترکبوها، نو په دې آيت کي يې تغليب ورکړی و متعدي بنفسه ته يعني کلمه د في يې نه راوړه لقوته علی المتعدي بحرف الجر، او يا يې تغليب ورکړی و هغه شي ته چي مخلوق د خالق د رکوب لپاره وي لکه انعام پر مصنوع باندي لکه کښتۍ لکونه مصنوع الخالق القدير، يا يې تغليب وزکړی و غالب ته پر نادر باندي، فافهم کذا في روح المعاني مفصلا وفي المظهري اجمالاً وفي روح البيان بين الاجمال والتفصيل وکذا في البيضاوي والتفسير الکبير للامام الرازي رحمه الله.

لِتَسْتَوٗا عَلٰی ظُهُوْرِهٖ

چي تاسي برابر سئ يعني سپاره سئ پر شاؤ د ما ترکبون.

سوال: د مخه خو کلمه د ما مفرده راغلې وه، نو د ظهوره وما مفرد ته څرنګه صحيح کېږي؟

ځواب: کلمه د ما که څه هم مفرد ده لفظًا لکن جمع ده معنًی.

ثُمَّ تَذْكُرُوْا نِعْمَةَ رَبِّكُمْ اِذَا اسْتَوَيْتُمْ عَلَيْهِ

درپه یاد کړئ په زړو کي خپل د رب نعمت چي تاسي سپاره سئ پر مرکوب بحري چي کښتۍ ده، او پر مرکوب بري چي غالبًا اوښ دی چي موږ مسخر کړي دي، افراد د ضمیر یې په سبب د تأویل په مرکوب سره یا په اعتبار د لفظ ما.

وَتَقُوْلُوْا سُبْحٰنَ الَّذِيْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهٗ مُقْرِنِيْنَ ﴿۱۳﴾

او تاسي وو اياست په ژبه حمد د دې نعمت.

پوښتنه: تقسیم د مرکوب یې په بري او بحري کي وکړی فقط او هوايي مرکوب چي طیاره ده نه یې وکړی؟

ځواب: په زمانه کي د نزول القرآن هوايي مرکوب نه ؤ.

(سبحان) ای اسبح سبحان، یعني پاکي ده هغه قادر علی الاطلاق ذات لره چي مسخر یې ګرځولي دي موږ ته دا مرکوب بري او بحري او موږ نه ؤ مطیقین د دوی د تسخیر بحولنا وقوتنا لان الضعیف لاتطیق تخسیر القوي.

فائده: جمله د ماکنا الخ حال ده یا د لفظ څخه د هذا یا د ضمیر د لنا.

درویش وایي: چي چونکه په اوسنۍ زمانه کي مرکوب هوايي چي طیاره ده هم موجوده ده ځکه طیاره چلونکي په ابتداء کي د طیاره پورته کولو دغه آیت وايي: سبحان الذي سخرلنا هذا الی اخیرها.

وَاِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ ﴿۱۴﴾

او په تحقیق موږ و خدای ته راجع کیږو یعني په ورځ کي د قیامت.

پوښتنه: د دې آیت په ماقبل آیتو سره حکمت یې څه دی؟

ځواب: حکمت یې دادی رکوب مطلقًا لپاره د نقل وي د یوه ځای څخه بل ځای ته والنقلة العظمی هو الانقلاب الی الله المتعال، ولي لکه نقل د بحر او بر د خطره سره ملګری وي کذا الانقلاب الی الله المتعال ته د لوی خطر سره ملګری دی فینبغي للعاقل ان لایغفل عنه، او هغه انتقال لپاره لویه سرمایه ده عباداتو له ځان سره یوسي، روی ابو داؤد والترمذي والنسائي والبغوي عن علي ابن ابی طالب رضي الله عنه چي ده به پښه په رکیب کي د آس یا د اوښ کښېښول قال بسم الله فلما

استوی چي برابره به کښېنستی نو اول به يې الحمد لله وروسته به يې ماقبل آيت تر پايه پوري ووايه، يعني سبحان الذي سخرلنا هذا تر پايه پوري وروسته به يې دري واره حمد د خدای ﷻ ووايه او الله اکبر به يې دري واره ووايه، وروسته به يې وويل لآ اله الا انت ظلمت نفسي فاغفرلي ذنوبي فانه لايغفر الا انت، وروسته بې وخندل، چا پوښتنه ځني وکړه چي د خندا سبب څه ؤ يا امير المؤمنين؟ ده ورته وويل چي رسول الله ﷺ فعل مثل ما فعلته يعني اقتداءً برسول الله ﷺ مي دا افعال او اقوال وکړه، وروسته موږ عليه الصلوة والسلام ته وويل چي څه شي تا ته خندا پيدا کړه يا نبي الله؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي ماته تعجب او خندا پر دغو تعجب آميزه کلماتو د بنده راغله (يعني چي په دربار کي د خدای ؓ ثو مره ځای د قبول پيدا کړی) حتی چي خدای ﷻ هم ددې اقوالو د بنده اظهار د تعجب وکړی.

سوال: د تعجب معنی په خدای ﷻ کي څرنګه متصور کېږي لانه ادراک امر عجيب ولا عجيب في علمه تعالی؟

ځواب: معنی د تعجب په خدای ﷻ کي اظهار د کامل رضا ده د بنده څخه.

درويش وايي: چي مظهري ؒ خو د علي ؓ حديث پوره راوړی دی لکن د خدای ؒ د تعجب ځای يې نه دی پکښي راوړی يا سهوًا يا د کاتبانو څخه د کتابت پاته سوی دی، والله اعلم.

وَجَعَلُوْا لَهٗ مِنْ عِبَادِهٖ جُزْءًا ؕ

ګرځولی دی دوی خدای ؒ لره له بندګانو څخه جزء، ومعنی الجعل الاعتقاد به، دا څو قبيلې وې د عربو، يوه قبيله بنوا المليح وه او بله د خزاعه قبيله وه، دوی به ويله چي خدای پاک د سرواتو يعني د خانانو د جنياتو سره خوېښي يعني ددوی لوڼې يې په نکاح کړي دي او ملائکه يې لوڼې ځني پيدا سوي دي.

پوه سه: چي دا جمله معطوف ده علی قوله "ولئن سئلتهم من خلق السمٰوات آه" وجه د تناسب بين المعطوفين تناقض، ولي چي دوی اقرار وکړی چي انه تعالی خالق السمٰوات والارض کما في المعطوف عليه، بيا توصيف کوي چي ده لره جزء سته او سره ددې عقل اباء کوي مايتجزی محاله ده چي هغه دي واجب الوجود هم وي او خالق دي هم وي، لان ما يتجزی في معرض الفناء فکيف يکون واجبًا،

والمراد قولهم ان الملائكة بنات الله كما مر، و وجه تسمية الولد بالجزء لان الولد مايكون مخلوقًا من نطفة الوالد والنطفة جزء من الوالد ولهذا قال رسول اللهﷺ فاطمة بضعة مني فمن اغضبها اغضبني، رواه البخاري عن المسور بن مخزمة.

اِنَّ الْاِنْسَانَ لَكَفُوْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿١٥﴾

په تحقيق انسان جاهل دی ښکاره مفرط دی په جهل کي ولي هغه شيان چي د خدای سره لائق وي نه يې پېژني، او خدای ﷻ ته د مالايبغي لکه ولد او شريک نسبت کوي چي پر خدای محاله دی.

اَمِ اتَّخَذَ مِمَّا يَخْلُقُ بَنٰتٍ وَّ اَصْفٰىكُمْ بِالْبَنِيْنَ ﴿١٦﴾

پوه سه: چي کلمه د ام په معنی د بل آ ده، بل لپاره د انتقال دی من قوله وجعلوا له آه، او همزه لپاره د انکار دی، آيا ګرځولي دي خدای له هغه مخلوق څخه چي ده پيدا کړي لوڼې (چي کافرانو به ويل ملائکه بنات الله دي) او تاسي يې مختاره کړي ياست په زامنو سره.

پوه سه: چي دا جمله مستأنفه ده مقدر په قل سره ده، تقديره قل لهم ام تخذوا مما يخلق بنات واصفاكم بالبنين، او سره ددې چي ابغض د اولادو و کفارو ته لوڼې وې کما قال الله واذا بشر احدهم بالانثى ظل وجهه مسودا وكظيم (هغه وخت چي زيری وسي و يوه ته ددوی يعني المشركين په لور سره مخ يې تور سي د خواشنۍ او د غمه ډک وي، کما سيئاتي، او بل ځای په قرآن کي خدای پاک فرمايي: الكم الذكر وله الانثى تلك اذًا قسمة ضيزي.

وَاِذَا بُشِّرَ اَحَدُهُمْ بِمَا ضَرَبَ لِلرَّحْمٰنِ مَثَلًا

او چي زيری وسي و يوه ته ددوی په هغه ولد سره (يعني لور ده) په هغه شي سره چي دوی د الرحمن لپاره مثل ګرځولی دی ای بالجنس الذي جعلوا له تعالى مثال اذ الولد لابد ان يماثل الوالد او يا مراد د مثل څخه وصف او حال دی يعني چي تاسي د خدای اصل وصف ګرځولی دی، فالمعنى اذا بشر احد منهم بالوصف والحال الذي جعلوا للرحمن.

ظَلَّ وَجۡهُهٗ مُسۡوَدًّا وَّهُوَ كَظِيۡمٌ ﴿١٧﴾

وګرځي مخ دده شديد السواد له سببه د ډېر غم، او ډک وي زړه دده له کرب او اضطراب څخه.

سوال: د اصفاكم خطاب و چا ته دی؟

ځواب: دا جمله مستأنفه ده په تقدير د قول تقديره قل لهم ام اتخذ مما يخلق بنات واصافكم بالبنين فصاروا مخاطبين فافهم، که دا تقدير نه وای نو اصفاكم په منځ کي د دوو غائبو لفظو راغلی دی يعني (١) وجعلوا له من عباده خزء (٢) واذ ابشر احدهم.

اَوَمَنۡ يُّنَشَّؤُا فِى الۡحِلۡيَةِ وَهُوَ فِى الۡخِصَامِ غَيۡرُ مُبِيۡنٍ ﴿١٨﴾

آيا هغه څوک چي تربيه يې کېږي يعني ښځي، ولي د ښځو حسن مخ دی په صورت کي نو دوی ځانونه ښائسته کوي په زرو او زېورو سره او په سرخي او سفيده سره تا چي نوريې هم حسن زيات سي، بخلاف الرجال ولي چي د دوی ښائست په اوصافو سره دی لکه فصاحت او بلاغت او علم وغيرها سره وذالک غير محتاج الى الحلية الظاهرة، نو نر لره نه ده په کار او نه ورسره ښايي چي لکه ښځه په زينت ظاهري لاس پوري کړي او دا عيب دی د نر لپاره، پښتانه وايي: پلانی ښځونک دی.

پوه سه: چي همزه لپاره د انکار مکرر دی چي کفار ملائکه بنات الله بولي او ښځي يې بولي لکه د انسانانو ښځي، او د ښځو حال دا دی چي ينشؤ في الحلية نو دا نسبت و خدای ته کول سخت منکر نسبت دی.

او هغه (ضمير راجع دی و من ته چي مراد ځني ښځي دي) د خولې په خصومت کي يا د تېري (يعني بل څوک تېری پر وکړي) په خصومت کي خپل دليل نسي بيانولای لضعف عقولهن ولنقصان قلوبهن.

درويش وايي: چي دا حالات د ښځو په اعتبار د غالب دي والا فقد قال معاويهؓ ما رئيت ابلغ من عائشةؓ او په دلائلو کي تر ډېرو نرانو بالا وه.

وَجَعَلُوا الۡمَلٰٓئِكَةَ الَّذِيۡنَ هُمۡ عِبٰدُ الرَّحۡمٰنِ اِنَاثًا ؕ

او ګرځولي دي کفارو ملائکه چي هغوی بندګان د رحمٰن دي يعني علٰحده مخلوق دی چي نه لکه نر د انسانانو دي او نه لکه ښځي، دوی يعني کافرانو ښځي

وګرځولي يعني د متعارفو ښځو ګمان پر لري، دا جمله عطف ده په هغه قول د خدای
و جعلوا له من عباده جزء، حاصل ددې دوو آيتو دادی چي کافران توصيف د خدای
بما لايليق به وهو ان له ولد من جنسه وذالک تحقير لشانه تعالى او توصيف د
ملائکي يې وکړی چي خيار عباد الله وي په ښځو سره وفي ذالک استحقار شانهم.

اَشَهِدُوْا خَلْقَهُمْ

الاستفهام للانکار آيا دوی يعني کافران حاضر وه په پيدائش د ملکو کي چي
دوی ښځي دي، يعني دوی ورته حاضر نه وه فکيف يحکمون، وفي هذه الآية
تجهيل (اظهار د جهل د دوی دی)

پوه سه: چي شهود په معنی د حضور دی لا بمعنى الشهادة المعروفة لان حکم
الانوثة على مخلوق الله فرع الحضور بلکې دا خبره دوی يعني الکافرون في زمن
رسول الله انما سمعوه من آبائهم وهم کذابون جاهلون وهلم جرًا، نو دوی د منجمانو
دي او اهل الحکمة الموهبة دی، ولي چي ددوی په قاصرو عقلو سره د غيب د
اخبارو خبرونه نشر کوي، عماد الکاتب وايي چي يو برجسته عالم دی چي په سنه
۵۸۲ ھ کي منجمانو د دنيا دا اعلان وکړی چي بلاد د شعبان په مياشت کي د باد د
طوفان له سببه خرابيږي، نو ملکو د پارس او روم په غرو کي غارونه کيندل شروع
کړه چي په فلانی شپه لکه منجم چي اخبار ورکړی ؤ په دغو غارو کي پټ سوه سره د
اهل او عيال، او مسکينان چي د غره د کيندلو طاقت يې نه درلودی د خدای پر
توکل ناست وه، منجمينو خو د داسي تېز باد خبر ورکړی لکه باد د عاد د قوم، ملا
عماد وايي چي په هغه شپه سلطان ناست ؤ او ډېر شمان يې لګولي وه شپه تېره سوه
دومره باد نه سو پيدا چي دغه شمان مړه کړي، نو دا وه قصه د ښکرورو دروا غو د
منجمانو، آورده اند که يک غيب گوی در کدام وطن بود که خبرهای ملائکه
درآسمانها بمردم بيان ميگرد که به اصطلاح اورا کاهن می گويند، روزی آن کاهن
بخانه خود آمد بازن او شخص بيگانه ديد که بازی می کند ولب بوسی وخد بوسی
ميکرد دشنام داد ودر محل او فتنه وغضب برخاست مردم محله جمع شدند،
صاحب دلی يعنی شخص ولی الله اين خبر شنيد، وچنين گفت:

تو براوج فلک چه دانی که چيست — چون ندانی که در خانه تو کيست

سَتُكْتَبُ شَهَادَتُهُمْ وَيُسْـَٔلُوْنَ ﴿١٩﴾

ژر دی چي نوشته به سي شاهدي ددوی (يعني کفارو پر ملکو د انوثت) په ديوان کي د اعمالو ددوی، او له دوی څخه به پوښتنه وسي په ورځ د قيامت لپاره د توبيخ، مقاتل او کلبي ؒ وايي چي اهل مکه چي دا قول وکړی چي ملکي د خدای لوڼې دي عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي تاسي نو څه خبر ياست؟ دوی ورته وويل چي موږ ته زموږ نيکه ګانو ويلي دي او زموږ پلرونو او نيکه ګانو هيڅ کله دروغ نه دي ويلي، او ابن المنذر ؒ له قتاده ؒ څخه روايت کړی دی چي بعض منافقانو دا ويل چي خدای د جنياتو لوڼې او خوندي په نکاح کړي دي دا ملکي ټولي د خدای لوڼې دي تعالی شانه وذاته من ذالک.

وَقَالُوْا لَوْ شَآءَ الرَّحْمٰنُ مَا عَبَدْنٰهُمْ ؕ

وويل کفارو د مکې (دا جمله عطف ده پر وجعلوا الملائکة) که د رحمٰن اراده وي (مفعول د شاء محذوف دی يعني ان لا تعبد الملائکة) موږ به عبادت د ملکو نه کولای.

پوه سه: چي دا قول د قتاده، مقاتل او الکبي ؒ دی، او مجاهد ؒ وايي يعنون الاوثان، وعلی کل حال مراد د دوی دا دی چي چونکه مشيت د خدای د ملکو د عبادت يا د بتانو د عبادت مستلزم دې لره دی چي دا دواړه عبادت ښه کار دی فلا معنی النهي عنهما لکه په دين کي د اسلام چي نهي ځني راغلي دي او دا خبره ددوی کذب محض دی ولي مشيت د خدای ؒ لپاره د ترجيح د بعض ممکناتو علی بعض که مأمور به وي او که منهي عنه که حسن او که قبيح وي لکن د تکليف منات حسن او قبح ده چي خدای په راضي وي او فرق د مشيت او د رضاء تر مابين من قاف الی قاف، قال الله تعالی ولا يرضی لعباده الکفر (يعني ولا العصيان) قال الله ردًا عليهم.

مَا لَهُمْ بِذٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۖ اِنْ هُمْ اِلَّا يَخْرُصُوْنَ ؕ ﴿٢٠﴾

چي دوی يې دعوه کوي چي ملائکه بنات الله او يا بتان شرکاء الله او خدای ﷻ د هغو په عبادت سره راضي دي (من علم) چي يا حسي دليل وي يا عقلي صحيح دليل پر دوی (ان هم آه) دا جمله تاکيد ده ماقبل ده يعني نه دي مګر

دروا غ وايي فان الخرص الكذب وكل قول بالظن والتخمين سواء طابق الواقع اولا چي په پښتو يې اټكل بولي، كذا قال الراغب الاصفهاني ؒ.

اَمْ اٰتَيْنٰهُمْ كِتٰبًا مِّنْ قَبْلِهٖ فَهُمْ بِهٖ مُسْتَمْسِكُوْنَ ﴿۲۱﴾

كلمه د ام متصله ده او معادلة د همزه في قوله تعالى اشهدوا خلقهم والمعنى اشهدوا وقت خلقهم اى الملائكة حتى چي په سترګو يې ليدلي واى چي ملائكه ښځي دي او يا په اسماني كتاب چي پر دوى نازل سوى دى (من قبله) اى من قبل القرآن المجيد يا د مخه تر دعوىٰ د دوى چي هغه كتاب پر صحت د ماقالوا دلالت كوي (فهم به آه) نو دوى په هغه كتاب سره تمسک وايي يعني دليل پر صحت د خپلي دعوې وايي.

بَلْ قَالُوْٓا اِنَّا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا عَلٰٓى اُمَّةٍ وَّاِنَّا عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿۲۲﴾

عطف على قوله ام اتيناهم، حاصل الآية چي كفار خو خلق ته د ملائكهؤ حاضر نه وه تا چي په حس ورته معلومه سوې واى چي ملكي ښځي دي نو بې تفريع كړې واى چي د خداى پاک نعوذ بالله لوڼې دي، او نه كوم دليل عقلي صحيح پر انوثيت د دوى لري او نه يو كتاب اسماني چي په هغه كتاب كي دي انوثة د ملكو بيان سوي وي، بلكې دا قول د دوى تقليداً كوي حيث قالوا (انا وجدنا آبائنا على امة) په تحقيق موږ پيدا كړي دي خپل پلرونه پر يو ملت يعني يو دين (يعني المذكور ان الملائكة اناث وبنات الله) او موږ موجودين في زمن النبي ﷺ پر آثارو د خپلو پلرو پر هدايت روان يو يعني نه دليل حسي لرو او نه عقلي او نه كتاب سماوي بلكې دغه تقليد د خپلو لرو د هدايت لاره ده، ګفته اند: بيت

آن كس كه نداند وبداند كه بداند — در جهل مركب ابد الدهر بماند
وآن كس كه نداند وبداند كه نداند — اواسپ خود از ګنبد فيروزه جهاند

فتدبر في البيتين تعلم حال المقلدين لابائهم الضالين.

مسئله: په دې آيت كي ذم تقليد دى چي معنى يې قبول د قول ده بېله دليله لكن تقليد روا دى په فروع كي د دين يعني العمليات ولايجوز في اصول الدين والاعتقاديات بل لابد من النظر والاستدلال على ذالک، سعدي ؒ وايي:

برګ درختان سبز در نظر هوشيار ..... هر ورقي دفتريست معرفت كردګار

درويش وايي: چي دا هم نظر او استدلال دی چي د يو صحرايي څخه چا پوښتنه وکړه چي د خدایﷻ پر وجود او صفاتو څه دليل لرې؟ ده ورته وويل البعرة تدل على البعيرة والاقدام على المسير فكيف لايدل هذا العالم الكبير على الصانع الخبير، وما احسن ماقاله.

درويش وايي: چي اول ايمان واجب دی پر خدایﷻ بالعقل... بيت:

گر انبیاء ہم نامدی نی شرع بودی در جہان | واجب شدی مؤمنان ایمان بخالق مقتدر

وتفصيل هذا الكلام في علم الكلام، اوس خدای پاک د رسول اللهﷺ د تسلي لپاره وايي:

وَكَذٰلِكَ مَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ فِىْ قَرْيَةٍ مِّنْ نَّذِيْرٍ اِلَّا قَالَ مُتْرَفُوْهَآ

او دغه رنګه لکه ستا قوم چي جواب په تقليد د اباؤ درکړی، نه دی استولی موږ تر تا دمخه په يوه قريه کي يو بېرونکی يعني له عذاب څخه د يوم القيامة چي انبياء عليهم السلام على كثرتهم مګر نه په داسي حال کي چي مالداران.

يوه سه: چي قريه نفس وطن ته وايي که ښار وي او که کلی، که ډېر وي او که لږ.

اِنَّا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا عَلٰٓى اُمَّةٍ وَّاِنَّا عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ مُّقْتَدُوْنَ ﴿۲۳﴾

وقد مر تفسير الآية والمهتدون والمقتدون بمعنى واحد، حاصل د تسلي و عليه الصلوة والسلام ته دادی چي ضلال د تقليد في الدين ضلال قديم او ددوی متقدمين يعني نيکه ګان دين مستند وهيڅ شي ته نهٔ بلکې هلم جرا دوی داغه خبره کول چي انا وجدنا الى اخير الآية.

فائده: تخصيص د متنعمين چي وکړی له دې سببه چي په هغو کي غرور او تکبر دی نو متابعت د يو شخص چي نبي دی سر نه کښته کوي.

قٰلَ اَوَلَوْ جِئْتُكُمْ بِاَهْدٰى

ويل به هر نذير من اولئک المنذرين لاممهم چي بهانه به وکړه چي موږ په دې خبرو او افعالو کي تقليد د آباؤ کوو، الهمزة لاستفهام الانكار والواو للحال والتقدير اتتبعون ابائكم ولو جئتكم (باهدى) اى بدين وطريقة اهدى يعني دين د نبي الوقت دی.

مِمَّا وَجَدْتُّمْ عَلَيْهِ اٰبَآءَكُمْ ۗ قَالُوْٓا اِنَّا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿٢٤﴾

تر هغه دين چي تاسي پيدا کړی دی پر هغه دين خپل پلرونه (قالوا) ای قال الكافرون في جواب المنذرين، يعني کافرانو د وخت د هر نبي، په تحقيق موږ په دين سره چي تاسي په راستول سوي یاست کافران او منکران يو که څه هم ستاسي په خوله هغه دين اهدی وي په دې قول کفارو من كل الوجوه نا اميده کړي نذير د دې څخه چي موږ دي ستا په دين کي نظر وکړو یا دي فکر و وهو.

سوال: په دې آيتو کي خو بيان سوال و جواب د هر قوم د خپل نذير سره او نذير د هر قوم خو يو دی فما معنى الجمية في قولهم بما ارسلتم به؟

ځواب: مراد په جمع سره نبي و من تبعوا دی.

فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٢٥﴾

يعني انتقام ځني واخستی په استيصال سره، نو وګوره ايها الناظر الغير المعين چي څرنګه سو اخير کار د عذاب د المكذبين وهو الاستيصال عن وجه الارض.

درويش وايي: چي د دې ټولي قصې څخه مطلب دا دی چي ستا د زمانې مکذبين هم بايد عبرت واخلي چي پر دوی به هم عذاب راسي او په عين حال کي تسلي ده و عليه الصلوة والسلام ته چي ته د دوی په تکذيب مه غمجن کېږه ولي چي ستا د مکذبينو څخه به هم انتقام واخسته سي وقد انجز الله هذه الوعد ..... في البدر وفي فتح مکة... بيت:

پند گیر از مصائب دیگران ..... تا نگیرند دیگران ز تو پند
نرود مرغ سوئی دانه فراز ..... چو بیند مرغ دیگر اندر بند

حكايت: له شعبي ؒ څخه روايت دی چي يو وخت زمري، لېوه او ګيدړه په ښکار وتلي وه، نو يوه د غره پسه (چي حمار وحشي يې بولي) ښکار کړی، او بل د هوسۍ کبلی، او بل سوی، نو زمري و لېوه ته وويل چي دا سره تقسيم کړه، لېوه وويل چي د غره پسه چي اعلی د ښکار سوي حيواناتو دی د حضرت الملک الوحوش دی، او کبلی يې زما او سوي يې د ګيدړي، زمري چمبه پورته کړه لېوه يې پر سر په وواهه چي روح يې ورکړی يعني لېوه، بيا زمري ګيدړي ته وويل چي

ته نو اوس وېش وکړه، ګيدړي ووېل چي د غره پسه دي حضرت الملک د څاښت په وخت کي نوشجان کړي او کبلی دي د ماښام په وخت کي وخوري او سوي دي د ماپښين په وخت، نو زمري ورته ووېل چي څه عجيب قضاوت دي وکړی دا قضاوت چا درښوولی دی؟ ګيدړي ورته ووېل چي دا قضاوت هغه چمبې راښوولی دی چي حضرت الملک لېوه په وواهه.

درويش وايي: چي که رشتيا هم نه وي د عبرت لپاره ښه تمثيل دی.

وَإِذْ قَالَ إِبْرٰهِيمُ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِۦٓ إِنَّنِى بَرَآءٌ مِّمَّا تَعْبُدُونَ ﴿٢٦﴾

په ياد کړه ته يا محمد ﷺ و قوم ته خپل هغه وخت چي ووېل ابراهيم [4] خپل پلار آذر ته چي مشرک ؤ او خپل قوم ته چي هغوی هم مشرکان وه، په تحقيق زه بېزاريم.

فائده: په يادول د قصې د ابراهيم عليه السلام و پلار او قوم ته چي عليه الصلوة السلام مامور په ذکر کولو سره و کفارته د مکې لان مشرکی مکة يقولون نحن على ملة ابراهيم، نو خدای ﷻ پر دوی په دې آيت کي رد وکړی، حاصل د رد يې دادی چي ابراهيم خو پر خپل پلار او قوم د شرک څخه بېزاري ښکاره کړه او تاسي اهل مکه خو مشرکين ياست، نو څرنګه دعوی د ملت ابراهيم ستاسي صحيح ده.

مصرع: ... اين خيال است و مال است و جنون

پوهسه: چي براء اصلاً مصدر دی، دليل يې دادی چي براء نه تثنيه کېږي او نه جمع کېږي کما هو القانون في المصدر فيقال زيد براء وزيدان براء وزيدون براء.

سوال: نو چي مصدر دی حمل يې څرنګه صحيح دی پر ضمير د متکلم؟

ځواب: تاويله مشهور اما بالحمل على المبالغة واما بحذف المضاف ای ذو براء، واما بجعله بمعنی المشتق ای بريئ کما ذکر النحات تلک التوجيهات في زيد عدل فافهم.

پوهسه: چي کلمه د ما يا مصدريه ده ای من عبادتکم الاصنام يا موصوله ده ای معبودکم وهو الاصنام.

إِلَّا ٱلَّذِى فَطَرَنِى فَإِنَّهُۥ سَيَهْدِينِ ﴿٢٧﴾

مګر نه د هغه خدای څخه چي زه يې پيدا کړی يم.

فائده: که مراد د ماتعبدون څخه اصنام سي نو دا استثناء منقطع ده ولي چي

الذي فطرني خو يازي خداى ﷻ دى بتان خو مافطرني نه دي، نو مثال يې دادى جائني القوم الاحمار، او كه ما تعبدون چي ما موصوله سي او العلم ته هم شامل سي نو استثناء متصل ده فافهم كانوا يعبدو الله والاصنام

سوال: ابراهيم عليه السلام خو پر هدايت ؤ چي نبي ؤ نو د سين د استقبال څه معنٰى ده؟

ځواب: معنٰى د استقبال داده سيثبنى على الهداية وهو مستقبل او يا معنى داده چي ماته به ارشاد وکړي بالا تر هغه چي ماته هدايت کړى دى لان درجات د هدايت الله غير متناهية.

وَجَعَلَهَا كَلِمَةً بَاقِيَةً فِي عَقِبِهِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٢٨﴾

او وګرځول ابراهيم عليه السلام دغه کلمه (اى كلمة التوحيد المفهومة من قوله انني براء الى قوله سيهدين) باقي کلمه په پس مانده ګانو کي، قتاده رحمه الله وايي چي همېشه په اولاد کي د ابراهيم عليه السلام داسي کسان موجود وه چي د خداى ﷻ د توحيد معتقد وه، قرطبي رحمه الله وايي جعل الله وصية ابراهيم باقية في نسله وذريته كما قال الله تعالى ووصى بها ابراهيم بنيه ويعقوب الآية، دا هلته چي دى د اور د نمرود خلاص سو او خداى ﷻ ده ته اولاد کبار ورکړه فكانوا فيه نسلاً بعد نسل من يوحد الله ويدعوا الناس الى التوحيد وخاتمة تلك الدعوة الى التوحيد سيد الاولين والآخرين شفيع المذنبين حبيب العالمين محمد رسول الله ﷺ.

(لعلكم يرجعون) يعني دا قول د ابراهيم عليه السلام چي ته و اهل مكه ته ذكر كړې شايد اهل مكه له شرک څخه و توحيد ته رجوع وکړي.

بَلْ مَتَّعْتُ هٰؤُلَاءِ وَآبَاءَهُمْ

پوه سه: چي دا کلمه د بل اضراب دى من قوله لعلهم يرجعون يعني رجوع د اهل مكه خو امکان نه لري بلکې ماتمتع ورکړې وه يعني دنياوي فائده (هٰؤلآء) يعني کفارو ته د مکې چي معاصرين د نبي عليه السلام وه، او هغه نيکه ګانو ته ددوى چي پر شرک مړه وه، د تمتع معنى داده چي دوى عذاب پر کفر ددوى نه ؤ ورکړى.

حَتّٰى جَاءَهُمُ الْحَقُّ وَرَسُولٌ مُّبِينٌ ﴿٢٩﴾

تر دې پوري چي راغلى دوى ته حق يعني القرآن وقيل الاسلام، او رسول چي

ظاهر الرسالةؤ بالمعجزات، او يا معنى داده چي مظهر د توحيدؤ بالحجج والبينات والآيات او يا معنى داده چي مظهر د احكامو د خداى ﷻ ؤ.

وَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ قَالُوْا هٰذَا سِحْرٌ وَّاِنَّا بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿۳۰﴾

هغه وخت چي راغلئ دوى ته حق چي قرآن عظيم الشان دى، وويل دوى چي دا سحر دى او موږ له دې ځخه انكار كوو، د سحر نوم يې په دې پر كښېښنو چي دوى يې له اتيان بالمثل ځخه عاجزه وه، كريمه: ان كنتم في ريب مما نزلنا على عبدنا فأتوا بسورة مثل منه، وغيره من آيات التحدي.

شان نزول: ابن جرير بالواسطة له ابن عباس رضي الله عنهما ځخه روايت كړى دى چي ځه وخت چي الله ﷻ محمد ﷺ مبعوث كړى عربو دده له نبوت ځخه انكار وكړى او دوى د حجت وايه چي د خداى شان لوړ دى تر دې چي رسول دده بشر وي، فانزل الله في ردهم اكان للناس عجبًا ان اوحينا الى رجل منهم، وايضًا انزل وما ارسلنا من قبلك الا رجالاً، نو كفارو د مكې وويل چي كه چېري رسول د خداى بشر كېداى سي نو غير د محمد (ﷺ) كان احق بالرسالة، نو ددې سبب دوى دا سي بيان كړى.

وَقَالُوْا لَوْلَا نُزِّلَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ عَلٰى رَجُلٍ مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيْمٍ ﴿۳۱﴾

دوى وويل چي ولي نه نازلېدى دا قرآن پر يو سړي د دوو قريو چي مكه او طائف دي (عظيم) بالجاه والمال، ولي چي دوى وايي چي رسالت يو لوى منصب دى لايليق الا لعظيم بالجاه والمال وغير ذالك او دوى په دې نه پوهېږي چي رسالت يوه روحاني رتبه ده استعداد او كمال روحاني او نفس قدسي مطهر او صبر كامل پر اذيت د كافرانو غواړي لا الرحازف الدنيوية، ابن المنذر رحمه الله له قتاده رحمه الله ځخه روايت كړى دى چي وليد بن المغيرة به ويل چي لو كانت الرسالة من الله حقًا كما يقوله محمد لانزل هذا القرآن پر ما باندي چي يو مشرك كثير المال شخصيت يم په مكه كي، او يا پر مسعود بن عمرو الثقفي په طائف كي چي يو مشهور بالدار ذى جاه شخصيتؤ په طائف كي فنزلت هذه الآية.

درويش وايي: وهذا هو القول المشهور، او بغوي رحمه الله وايي چي مجاهد وايي چي مقصود ددوى عتبه بن ربيعهؤ په مكه كي او عبد يا ليلؤ په طائف كي، او بعض روات

وايي چي په مکه کي وليد بن المغيرة، او په طائف کي حبيب بن عمر بن عمير الثقفي ؤ، دا روايت له ابن عباس رضي الله عنهما څخه مروي دی، فرد الله عليهم بقوله اهم يقسمون رحمت ربک، آيا دوی يعني اهل مکه تقسيم کوي د رحمت د خدای چي نبوت دی.

پوه سه: چي دا استفهام انکاري د توبيخ او د بيان د جهالت ددوی دی چي د خدای جل جلاله په ماشاء کي يې هم مداخلت شروع کړی.

أَهُمْ يَقْسِمُونَ رَحْمَتَ رَبِّكَ نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُم مَّعِيشَتَهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا

موږ وېشلې دی ددوی د ژوندانه رزق او معيشت په اشياء، ددوی د دنيا په ژوند کي مطابقًا لما يقتضي مشيته تعالى مشتملاً على الحكم والمصالح.

وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ

پورته کړي موږ بعض د انسانانو لوړ تر بعض يعني په رزق کي په ډېرو درجو سره يعني بعض انسانان مساکين وي على تفاوت درجات المسكنة، او بعض اغنياء وي على تفاوت درجات غناهم تفاوتًا عظيمًا بحيث لايدرک ذالک التفاوت الاعلام الغيوب.

لِّيَتَّخِذَ بَعْضُهُم بَعْضًا سُخْرِيًّا

تاچي وګرځوي (متعلق دی په رفعنا پوري) بعض ددوی چي مالداران دي بعض ددوی چي مساکين ددوی دي مسخرًا في العمل بعض مزدوران.

پوه سه: چي يا د نسبت ده، قتاده رح او الضحاک رح وايي ای يملک بعضهم بعضًا بالعبودية والملک، دا هغه وخت ؤ چي مريان وه اوس چونکه مريان نسته نو ځکه يې ما ترجمه په مزدورانو سره وکړه.

وَرَحْمَتُ رَبِّكَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ ﴿٣٢﴾

او رحمت د خدای چي نبوت دی او ولايت دی او قرب الهي دی وامثالها چي تړوله يې د توابع څخه د نبوت دي، غوره دي له هغه څه څخه چي کافران يې جمع کوي من حطام الدنيا، نو څوک چي قادر نه وي چي د ځان لپاره دي رفعت په دنيا کي حاصل کړي لا ذالک في مشيت الله کما يدل عليه قوله تعالى ورفعنا بعضهم

فوق بعض درجات، نو هغه د نبوت چي اعلى درجه د انسانيت ده څرنګه خواهش كوي كما يدل عليه قوله تعالى لولا نزل هذا القرآن على رجل من القريتين عظيم.

فائده: حاصل دد ې آيت دادی چي عظيم عند الله من رزق النبوة لكه محمد ﷺ لا من رزق متاع الدنيا لكه وليد بن المغيرة يا مسعود بن عمر الثقفي په طائف كي.

فائده: چونكه د كافرانو په نيز عظمت د سړي په ډير والي د اموالو او د جاه وجلال او د بنګلو په درلودلو سره دی، خدای ﷻ په دې آيت سره قدر د دنياوي ټولو درجو حال بيان كړی دی چي دنيا حقير او ذليل او مبغوض ده په نيز د خدای.

وَلَوْلَآ اَنْ يَّكُوْنَ النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً

كه نه وای چي خلګ به ټوله وګرځي ټوله يو ملت يعني كافران ولي چي خلګ محبت د دنيا عاجلي د نعمتو لري او د اخروي نعمتو اجله څخه غافله دي.

فائده: كلمه د ان سره د مدخول خپل مبتداء ده او خبر يې محذوف دی ای حاصل و جواب لولا قوله تعالى دی.

لَجَعَلْنَا لِمَنْ يَّكْفُرُ بِالرَّحْمٰنِ لِبُيُوْتِهِمْ سُقُفًا

موږ به ګرځولې هغه چا لره چي په رحمن خدای سره كافران وي يعني مشركان (لبيوتهم) بدل اشتمال دی د لمن يكفر لره يا علت دی كقولك وهبت له ثوبًا لقميصه.

پوه سه: چي (سقفًا) بعض قاريان لكه ابن كثير او ابو جعفر په فتح د سين او په سكون د قاف يعني پر صيغه د مفرد وايي.

سوال: بيوت خو جمع دی نو د ډيرو خونو خو يو بام نه وي؟

ځواب: مراد د سقف مفرد څخه معنى جنسي ده الصالح للواحد والاثنين والجماعة، او نور قاريان دا لفظ په ضمه د قاف او د سين وايي چي جمع د سقف ده مثل رَهن و رُهُن، قال ابو عبيدة ولا ثالث لهما معنى د قول مذكور دا ده چي جمع لره د فُعُل پر فَعل ماسوى د سُقُف او سَقف او رهن او رهن بل په عرب ژبه كي مثال نشته.

فائده: جمع د ضمير د بيوتهم په اعتبار د معنى د من لكه افراد د مستتر ضمير په يكفر كي په اعتبار د لفظ د من دی.

مِّنۡ فِضَّةٍ وَّمَعَارِجَ عَلَيۡهَا يَظۡهَرُوۡنَ ۟ۙ

اى متخذة د سپينو زرو څخه (معارج) جمع د معرج ده عطف پر سقفًا دى، پر هغو ځينو به پورته وخېژي بامو ته.

پوه سه: چي معرج چي سلم يې هم بولي په فارسي يې نردبان او په اردو يې سيړهی بولي او په پښتو يې ځينې بولي، والمراد چي ځينې به يې هم د سپينو زرو وي ولم يذكم مع المعارج ذالک بذكرها مع المسقوف عليه اعني سقفًا.

وَلِبُيُوۡتِهِمۡ اَبۡوَابًا وَّسُرُرًا عَلَيۡهَا يَتَّكِـُٔوۡنَ ۟ۙ وَزُخۡرُفًا ؕ

او ددوى خونو لره به دروازې وي او چارپايي يا پلنګ الى غير ذالک من الاسماء يعني د سپينو زرو به وي، بيوت جمع د بيت ده او سرر جمع د سرير ده، پر هغو پلنګانو به يې تكيه كړې وي (وزخرفًا) اى زينة عطف دى پر سقف باندي يعني نور د زينت شيان به وركړي كالثياب الفاخرة والبساتين المثمرة والمطعومات الشهية، او بعض مفسرين وايي چي مراد له زخرف څخه سره زر دي فهو معطوف على محل من فضة.

پوه سه: چي تخصيص چي يې په كفارو سره وكړى كما سمعت لانها مبغوضة عندالله فيؤتي المبغوض للمبغوض.

وَاِنۡ كُلُّ ذٰلِكَ لَمَّا مَتَاعُ الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا ؕ

بتأويل المذكور لانها امور متعددة نو هايد تلک يې ويلي واى من سقف الفضة ومعارجها وابوابها وسررها وزخرفها.

پوه سه: چي عاصم او حمزه كلمه د لما مشدد وايي نو پر دې قرائت كلمه د ان نافيه ده او كلمه د لما په معنى د الا ده، فالمعنى نه دي دغه مذكوره شيان مګر د تمتع شيان په دې ژوند ناقص كي لابقاء لها ولا اعتداد له بها عندالله او باقي قراء لما په تخفيف د ميم وايي، كلمه د ان مخفف د مثقله څخه دى اسم يې ضمير شان محذوف دى وكل ذالک مبتداء ده لما متاع الدنيا خبر دى وما زائدة.

وَالۡاٰخِرَةُ عِنۡدَ رَبِّكَ لِلۡمُتَّقِيۡنَ ۟

او ورځ د قيامت مع مافيها من النعماء التي لاعين رئت ولا اذن سمعت ولا

خطرت على قلب بشر، په نېز د رب ستا اى متحققة في علمه وقضائه (للمتقين) من الشرک والمعاصي.

فائده: له دې آيت څخه معلومه سوه چي عظيم هغه څوک دی چي په اخرت کي عظيم وي لا عظيم الدنيا لکه د مشرکانو چي ګمان ؤ، او تنبيه پر دې ده چي زخارف د دنيا يې ټولو مؤمنانو ته ورنه کړه بلکې بعض يې و اعداء ته ورکړه لانها مبغوضة عندالله حرية ان تجعل کلها للکافرين لکن لم يفعل کذالک مخافة اجتماع الناس على الکفر ولو کانت زخارف الدنيا حسنة عندالله، نو نه به يې واى ورکړي کافرانو ته هيڅ شی، له سهل بن سعد رضي الله عنه څخه روايت دی قال رسول الله ﷺ که چېري دنيا د وزر د غوماشي قدر پر خداى درلوداى ما سقى کافرًا شربة ما.

سوال: په دې آيتو کي خداى ج داسي وويل که چېري بېره ددې نه واى چي خلک به ټوله پر کفر سره جمع سي که زخارف د دنيا به يې ټوله کافرانو ته يې ورکړي واى کمامر تفصيله في آية ولو لا انيکون الناس ملة واحدة (يعني کافران) لجعلنا الآية،

سوال: نو پوښتنه داده چي زخارف د دنيا به يې مسلمانانو ته ورکړي واى تا چي انسانان ټوله پر اسلام جمع سوي واى؟

ځواب: پر دې تقدير خو اجتماع د خلګو پر اسلام لپاره د طلب د دنيا به واى وهذا الايمان ايمان المنافقين، نو حکمت الهي تقاضا وکړه ددې چي پر مسلمانانو بعض تنګي او اذيت مسلط کړي تاچي دخول ددوی په اسلام کي محضًا لپاره د رضاء د خداى ج سي او لپاره د طلب د نعيم الآخرة وګرځي ليس الا ذالک.. بيت:

بقدر الکد تکسب المعالى .... يغوص البحر من طلب اللالى

سوال: څه حکمت الهي دی چي خداى ج مختار کړی دی د خپل نبي لپاره فقر او هم عليه الصلوة السلام د خپل ځان لپاره فقر سره ددې چي په حديث شريف کي راغلي دي لو شئت لدعوت ربي عزوجل فاعطاني مثل ملک کسرى و قيصر؟

والجواب عنه: چي که چېري عليه الصلوة السلام غني د خلګو واى، نو بعض کسان به په دين کي دده داخليدای طمعًا لدنياه وماله، فاختار العدله الفقر تاچي دا معلوم سي چي هر څوک چي دده په دين کي داخلېږي لپاره د طلب د نعيم الآخرة، او بل جواب دادی چي تسلي د زړه د فقير وسي په فقر سره د سيد البشر ﷺ کما يتسلى

الغنى بماله، او بل جواب دادى چي فقر د سيد البشر ﷺ دليل دى هوان د دنيا پر خداى ج باندي كما مر في الحديث المروي عن سهل بن سعد رضي الله عنه قريبًا فتذكر.

درويش وايي: چي مظهري رح په ډېرو رواياتو سره دا حديث رانقل كړى دى عن ابي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ الدنيا سجن المؤمن وجنة الكافر، قال المظهري رح رواه احمد ومسلم في صحيحه والترمذي.

پوه سه: چي دد ې حديث معنى داده چي مؤمن كه څه هم په دنيا كي ډېر نعمتونه او جاه و جلال لري لكن دنيا دده لپاره نسبت و هغه نعمتوته چي خداى ج دده لپاره آراسته كړي دي په جنتو كي بندي خانه ده، او كافر كه څه هم په دنيا كي په ډېرو غمو او مصيبتو او فقر او مسكنت كي وي لكن نسبت و هغه عذابوته د دوږخ به دنيا جنت ورته معلو مېږي.

پوښتنه: تمتع په دنيا سره چي حرام لحق الله نه وي او نه حرام لحق العبد وي خو رواه ده، و طلب د ژوندانه معاش خو هم روا دى بلكې فريضه ده، كما روى ان النبي ﷺ قال طلب الحلال (اى الرزق الحلال بالكسب والتجارة) فريضة (اى لنفقة العيال وغيرهم من ذوى المحارم المحتاجين الفقر) بعد الفريضة (يعني فريضة الله من الصلوات والصيام) رواه الطبراني والبيهقي، عن ابن مسعود رض نو څه ده حرمت د حب الدنيا؟

ځواب: مراد د حرمت د حب الدنيا داده چي دنيا يې پر آخرت مختاره كړې وي او غرق وي په ګټلو كي د دنيا او په لذاتو كي د دنيا بحيث يغفل عن اكتساب الثواب واجتناب العذاب والحرص على جمع المال من اى وجه كان وطول الامل او يا عقيده يې دا وي چي اغنياء تر فقراء بهتر دي او تعظيم د اغنياؤ بالا كوي تر تعظيم د فقراؤ صرف په سبب د غنٰى نه له دې سببه چي له ضرر څخه يې بېرېږي يا مكافات د يو احسان چي غني ورسره كړى وي وركوي الى غير ذالك من غرض مشروع، او يا غرض د سړي په ګټلو كي د دنيا علوًا او فسادًا وي، واما طلب المعاش وكسب چي له ذكره څخه د خداى ج نه وي غافل او د لمونځو او زكوة وركولو څخه نه وي غافل بلكې غرض يې انفاق پر ځان وي لپاره دد ې چي پر عبادت د خداى ج قوت او يا د نفقې د زوجې او د عيال اداءً لحقوقهم فليس

بمكروه وايضًا للانفاق في سبيل الله چي د غزاتو سره كومك وكړي فهو جائز بل واجب لكه د نفقې د عيال لپاره يا د نفقې د كوډ او شل د ذوى الارحام لپاره الى غير ذالك من الحقوق الواجبة.

وَمَنْ يَّعْشُ عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمٰنِ

څوک چي اعراض له ذكر څخه د رحمن وكړي چي مراد ځني قرآن عظيم الشان دى او ځان لكه ړوند وګرځوي په سبب د كثرت اشتغال په لذاتو كي د دنيا او ډوب وي په شهواتو كي، خليل بن احمد چي استاذ دى د سيبويه په نحو كي وايي اصل العشو في اللغة النظر الى الشيئ بالنظر الخفيف.

فائده: عشو ګاهي متعدي په الى سره وي نحو عشوت الى فلان عشوًا اى قصدته مهتديا به، ګاهي متعدي په عن سره وي كما يقال عشوت عن فلان اذا اعرضت عنه، نو په دې كي چونكه متعدي په عن سره ځكه يې ټوله مفسرين ترجمه په اعراض سره كوي.

نُقَيِّضْ لَهٗ شَيْطٰنًا فَهُوَ لَهٗ قَرِيْنٌ ﴿۳۶﴾

مقرر به كړو او مسلط به كړو پر ده شيطان (فهو له قرين) يعني نه به ځني جلا كيږي او ګناه به ده ته ښائسته ښكاره كوي او ده ته به وايي چي ته پر عين هدايت يې.

پوښتنه: د هر انسان سره خو د مرګ تر وخته پوري شيطان ستۀ ولو كان مؤمنًا حقًا و وليًا قويًا فما معنى نقيض له شيطانًا؟

ځواب: مراد له دې شيطان څخه هغه ملګرى شيطان نه دى بلكې دا بل شيطان دى كمايدل عليه الحديث قال رسول الله ﷺ اذا اراد الله بعبد شرًا قيض له شيطانًا قبل موته بسنة (تر مرګ دمخه يو كال) فلايرى حسنًا الاقبحه نو دا شيطان هر ښه كار په نظر كي د سړي بر ايسوي حتى لايعمل به ولايرى قبيحًا الا حسنة فلا يعمل به كذا في روح البيان، يو عارف بالله لنفسه وايي:

دریغ ودرد که بانفس بد قرین شده ایم — وزین معامله بادیو همنشین شده ایم
بارگاه فلک بوده ایم رشک ملک — زجور نفس جفاپیشه اینچنین شده ایم

وَإِنَّهُمْ لَيَصُدُّونَهُمْ عَنِ السَّبِيلِ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُم مُّهْتَدُونَ ﴿٣٧﴾

نو دغه شيطان (که څه هم شيطان د مخه په صيغه د مفرد راغلی دی لکن جمعيت يې د ضمير دلته نظر و معنی ته د من موصوله دی وهم العاشون) نو دوی منع کوي له لاري څخه د هدايت، او ګمان کوي عاشون چي دوی پر عين هدايت دي.

پوه سه: چي دا جمله حال ده له ضمير څخه د ليصدونهم.

حَتَّىٰ إِذَا جَاءَنَا

تر هغه وخته پوري هذه غاية لحسابهم اهل عراق غير له ابی بکر رح څخه جائنا مفرد وايي فالمعنی حتی اذا جاء العاشي او نور قاريان يې پر صيغه د تثنيه وايي يعني اذا جاءانا فالمعنی اذا جاء العاشي وشيطانه چي په يوه ځينځير سره تړلي وي.

قَالَ يَا لَيْتَ بَيْنِي وَبَيْنَكَ بُعْدَ الْمَشْرِقَيْنِ فَبِئْسَ الْقَرِينُ ﴿٣٨﴾

ووايي يعني العاشي لشيطانه، يا هذه الکلمة للتنبيه او يا يې منادی محذوفه ده تقديره يا قرين، کاشکي زما او ستا تر منځ لېري والی وايي د مشرق او مغرب (نو په مشرقينو کي تغليب د مشرق پر مغرب وکړی نو يې مشرقين ووايه) يا مراد له مشرق څخه مراد ژمی او دوبی دی (فبئس القرار) ته بد ملګری يې زما، ابو سعيد الخدري رض وايي چي کافر چي په ورځ د قيامت راژوندی سي د خپل قرين شيطان سره وتړل سي نو نه سره جلا کېږي تر څو چي دوږخ ته لوېږي.

وَلَن يَنفَعَكُمُ الْيَوْمَ إِذ ظَّلَمْتُمْ أَنَّكُمْ فِي الْعَذَابِ مُشْتَرِكُونَ ﴿٣٩﴾

او نفعه نه وکړه نن ورځ په اخرت کي يعني عذر ويل يا طلب د رد و دنيا ته، چي معلوم سو تاسي ته چي تاسي شرک په دنيا کي کړی ؤ او ظلم مو پر ځان کړی ؤ کلمه د اذ بدل ده من اليوم (انکم في العذاب مشترکون) دا دليل دی د عدم النفع يعني حق ستاسي ايها المشرکون ان تشترکوا انتم وقرنانکم من الشياطين في العذاب، ولي چي تاسي سره شريکان واست په سبب کي د دغه عذاب په دنيا کي وهو الکفر.

أَفَأَنتَ تُسْمِعُ الصُّمَّ أَوْ تَهْدِي الْعُمْيَ وَمَن كَانَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٤٠﴾

يا محمد آيا ته اورېدلای سې په ګڼيانو يعني خپل دعوت د توحيد يا ته لار ښودلای سې و ړنديانو ته.

پوه سه: چي مراد د ګونګوالي څخه يا د ړوند والي څخه کونګوالی يا ړوندوالی د زړه دی يعني قلوبهم ای المشرکين افت رسيده دي لار د هدايت نسته ورته (ومن کان آه) عطف دی پر اعمٰی باعتبار تغاير الوصفين والاستفهام للانکار والتعجب من حال محمد ﷺ حيث طمع هؤلاء الايمان، والفاء للعطف علی محذوف تقديره وانت تريد ان تهديهم هذا هو المحذوف المقدر افانت تسمع العمی يعني لست تقدر علی هداية هؤلاء الکفار بعد تمرنهم علی الکفر واستغراقهم في الضلال بحيث صار ظلمة الکفر عليهم غشاوة علی اعينهم و وقرأ في اذانهم کانهم لايسمعون کلامک ولايبصرون طريقًا لتهديهم اليه.

فَاِمَّا نَذْهَبَنَّ بِكَ فَاِنَّا مِنْهُمْ مُّنْتَقِمُوْنَ ﴿٤١﴾

اصله ان ما فان شرطيه اتصلت بما الزائدة المؤکدة بمنزلة لام القسم، يا يې نون د تاکيد ورته راجلب کړی يعني که موږ وفات کړو دمخه تر ليدو د عذاب ددوی چي ستا زړه په خنک سي او د مؤمنانو زړونه په ساړه سي.

لاتحزن ولي موږ ددوی څخه انتقام اخستلای سو په دنيا او اخرت کي.

اَوْ نُرِيَنَّكَ الَّذِيْ وَعَدْنٰهُمْ فَاِنَّا عَلَيْهِمْ مُّقْتَدِرُوْنَ ﴿٤٢﴾

او که موږ وو وينو په تا يا محمد (ﷺ) يعني په دنيا کي، هغه شی چي موږ يې وعده کړې ددوی سره ای العذاب نو موږ پر دوی قادر يو يعني پر تعذيب ددوی يعني زموږ څخه نه پاتېږي تعذيب ددوی متٰی شئنا، مراد ځني کفار د مکې دي چي خدای ج انتقام ځني واخستی په ورځ د بدر چي اوويا کسه مخ کښنه کسان په شمول د فرعون الامة ابوجهل ستاسي په لاسو ووژل سول او اوويا کسه يې په حصارت ستاسي په لاس در کړه، وهذا قول اکثر المفسرين.

فائده: وفي هذه الآية تسلية للنبي ﷺ بان الله ينتقم من اعدائه ومنکريه يا په حال کي د حيات دده په واسطه دده کما في يوم بدر کما مر او بغير واسطته کما کان في زمن ابی بکر رضي الله عنه چي وروسته تر وفات د عليه الصلوٰة السلام قبائل د عربو غير الحرمين الشريفين له زکوٰة څخه يې انکار وکړی ابوبکر رضي الله عنه فوج کشي پر وکړه تر هغه بيرته د زکوٰة د فرضيت قائل سول وقصته طويلة مذکورة في کتب الاحاديث الشريفة.

درويش وايي: چي مظهري د الحسن او قتاده څخه يو روايت راوړی دی چي د سباق او سياق له دواړو څخه مخالف دی والله اعلم.

فَاسْتَمْسِكْ بِالَّذِيْٓ اُوْحِيَ اِلَيْكَ ۚ اِنَّكَ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٤٣﴾

ته يا محمد (ﷺ) محکمه ونسه هغه شی چي تاته يې وحي کړه سوي دي (که متلو وي لکه قرآن کريم او که وحي غير متلو وحي مما جاء في الاحاديث الشريفة لانه قال الله تعالى ماينطق من الهوى ان هو الا وحي يوحى او عمل په وکړه، فاء سببية ده دا آيت متصل دی په هغه آيت پوري "انا جعلناه قرآنا عربيا" او په منځ کي جمل معترضې دي فافهم) ته پر داسي لاريې چي سمه ده هيڅ کږوالی نسته پکښي، دا جمله دليل د استمساک دی.

وَاِنَّهٗ لَذِكْرٌ لَّكَ وَلِقَوْمِكَ ۚ وَسَوْفَ تُسْـَٔلُوْنَ ﴿٤٤﴾

او دغه يعني القرآن الکريم (چي ستاسي په ژبه دی ای العربي) ذکر دی يعني شرف دی ستا لپاره او ستا د قوم لپاره يعني قريش لپاره هم فخر او شرف دی چي سيد د ټولو کتب الهية ستاسي په لغت دی، "وسوف تعلمون" او ژر دی چي له تاسي څخه به سوال وکړل سي، يعني يوم القيامة عن شکر نزول القرآن فيکم وعما يلزمکم من بحق القرآن بالعمل بموجبه.

فائده: دا جمله حال ده له فاعل څخه د استمسک، البغوي رح وايي چي الضحاک له ابن عباس رض څخه داسي روايت کړی دی چي د رسول الله ﷺ څخه چا پوښتنه وکړه لمن هذه الامر بعدک ای بعد موتک؟ (پوه سه: چي مراد له امر څخه سياست الناس دی) ده جواب نه ورکاوه حتی نزلت هذه الآية، نو وروسته ددې آيت چي به چا پوښتنه ځني وکړه قال لقريش، وکذا روی عن علي کرم الله وجهه او له عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وويل لايزال هذه الامر في قريش ما بقی اثنان، وعن معاوية رضي الله عنه قال سمعت رسول الله ﷺ يقول مادام هذا الامر في قريش ددوی سر به ټوک په دې امر د خلافت نه کوي مګر خدای ج به هغه پر مخ باندي اورته وغورځوي ما اقاموا الدين چي دوی يعني قريش پر دين باندي ثابت قدم وي.

درويش وايي: چي په دې قيد سره دفع سوه کثير من السوالات بان الامر ای الخلافة قد نقل الى غير قريش کرات ومرات بعد رسول الله ﷺ.

وَسۡـَٔلۡ مَنۡ اَرۡسَلۡنَا مِنۡ قَبۡلِكَ مِنۡ رُّسُلِنَاۤ اَجَعَلۡنَا مِنۡ دُوۡنِ الرَّحۡمٰنِ اٰلِهَةً يُّعۡبَدُوۡنَ ﴿۴۵﴾

ته يا محمد (ﷺ) سوال وکړه له هغه چا څخه چي موږ را استولي وه تر تا دمخه رسولان زموږ، آيا موږ ګرځولي وه (يعني دوی لره) بېله خدايه خدايان چي عبادت به يې کړل کېدی، البغوي رح وايي چي د علماؤ اختلاف دی په دغو مسؤلينو کي عطاء رح له ابن عباس رض څخه روايت کړی دی چي رسول الله ﷺ چي په شپه د معراج اسمانو ته تلی نو خدای پاک وده ته ژوندی آدم عليه السلام او اولاد د هغه چي رسولان وه نو جبرئيل عليه السلام آذان وکړی بيا يې اقامت وکړی وقال يا محمد تقدم وصل بهم (دا واقعه په مسجد کي د بيت المقدس اجراء سوه)

دران مسجد امام انبياء شد صف پيشينان را پيشوا شد

ورسته جبرئيل عليه السلام واسئل يا محمد من ارسلنا قبلک من رسلنا الآية فقال رسول الله ﷺ لاتسئل واکتفيت زما ددوی ددې پوښتنې څخه کفايت کړه سوی دی وهذا قول الزهري وسعيد بن جبير وابن زبير دوی وايي جمع له الرسل ليلة اسری به وامر ان يسئلهم فلم يسئل ولم يشرک، وقال اکثر المفسرين معنی الآية واسئل امم من ارسلنا من قبلک وعلماء دينهم يعني مؤمني اهل الکتاب وهذا قول ابن عباس رض په ټولو روايتو کي چي دده څخه چا کړي دي وقول مجاهد وقتادة والضحاک والسدي والحسن والمقاتل وبدل عليه قرائة د ابن مسعود رض وابی بن کعب رض وسئل الذين ارسلنا اليهم قبلک من رسلنا پر هر تقدير مقصد د امر بالسوال تبکيت دی د مشرکی د مکې او د قريش او تعليم دی دوی ته انه لم يأت رسول ولا کتاب بعبادة غير الله عزوجل نو ستاسي د عبادت د بتانو يا د ملکو يا د ستور دين مستحدث دی په ټوله دور کي د بني آدم فقط وفقط پر تاسي باندي حصر دی د لوی جم غفير څخه مخالفت کول ولاريب انه خطاء فاحش.

وَلَقَدۡ اَرۡسَلۡنَا مُوۡسٰی بِاٰيٰتِنَاۤ اِلٰی فِرۡعَوۡنَ وَمَلَا۠ئِهٖ فَقَالَ اِنِّیۡ رَسُوۡلُ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۴۶﴾

لام موطئه د قسم دی، والمعنی والله په تحقيق موږ استولی ؤ موسیٰ ع سره د آيتو او معجزاتو چي پر، سر کي يې عصا او يد بيضاء او په مجموع کي نهه (۹)

وې و فرعون ته او اشرافو ته دده د قوم، نو موسٰی ؑ وویل دوی ته چې رسول رب العالمین یم وتاسي ته.

فائده: ددې قصې په راوړلو کي تسلي ده و علیه الصلوة السلام ته او یقین دی د رد د قول ددوی بیانول دي چي لو لا انزل الکتاب علی رجل من القریتین عظیم والاستشهاد بدعوت موسٰی فرعون وملائه ته یعني سره ددې چي فرعون خو د قریشو او د طائف د قریو تر مشرانو ډېر عظیم ؤ چي مدعي د الوهیت ؤ او ټولو یې الوهیت منلی ؤ او د قریشو د عظیم او د طائف عظیم د فرعون په صف الفعال کي نه وه.

فَلَمَّا جَآءَهُمْ بِاٰيٰتِنَآ اِذَا هُمْ مِّنْهَا يَضْحَكُوْنَ ﴿۴۷﴾

نو هر کله چي راتګ وکړی دوی ته موسٰی ؑ په معجزاتو سره چي دال قر صدق دده وې په دعوی کي د رسالت کالعصاء والید البیضاء، اذا هم منها یضحکون دوی او ددوی اهل پر ده خندل استهزاءً فکر او غور یې په معجزاتو کي نه کاوه.

وَمَا نُرِيْهِمْ مِّنْ اٰيَةٍ

موږ نه لیدل په دوی کي یو آیت یعني علامه د عذاب الهي لیؤمنوا (۱) لکه څو کاله کاختي (۲) طوفان یعني ډېر باران چي او به یې په کورو ورننوتې چي سړی به ناست ؤ او به به یې تر غاړي پوري وې.

فائده: هر ډېر باران چي ډېر مضر عام وي طوفان یې بولي (۳) والجراد: ملخ یې خدای ؑ پر کښتو او مېوه داره درختو داسي په کثرت سره مسلط کړه چي کښت او مېوې خو څه کوې د درختو پوستکي یې هم وخوړل (۴) والقمل: شپوږي (هغه شپوږي چي پر دانو د غنمو یا د جوارو یا اوربشو مسلط سي مابین د دغو دانو ټول وخوري خالي پوستکی پر پرږدي (۵) والضفادع: چنګوښي چي سړی به بیده سو په خوله به یې چنګوښه ننوتل یا به یې صافي او به په لوښي کي واچولې او سر به یې هم پټ ؤ، نو څرنګه چي به یې او به د څښلو لپاره خولې ته پورته کړې اول به یې چنګوښه په خوله ورننوتل، داغه رنګه د ښوروا د کاسې څخه چي به یې ګوله راپورته کړه تر ګولې د مخه به یې چنګوښه په خوله ور ننوتل (۶) والدم: او ویني چي د څښلو او به به یې پر سر پورته کړې سرې ویني به وې که څه هم او به یې د صاف ځاه

Scanned by CamScanner

څخه راکښلي وای او د لوښي سر به يې په ټوکر پټ کړی ؤ لکن چي پر سر به يې پورته کړې سرې ويني به وې (۷) والطمس: او په مالو او کښتو او مېوو کي به يې بې برکتي وه (۸) اولين آيت خو لکړه وه چي مار کېدل به (۹) دويم آيت يد بيضاءُ.

اِلَّا هِيَ اَكْبَرُ مِنْ اُخْتِهَاؗ وَاَخَذْنٰهُمْ بِالْعَذَابِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ۝۴۸

مګر دغه آيت به لوی ؤ په ضرر کي تر د مخه آيت، او موږ دوی ونيول يعني فرعون او دده قوم په عذاب سره چي آنفًا يې ذکر تېر سو (لعل) په معنی د لام کی دی ای لکی يرجعوا عن الکفر والشرک.

سوال: په دې مذکوره آيتو کي خو هره يوه تر مخني آيت بالا نه ده؟

ځواب: مقصود له دې آيت څخه دادی چي هريو په دغه مذکوره آيتو کي بالغ و نهايت اعجاز ته دی چي د ناظر به دا ګمان سو چي هره يو ددوی اکبر دی تر نورو آياتو، دا معنی د اختها نه ده چي تر مخني آيت لويه ده، والمراد وصف الکل بالکبر في نفسها کما قول القائل رئيت رجالاً کل واحد منهم افضل من غيره، ولي دا معنی تفصيلي ده پر هريوه پر ټولو خو امکان نه لري کما لايخفٰی، بلکې مراد له دې قول څخه دادی چي هريو افضل في نفسهٖ ؤ، يا په دې قول کي د شاعر:

من تلق منهم فقد لاقيت سيدهم .... مثل النجوم يسری بها الساري

وَقَالُوْا يٰٓاَيُّهَ السّٰحِرُ

وويل فرعون او قوم دده ای ساحره.

فائده: دوی خپل ايمان معلق کړی په کشف الضر سره ددوی څخه او موسٰی ؑ ته يې طمع ورکړه په ايمان کي خپل او اهتداء په هدايت سره دده علی دعائه بکشف الضر عنهم ومع ذالک داسي يې نه ورته وويل يا ايها النبي بلکې د ساحر په نامه يې ياد کړی، له دې سببه چي دوی د مخه په دغه نامه ياداوه، دا له ډېر شدت څخه ددوی پر کفر باندي او له سببه څخه د ډېري خرګری او حماقت، وقال الزجاجؒ دعوه بذالک الاسم لما تقدم له (ای لموسٰی) من انهم يسمونه بذالک الاسم فکانهم جروا علی المعتاد عندهم من التسمية، او بعض علماء وايي چي دا تسميه په ساحر سره اهانة نه وه لمنافات الاهانة لمقام الضراعة له في دعاء کشف

الضر عنهم بدعائه كما لايخفٰى بلكې ددوى په عقيده دا تسميه تعظيمًا لموسٰیؑ عندهم ولي چي سحر ددوى علم عظيم ؤ او لوى صفت د مدح ؤ ګويا دوى داسي ورته وويل يا ايها العالم الكامل الحاذق في علم السحر، لكن دا توجيه وجيه نه ده ولي دوى اول وار دده ته ساحر وويل تحقيرًا له حين انكروا نبوته حيث قالوا ان هذا (اى العصا واليد البيضاء) لسحر مبين، وقال موسٰیؑ ردًا عليهم اتقولون للحق لما جائكم اسحر هذا الآية، وقيل يا ايها الساحر الذي غلبنا بسحره عند المقابلة بسحرة جمع فرعون لهم لپاره د مقابلې د موسٰیؑ سره، نو موسٰیؑ پر هغو غالب سو او هغو ايمان راوړى.

ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِندَكَ إِنَّنَا لَمُهْتَدُونَ ﴿٤٩﴾

خواست وکړه زمونږ د كشف العذاب (بما عهد عندک) متعلق دى په ادع سره يعني تا ويلي دي مونږ ته چي زما خداىؒ زما سره وعده كړې چي كشف الضر كوم چي ته يې خواست وكړې، نو مونږ به پر هدايت سو يعني ايمان به راوړو كه دا كشف الضر له مونږه خداى ستا په دعاء سره وكړى او ستا په نبوت سره به ايمان راوړو، نو موسٰیؑ د كشف الضر له دوى څخه خواست خداىﷻ ته وكړى طمعًا في ايمانهم كما وعدوه، نو هغه خداىؒ له دوى څخه دفع كړى.

فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ الْعَذَابَ إِذَا هُمْ يَنكُثُونَ ﴿٥٠﴾

نو څه وخت چي مونږ لېري كړى عذاب له دوى څخه يعني بدعاء موسٰیؑ، كلمه د فاء د مفاجات ده يعني نا ببره به دوى وعده د ايمان راوړلو ماته كړه و خپل كفر ته به يې دوام وركړى وروسته تر كشف العذاب.

وَنَادَىٰ فِرْعَوْنُ فِي قَوْمِهِ

او نعره وكړه فرعون په خپل قوم كي، يعني د دوى په يو اجتماع كي بعد كشف العذاب بدعاء موسٰیؑ له بېري ددې چي بعض كسان ايمان رانه وړي او د موسٰیؑ رسالت ونه مني، مضمون د نداء دا ؤ.

قَالَ يَا قَوْمِ أَلَيْسَ لِي مُلْكُ مِصْرَ وَهَٰذِهِ الْأَنْهَارُ تَجْرِي مِن تَحْتِي ۖ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴿٥١﴾

وويل اى قومه زما (كسره د ميم عوض د مضاف ده) آيا نسته ما لره (الاستفهام للانكار ونفي النفي اثبات يعني سته) سلطنت د مصر او دغه ويالې

ای انهار النیل چي لوی ویالې څلور وې نهر الملک، نهر طولون، نهر دمیاط او نهر طینس، قوله وهذه الانهار عطف علی ملک مصر (تجري من تحتي) چي بهیږي تر ما لاندي یعني تحت قصوري او تحت امري (دده خبیث مراد دا ؤ چي دا ټوله زما په امر بهیږي ولي ده خو ځان خدای معرفي کړی ؤ) او بین یدي في البساتین، دا جمله حال ده (افلا تبصرون) تاسي په سترګو نه وینئ.

اَمْ اَنَا خَيْرٌ مِّنْ هٰذَا الَّذِيْ هُوَ مَهِيْنٌ ۙ وَّلَا يَكَادُ يُبِيْنُ ﴿۵۲﴾

کلمه د ام په معنی د بل آه ده بل لپاره د اضراب او انتقال دی، ماقبل او همزه لپاره د تقریر دی یعني زه سره دده فراخه مملکت د مصر ښه او بهتر نه یم (من هذا) یعني موسیٰ ؑ چي دی حقیر او ذلیل دی قابل د ریاست د مصر نه دی (یعني مراد د خبیث دا ؤ چي د موسیٰ غرض په دعوی کي د رسالت ریاست کول دي پر موږ باندي) "ولایکاد یبین" قریب نه ده چي دی دي خلاصي فصیح خبري وکړي یعني په ژبه کي بندیږي چي لکنت یې بولي، دا لکنت له دې سببه څخه ؤ چي تو ده ډبره ده په کوچنیوالي خولې ته اچولې وه، چي ټوله قصه د مخه په تفسیر ایوبي کي تېره سوې ده.

درویش وایي: چي موسیٰ ؑ چي نبي سو دا خواست یې خدای ؑ ته وکړی واحلل عقدة من لساني یفقهوا قولي، نو دده د دعاء په اثر خو یې لکنت د ژبي ډېر کم سو لکن څه اثر یې پاته ؤ، ولله في کل امر یفعله حکم لا نعلمها.

فَلَوْلَآ اُلْقِيَ عَلَيْهِ اَسْوِرَةٌ مِّنْ ذَهَبٍ

نو ولي نه واچول سوه پر موسیٰ ؑ، یعني له جانبه څخه د خدای ؑ دده.

پوه سه: چي اسورة جمع د سوار ده چي په پښتو یې بنګړي بولي او عربي نوم یې سوار دی او فارسي نوم یې دست برنجن دی او اردو نوم یې کنګهن دی، مجاهد ؒ وایي چي د پخوا خلګو دا رواج ؤ چي سړي ته بادشاه د وخت سرداري او ریاست نافذ الحکم ورکاوه نو په لاس به یې بنګړی د سرو زرو ور په لاس کړی او په غاړه کي به یې طوق د سرو زرو ور واچاوه چي دا به دده د سرداری دلیل ؤ، نو غرض د فرعون دا ؤ چي موسیٰ ؑ که رسول نافذ الحکم وای پر موږ د خدای له خوا نو خو رب د موسیٰ ؑ به ده ته بنګړیان د سرو زرو ور کړي وای چي بعض به یې په لاس وای او بعض به یې په د غاړي طوق وای نو موږ به دده اطاعت کولای، واذ

ليس على موسىٰ اسورة الذهب فليس رسولاً وسيدًا يجب علينا اطاعته.

درويش وايي: چي خبيث د قوم د غولولو لپاره لپاره سيادت او رسالت د خداى د خوا يې قياس كړى پر سيادت د ملوك الناس د خوا، لكن بينهما بون بعيد لان السيادة والرسالة د خداى له خوا مبني دى پر قلب صافي او استعداد عالي د رسول دى چي تحمل د ازار د خلګو كولاى سي او د هر مشكل سره چي مخامخ سي د تبليغ لار نه پرېږدي الى غير ذالك من الصفات العالية بخلاف السيادة من ملوك الدنيا، چنانچه يزيد پليد چي د پلار معاويهؓ خلافت قبضه كړى او په عين وخت كي عبد الله بن الزبيرؓ چي د عليه الصلوة والسلام د خوبني اسماء بنت ابو بكرؓ چي د سيدتنا عائشهؓ خور وه مكه والو د هغه سره بيعت د خلافت كړى ؤ، نو يزيد پليد چي په خبر سو په خلافت د عبد الله بن زبيرؓ نو په سيادة د الحجاج بن يوسف چي اظلم ؤ كما يشهد به التواريخ الاسلامية د شام څخه يې درُوند فوج ورسره كړى او د مكې پر خوا يې راهي كړى چي عبد الله بن الزبيرؓ قتل كړي او د مكې والو څخه د يزيد پليد لپاره بيعت واخلي، مكې وال چي خبر سوه ددې درانه فوج سره يې د جنګ توان او طاقت يې نه درلودى يوه خوا او بلي خوا ته وتښتېدل، عبد الله بن الزبيرؓ په حرم محترم كي پناه واخسته، حجاج بن يوسف پر جبل ابى قبيس باندي منجنيق ورته بسته كړى چي په پخوانۍ زمانه كي د توپ كار ور څخه اخسته كېدى، خونه د كعبې مباركي يې هدف وګرځول چي كعبه شريفه يې له مځكي سره مځكه وګرځول بالآخرة حرم ته داخل سو او عبد الله بن زبيرؓ يې ونيوى او د زمزم پر غاړه يې قتل كړى دست بسته الى اخير القصة، مطلب د درويش په نقل كي د قصې دادى چي سيادة د ملوك الدنيا چي په دې ځاى كي يزيد پليد ؤ و داسي چا ته وركړى لكه حجاج بن يوسف چي اظلم الناس ؤ او د حرم محترم او د كعبې مباركي دومره هتك د حرمت يې وكړى، وروسته حجاج بن يوسف كعبه بيرته تعمير كړه دا چي ولاړه د كعبې بناء ده دا د حجاج بن يوسف بناء ده، دا ؤ فرق د سيادة د خداىؒ د خوا چي رسالت دى او د ملوك الدنيا د خوا فافهم وكن على ذكر منك، اوس بيرته د فرعون لعين پر لور.

اَوْ جَآءَ مَعَهُ الْمَلٰٓئِكَةُ مُقْتَرِنِيْنَ ﴿۵۳﴾

يا به راغلي واى د موسىٰ ۴ سره ملكي پرله پسې چي شاهدي په صدق د موسىٰ

يې ورکولای او د موسیٰ سره به يې کومک کولای.

فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهٗ فَاَطَاعُوْهُ ۭ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ۝۵۴

فرعون سپک استعمال کړه، عطف دی علی نادیٰ يعني فرعون خپل قوم قبط جهال وبلل چي دا دده دروداغ مني چنانچه (فاطاعوه) فيما امرهم بنقض العبد مع موسیٰ عليه السلام يعني دوی به هر وار د دفع الضر په پاره کي موسیٰ عليه السلام ته د ايمان راوړلو وعده ورکول کمامر (انهم کانوا فاسقين) نو دوی فاسقانو د فرعون چي فاسق اعظم ؤ په خوله کول.

فَلَمَّآ اٰسَفُوْنَا انْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَاَغْرَقْنٰهُمْ اَجْمَعِيْنَ ۝۵۵

چي موږ ته يې غضب راوستی په سبب د افراط في العناد والکفر والعصيان، موږ خپل انتقام يعني کسات ځني واخستی په نزول سره د عذاب في الدنيا وهو معطوف علی اطاعون، نو غرق مو کړه دوی په رود نيل کي من اولهم وآخرهم.

پوه سه: چي اسف شدت غضب ته وايي في محاورة العرب.

درويش وايي: چي دا قصه په ډېر طول سره د مخه تېره سوې ده په تفسير ايوبي کي.

تنبيه: فرعون او دده قوم قبط چي څو واره وعده د ايمان راوړلو د موسیٰ عليه السلام سره ماته کړه، نو د رب جل شانه چي د غضب پيمانه يې لبرېزه سوه نتيجه د غرق د ټوله قوم يې رود نيل ورپه برخه کړه نعوذ بالله من غضب الحکيم الجبار.

حکايت في نتائج الوفاء بالعهد: راويان د تاريخ وايي چي نعمان بن المنذر من ملوک العرب دوې ورځي په کال کي د ځان لپاره ګرځولي وې اوله ورځ چي به راووتی دا يې د يوم النعمة په نامه نامزده کړې وه نو په اوله ورځ چي به هر څوک په مخه ورغلی سل (۱۰۰) اوښان يې ورکول او نور نعمت يې هم ورکاوه، او دويمه ورځ يې د يوم بوس په نامه مشهوره کړې وه په دې ورځ چي به دی راووتی هر سړی چي به اول په مخه ورغلی هغه يې قتل کاوه، نو په ورځ د بوس چي دی راوتلی ؤ اول چي په مخه ورغلی يو سړی په نامه د طافي، نو د هغه يقين سو چي وژني مي، نو دا خبره يې ملک المنذر ته وکړه حي الله الملک ژوندی دي لري خدای ملک، وروسته يې ورته وويل چي ضرورت او احتياج زه باعث کړم پر راوتلو په دې ورځ کي لکن لايتفاوت القتل الآمر في قتلی في اول النهار واخيره نو که د ملک خوښه وي چي ماته فرصت

او اجازه راکړي چي زه خپل اهل او عيال ته د نني ورځي نفقه ورسوم او رخصت او خداى پامانى به ځني واخلم بيرته به راسم ملک به مي قتل کړي، د ملک المنذر زړه پروسو ملک نعمان بن المنذر ورته وويل چي ضامن به راکوې که ته رانه غلې زه هغه ضامن قتل کوم، هغه سړي ورته وويل چي شريک ابن علي زما ضامن دى هغه هم، هغه هم ضمانت قبول کړى فذهب الطافي ثم رجع قريبًا من المساء (يعني تر ماښام دمخه راغلى) فلما راه النعمان سرېې کښته واچاوه وروسته يې سر راپورته کړى او وه يې ويل ما رئيت مدة الدهر اعجب منکما اما انت ايها الطافي فما ترکت في الوفاء لاحد مقامًا يفتخربه واما انت يا شريک بن علي فما ترکت لکريم سماحة (جوان مردي) چي د طافي د خلاصون لپاره دي جوانمردي په خپل قتل سره وکړه فلا اکون اخس الثلاثة، آګاه اوسئ چي ما يوم بؤس ترابده له خلګو څخه پورته کړه کرامةً لکما، بيا يې لوى احسان د طافي سره وکړى او دا يې ورته وويل چي ته څه شي باعث کړې چي د مرګ ځاى ته دي وفاء بالعهد وکړه؟ طافي ورته وويل چي زه خپل دين باعث کړم اذمن لا وفاء له فلا دين له، انتهى الکلام.

فَجَعَلْنٰهُمْ سَلَفًا وَّمَثَلًا لِّلْاٰخِرِيْنَ ﴿٥٦﴾

نو وګرځول موږ دوى (يعني فرعون و قومه متقدمين في التعذيب تا چي پند واخلي له دوى څخه وروستني قومونه، نو سلف جمع د سالف ده لکه خدم جمع د خادم ده يا مصدر دى حمل يې مبالغة دى) ومثلاً للآخرين: اى قصة عجيبة لکه متلونه لکه يو قوم چي خداى پاک هلاک کړي خلک وايي فلانى قوم لکه فرعونيان خداى هلاک کړه، روايت کړى دى په صحيح سند سره بخاري او طبراني هم د ابن عباس رض څخه روايت کړى دى چي رسول الله ﷺ وويل و قريشو ته ليس احد يعبد من دون الله فيه خير (نسته هيڅ څوک چي عبادت يې کېږي بيله خدايه چي په هغه معبود کي دي خير وي لکه معبودان د قريشو چي بتان وه جمادات ولاينفع ولايضر) قريشو سوال پروکړى چي تا دا نه دي ويلي چي عيسى عبد صالح او نبي ؤ او سره دديې چي د عيسى خو هم عبادت کړه کېدى، فانزل الله تعالى:.

وَلَمَّا ضُرِبَ ابْنُ مَرْيَمَ مَثَلًا

څه وخت چي وګرځول سو عيسىٰ بن مريم مثل يعني د قريشو له خوا څخه، او دغه

رنګه له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی قال جاء عبد الله بن الزبعری الی رسول الله ﷺ فقال یا محمد انک تزعم (زعم په معنی د قول دی) ای تقول انکم وما تعبدون من دون الله حصب جهنم انتم لها واردون؟ قال ﷺ نعم، نو الزبعری ورته وویل قد عبدت الشمس والقمر والملائکة وعزیر وعیسیٰ علیه السلام فکل هؤلاء في النار؟ (دا ټول به په دوزخ کي وي سره زموږ د خدایانو) فنزلت ان الذین سبقت لهم منا الحسنی اؤلئک عنها مبعدون وایضًا نزلت هذه الآیة ولما ضرب ابن مریم مثلاً الی قوله خصمون.

إِذَا قَوْمُكَ مِنْهُ يَصِدُّونَ ﴿٥٧﴾

ناګاه ستا قوم له هغه څخه اعراف کوي، وقال الضحاک رحمه الله تعجبون وقال القرطبي یفجرون زړونه یې تنګ سي، وقال قتاده دا آیت چي نازل سو قریشو به ویل ما یرید محمد منا الا ان نعبده ونتخذه الهًا کما عبدت النصاری عیسیٰ.

وَقَالُوا أَآلِهَتُنَا خَيْرٌ أَمْ هُوَ

آیا زموږ خدایان خیر دي یا محمد (ﷺ) ددوی غرض دا دی په دې استفهام کي چي موږ د محمد اطاعت وکړو او خپل معبودان پرېږدو، او ابن زید او سدي وایي چي ضمیر د هو راجع دی و عیسیٰ علیه السلام ته نو غرض ددوی دا دی چي محمد خو وایي ان من عبد من دون الله في النار فنرضی انیکون الهتنا مع عیسی وعزیر والملائکة في النار.

مَا ضَرَبُوهُ لَكَ إِلَّا جَدَلًا

دوی تاته نه دی ویلی دا مثل مګر نه د جدل او خصومت بالباطل لپاره لا للتمیز بین الحق والباطل، ولي چي دوی خو په دې نه پوهېدل چي محمد ﷺ لا یرید عبادة نفسه او دوی په دې پوهېدل چي کلمه د ما خو د غیر ذوی العقول لپاره ده، نو انکم وما تعبدون من دون الله حصب جهنم مراد څني ددوی بتان دي لا عیسی وعزیر والملائکة لانهم من ذوی العقول وکلمة ما کما مر آنفًا لغیر ذوی العقول.

بَلْ هُمْ قَوْمٌ خَصِمُونَ ﴿٥٨﴾

بلکې دوی یعني اهل مکه یو قوم دی شداد الخصومة حریص پر بې فائده جدال باندي خصومت بالباطل یې عادت ګرځېدلی دی، عن ابی امامة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ ماضل قوم بعد هدی کانوا علیه الا اوتوا الجدل ثم قرء ماضربوه لک الا جدلا بل هم قوم خصمون.

إِنْ هُوَ إِلَّا عَبْدٌ أَنْعَمْنَا عَلَيْهِ وَجَعَلْنَٰهُ مَثَلًا لِّبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿٥٩﴾

نه دی هغه يعني عيسى مگر عبد يعني ليس ابنه تعالى، موږ انعام کړی دی پر هغه، بالنبوة والقرب الى الله تعالى، او موږ دی گرځولی دی يو امر عجيب کالمثل السائر او آية او عبرة چي په ده کي عظيم قدرت د خدای عزوجل معلومېږي، يعني الله يخلق مايشاء حيث خلقه من غير اب (لبني اسرائيل) لپاره د بني اسرائيلو چي بايد د اشاعت د ذکر عيسى په باره کي دوی سرگرم کوشان وايي تا چي دوی ته هم انعام الهي رسېدلی وای لکه عيسى عليه السلام ته.

وَلَوْ نَشَآءُ لَجَعَلْنَا مِنكُم مَّلَٰٓئِكَةً فِى ٱلْأَرْضِ يَخْلُفُونَ ﴿٦٠﴾

که زموږ مشيت وای (جمله معترضه ده بيان د قدرت د خدای عزوجل) يعني موږ به پيدا کړي وای ستاسي انسانانو څخه په طريقه د ودلات لکه عيسىٰ ؑ چي يې بې پلاره پيدا کړی دی او آدم ؑ يې له خاورو څخه پيدا کړی دی او له ده څخه يې بيا حواء پيدا کړې ده، ولي چي قدرت د خدای جل جلاله خلق د آدم ؑ او عيسىٰ ؑ بغير اب (يخلفون) يعني دوی به خلافت ستاسي کولای په ځمکه کي يعني تعمير د ځمکي به کولای او زما عبادت بې کولای او اطاعت به يې هم کولای لکن لم يفعل الله ذالک لعدم مشيته ذالک.

وَإِنَّهُۥ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ

او د عيسىٰ عليه السلام نزول له اسمان څخه علامه د قرب د قيامت ده، او بعض قراء لعلم بفتح اللام وايي والمعنى واحد، د حذيفه بن اسيد الغفاري رض څخه روايت دی چي يوه ورځ موږ يعني بعض صحابه سره ناست وُ د قيامت په باره کي مو بحث سره کاوه چي عليه السلام راغلی او وه يې فرمايل چي څه بحث مو سره کاوه؟ موږ ورته وويل چي موږ د قيامت په باره کي بحث سره کاوه، نو عليه الصلوة والسلام راته وويل چي قيامت نه قائمېږي چي تاسي تر هغه د مخه لس نښانياني نه وويني، فذکر عليه السلام (۱) الدخان (۲) والدجال (۳) ودابة الارض (۴) وطلوع الشمس من مغربها (۵) ونزول عيسىٰ بن مريم ؑ من السماء (۶) ويا جوج وماجوج، او دري خسفه (۷) خسف بالمشرق (۸) وخسف بالمغرب (۹) وخسف بجزيرة العرب (۱۰) نار تخرج من اليمن تطرد الناس الى محشرهم.

درویش وايي: چي په ترتيب كي د دغو لسو علاماتو اختلاف دى او په تفصيل كي يې بحث طويل سته چي په احاديث مباركه ؤ كي مذكور دي.

فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَاتَّبِعُوْنِ ۭ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ﴿٦١﴾

كلمه د فاء لپاره د سبب ده اى لما كان عيسىٰ سببًا للعلم بقيام الساعة فلا تشكن في قيام الساعة (واتبعون) زما متابعت وكړئ په هدايت كي او اتبعوا شرعي او اتبعوا رسولي، دغه لار چي زه تاسي ورته رابولم لار ده سمه واصل ده ورضا ته د رب عزوجل يا جنت ته.

وَلَا يَصُدَّنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ ۚ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿٦٢﴾

تاسي دي منع نه كړي شيطان له متابعت زما څخه يعني زما د امرت به ونهيت عنه څخه، په تحقيق شيطان تاسي لره دښمن دى ظاهر العداوة چي دى له لاري څخه د سلوك منع كوي چي ايمان او اسلام دى او د اور لار در ته ښائسته كوي چي كفر او ضلال دى.

وَلَمَّا جَآءَ عِيْسٰى بِالْبَيِّنٰتِ قَالَ قَدْ جِئْتُكُمْ بِالْحِكْمَةِ وَلِاُبَيِّنَ لَكُمْ بَعْضَ الَّذِىْ تَخْتَلِفُوْنَ فِيْهِ ۚ

او هغه وخت چي عيسىٰ ؑ راتګ وكړى په معجزاتو سره (لكه ابراء الاكمه والابرص وغير ذالک) او يا په آياتو سره د انجيل او يا په شرائعو سره چي ټول واضحات الدلاله دي پر نبوت دده "قال قد جئتكم" وويل عيسىٰ ؑ ما تاسي ته په علوم حقه ؤ سره راتګ كړى دى (ولابين لكم) متعلق دى په محذوف پوري تقديره وجئتكم لابين بعض هغه څه چي تاسي اختلاف پكښي كوي وذالک ان اليهود صار وبعد موسىٰ (٧١) فرقې چي متابعت د خپلو خواهشاتو يې كاوه، نو چي عيسىٰ ؑ راغلى منع يې كړه يهود د ټولو عقائدو باطله ؤ څخه او ښوونه يې ودوى ته وكړه د حق او صواب د لاري كما جاء في الحديث النبوي افترقت اليهود على (٧١) فرق وتفرقت النصارى على (٧٢) فرقة وتفترق امتي على (٧٣) فرقة، رواه ابو داؤد وابن ماجه والترمذي والنسائي، او عيسىٰ ؑ وويل:

فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿۶۳﴾ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ رَبِّيْ وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ؕ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ﴿۶۴﴾

او له خدايه وبيرېږئ او زما اطاعت وکړئ فيما امرکم به، په تحقيق خداى ج زما رب دى او ستاسي رب دى نو بايد يوازي دده عبادت وکړئ، دا توحيد د معبود او اتباع د شرائعو سمه لار ده.

فائده: هو ضمير فصل لپاره د حصر دى، حاصل د آيت داده چي اعتقاد د توحيد دى والتعبد بالشرائع وهذا بيان لما امرهم بالاطاعة في قوله واطيعوني.

پوه سه: چي جمله (هذا صراط مستقيم) هم د کلا څخه د عيسىٰ ع ده يا جمله مستانفه ده له جانب څخه د خداى ج.

فَاخْتَلَفَ الْاَحْزَابُ مِنْۢ بَيْنِهِمْ ۚ

احزاب جمع د حزب ده معناه الجماعة، مظهري د من بينهم ضمير يوازي نصارىٰ ته راجع کړى دى، او روح البيان ويهودانو او نصارىٰ دواړو ته راجع کړى دى، او مظهري بيان د اختلاف ددوى نه دى بيان کړى فقط پر هغه حديث مبارک يې اعتماد کړى دى چي په باره کي د نصارىٰ راغلى دى کما مر من اختلاف النصارى (۷۲) فرقة، او روح البيان د دواړو د يو عظيم اختلاف بيان کړى دى حيث قال چي عيسىٰ يهودان او نصارى دواړو ته مبعوث ؤ، نو يهودانو لعنهم الله وايي چي زنى کړې مور د عيسىٰ نو دى ولد الزنى دى (نعوذ بالله من ذالک) او نصارى درې فرقې دي (۱) اوله فرقه وايي چي عيسىٰ په خپله خداى دى (۲) فرقه وايي چي عيسى ابن الله دى (۳) فرقه وايي چي يو الله دى بل عيسى وامه ئې وله خدايان دي، عيسىٰ ع ثالث ثلاثه بولي.

فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْ عَذَابِ يَوْمٍ اَلِيْمٍ ﴿۶۵﴾

پس هلاکت دى (ويل هلاکت ته وايي مبتداء ده) د هغه چا لپاره چي ظلم يې کړى دى پر خپلو ځانو په متابعت د هواى نفساني او ترک د ما نطق به الکتاب والسنة (يعني د دغو احزابو څخه) له عذاب څخه د ورځي چي ورځ د قيامت ده چي هغه عذاب درد ورکونکى دى، الفاء في قوله فويل لپاره د سببيت دى ولي چي ددوى دغه اختلاف سبب د ويل او هلاک دى.

سوال: ويل خو نكره محضه ده مبتداء نسي واقع كيداى؟
ځواب: دا نكره محضه نه ده بلكې تنوين د تعظيم دى اى هلاك عظيم كما قال النحاة في قوله القائل شر اهر ذاناب (لوى شر دى چي پر غپا يې راوستلى ذاناب چي مراد ځني سپى دى)

هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّا السَّاعَةَ اَنْ تَاْتِيَهُمْ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۶۶﴾

آيا دوى نه ګوري (مراد ځني قريش دي) چي ظلم يې پر ځان كړى دى په سبب د شرک، او لاينظرون په معنى د لاينتظرون دى يعني انتظار نه كوي د هيڅ شي (نو استثناء مفرغ ده) يعني مستثنى منه يې محذوف دى والتقدير لاينتظرون شيئ من الاشياء الا الساعة (الا الساعة) مګر نه د قيامت (ان تاتيهم) بدل دى د الساعة څخه اى اتيان الساعة (بغتة) په پښتو وايي نابيره په اردو وايي اچانک، او دوى به نه وي خبر په راتګ ولي چي دوى به مشغول وي د دنيا په كارو او د قيامت به منكره وي.
پوه سه: چي قيامت درې قسمه دى (۱) القيامة الكبرٰى هغه هلته دى چي خلګ راژوندي سي او دوى سوق سي و محشر ته لپاره د جزاء بالجنة او النار (۲) والقيامة الصغرٰى وهي وقت موت كل احد كما قال رسول الله ﷺ من مات فقد قامت قيامته، ولهذا ورد القبر روضة من رياض الجنان او حفرة من حفرات النيران (۳) والقيامة الوسطٰى وهي موت جميع الخلائق بنفخة صور اسرافيل الاولى، ولايعلم وقوعه وقيام هذه الوسطى الا الله نعم هذه القيامة بالعلامات المنقولة من رسول الله ﷺ، منها يرفع العلم ويكثر الجهل او ډېره به سي زنٰى وشرب الخمر، او لږ به سي رجال او ډېري به سي ښځي حتى يكون لخمسين (۵۰) امرئة قيم واحد ولي چي نران به په فتنو د جنګو قتل كېږي ښځي به پاتېږي، وعن علي رضي الله عنه چي را به سي پر خلګو داسي زمانه چي نه بسي پاته د اسلام څخه الا اسمه ولا من الدين الا رسمه ولا من القرآن الا درسه (يعني درس كېږي به عمل به نه وي) مساجد به يې په ظاهر الصوري ډېر زيبا وي محكم به وي لكن له ذكر څخه به خراب وي، شر اهل هذا الزمان علمائهم منهم تخرج الفتنة واليهم تعود.

اَلْاَخِلَّآءُ يَوْمَئِذٍۢ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ اِلَّا الْمُتَّقِيْنَ ﴿۶۷﴾ ط ع

اى المتحابين في الله، روى البغوي عن علي رضي الله عنه في هذه الآية چي دوه

دوستان وه مؤمنان او دوه دوستان وه کافران دا یو مؤمن وفات سو، نو خدای ﷻ ته یې خواست وکړی چي فلانی چي هغه ژوندی دوست یې مراد ؤ ده به زه ستا او ستا د رسول په اطاعت امر کولم یأمرني بالخیر وینهاني عن الشر، او ماته به یې ویل چي موږ په اخرت کي د خدای ﷻ سره ملاقي کېدونکي یو یا رب فلا تضله بعدي واهده کما هدیتني واکرمه کما اکرمتني، نو چي هغه ژوندی خلیل دوست یې مړ سو خدای پاک سره جمع کړه او خدای پاک ورته وویل چي هر یوه د تاسي دوو د هغه بل صفت وکړی فیقول کل واحد في حق الآخر نعم الاخ ونعم الخلیل ونعم الصاحب، واذا مات احد الکافرین فیقول یا رب ان فلانًا یعني الکافر الحي ینهاني عن طاعتک وطاعة رسولک ویأمرني بالشر وینهاني عن الخیر، او دا به یې راته ویل چي قیامت نسته فیقول بئس الاخ وبئس الخلیل وبئس الصاحب.

له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی قال قال رسول الله ﷺ لو ان عبدین تحابا في الله عزوجل (د دوو بندګانو چي د خدای ج په لاره کي سره محبت وي) واحد في المشرق واخر في المغرب لجمع الله بینهما یوم القیامة یقول (ای الله) هذا الذي تحبه في (زما په لار کي)، عبید بن عمر رح وایي چي د یو سړي درې اشنایان وه، یو اول نمبر چي دې سړي د هغه خدمت کړی ؤ او ډېر کړاوونه ددې دوست پر تېر سوي وه، بل اشنای یې تر هغه اول خو لږ کم ؤ خو بیا هم ددې اشنای هم پر دې سړي ډېر کړاوونه تېر سوي ؤ، د دریم اشنای لپاره پر ده ډېري خواري نه وې تېري سوي، دې سړي ته داسي مشکل ورپېښ سو چي بل وطن ته تلی د لاري ملګري ته یې ضرورت درلودی او داسي ملګری چي دده د مشکل تر خلاصېدو پوري به دده سره ورسره وای، نو دا سړی اول هغه اول اشنای ته ورغلی او خپل حال یې ورته وواېه هغه اشنای یې ورته وویل چي زه ستا د کور اشنای یم ستا سره مسافري نسم کولای، بیا دوهم اشنای ته ورغلی هغه ورته وویل چي زه ستا سره صرف دومره کولای سم چي د مشکل تر ځایه مي ته ورسولې زه بېرته در څخه راځم، بیا دریم اشنای ته ورغلی ماجری یې ورته وویل، هغه ورته وویل چي زه پر کور هم اشنای وم په سفر هم درسره ځم او تر هغو چي ستا مشکل نه وي حل سوی درسره به یم.

درویش وایي: چي هر اهل عقل ته ددې درو اشنایانو حال بیان کړل سي نو بلا توقف

به وو ایي چي دریم اشنای بهترین اشنای دی، او س د دې درو اشنایانو د بیان حال پر لور، اول هر سړي د باغ او بنګلې په تعمیر کي ډېر کړاوونه پر ځان وړي دي وخت د سفر دده و قبر ته رارسېږي باغونه بنګلې اسائش الدار، ځای پر ځای یې له سفره انکار وکړي، بل اشنای چي زامن او نور قریبان دي چي د هغو لپاره مسافر القبر ډېري خواری کښلي وې ورته وو ایي چي د مشکل تر ځایه پوري موږ درسره ملګري یو یعني چي تر هغه ځای مو ته ورسولې یعني موږ بیرته در څخه راځو، دریم اشنای ورته وو ایي چي زه دي پر کور هم ملګری وم په سفر کي هم ملګری یم او د مشکل تر ځای هم ملګری یم او چي ستا مشکل حل سوی نه وي زه نه در څخه جلا کېږم دا ملګری عمل صالح دی او عبادت د خدای ﷻ دی چي تر هغه وخته پوري درسره ملګری دی چي دا سړی یې و جنت ته نه وي رسولی نو رشتیا دریم اشنای په اشنایي ارزي لکن عمل برعکس دی، اللهم الا بتوفیقک لمحبة الصدیق الاخروي العمل الصالح.

يٰعِبَادِ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ وَلَآ اَنْتُمْ تَحْزَنُوْنَ ﴿۶۸﴾

ای زما بندګانو (الاضافة لتشریف المضاف کما في بیت الله یعني یقول الله للمتحابین چي یو د بل سره محبت کوي، المتقین) بېره نسته پر تاسي نن ورځ (یعني یوم القیامة) او نه به تاسي غمجن یاست.

پوه سه: چي خوف په ائینده پوري تعلق لري او حزن په ماضي پوري مثلاً د یو چا زوی ناجوړی وي بېرېږي چي مړ نه سي دا خوف دی، او یا د چا زوی مړ سي پسي غمجن وي دا حزن بولي، د بخاري په روایت عن معتمر بن سلیمان عن ابیه قال سمعت رسول الله ﷺ چي خلک چي بعث سي لیس منهم احد الا فزع فنادی منادیًا یا عبادي لاخوف الآیة فیرجوا الناس (یعني امید د خلاصون د خوف او حزن ورپیدا سي)

اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاٰيٰتِنَا وَكَانُوْا مُسْلِمِيْنَ ﴿۶۹﴾

هغه کسان دي چي ایمان یې راوړی زموږ پر آیاتو باندي یعني آیات د قرآن عزیز دا موصول صفت دی د منادی چي عبادي دی (وکانوا مسلمین) دا جمله حال ده له فاعل څخه د آمنوا.

فائده: دا آیت تاکید دی د آمنوا نو په دغه نداء سره نا امید سي ټول انسانان غیر له مسلمانانو.

اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ اَنْتُمْ وَاَزْوَاجُكُمْ تُحْبَرُوْنَ ﴿۷۰﴾

داخل سئ و جنت ته تاسي او ستاسي ماينې چي مؤمنات وي (تحبرون) ای تسرون خوشحاله اوسئ چي د خوشحالۍ اثارمو پر مخانو معلومېږي، يا معنی داده چي تاسي زېب او زېنت کوئ، مشتق دی له حبر څخه چي حسن الهيئة ته وايي او يا معنی داده چي تکرمون اکرامًا بليغًا او دا جمله هم صفت د منادی دی يعني خطاب و عبادي ته دی.

پوه سه: چي انتم مبتداء ده او ازواجکم پر عطف دی او تحبرون يې خبر دی.

فائده: په علماء کي هغه ته وايي چي د اثارو څخه د علم دده په زړو کي د خلګو پاته وي او تصانيف دده په علوم دينيهٔ کي خلګ لاس پر لاس د فائدو اخستلو لپاره کوي او آثار د حسنهٔ دده چي مقتدی بها وي موجود وي.

يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِصِحَافٍ مِّنْ ذَهَبٍ وَّاَكْوَابٍ ۚ

طواف کړه کېږي پر دوی چي په بل ځای کي د قرآن مجيد په معلوم صيغه سره راغلی دی ويطوف عليهم ولدان مخلدون (بصحاف) جمع د صحفة دی فراخه کاسې ته وايي په دې کاسو کي دوی ته مطعومات شهيه راوړل کېږي (من ذهب) د سرو زرو (واکواب) جمع د کوب ده کوب هغه د څيښلو ظرف او لوښي ته وايي چي نه لاستی لري او نه چښکه چي په پښتو يې آب خوری يا سړوبی بولي ددې لوښي فائده داده چي پر هر ځای يې سړی خوله کښېږدي او به څني څيښل کېږي، نو دا اکواب هم د ذهب وي وان لم يذکره قياسًا علی المعطوف عليه يعني بصحاف.

وَفِيْهَا مَا تَشْتَهِيْهِ الْاَنْفُسُ وَتَلَذُّ الْاَعْيُنُ ۚ وَاَنْتُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۷۱﴾

او په دې کي يعني په جنت کي هغه شيان سته چي د زړو د جنتيانو هوا نه ورته کېږي من المأکولات والمشروبات والمنکوحات من الحور العين، او لذت پر اخلي سترګي، غالبًا سترګي پر ښائسته مخانو خوند اخلي من زوجات الدنيا چي د جنتي پر نکاح مړې وي و حورات الجنات المعدة للجماع.

درويش وايي: چي علماء د اسلام ټوله وايي چي جنتي داسي خواهش نه کوي د منهي عنه په دنيا کي لکه لواطت چي په ټولو اديانو کي ناروا دی ولو في دبر

امرئته لان الحكمة في الوطي الحرث يعني کښت چي عيال دی، والدبر موضع الغرث ای النجاسة.

درويش وايي: چي دغه دی د قرآن عظيم الشان د کلماتو جامعهٔ څخه لجميع نعيم الجنة يعني قوله تعالى کمامر ماتشتيهه الانفس وتلذ الاعين.

(وانتم فيها خالدون) او تاسي به په جنت کي همېشه ياست، يعني وتل له جنت څخه مو نسته لکه په دنيا کي چي راوتلاست.

فائده: په دې جمله کي التفات دی له غيبت څخه چي په دمخه جمله ؤ کي و خطاب ته په انتم راغلی وهذا من محسنات العربية.

تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِيٓ اُوْرِثْتُمُوْهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۷۲﴾

او دغه جنت هغه ځای دی چي په ميراث درکړه سو تاسو ته په سبب د هغه شي چي تاسي يې عمل کاوه په دنيا کي (کلمة ما موصولة والعائد محذوف ای بالذي کنتم تعملونه فالضمير هو العائد المحذوف) له ابی هريرة رضی الله عنه څخه روايت دی چي ده وويل قال رسول الله ﷺ چي په هر يوه د اهل النار ليدل کېږي ځای دده په جنت کي يعني که دی مسلمان وای لپاره د زيادت حسرت دده، نو دی له دې حسرت څخه وايي لو ان الله هداني يعني في الدنيا لکنت من المتقين زه به پرهېزګار وای يعني مؤمن صالح به وای يعني نو دغه جنت به زما ځای وای، او هر جنتي ته ځای دده په دوږخ کي وربنکاره کېږي نو دا جنتي داسي ووايي ما کنا لنهتدی لو لا ان هدانا الله دا خبره دی شکرًا کوي، فذالک قوله تعالى وتلک الجنة اورثتموها الآية.

فائده جليله: په دې آيت کي يعني په لفظ کي د اورثتموها اشاره ودې ته ده چي دخول د جنت لکه ميراث د دنيا بلا اختيار الوارث دی کذالک دخول الجنة فضل من الله عزوجل بلا اختيار من العبد او تقسيم د درجاتو په سبب د اعمال حسنهٔ دی.

لَكُمْ فِيْهَا فَاكِهَةٌ كَثِيْرَةٌ مِّنْهَا تَأْكُلُوْنَ ﴿۷۳﴾

تاسي لره په جنت کي مېوې سته چي د هغو به تاسي خورک کوئ، له ثوبان رضی الله عنه څخه رايت دی قال سمعت رسول الله ﷺ يقول چي ده وويل چي نه شکوي يو سړی له اهل جنت څخه يوه مېوه له مېوو څخه د جنت مګر نه چي د هغې په ځای کي مثل د هغې مېوې پيدا کېږي.

درویش وایي: چي فاکهة په دې دنیا کي هغه مېوې ته وايي چي سړی صرف خوا پرپاکوي يعني د غذاء لپاره يې نه خوري لکه په دنيا چي يو څوک غوښي يا ورجي و خوري او نس په ډک کړي وروسته يا مالتې يا نارنج يا کېله يا يو بوتل د کاکولا پسي وچښي يا الو بالو پسي وخوري وغير ذالک من فواکه الدنيا.

پوښتنه: ټولي مېوې د جنت يې ولي فاکهة وبللې؟

ځواب: چونکه ابدان د جنتيانو د تغير او تبدل څخه محفوظ دي او غذايي موادو ته ضرورت نه لري نو ټوله مېوې دوی صرف د تفکه لپاره خوري لا للغذاء.

پوه سه: چي البزار رحمه الله له ابی موسیٰ الاشعري رضی الله عنه عن النبي ﷺ څخه روايت کړی دی چي الله عزوجل چي آدم علیه السلام له جنت څخه را ايستی د ټولو مېوو د جنت توښه يې ورسره ورکړه او د ټولو فائدې او صفت يې ورته بيان کړی، عليه الصلوة والسلام زياته کړه ثمارکم هذه (ای في الدنيا) من ثمار الجنة غير ان هذه (ای ما في الدنيا) تغيير پيدا کوي وتلک (ای ما في الجنة) لا تتغير يعني تکون علی حالها ابدًا، له ابن عباس رضی الله عنه څخه روايت دی چي يوه مېوه له مېوو څخه د جنت طول يې دوولس گزه دی ليس لها عجم (مند کي نه لري)

إِنَّ الْمُجْرِمِينَ فِي عَذَابِ جَهَنَّمَ خَٰلِدُونَ ﴿٧٤﴾

يعني کامل په جرم او گناه چي کافران ځني مراد دي په هر نوع کافر چي وي يعني مشرک وي او که يهودي او نصاری بعد بعثة رسول الله ﷺ (دليل د ارادې د کامل في الجرم دا دی چي مقابل د مؤمنانو مطلق کافران دي) په اور کي د دوږخ به همېشه يعني ابد الآبدين وي لا يموتون چي په استراحت سي.

لَا يُفَتَّرُ عَنْهُمْ وَهُمْ فِيهِ مُبْلِسُونَ ﴿٧٥﴾ وَمَا ظَلَمْنَٰهُمْ وَلَٰكِن كَانُوا۟ هُمُ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٧٦﴾

تخفيف نه کېږي د عذاب د دوی (عرب وايي: فترت عنه الحمی) يعني سپکه سوه د فلاني تبه، (وهم فيه) ای في عذاب النار نا اميده وي له نجات څخه، او موږ ظلم نه دی کړی پر دوی لکن دوی وه ظالمان يعني پر خپلو ځانو باندي.

پوه سه: چي هم ضمير فصل دی لپاره د انحصار د ظلم پر دوی فافهم هداک الله.

وَنَادَوْا يٰمٰلِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ ۖ قَالَ اِنَّكُمْ مّٰكِثُوْنَ ۝٧٧

او دوږخيان کافران ناري کړي اى مالک چي مشر ددوى سرفرست دى، پر موږ دي حکم وکړي ستا رب يعني مړه دي مو کړي تاچي مستريح سو، ووايي (اى الله تعالى او يا مالک زر کاله بعد) ''انکم ماکثون'' يعني مقيمون في العذاب لاخلاص لکم بموت ولا بغيره، له ابن عباس رض څخه په ډېرو رواياتو ثابته ده ددي آيت په تفسير کي چي ده وويل چي کافران چي دا ووايي (ونادوا يا مالک) مالک ددوى څخه ساکت وي زر کاله وروسته جواب ورکړي انکم مکثون.

پوه سه: چي کافران بيا داسي تضرع و خداى ته وکړي او اسي نداء و خداى ته وکړي، ربنا غلبت علينا شقوتنا (غالبه سوه پر موږ بدبختي زموږ چي کفر دى) وماکنا قومًا صالحين (موږ په دنيا کي ګمراهان ؤ) ربنا اخرجنا منها (اى زموږ ربه موږ وباسه له دې اوره څخه يعني دنيا ته) فان عدنا فانا ظالمون (نو موږ ظالمان يو او د هر عذاب مستحق يو) فيذرهم مثل الدنيا مرتين (نو دوى پرېږدي په مثل د عمر د دنيا دوه واره يعني جواب نه ورکوي نه په لا او نه په نعم، وروسته جواب ورکړه سي د رب العزت له خوا څخه) اخسئوا فيها (ذليل او سپږئ په دوږخ کي) ولا تکلمون (زما سره خبري مه کوئ يعني هيڅ زارى او عجز مه کوئ) فما استمعکم بعدها ابدًا (نو په دوږخ کي د زفير او د شهيق بغاري سي چي د خره دوه اوازه دي، خداى د اخير جواب وروسته داسي ورته ووايي)

لَقَدْ جِئْنٰكُمْ بِالْحَقِّ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَكُمْ لِلْحَقِّ كٰرِهُوْنَ ۝٧٨

موږ تاسي ته راتګ کړى ؤ په حق سره چي توحيد ؤ بارسال الرسل وانزال الکتب لکن اکثره ستاسي له حق څخه کارهون يعني بد مو ځني وړه، ولي د هوا سره د نفس سره مخالف وه او د تقليد سره د اباؤ ستاسي يې سمون نه درلودى، وانما قال اکثرکم لان العدد القليل قد امنوا.

حکايت د مقام په مناسبت: راوي وايي چي يو وخت الشبلي النعماني قدس سره ناجوړى ؤ نو قريبانو په هسپتال کي داخل کړى، نو علي بن عيسى چي وزير ؤ خليفة المسلمين ته ماجرى نوشته کړه چي الشبلي په بيمارستان کي مريض دى

داخل دی، خليفة المسلمين تر ټولو طبيبانو مقدم چي نصراني ؤ هسپتال ته وروااستاوه او ډېر تاکيد يې ورته وکړی چي دا مريض زما شخصي مريض دی بلکې د ټوله ملت اسلامي ستر مريض دی، نصراني طبيب چي هر څه علاج وکړی نه سو کامياب، نو يې الشبلي ؒ ته وويل چي که ماته معلومه سي چي زما د غوښو په ټوټه ستا علاج کېږي ما به خپلې غوښې درپرې کړي وای، الشبلي ؒ ورته وويل چي په لږ شي ستا د بدن تر غوښو زما علاج کېږي؟ طبيب ورته وويل چي هغه نو څه شی دی چي په دې سره ستا علاج کېږي؟ شبلي ؒ ورته وويل چي زنار د نصرانيت د غاړې وکاږه او د اسلام تناؤ په غاړه کي واچوه، طبيب على الفور وويل اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمد رسول الله، خليفة المسلمين ته چي دا خبر وررسېدی وه يې ژړل چي زموږ په عقيده موږ مقدام الاطباء مريض ته واستاوه لکن خبر نه ؤ چي په حقيقت کي موږ مريض (يعني نصراني طبيب چي په مرض د نصرانيت مريض ؤ) طبيب ته واستاوه چي الشبلي قدس سره دی چي هغه مريض نصراني د مرض کفر د الشبلي ؒ په دعاء او دعوت او کرامت د رب العزة جوړ کړی.

أَمْ أَبْرَمُوٓا أَمْرًا فَإِنَّا مُبْرِمُونَ ﴿٧٩﴾

پوه سه: چي ام منقطعه دی په معنی د بل دی، او همزه لپاره د انکار دی له ابرام الامر څخه يعني بايد دوی نه وای کړی، او بل لپاره د اضراب دی عن کراهة الحق والى الترقى فيها، والمعنى بل احکموا (امرًا) يعني مکر و عليه الصلوة والسلام ته او امرًا في تکذيب الحق ورده اي کلمة التوحيد ولم يقتصروا على کراهة لکن کامياب به نسي ولي (فانا مبرمون) موږ حکم کړی اُمر د مجازات دوی کما في غزوة بدر.

پوه سه: چي ابن له محمد بن کعب القرضي ؒ څخه روايت کړی دی په مابين کي د کعبې او د پوښ د هغې دوه قرشيان او يو ثقفي او يا دوه ثقفيان وه او يو قرشي ؤ، نو يوه د دوی څخه وويل چي ستاسي څه رايه ده خدای ؒ به زموږ خبري اوري او که نه، بل د دوی څخه ورته وويل چي که موږ په زوره خبري وکړو نو يې اوري او که يې کراري وکړو نو يې نه اوري، فنزلت هذه الآية.

أَمْ يَحْسَبُونَ أَنَّا لَا نَسْمَعُ سِرَّهُمْ وَنَجْوَاهُم ۚ بَلَىٰ وَرُسُلُنَا لَدَيْهِمْ يَكْتُبُونَ ﴿٨٠﴾

ام منقطعه دی همزه لپاره د انکار دی او يا لپاره د اضراب دی، آيا دوی ګمان لري

(يعني دا گمان يې غلط دی) چي موږ نه اورو يعني پټې خبري ددوی په زړو کي وي (ونجواهم) يعني كرار خبري (بلٰى) هو يعني موږ يې اورو او زموږ رسولان چي ملائكه حفظه دي چي ددوی سره همېشه ورسره دي هغه عملونه ددوی نوشته کوي.

قُلْ إِنْ كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدٌ فَأَنَا أَوَّلُ الْعَابِدِينَ ﴿٨١﴾

ته ورته ووايي چي که چېري خدای ﷻ لره ولد يا نر يا ښځه وای لکه نصاری چي وايي عيسى ابن الله يا يهودان وايي عزير ابن الله يا بعض اهل مكه وايي الملائكة بنات الله، زه به يې اول د عابدانو وای، ولي چي نبي خو اعلم د خلکو دی بما يصح على الله وما لايصح، او خبردار وي په تعظيم د ما يوجب تعظيمه او هغه څوک چي تعظيم د والد کوي چي الله دی تعظيم د ولد د هغه که بالفرض والمحال وای پر لازم او واجب دی، ولهذا قال رسول الله ﷺ فاطمة ؓ بعضة مني (فاطمه ؓ زما جزء ده) فمن اغضبها اغضبني (که چا ددوی سره بغض کاوه او يا يې دا په غضب راوستلې وه، نو زه يې په غضب راوستلم يا يې زما سره بغض وکړی) رواه البخاري، مظهري دلته د متعلمينو تر فهم لوړي خبري کړي دي، نو ځکه درو ښ نه راوړې.

سُبْحَانَ رَبِّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٨٢﴾

پاکي ده هغه چا لره چي خالق او مالک د اسمانو دی او خالق او مالک دی د عرش چي هغه په عالم اجسام کي تر ټولو يې بنا ده له هغه شي څخه چي کافران يې و ده ته نسبت کوي چي خدای ؑ لره ولد سته.

فَذَرْهُمْ يَخُوضُوا وَيَلْعَبُوا حَتَّىٰ يُلَاقُوا يَوْمَهُمُ الَّذِي يُوعَدُونَ ﴿٨٣﴾

پرېږده دوی يا محمد (ﷺ) چي دوی خبري ناوړه کوي په باره کي د خدای ؑ چي ولد ورلره سته.

پوه سه: چي يخوضوا مجزوم دی جواب د امر دی يعني فذرهم، او دوی په دنيا کي خپل سات تېروي، تر هغه وخته پوري چي دوی ملاقي کېږي د هغه ورځي سره چي ددوی سره يې وعده کړل سوې ده يعني يوم القيامة چي په هغه ورځ ددوی سره د عذاب النار وعده سوې ده.

فائده: په دې آيت کي يعني فذرهم الآية اشاره ودې ته ده چي ته يا محمد (ﷺ)

ددوی له لهو ولعب سره خپل مبارک زړه ډېر په غم کي مه اچوه، ولي چي دوی مطبوع پر کفر دي او کفر ددوی جهل مرکب دی او متابعت د هوا نفساني دی.

وَهُوَ الَّذِىْ فِى السَّمَآءِ اِلٰهٌ وَّفِى الْاَرْضِ اِلٰهٌ ؕ وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْعَلِيْمُ ﴿٨٤﴾

او الله هغه ذات دی چي په اسمانو کي هم اله دی او په مځکه کي اله دی، يعني مستحق د عبادت په اسمان او مځکه کي هم دی دی چي مستحق د عبادت په دواړو بل څوک نسته چي مضمون د لا اله الا الله دی او چېري چي عبادت د غير الله کول کېږي هغه باطل او بغير الاستحقاق دی (وهو الحكيم) خدای په تدبير د خپل مخلوق خپل حکمت دی يعني د خدای پاک په صنع کي عبث شی نسته (العليم) د خپل مخلوق په هر حال خبر دی، نو ځکه مستحق د معبوديت يعني لا اله الا هو.

وَتَبٰرَكَ الَّذِىْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۚ وَعِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ ۚ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿٨٥﴾

پوه سه: چي تبارک ماضي معلوم ده و معناه کثير الخير او عظيم المرتبة دی هغه څوک چي ده لره سلطنت دی د اسمانو او د مځکي او د مابين د اسمانو او مځکي چي کائنات الجوي بولي من الصواعق والبرق والسحاب وغير ذالک، او خاص په خدای پوري علم د وقوع د قيامت کبری دی چي نه ملک مقرب په خبره ده او نه نبي مرسل کما يدل عليه تقديم الظرف يعني عنده (واليه ترجعون) يعني يوم القيامة فيجازيكم باعمالكم من الخير والشر والظاهرة والباطنة.

وَلَا يَمْلِكُ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهِ الشَّفَاعَةَ

او مالکان نه دي هغه شيان چي مشرکان يې عبادت کوي (چي عبارت له بتانو څخه دي) ماسوی له خدای ﷻ څخه (الشفاعة) شفاعت د خپلو عابدانو لکه مشرکانو چي به ويل هؤلاء شفعاء الى الله دا بتان به زموږ شفاعت و خدای ته کوي.

اِلَّا مَنْ شَهِدَ بِالْحَقِّ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿٨٦﴾

استثناء ده د شفاعت کونکو څخه مگر هغه څوک شفاعت کولای سي د شفاعت کونکو څخه چي شاهدي اداء کوي (بالحق) يعني بقوله لا اله الا الله چي

انبياء عليهم السلام او ملائکه دي او سائر مؤمنان (وهم يعلمون) او دوی عقيده لري په زړو کي په ماشهد به السنتهم، په دې سره منافقان ويستل سوه ولي دوی خو په من شهد بالسنتهم کي داخل وه لکن په هم يعلمون سره ووتل.

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿٨٧﴾

که ته له دوی څخه (يعني د کفارو څخه د مکې) پوښتنه وکړې چي دوی چا پيدا کړي دي، نو دوی حتمًا وايي چي خدای پيدا کړي يو، ولي کفار مکه په دې قانع وه چي خالق زموږ خدای دی وبس لعدم امکان الاستناد لخلق الی الجمادات، او سره ددې عبادت د غير الله يې کاوه چي بتان وه (فانی يؤفکون) نو سره ددې اقرار چي خالق زموږ خدای دی زموږ بتان نه دي نو څرنګه مصروف سواست له عبادت څخه د خدای و عبادت ته د جماداتو بلکې لائق د اقرار سره په خالقيت د خدای بايد تاسي عبادت خپل خالصًا د خدای کولای لا غيره چي بتان دي.. ع: اين خيال است و محال است و جنون.

وَقِيلِهِ يَا رَبِّ إِنَّ هَٰؤُلَاءِ قَوْمٌ لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٨٨﴾

بالجر وکسر عطف على الساعة يعني عنده علم الساعة وعلم قوله ﷺ هذا على قرائة عاصم و همزه (يا رب آه) يعني کفار مکة (قوم لايؤمنون) يو داسي قوم دی چي ايمان نه راوړي.

فَاصْفَحْ عَنْهُمْ وَقُلْ سَلَامٌ ۚ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٨٩﴾

نو ته يا محمد (ﷺ) اعراض وکړه ددوی له دعوت څخه ددوی و ايمان ته، يعني د ايمان راوړلو څخه يې طمع قطع کړه (وقل سلام) سلام دی زموږ او ستاسي تر منځ، دې ته سلام د متارکة وايي يعني تسلمون منا ونسلم منکم (فسوف يعلمون) ژر دی چي دوی وپوهيږي په جزاء د عقائدو خپل او د اعمالو خپل او د اقوالو خپل.

درويش وايي: چي لله الحمد والمنة والصلوة والسلام على خير البرية وآله واصحابه البررة چي تفسير د سورة الزخرف من التفسير الايوبي په ورځ د پنج شنبې ساعة (۱۰) قبل الزوال سنه (۱۴۳۲) هجري في کوئته باکستان ختم سوه.

سُورَةُ الدُّخَانِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ تِسْعٌ وَخَمْسُونَ آيَةً وَثَلَاثُ رُكُوعَاتٍ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

رب يسر عليّ ولا تعسره وتممه بالخير والعافية.

حٰمٓ ﴿١﴾ وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ﴿٢﴾

درويش وايي: چي لکه په نورو مقطعات قرآنيهؤ کي چي اختلاف د مفسرين سته په حم کي هم هغه ته ورته اختلاف سته، لکن حقه خبره داده چي علمها عند الله ولا يعلم تأويله الا الله، واما نحن فنقول نحن نؤمن بما اراد الله بتلک وتسمى تلک الاسماء بالحروف المتشابهة چي تحقيق يې په اول کي د سورة البقرة تېر سوى دى (والکتاب المبين) الواو للقسم، والجواب وروسته آيت دى، والمعنى زما دي قسم وي په کتاب سره چي مراد ځني قرآن مجيد دى چي مبين د حلال او حرام دى او مظهر د حق او باطل دى الى غير ذالک.

اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ فِيْ لَيْلَةٍ مُّبٰرَكَةٍ

په تحقيق موږ نازل کړى دى دغه کتاب، اى القرآن په مبارکه شپه يو په دې سبب مبارکه شپه وه چي قرآن کريم مبارک کتاب دى چي منافع دينيه او دنيويه پکښې موجود دي او هم په دغه شپه ملائکه د رحمت نازلېږي او اجابة د دعاء پکښې کېږي چي ليلة القدر ده، قتادهؒ او ابن زيدؒ وايي چي انزل الله القرآن في ليلة القدر من ام الکتاب چي لوح محفوظ دى و اول اسمان ته يعني جبرئيلؑ يې امر کړى په نسخ د قرآن د لوح محفوظ څخه و بيت العزة ته چي په اول اسمان کي دى، وروسته بيا جبرئيلؑ له هغه ځايه و رسول اللهﷺ په په درويشت (۲۳) کاله کي نجمًا نجمًا و سورةً وآيةً آيةً يې راوړى (روح البيان) او بعض مفسرين وايي چي مراد د دغه ليلة مبارکة څخه ليلة النصف من شعبان فهو نداء من يعيد وليس بشيئ لمخالفة القرآن العزيز، قال عز من قائل شهر رمضان الذي انزل فيه القرآن آه وقوله تعالى انا انزلناه في ليلة القدر الى اخير السورة.

سوال: په روايت د القاسم بن محمد عن ابيه عن جدهؓ عن رسول اللهﷺ انه قال ينزل الله عزوجل ليلة النصف من شعبان فيغفر لکل نفس الا الانسان الذي في قلبه الشحناه (اى البغض والعداوة مع مؤمن او مشرگا بالله) رواه البغوي.

درويش وايي: چي هذا الحديث من المتشابهات لان النزول الانتقال من صفات الاجسام فيكتفى على تشابهه، او يؤل بتاويل صحيح مطابقًا للقطعيات يعني رحمته تعالى ونسبته النزول الرحمة مجاز باعتبار الحامل لها فافهم؟

نو ددې جواب دادی چي دا حديث خو صرف پر بركت او عظمت د ليلة النصف من شعبان دلالت كوي ونحن لاننكره ولايدل على نزول القرآن فيه والمقصود ههنا نزول القرآن، فتدبر ولا تعجل.

إِنَّا كُنَّا مُنْذِرِينَ ﴿۳﴾

موږ يو بېرونكي د خلكو له عذاب څخه په ذريعه د نزول القرآن، دا جمله مستأنفه ده يا بدل اشتمال ده من قوله انا انزلناه آه.

پوښتنه: نزول د قرآن كريم په شپه د قدر وسو نه په ورځ كي سريې څه دی؟

ځواب: من وجوه (۱) شپه وخت د احبهؤ ده د محبوب سره د وصال، او ورځ د فراق الاحبة وقت ده، ولهذا وقع معراج النبي ﷺ په شپه كي كريمه "سبحان الذي اسرى بعبده ليلاً من المسجد الحرام الآية (۲) په شپه كي زړونه فارغ وي و ذكر ته حضرت المحبوب فهو اطيب ده عند الابرار من النهار (۳) شپه نمونه د جنت ده يعني لكه جنت چي ځای د ارام او راحت دی شپه هم وخت د ارام له تعب څخه د ورځي، او ورځ شبه د دوږخ لري يعني لكه دوږخيان چي په دوږخ كي ناقراره وي د ورځي هم هر سړی په سر ګردانۍ د دكان، تجارت، روزانه، دواخانه، قلبه كشي الى غير ذالک سراسيمه او سرګردان وي (۴) د شپې وږووږ ارام وي په عبادت كي يا په لمانځه كي نه خطاوزي او د ورځي چي ناري او وږووږه پر وي سړی په فارغ زړه عبادت نسي كولای نو له دې سببه د تهجد لمونځ افضل د نوافلو دی الى غير ذالک من الفوائد في الليل.

فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ ﴿۴﴾

په ليلة القدر فعل اقضاء كېږي، هر كار محكم يا متلبس بالحكمة يا اسناد مجازي دی ای حكيم صاحبه.

پوه سه: چي دا جمله صفت ثانيه دی د ليلة، البغوي رحمه الله وايي چي ابن عباس رضي الله عنه وايي چي په ليلة القدر كي د لوح محفوظ ملائكه كرام نقل كوي د وروسته كال تر

بل كال شب قدر پوري آجال د انسانانو او ارزاق، ناجوړي خير او شر جنګونه يا امن حتى چي د حاجيانو تنګ راتګ فلان و فلان الى غير ذالك، ورته و دې روايت ته په تغيير د الفاظو د الحسن، مجاهد او قتاده رحمهم الله څخه هم مروي دى.

أَمْرًا مِّنْ عِندِنَا ۚ إِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ ﴿٥﴾

پوه سه: چي امرًا منصوب دى په حذف د اعني تقديره اعني هذا الامر امرًا مقضيًا من عندنا على المقتضى حكمتنا، وفيه مزيد تفخيم الامر ويجوز انيكون امرًا منصوبًا على انه حال من كل امر او من الضمير المستكى في حكيم، ويحتمل انيكن الامر بمعنى الطلب على سبيل الاستعلاء وقع مصدرًا ليفرق والتقدير يفرق فرقًا صادرًا بامرنا (انا كنا مرسلين) په تحقيق موږ يو استونكي د محمد ﷺ ومن قبله من الرسل، بدل دى من قوله انا كنا منذرين، والتقدير انا انزلنا القرآن لان من عادتنا الانذار وارسال الرسل بالكتاب الى العباد.

رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ۚ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٦﴾

دا رحمت دى ستا د رب له خوا يا محمد ﷺ، اعراب: رحمة مفعول له للارسال او لتفريق كل امر حكيم يا مفعول له دى د مرسلين "السميع" اى يسمع اقوالهم ويعلم احوالهم.

فائده: داسي يې نه وويل رحمة منه لانه تعالى ذكر فيما قبل ملكه، نو اسم ظاهر يې راوړى يعني ربك اشعارًا بان ربوبية تعالى اقتضت ذالك.

فائده: هذين الاسمين وكذا مابعده يعني رب السمٰوات آه لپاره د تحقيق د ربوبية د خداى ج دى ولي ربوبيت نه حاصليږي الا لمن له هذه الصفات.

رَبِّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۖ إِن كُنتُم مُّوقِنِينَ ﴿٧﴾

وړاندي د دې آيت معنى تيره سوه.

فائده: رب السمٰوات آه يا مجرور دى بدل من قوله من ربك يا مرفوع دى چي خبر د مبتداء محذوف دى اى هو يا صفت دى السميع العليم (ان كنتم مؤمنين) كه تاسي ياست ايمان راوړونكي والمعنى ان كنتم مؤمنين بان الله رب السمٰوات والارض فايقنوا ان محمدًا رسول الله.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ

اى لايستحق العبادة غيره تعالى اذ لا خالق سواه.

فائده: هذه الجملة مقررة د رب السمٰوات والارض ده (يحيى ويميت) خداى دى خالق د حيوة او د موت په انسانانو وغيرهم من الحيوانات دا خو مشاهدهٔ كافرانو ته معلوم دى، جمله حال ده له هو ضمير څخه.

رَبُّكُمْ وَرَبُّ اٰبَآئِكُمُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٨﴾

رب دى ستاسي او ستاسي د پلرو چي تر تاسي اقدم وه، نو يوازي اباء اقربين بلاواسطه نه دي مراد بلكې معنى شامل الاجداد ولو بوسائط ولي چي عرب جد ته هم اب وايي.

بَلْ هُمْ فِىْ شَكٍّ يَّلْعَبُوْنَ ﴿٩﴾

بلكې دوى په شک كي دي من البعث بعد الموت او من القرآن.

پوه سه: چي د شک څخه معنى متعارف ده اهل معقول نه ده مراد چي تساوي د طرفينو د اثبات او نفي ده بلكې معنى عام چي انكار ته هم شامله وي لانهم منكرون من ذالک.

پوه سه: چي كلمه د بل لپاره د اضراب ده له ايقان څخه يعني يقين كول پر بعث يا پر قرآن نه لري (يلعبون) حال دى له ضمير څخه د في شک اى يلعبون بالقرآن سات تېروي او پسخند وهي په تا يا محمد (ﷺ)

فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِى السَّمَآءُ بِدُخَانٍ مُّبِيْنٍ ﴿١٠﴾

يعني اذا كان امر كک نو ته انتظار وكړه يا محمد (ﷺ) هغي ورځي ته چي راتګ وكړي اسمان په دود ښكاره.

پوه سه: چي لفظ د يوم په دې آيت كي ظرف نه دى بلكې مفعول به د ارتقب دى.

درويش وايي: چي په دخان كي د مفسرينو اختلاف دى ابن عباس او ابن عمر او الحسن وعن آبائهم رضي الله عنهم چي دا دخان له علاماتو څخه د قيامت دى يعني نفخة الصور الاولى كما جاء في الحديث اخرج ابن جرير والثعلبي والبغوي من حديث حذيفة رضي الله عنه ده وويل قال رسول الله ﷺ اول الآيات الدخان ونزول عيسىٰ بن مريم ونار تخرج من

قعر عدن ابين (بالفتح نام شخصيت كه اين شهر را بنا كرده دريمن) تسوق الناس الى المحشر اى الشام وبين المقدس، قال حذيفة رضي الله عنه وما الدخان فتلا هذه الآية ويملأ ما بين المشرق والمغرب (او ډک به وي دود په مابين کي د مشرق او مغرب) څلوېښت ورځي به جاري وي مؤمن ته به هيئت د زکام وروپېښ سي، واما الكافر كالسكران دا دخان به وزي تر غوږو دده او تر سږمو دده يا تر دبره دده.

يَغْشَى النَّاسَ ۖ هَٰذَا عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١١﴾ رَبَّنَا اكْشِفْ عَنَّا الْعَذَابَ إِنَّا مُؤْمِنُونَ ﴿١٢﴾

دا يو عذاب درد دهنده دی. د "ربنا اكشف آه" سره قول مكرر دی اى قالوا اى زموږ ربه زموږ څخه پورته کړې دا عذاب موږ ايمان راوړو.

أَنَّىٰ لَهُمُ الذِّكْرَىٰ وَقَدْ جَاءَهُمْ رَسُولٌ مُّبِينٌ ﴿١٣﴾ ثُمَّ تَوَلَّوْا عَنْهُ وَقَالُوا مُعَلَّمٌ مَّجْنُونٌ ﴿١٤﴾

له کومي خوا سته دوی لره پند اخستل؟ الاستفهام للانكار يعني دوی پند نه اخلي، والحال انه قد جائهم يعني امثال ددې دخان په ذريعو د رسول عظيم الشان (فالتنوين للتعظيم) چي ښكاره کړي دوی ته تر دې دخان لوی موجبات د پند اخستلو شيان من الآيات والمعجزات "ثم تولوا عنه" دوی اعراض وکړی د هغه نبي څخه يعني ايمان يې نه راوړی، او وويل يعني بعض ددوی چي دا نبي ته يو څوک ښوونه کوي چي غلام اعجمي د بني ثقيف آهنګر ؤ چي عليه الصلوة والسلام به بعض وخت د هغه پر دکان کښېنستی ددې لپاره چي هغه غلام نصراني ؤ عليه الصلوة والسلام به دعوت د اسلام ورته کاوه، مکې والو به ويل چي محمد ده هغه غلام عجمي څخه زده کړه کوي، ولنعم ما قيل:

چشم بند انديش كه بركنده باد عيب نمايد شهرش در نظر

او بعض کفار د مکې به ويل چي محمد (ﷺ) لېونی دی.

درويش وايي: چي دا ؤ تعصب او عداوت د کفارو د مکې چي دومره عقل والا او نبي ته دي لېونی ووايي، قال الله تعالى:

إِنَّا كَاشِفُو الْعَذَابِ قَلِيلًا ۚ إِنَّكُمْ عَائِدُونَ ﴿١٥﴾

اى زمانًا قليلاً (نو قليلاً ظرف او كشفا قليلاً نو مفعول مطلق دی، المراد به الكشف ۴۰ ورځي) "انكم عائدون" تاسي بيرته کفر ته وګرځئ.

يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرٰى ۚ اِنَّا مُنْتَقِمُوْنَ ﴿١٦﴾

بطشة الكبرى اى يوم القيامة (ظرف دى لقوله، انا منتقمون) موږ له دوى ځخه انتقام اخلو يعني په عذاب النار سره.

درويش وايي: چي مظهري وايي چي ابن مسعود رض له دې تفسير ځخه انكار كاوه يعني چي مراد له دخان ځخه حقيقت دخان دى كما روى البغوي عن ابى الضحى عن مسروق قال بينما رجل من كندة (د قبيلې نوم دى) بيان يې كاوه چي په ورځ د قيامت به يو دود پيدا سي، فيأخذ بأسماع المنافقين وابصارهم ويأخذ المؤمنين كهيئة الزكام ففزعنا (موږ وبېرېدلو) نو زه ابن مسعود رض ته ورغلم د هغه كندي بيان مي ورته وكړى ابن مسعود رض تكيه كړې وه درد ورغلى راكښېنستى، وقال من علم فليقل (كه ځوك په يو شي خبر وي نو خو بيان دي وكړي) ومن لم يعلم فليقل الله اعلم (ځوك چي نه پوهېږي تفويض د علم دې و خداى ج ته وكړي) فان من العلم ان يقول لما لا اعلم الله اعلم (چي د علم لويه حصه داده چي په يو شي چي نه پوهېږې داسي ووايي الله اعلم) فان الله قال لنبيه ﷺ قل اسئلكم من اجر وما انا من المتكلفين (مراد د متكلف ځخه دادى چي په شي خبر نه وي د ځانه يې اختراع كوي) ابن مسعود رض زياته كړه چي قريشو تاخير وكړى له ايمان ځخه فدعى عليهم النبي ﷺ (ښېرا يې ورته وكړه) فقال اللهم اعني عليهم بسبع كسبع يوسف (ماته كومک راكړې پر دوى يعني قريشو په اووه كاله كاختۍ لكه اووه كاله كاختي د يوسف عليه السلام يعني چي اووه كاله بارانو نه د اهل مكه ځخه بند وي) فاخذهم سنة (كاختۍ) حتى اهلكوا فيها (چي بعض كسان د لوږي مړه سوه) او دوى مردار شيان خوړل او هډوكي يې خوړل، نو ابو سفيان راغلى وعليه الصلوة والسلام ته او وه يې ويل چي ته خلگ امر كوې په صلة الرحم سره او ستا قوم هلاكېږي د لوږي او قحط ځخه، فادع الله ته خداى ته خواست د دفع د دغه قحط وكړه، او په هغه وخت كي د كاختۍ په مابين كي د اسمان او د ځمكي كتل په خيال كي دود ورتلى لضعف ابصارهم.

درويش وايي: چي د ابن مسعود رض غرض داؤ چي په دې آيت فارتقب يوم تأتي السماء بدخان مبين آه دغه هيئت د دود دى د لوږي له سببه حقيقت دود نه دى، نو عليه

الصلوة والسلام هم دعاء وکړه خدای پاک ورته وویل انا کاشفوا العذاب قلیلاً، نو علیه الصلوة والسلام استسقاء وکړه باران ونه شروع سوه او دوی یعني قریشو ایمان رانه وړی کما قال الله تعالی انا کاشفوا العذاب قلیلاً انکم عائدون، قال ابن مسعود رضی الله عنه نوم نبطش البطشة الکبری ای یوم بدر، بغوي رحمه الله له ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت کړی دی چي پنځه شیان تېر سوي دي اللزام، والبطشة، والقمر، والدخان، والروم انتهی.

درویش وایي: چي هغه د خان چي علیه الصلوة والسلام په علاماتو کي د قرب قیامت راوړی دی چي د قعر عدن څخه به راوزي الی اخیره هغه اور او هغه اور بلا ریب حقیقة اور دی، د ابن مسعود رضی الله عنه غرض رد دی پر تفسیر د کندي کما رواه البغوي رحمه الله چي په ورځ د قیامت به یو دود پیدا سي الی اخیره وقد مر قریبًا.

وَلَقَدْ فَتَنَّا قَبْلَهُمْ قَوْمَ فِرْعَوْنَ وَجَآءَهُمْ رَسُوْلٌ كَرِيْمٌ ﴿١٧﴾

لام موطئه د قسم دی یعني جواب د قسم محذوف دی، موږ امتحان کړی دی په بل عبارت ابتلاء مو کړې ده د مخه تر کفارو د مکې (په سوو کلونه د مخه) د قوم د فرعون، تنوین په "رسول کریم" کي د تعظیم دی ای رسول عظیم الشان چي موسیٰ علیه السلام دی.

فائده: قوم یې ذکر کړی لان فرعون رأس ذالک القوم کما قال انا ربکم الاعلی فلا حاجة الی ذکره.

سوال: هارون علیه السلام خو هم رسول ؤ نو د هغه ذکر یې ولي نه وکړی؟

ځواب: اصلاً په کوه طور کي خو یوازي موسیٰ علیه السلام رسول سو لکن دده په غوښتنه واجعل لي وزیرًا من اهلي هارون اخي اشدد به ظهري واشرکه في امري ای النبوة، ولهذا په بل ځای کي د قرآن رسولا راغلی دی، یعني په تثنیه.

فائده جدیدة: د عمالقه د قوم دا رواج دی چي هر څوک چي د دوی سلطان وي فرعون یې بولي ورنه دده فرعون نوم ولید بن الریان ؤ او هر څوک چي د حبشه سلطان وي نجاشي یې بولي، که څه هم د علیه الصلوة والسلام په عصر کي د حبشې د سلطان نوم اصحمه ؤ، او هر څوک چي د ترکانو سلطان وي نوم چي یې هر شی وي خاقان یې بولي، او هر څوک چي د فارسیان سلطان وي نوم یې هر شی چي وي کسری یې بولي، او هر څوک چي د رومیانو سلطان وي نوم چي یې هر شی وي قیصر یې بولي، او هر څوک چي د حمیر د قبیلې سلطان وي تبع یې بولي، او په

اسلام کي په زمانه قديم کي يعني تر عصر نبوي ورسته هر څوک چي د امارت واګي په لاس کي ولري امير المؤمنين يې باله تر انتهاء پوري د دورې د خلفاء راشدينو رضي الله عنهم، څه زمانه وروسته بيا دا لفظ ګرانمايه بيا بدل سو په خليفة المسلمين، او هر څوک چي د فرنګيانو بادشاه وي جورج يې باله نوم يې هر شی چي وي، په ورستنيو زمانو کي بيا رئيس الجمهور يا فلانی شاه خان ورته وايي.

اَنْ اَدُّوْٓا اِلَیَّ عِبَادَ اللّٰهِ ؕ اِنِّیْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِیْنٌ ۙ﴿۱۸﴾

کلمه د ان مصدريه ده چي زما په لاس راکړه او ماته تسليم کړه بنده ګان د خدای ج يعني بني اسرائيل وارسلوهم معي الى الشام او له مريېتوب څخه يې ازاد کړه او عذابونه مه ورکوه، او بعض مفسرين يې ترجمه داسي کوي چي ماته ادا کړه حق د خدای ج يعني الايمان بتوحيده ورسالتي او زما قبول کړې يا عباد الله په حذف د حرف نداء نو پر دې تقدير مراد د عباد الله څخه فرعون او قوم دده دی، وفيه نظر لان هذه الاضافة لايليق بشانهم فتدبر "اني لکم آه" په تحقيق زه و تاسي ته رسول يم يعني د خدای ج له خوا څخه، او امين يم په وحي کي يعني متهم په دروغو سره نه يم لاجل دلالة المعجزات على رسالتي اليكم.

وَّ اَنْ لَّا تَعْلُوْا عَلَی اللّٰهِ ۚ اِنِّیْۤ اٰتِیْكُمْ بِسُلْطٰنٍ مُّبِیْنٍ ۚ﴿۱۹﴾

عطف على قوله ادوا، او تکبر مه کوئ پر خدای ج چي استهانت کوي په وحي سره د خدای ج او په رسول د خدای او استخفاف او سپکاوی د بندګانو د خدای چي بني اسرائيل دي مه کوئ، په تحقيق ما راتګ کړی دی تاسي ته په ښکاره دليل پر نبوت خپل چي مشهوره عصا او يد بيضا دي، ولذا ذکر الامين مع رسول، ومع عدم التعلى السلطان وروسته فرعون او دده قوم و موسیٰ ته پيش رو ورکړی چي موږ به دی په ډبرو سنګسار کړو، ځکه موسیٰ عليه السلام وويل.

وَ اِنِّیْ عُذْتُ بِرَبِّیْ وَ رَبِّكُمْ اَنْ تَرْجُمُوْنِ ﴿۲۰﴾

او زه پناه غواړم په رب سره زما او په رب سره ستاسي.

درويش وايي: چي په دې عبارت کي موسیٰ عليه السلام و دې ته اشاره وکړه چي زموږ او ستاسي رب يو دی او ستا د خدايي دعوی باطله ده کما قال فرعون انا ربکم الاعلى (ان ترجمون) چي تاسي به ما رجم کوئ او په ډبرو به مي وژنئ.

فائده: کسره د نون عوض له ياء څخه د اضافت ده.

وَاِنْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا لِيْ فَاعْتَزِلُوْنِ ﴿۲۱﴾

تاسي تصديق زما نه کوئ په دعوى کي د رسالت زما څخه ګوښه ګرځئ يعني ماته تعرض په بدو سره مه کوئ وقيل معناه لالى ولا عليّ.

فَدَعَا رَبَّهٗۤ اَنَّ هٰۤؤُلَآءِ قَوْمٌ مُّجْرِمُوْنَ ﴿۲۲﴾

نو موسیٰ ؑ خواست وکړی خداى ﷻ ته (وروسته تر دې چي فرعون او قوم دده و تکذيب ته ادامه ورکړه او په ازار دده يې لاسونه پورته کړه) "ان هؤلاء آه" په تحقيق دغه کسان يعني فرعون او قوم دده قوم مجرمون يعني جرم او تجاوز ددوى پيشه ده يعني مشرکان دي په دې ويلو کي د موسیٰ ؑ تعريض و ښېرا ته د هلاک د فرعون او قومه ؤ له دې سببه سمي دعاء.

درويش وايي: چي وروسته تر ډېري زمانې چي معجزات يې په فرعون او قوم وليدل او فرعون د موسیٰ ؑ چي ده ساحر باله مقابله په خپلو ساحرانو وکړه او ساحران مغلوب سول او ايمان يې راوړی، لکه چي ددې قصې د قرآن مبارک په بل ځای کي بيان راغلی دی او مخ ته هم تېر سوی دی په تفسير ايوبي کي، نو خدای پاک د موسیٰ ؑ خواست قبول کړی نو موسیٰ ؑ ته يې داسي وويل:

فَاَسْرِ بِعِبَادِيْ لَيْلًا اِنَّكُمْ مُّتَّبَعُوْنَ ﴿۲۳﴾

فاسرى، الفاء جزائيه يعني اذا كان الامر كذالک نو ته د شپې وباسه (بعبادي) يعني مؤمنان چي بني اسرائيل وه (ليلاً) تاکيد دی د اسرى لان الاسراء هو الاخراج ليلاً (انکم متبعون) فرعون او قوم دده يعني ټوله په تاسي پسي دروزي يعني ستاسي د بيرته راګرځولو لپاره، لکه چي فرعون قوم ته وويل ان هؤلاء شرذمة قليلون، دا بني اسرائيل يوه ډله ده لږ وانهم لنالغائضون او دوی ما ته درد راوستی، نو راځئ چي بيرته يې غلامۍ ته رد کړو، او موسیٰ ؑ ته خدای ﷻ امر ورکړی.

وَاتْرُكِ الْبَحْرَ رَهْوًا اِنَّهُمْ جُنْدٌ مُّغْرَقُوْنَ ﴿۲۴﴾

يعني اذا خرجت عنه واصحابک (رهوًا) حال دی من البحر ای داغسي کوڅه کوڅه يې پرېږده او ژر يې په لکړه مه وهه چي فرعون به په موږ پسي راورسېږي

موږ به راوګرځوي (انهم جند مغرقون) دوی يو عظيم لښکر دی (نو تنوين د جند لپاره د تعظيم دی) چي غرقېږي يعني وروسته تر دې چي ټوله قوم د فرعون په شمول دده په کوڅو د درياب داخل سو بيا نو درياب په لګړه وهه چي دوی ټوله غرق کړي ففعل موسیٰ ؑ کذالک ټوله فرعونيان غرق سوه او ټوله بني اسرائيل سالم پاته سوه، الحمد لله على علمه وقدرته.

درويش وايي: چي تاريخ قديم په فارسي ژبه خبري کوي: فرعون قبطی بوده و قوم او قبطيان می ناميدند وبنی اسرائيل درزمين ايشان غريب بودند و از زمين کنعان درمصر قرار گرفته بودند، و از نژاد يعقوب بودند که با پدر خويش يعقوب ؑ بمصر امدند ودرمصر ايشانرا توالد وتناسل بود بمرور زمانهای متعاول تعداد ايشان هزارها بلکه بصد هزارها رسيدند.

كَمْ تَرَكُوْا مِنْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿۲۵﴾ وَّزُرُوْعٍ وَّمَقَامٍ كَرِيْمٍ ﴿۲۶﴾

ای ترکوا کثيرًا نو کم خبري لپاره د کثرت دی، له باغو څخه د رنګارنګ مېوو او جاري ولې (وزروع) د کښتو ځمکي، او د اوسېدو ځايونه چي ډېر زيبا او ښائسته وه.

وَّنَعْمَةٍ كَانُوْا فِيْهَا فٰكِهِيْنَ ﴿۲۷﴾

او نعمتونه چي دوی په هغو نعمتو کي متنعمين وه.

درويش وايي: چي په هيڅ قصه کي د هيڅ تفسير دا نه دي راغلي چي فرعون او قوم دده چي د بني اسرائيلو په طلب پسي ووتل ښځي يې هم ورسره وې ولي په قصه کي د وتلو د فرعون هامان چي دده وزير مشاور ؤ پر مقدمة الجيش فرعون راهي کړی شپږ لکه انسانان يې ورسره کړه او فرعون په خپلو زير قبضه ښارو کي اعلان وکړی د جمع کېدو د نرو فوجيانو په ډېره پيمانه (پښتانه وايي د مرچو د قراره يې اټکل کړه) يعني چي مقدمة الجيش شپږ لکه وه نو فرعون به څومره نفر سره جمع کړي وه، نو د ښځو د وتلو خو هيڅ ضرورت نه ؤ، نو بناء عليه که څه هم هيڅ مفسر اشاره نه ده ورته کړې د نعمة کانوا فيها فکهين څخه دي مراد ښځي د فرعونيانو وي چي په طور د مينځيانو د بني اسرائيلو په لاس ورغلې چي دا غټ سبب د تفکه دی، وهذه فائدة جديدة الهمت بما.

كَذٰلِكَ ۖ وَاَوْرَثْنٰهَا قَوْمًا اٰخَرِيْنَ ﴿٢٨﴾

(كذالک قال الكلبي رح كذالک افعل بمن عصاني وقيل الامر كذالک) او موږ په ميراث ورکړې يعني لکه ميراث چي مال متروک دی له مړه څخه و وارث ته (قومًا آخرين) يعني بني اسرائيلو ته.

فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَآءُ وَالْاَرْضُ وَمَا كَانُوْا مُنْظَرِيْنَ ﴿٢٩﴾

نو نه وژړل پر فرعونيانو اسمان او نه مځکي، او نه وه فرعونيان چي دوی ته مهلت ورکړل سي تر بل وخته پوري.

درويش وايي: چي بعض مفسرين دا کلام پر تمثيل حمل کړی دی لکن حمل پر حقيقت ډېر زيبا دی يعني فرعونيان خو پر کفر مړه سوه نو د ژړا ځای يې نه په اسمان کي درلودی او نه په مځکه کي بخلاف المؤمن، اذا مات چي مړ سي پر هغه باندي ژاړي مځکه او اسمان دواړه كما روی الترمذي عن ابن عباس رضي الله عنهما قال قال رسول الله ﷺ ما من عبد (ای مؤمن) الا وله بابان في السماء باب يصعد عنه عمله وباب ينزل منه رزقه فاذا مات فقداه وبكيا عليه، وروی ابن جرير وغيره عن ابن عباس رض چي دده څخه چا پوښتنه وکړه عن قوله تعالی فما بكت عليهم السماء والارض قال نعم انه ليس احد من الخلائق (ای المؤمنين لان الكلام فيهم) الا له باب في السماء ينزل منه رزقه ويصعد فيه عمله (ای الصالح) فاذا مات المؤمن فاغلق بابه من السماء فقد بكی عليه واذا فقد من مصلاه من الارض التي كان فيها يصلی ويذكر الله فيها بكی عليه تلک الارض.

پوښتنه: معنی د ژړا د اسمان او مځکي څه ده؟

ځواب: عند ارباب الحقيقة محمول پر حقيقت دی لان قدرة المولی جلت قدرته شاملة لكل مايراه القدرة المتوسطة بعيدًا، ويشهد له حديث البخاري وغيره چي رسول كريم ﷺ د مخه تر جوړېدو د منبر لپاره د خطبې يو وچ لرګي ته چي په مسجد نبوي کي ولاړ ؤ تکيه کول، نو کله چي منبر جوړ سو او عليه الصلوة والسلام منبر ته راغلی هغه وچ لرګي په فراق د رسول الله ﷺ داسي بغاري او ژړا شروع کړه چي ټول اهل مسجد اورېدل، حتی عليه الصلوة والسلام له منبره راكښته سو او هغه وچ لرګی يې په غېږ کي ونيوی يو څه يې ورته وويل والله اعلم، نو هغه لرګي کرار کرار ژړا

Scanned by CamScanner

کمول، راوي وايي لکه يو کوچنی چي ژاړي او څوک يې يمنوي اخير لړکي ژړا پرېښول ساکت سو او عليه الصلوة والسلام بيرته منبر ته تشريف فرما سو.

وَلَقَدْ نَجَّيْنَا بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ مِنَ الْعَذَابِ الْمُهِينِ ﴿۳۰﴾

لا موطئه د قسم دی يعني جواب د قسم محذوف دی. په تحقيق نجات ورکړی موږ و بني اسرائيلو ته له عذاب څخه چي اهانت ورکونکی ؤ، يعني د فرعون جبار له خوا پر دوی مسلط ؤ من قتل ابنائهم واستحياء نسائهم او د نرو څخه به يې د مريانو کار اخستی، او ښځو يې د فرعونيانو د کورو خدمت گاراني وې چي فقط کارونه به يې مابنام پر مابنام ورکوله او ځوانان يې پر اعمال شاقه ؤ لکه کلاوي جوړول زراعت په کول الی غير ذالک.

مِنْ فِرْعَوْنَ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَالِيًا مِّنَ الْمُسْرِفِينَ ﴿۳۱﴾

ای من عذاب فرعون په حذف د مضام يا بدل اشتمال دی من العذاب، په تحقيق ؤ فرعون متکبر (ای غاية الاستکبار حتی قال الجبار انا ربکم الاعلی) تر تجاوز کونکو په سرکښی کي او په گمراهي او ظلم کي کما يدل عليه ما ذکرنا من احوال اللعالمين.

فائده: "من المسرفين" خبر ثاني د کان دی.

وَلَقَدِ اخْتَرْنَٰهُمْ عَلَىٰ عِلْمٍ عَلَى الْعَٰلَمِينَ ﴿۳۲﴾

موږ غوره کړي وه يعني موسیٰ و هارونؑ و بني اسرائيلو ته (علی علم) حال دی ای عالمين بانهم احقاء بذالک (علی العالمين) ای عالمي زمانهم فلا يرد السوال بامة محمد ﷺ.

وَءَاتَيْنَٰهُم مِّنَ الْءَايَٰتِ مَا فِيهِ بَلَٰٓؤٌا مُّبِينٌ ﴿۳۳﴾

ای من المعجزات والکرامات کفلق البحر وانزال المن والسلوی واظلال الغمام حين کانوا في التية، ابن زيدؒ وايي چي مراد له بلا څخه اَمتحان د دوی دوو دی بالرخاء والشدة لان امتحان الله قد يکون بالنعمة لاجل الشکر وقد يکون بالعذاب والنقمة لاجل الصبر.

درويش وايي: چي دا سبب دی چي بعض علماء وايي چي لفظ د بلاء له اضدادو څخه دی، وليس کک فافهم.

إِنَّ هَٰؤُلَآءِ لَيَقُولُونَ ﴿٣٤﴾ إِنْ هِيَ إِلَّا مَوْتَتُنَا ٱلْأُولَىٰ وَمَا نَحْنُ بِمُنشَرِينَ ﴿٣٥﴾

په تحقيق دوی يعني كفار قريش، دوی وايي نه دی نهايت امر ددوی مګر موت زموږ چي اول دی يعني دوهم وار ژوند نسته لكه محمد ﷺ چي وايي چي بعث بعد الموت سته لپاره د جزاء د اعمال د اهل دنيا، اما الجنة واما النار.

پوښتنه: د كفار قريش ذكر چېري وسو چي اشاري په هؤلاء ورته وكړه؟

ځواب: اصل كلام خو مسوق د قريش د كفارو دی و قصة فرعون و قومه په دې مناسبت راوړه چي كفار قريش مثل د فرعونيانو دي په اصرار كي پر ضلالت او ازار رسول د رسول الله ﷺ او غريب مسلمانانو ته لكه ابن مسعود، عمار بن ياسر بلال الحبشي وامثالهم رضي الله عنهم لكه فرعونيانو چي بني اسرائيلو ته ازار رساوه، په دې كي اشاره ودې ته ده چي كفارو ته د قريشو به هم داسي عذاب وركړل سي لكه فرعونيانو ته.

سوال: مرجع د ضمير د هي چي ټوله مفسران په نهاية ترجمه كوي چېري ذكر سوي نو دا به اضمار قبل ذكر المرجع نه وي؟

ځواب: د مرجع د ضمير لفظًا خو نه دی شرط بلكي لفظًا او تضمنًا او حكمًا درې سره كافي دی لفظًا خو ظاهر دی نو جاء زيد وهو راكب على الفرس او تضمنًا نحو اعدلوا هو اقرب للتقوىٰ چي ضمير د هو راجع و عدل ته دی چي اعدلوا مصدر دی او په ضمن كي اعدلوا مذكور دی او حكمًا كما فيما نحن فيه وبيانه ان النبي ﷺ لما قال و كفار قريش ته ويل چي تاسي بعد الموت ژوندي كېږئ، نو ګويا داسي يې ورته وويل چي ستاسي نهاية دوهم ژوند دی فقالوا نه دی نهاية الامر زموږ دوهم ژوند بلكي نهاية الامر موږ اول مرګ دی فقط.

درويش وايي: چي داسي پوره تفصيل د مرجع د ضمير د هي له خواصو څخه د تفسير ايوبي دی ان شاء الله والله اعلم.

"وما نحن بمنشرين" يعني مبعوثون بعد الموت.

فَأْتُوا بِـَٔابَآئِنَآ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٣٦﴾

تاسي راتګ وكړئ زموږ پلرونه دا جواب د شرط محذوف دی ای ان كان البعث بعد الموت ممكنًا فأتوا بآبائنا.

پوښتنه: چي مخاطب په فأتوا كي عليه الصلوة والسلام او مؤمنان دي لان

المؤمنين ايضًا يقولون هذا "ان كنتم صادقين" كه چېري تاسي ياست صادقين په دې خبره کي چي موږ لره بعث بعد الموت سته.

پوښتنه: جواب د ان شرطي څه شی دی؟

ځواب: له ماقبل څخه فهمېږي يعني فأتوا بآبائنا.

اَهُمْ خَيْرٌ اَمْ قَوْمُ تُبَّعٍ ۙ

آيا دوی يعني کفار مکه ښه دي په قوت او شوکت کي او په کثرت کي، او که قوم د تبع خير دی تر دوی.

پوه سه: چي استفهام لپاره د انکار و بيان د تقرير دی يعني تاسي خبر نه ياست تر قوم د تبع بلکې قوم تبع تر دوی خبر وه، روح البيان وايي چي مراد له تبع څخه بادشاهان د يمن دي چي مشهور په نېز د قريشو کي دی خاص يې په ذکر سره کړی لقرب يمن من مکة دار القريش.

وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ اَهْلَكْنٰهُمْ ۫ اِنَّهُمْ كَانُوْا مُجْرِمِيْنَ ۝۳۷

او هغه کسان چي تر قوم تبع د مخه وه من الامم الکافرة لکه عاديان او ثموديان ونحوهم، موږ هلاک کړه ولي چي دوی په تحقيق وه مجرمين ای مشرکين، دا بيان د علت د اهلاک د دوی دی.

فائده: بعض مفسران وايي چي تبع د يو سړي نوم ؤ چي تبع يې په دې باله چي اتباع يې ډېر وه، او بعض مفسران وايي تبايعه يې ډېر کسان وه چي هر يو يې تبع باله چي يو په بل پسي راتله.

فائده: محمد بن اسحاق رحمه الله له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت کړی دی چي اخير د التبايعة اسعد ابو کرب بن مليک ؤ.

فائده: خدای پاک د ذم نسبت د تبع قوم ته وکړی، خاص وده ته يې نه وکړی حيث قال ام قوم تبع، ولي تبع اسلام راوړی او قوم يې تکذيب وکړی تبع ټوله د يمن باشندګان وه او هر يو پر خپل نوبت باچا وه د قبيلې څخه د قحطان په هيئت کي لکه چي بادشاهانو ته د اسلام خليفه وايي او د روميانو هر باچا قيصر بولي او د فارسيانو هر باچا کسری بولي وهکذا کما مر من قبل في هذا التفسير، فمن التبايعة الحارث الرافش وهو ابن همال وهو اول من غزا من ملوک قبيلة حمير من اليمن

واصحاب الغنائم الكثيرة فقسم على الناس و الحارث الرافش ملک على الناس (١٣٣) سنه، واختلف المفسرين في المراد من التبع ههنا في القرآن نو بعض وايي چي مراد اسعد الحميري دی الذي سار بالجيوش وبني الحيرة مدنية بالكوفة وهو مؤمن صالح، او پر عيسىٰ عليه السلام يې ايمان راوړی ؤ، وچون تبع اسعد الحميري از اهل کتاب نعت وصفت رسول اخير الزمان محمد رسول الله ﷺ شنيده بود برسالت وی ايمان آورد وقال شهدت علي احمد انه رسول من الله د مخه تر اسلام (٦٠٠) کاله، وقال السيوطيؒ في الجلالين اول چي په کعبه شريفه يې پوښ واغوستی اسعد الحميري ؤ وهو التبع الاکبر من ثياب الخيرة چي يو قسم لکي لکي کشميرې وې چې په يمن کي به جوړېدې، وکان التبع الاکبر مؤمنًا بالاتفاق وقومه کفار، راويان د قصې د تبع اکبر وايي چي تبع اکبر د کعبة الله لوی احترام وکړی او پوښونه يې ورکړه او د اهل مکه که څه هم مشرکان وه ډېر مالي کومک يې ورسره وکړی وروسته تبع اکبر د يثرب چي د مدينې قديمي نوم دی پر خوا راهي سو، درآن وقت در يثرب کدام بناء و آبادی نه بود واثر شهر وبناء نبود يک چشمهٔ آب بوده تبع اکبر لشکر خود بسر چشمه فرود اوردند ودانشمندان و تاريخ دانان که با او بودند قريب دو هزار بودند در کتابهای قديم خوانده بودند که اين زمين بنام يثرب جای هجرت رسول اخر الزمان ومهيط وحی و قرآن است وچهار از اين دو هزار که عالم تر وفاضل تر بدوند بايک ديگر قرار داد نمودند وبعيت کردند که ازان بقعه يثرب مفارقت. بر اميد ديدار رسول الله ﷺ آن مقام کنند اگر ايشان خود را از تبع خلاص يابند وزنده بودند خو بسيار خوب باشد والا فرزندان ايشان ونسل ايشان اوزا دريابند وبرکات آن ذات بابرکات بايشان برسند، اين قصه را علماء مذکور به تبع اکبر رسانيدند وتبع را نيز همين رغبت در دل افتاد تبع اکبر اينجا يک سال در آن جا قيام نمود، وچهار صد قصر برائ علماء مذکور بنا کردند وهريکی را کنيزک بخريد وازاد کردند ويک يک بنکاح آن علماء دادند، ولباسها و لوازمات خانه بايشان دادند ونفقه يک سال هم بايشان دادند وايشان را وصيت نمود که آنجا باشيد تا مگر رسول اخير الزمان دريابيد، وخود تبع اکبر از جانب خود يک نامه نوشته کرده ومهر زرين بر آن نهاد وعالمی را ازان علماء سپرد و گفت اگر محمد ﷺ را دريابی اين نامه بدو برسانيد، واگر تو درنيابی بفرزندان خود وصيت کن تا باو رسانند ومضمون مکتوب تبع اکبر

این بود به پیغمبر اخیر الزمان: ای برگزیده خداوند جهان بروز شمار شفیع بندگان من که نامم تبع هست بتو ایمان آوردم بآن خداوند که تو بنده و پیغمبر او، بی گواه باش که بر ملت تو ام و در ملت پدر تو ابراهیم خلیل الرحمن عليه السلام (اگرچه پیشتر بعیسی ایمان آورده بود کمامر لکن اینجا علماء خبر دادند که دین عیسی عليه السلام بآمدن رسول خدا محمد مصطفی ﷺ منسوخ گردند ولهذا الجام ایمان را بطرف محمد مصطفی ﷺ گردانید) اگر تو را بینم یا نه بینم لکن ایمان عبد ذلیل تبع روز قیامت از شفاعت خود فراموش نکنید، برنامه که مهر زده بود درآن مهر نوشته بود لله الامر جمیعًا من قبل ومن بعد ویومئذ یفرح المؤمنون بنصر الله، عنوان نامه همچنین نوشته کرده الی محمد بن عبد الله ورسوله خاتم النبیین ورسول رب العالمین ﷺ من تبع امانة الله في ید من وضع في یده الی ان یوصل الی صاحبه، یعني رسول الله ﷺ.

فائده: تاریخ میگوید که انصار رسول الله ﷺ از نژاد آن صد عالم بودند رفته رفته زمان بسیار سفری شد که آن مکتوب تبع بدست ابو ایوب الانصاري رضي الله عنه از اجداد خود رسیده بود، راوی میگوید که آن روز که رسول الله ﷺ بمدینه تشریف آورد انصار مدینه اختلاف کردند که رسول خدا مهمان کدام خانه باشد رسول الله ﷺ که آن اختلاف انصار دید گفت بگذارید ناقه من مأمور است بهر خانه که مرضی خدا باشد خودا میرساند وآن جا بر زمین میخوابند (یعني چوکیږي) ناقه رسول الله ﷺ بخانه ابو ایوب الانصاري رضي الله عنه آمد و بر زمین بیفتد ابو ایوب اول الامر نامه تبع باو سپرد نمود، نامه رسول الله ﷺ بعلي رضي الله عنه داد که بخواند رسول الله ﷺ درنامه سخنهائ تبع را بشنیدند اورا دعاء نمود وگفت نعم العبد تبع.

درویش وایي: چي دا قصه بعض مفسرینو په ډېر طول سره راوړې ده حتی چي د ډېرو تبایعانو نومان چي بعض کافران وه لکن تبع اکبر په اتفاق سره مؤمن ؤ، درویش ځای د ضرورت راوړی که ما د مفسرانو ټولي خبري ددې قصې رویداد راوړي وای شاید نوري صفحې به ډېري د تفسیر ایوبي اضافه سوي وای.. بیت:

تاطبع شریفت نپذیرت ملالتی .... آن به که نامه را بدعاء مختصر کنم

وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لٰعِبِيْنَ ﴿۳۸﴾

موږ نه دي پیدا کړي اسمانونه او ځمکه او چي په مابین کي د اسمانو او د

مځکي دي (چي کائنات الجو يې بولي لکه وريځ، پيلبو، تنا، تکي وغيرها مما يعلمه الله "لعبين" د ساتېري لپاره (حال دی د خلقنا له ضمير څخه) يعني عبث مونه دي پيدا کړي بلکې چي انسانان دا شيان دليل وګرځوي پر وجود زموږ او پر کمال قدرت زموږ او پر نورو صفات جليله ؤ زموږ او لپاره د ابتلاء د خلګو.

مَا خَلَقْنٰهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٣٩﴾

او موږ نه دي پيدا کړي دا دوه جنسين (اسمانونه او مځکه) مګر په حق سره يعني لاظهار الحق من التوحيد و وجوب الطاعة تاچي موږ ثواب ورکړو المطيع ته چي مؤمنان دي او عقاب ورکړو و عاصي ته ای الکامل چي کافران دي.

پوهه: چي مراد د عقاب څخه عقاب الابد دی ځکه موږ خاص په کافرانو پوري وګرځاوه. "ولکن اکثرهم لايعلمون" لکن ډېر خلک په دې حکمت الهي سره نه پوهېږي لسخافة عقولهم او انهماکهم في شهوات الدنيا والاقتداء بالاباء والتکبر والعناد مع الانبياء عليهم السلام الی غير ذالک.

اِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ مِيْقَاتُهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٤٠﴾

په تحقيق د فصل په ورځ يعني يوم القيامة لانه يفصل فيه بين الحق والباطل والمحق والمبطل بالجزاء اللائق بهما في هذا اليوم "ميقاتهم" ظرف دی ای وقت حسرتهم وجزائهم، د ټولو مؤمنانو او کافرانو.

يَوْمَ لَا يُغْنِيْ مَوْلًى عَنْ مَّوْلًى شَيْئًا وَّلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿٤١﴾

بدل دی د يوم الفصل چي نفع نه سي رسولای يو قريب و بل قريب ته که ولي د قرابت وي که ولي د صداقت او اشنايي وي، د هيڅ شي که جلب د منفعت وي او که دفع د ضرر وي، او نه هم ددوی کومک کړل کېږي.

سوال: ضمير د جمع و کوم لفظ ته راجع دی؟

ځواب: و مولی ته راجع دی لانه جميع باعتبار المعنی.

اِلَّا مَنْ رَّحِمَ اللّٰهُ ۭ اِنَّهٗ هُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿٤٢﴾

العائد الی من محذوف ای الا من رحمه الله يا په عفو سره يا په قبول د شفاعت سره و هم المؤمنين ولي دوی يو د بله شفاعت کوي او خدای جل جلاله دوی ته د شفاعت

اجازه ورکوي، کريمه، لايشفع الا من اذن الرحمن، په تحقيق خدای غالب دی چي هيڅ طاقت نه لري چي کومک دي وکړي د هغه چا سره چي دده اراده د تعذيب ورته وي چي کافران دي، او مهربان دي يعني پر مؤمنانو چي د شفاعت د شافع اجازه ورته کوي، يا انبياء عليهم السلام ته يا اولياء الله ته الى غير ذالک.

إِنَّ شَجَرَتَ الزَّقُّومِ ﴿٤٣﴾ طَعَامُ الْأَثِيمِ ﴿٤٤﴾

په تحقيق درخته د زقوم طعام دی د ډېر ګناه کار چي مراد ځني کافران دي.

پوهه: چي چونکه درخته خو نه خوړل کېږي نو مراد مېوه ده د هغې درختي، وفي القاموس هذه شجرة في جهنم و ثمرها طعام لاهل النار، او په عين المعاني کي واي هي شجرة في اسفل النار مرتفعة الى اعلاها وما درکة من جهنم الا وفيها غصنها وهي النار نظير طوبى في الجنة يعني في کل جنة غصنها.

كَالْمُهْلِ يَغْلِي فِي الْبُطُونِ ﴿٤٥﴾

"کالمهل" خبر آخر د ان دی بعض مفسرين وايي چي مهل دا دی (يعني ختمه بيله د زيت اسوده او بعض وايي چي هر شی د معدنياتو لکه او سپنه، جس، صفر، سره زر، سپين زر وغيرها چي په اور ويلي سي مهل يې بولي)

كَغَلْيِ الْحَمِيمِ ﴿٤٦﴾

لکه جوش کړی شی چي په نس کي د کافر جوش سي، البغوي له ابن عباس رض څخه روايت کړی دی چي ده وويل قال رسول الله ﷺ ايها الناس اتقوا الله حق تقاته ای خلکو (مراد ځني کافران دي بقرينة ذکر الزقوم لانه طعام الکافر في الجحيم) وبېرېږئ د خدای جل جلاله څخه په حق بېرېدو سره يعني ستاسي او د دوږخ تر منځ ژوند حائل وي که چېري يو څاڅکی د زقوم پر ځمکه ولوېږي تريخ به کړي پر اهل دنيا عيش ددوی فکيف ممن هو طعامه ليس له طعام غيره.

درويش وايي: چي ابو جهل وغيره به ويل چي درخته خو په اور سوځي او محمد (ﷺ) وايي چي شجرة الزقوم په اور کي ولاړه ده او مېوه ددې طعام الاثيم ده، وهذا من غاية جهلهم لان جميع الحيوانات تعيش في البر او البحر سمندل چي نوم د يو حيوان دی چي غذاء يې د اور سکروټې دي او په اور کي اوسېږي او که يې له اوره را وباسې مړ کېږي لکه ماهی چي له اوبو څخه را وباسې.

خُذُوْهُ فَاعْتِلُوْهُ اِلٰى سَوَآءِ الْجَحِيْمِ ﴿٤٧﴾

يعني زبانيهؤ ته د دوږخ وويل سي د خداى جَلَّ جَلَالُهُ له خوا څخه چي ونسئ دغه اثيم يعني كافر ''فاعتلواه'' او وه يې غورځوئ قهرًا او كش يې كړئ قهرًا و مايين ته د اور.

ثُمَّ صُبُّوْا فَوْقَ رَأْسِهٖ مِنْ عَذَابِ الْحَمِيْمِ ﴿٤٨﴾

بيا توى كړي سر بېره پر سر دده له عذابه څخه د تودو اوبو يعني ايشولي اوبه چي عين عذاب دى، نو په دې كي غايت مبالغه ده.

ذُقْ ۚ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْكَرِيْمُ ﴿٤٩﴾

''ذق'' تقديره قائلين اى خزنة النار جرب يعني وڅه دغه عذاب، ته خو عزيز كريم سړى يې، قال البغوي ''مقاتل'' وايي: چي خازن النار يضرب الكافر على رأسه نو سريې مغزو ته سورى سي، په هغه سري كي د دماغ ماء حميم ورتوى كړي چي تود والى يې نهايت ته رسېدلى وي بيا اهانةً داسي ورته وو ايي ذق انک الى اخيره، دا اشاره و هغه قول ته د ابو جهل ده چي ده به ويل انا اعز اهل هذا الوادي واكرمهم، يعني د وادي مكه.

درويش وايي: چي ويناوي د خزنهؤ استخفافًا واستهزاءً وتوبيخًا دي، راوي وايي چي ابو جهل و عليه الصلوة والسلام ته وويل مايين جبلي مكه اعز واكرم على الله مني فوالله ما تستطيع انت ولا ربک ان تفعل بي شيئًا (قسم په خداى چي نه ته او نه ستا خداى كولاى سئ چي په ما دي څه وكړي ولي چي اعز د جبلي د مكې يم او اكرم يم.

درويش وايي: چي دا طاغي فرعون الامة المحمدية په داسي ذلت د دوو كم سنه ځوانانو په لاس قتل كړل سو په ورځ د بدر او ډېر اهانت يې وسو او دده سره اوويا كسه نور قتل سوه د بدر څاه ته وغورځول سول.

اِنَّ هٰذَا مَا كُنْتُمْ بِهٖ تَمْتَرُوْنَ ﴿٥٠﴾

دا عذاب هغه عذاب دى چي په دنيا كي تاسي واست په دې عذاب كي شكمن بلكې انكار مو كاوه، دا قول د خزنة النار كافرانو ته په ورځ د قيامت دى.

درويش وايي: الى ههنا تم احوال الاشقياء، والآن بيان حال الاتقياء والسعداء فقال عز من قائل:

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي مَقَامٍ أَمِينٍ ﴿٥١﴾

په تحقیق متقین به د امن په ځای کي وي ''مقام'' بعض قراء په ضم د میم وایي چي مصدر میمي یې بولي ای اقامة او جمهور قراء یې په فتحه د میم وایي او موضع اقامة وبین المعنیین تلازم ''امین'' چي صاحب په امن کي به وي د هر مصیبت او آفت والانتقال والخروج منها.

فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿٥٢﴾

په باغو کي چي قسم قسم میوې به پکښې وي ما لاعین رئت ولا اذن سمعت ولا خطر علی قلب بشر او عیون یعني جاري اوبه او شیدې جاري عسل جاري شراب جاري چي لاغول فیها ولاهم عنها ینزفون.

يَلْبَسُونَ مِنْ سُنْدُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ مُتَقَابِلِينَ ﴿٥٣﴾

دوی به اغوندي له سندس څخه چي د نازکو تارو څخه جوړي سوي وي او د پنډو وریښمو څخه چي سندس یې ظهار چي دا یه بطانه وي، مخامخ په مجالسو کي یعني متحاسد او متباغض نه وي بلکې که یو جنتي بله خوا ته مخه کوي د هغه بل سیر پر راوګرځي چي بیرته سره مخامخ سي وهکذا الی الابد.

كَذَٰلِكَ وَزَوَّجْنَاهُمْ بِحُورٍ عِينٍ ﴿٥٤﴾

ای الامر کذالک، ای قربنا هم بحور عین ولیس من التزویج المصطلح لانه لایقال في التزویج المصطلح زوجت بامرئة یعني مع کلمة الباء بل زوجته امرئة ولیس من عقد التزویج لانه لایتعدی بالباء لانه لایقال زوجت ازدواجا بهن، بل یعني دوی فرد وه په حور سره زوج سوه. کما تزوج النعل بالنعل یعني یو نعل فرد په بل نعل سره زوج کړه سوه.

فائده: الحور النساء النقیات البیاض یحار فیهن العین (سترګي پر برېښي) من البیاض لهن وصفًا الوانهن، والعین جمع عیناء وهي عظیم العینین؛ قال ابی امامة رض قال رسول الله ﷺ خلق الحور من الزعفران، واخرج البیهقي مثله، وعن زید بن اسلم رض قال ان الله تبارک لایخلق الحور من تراب انما خلقهن من مسک و کافور و زعفران، او قتاده رح له حبان رض څخه روایت کوي چي ښځي د دنیا چي جنت ته داخلي سي بالا وي په حسن کي پر حور العین، ابن ابی الدنیا رح له انس رض څخه روایت کړی دی قال رسول

ﷺ لو ان حوراً ابزق (ناړي تو کړي) في بحر (اى تريخ) لعذب ذالک (شيرين به سي هغه تريخ درياب) دغه رنګه له ابن عباسؓ څخه روايت دى که يوه حوره مخ ښکاره کړي لأضاء (روښانه به کړي حسن ددې مابين د اسمان او مځکي)

يَدْعُوْنَ فِيْهَا بِكُلِّ فَاكِهَةٍ اٰمِنِيْنَ ﴿٥٥﴾

دوى به راغواړي په جنت کي هر قسم مېوه يعني چي ددوى اشتهاء ورته وسي "آمنين" چي دوى بېغمه وي چي دا مېوه به خلاصه سي يعني لکه د دنيا مېوې چي بعض وخت موجودي وي بل وخت پيا نه وي او بې غمه به وي له ضرره څخه لکه د دنيا بعضي مېوې چي پر بعض خلګو بد تاثير کوي.

درويش وايي: چي ابن ابى حاتم او ابن جرير له ابن عباسؓ څخه روايت کړى دى قال ليس في الدنيا مما في الجنة، نسته په دنيا کي د هغو مېوو څخه لکه په جنت کي چي سته مګر صرف نوم يې مثلاً انار په دنيا کي سته او په جنت کي هم سته لکن شراکت يې صرف په نامه کي دى يعني د دنيا انار دومره غټ نه دي لکه د جنت انار نه يې داغسي صاف رنګ دى لکه د جنت د انار او نه يې داغسي خوند او شيريني لکه د جنت د انار، وقس عليه انګور، اينځر، امرت وغيرها.

لَا يَذُوْقُوْنَ فِيْهَا الْمَوْتَ اِلَّا الْمَوْتَةَ الْاُوْلٰى ۚ وَوَقٰهُمْ عَذَابَ الْجَحِيْمِ ﴿٥٦﴾

نسي څکلاى جنتيان په جنت کي مرګ بلکې ژوندي به وي ابداً، مګر نه هغه اول مرګ د دنيا (دا استثناء منقطع ده ولي مرګ د دنيا خو په مرګ کي د آخرت داخل نه دى لان موت الآخرة والجنة معدوم او مرګ د دنيا خو موجود ؤ) او خداى دوى ساتلي دي له عذاب څخه د دوږخ، دا جمله حال ده له فاعل څخه د لايذوقون لکن په تقدير د قد کما هو الشرط لوقوع الماضي حالاً کما بين في النحو.

فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكَ ۚ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿٥٧﴾

پوه سه: چي فضلاً مفعول مطلق د فعل محذوف دى اى فضلوا فضلاً منه تعالى يعني لاحقًا عليه تعالى، له جابرؓ څخه روايت دى قال قال رسول اللهﷺ لايدخل احد منکم عمله الجنة (نسي داخلولاى يو ستاسي عمل دده و جنت ته) ولا يجيره (او نه پناه ورکولاى سي له اور څخه يوه ته ستاسي عمل دده) قالوا ولا

انت (ته هم داغسي يې) قال ولا انا، رواه مسلم "ذالک هو الفوز العظیم" دغه نعمتونه چي په سابقهؤ کي ذکر سوه چي د چا په نصيب سي لويه کاميابي ده، ولي چي فائده پر دغو مذکوره نعمتو د ټولو مکاره څخه بېغمه سو او ټول مطالب عاليه يې په لاس ورغله، اللهم اجعلنا وجميع المؤمنين فائذين بتلک المطالب العالية بمحض فضلک وکرمک يا ارحم الراحمين.

پوښتنه: په بل ځای کي د قرآن مجيد راغلي دي "ادخل الجنة بما کنتم تعملون" فکيف التوفيق؟

ځواب: نفس دخول د جنت په فضل د خدای جل جلاله دی او تقسيم د درجاتو يعني لوړي يا کښته درجې په مناسبت او سبب د اعمالو دي کما هو مذهب اهل السنة والجماعة.

فَإِنَّمَا يَسَّرْنَٰهُ بِلِسَانِكَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٥٨﴾

په تحقيق موږ اسانه کړی دی (ای القرآن) "بلسانک" حال من الضمير المنصوب ای متلبسًا بلغتک ای العربية التي هي فوق سائر لغات الدنيا) ددې لپاره چي اهل مکه به پند او فائده ځني ترلاسه کړي لانه بلغتهم، دا آيت متصل دی معنًی د هغه آيت سره انا انزلناه في ليلة مباركة، او د ټوله سورة فذکه ده (يعني حاصل دی)

فَارْتَقِبْ إِنَّهُم مُّرْتَقِبُونَ ﴿٥٩﴾

جزاء د شرط محذوف ده ای ان لم يتذکروا، نو ته يا محمد (ﷺ) منتظر اوسه چي پر دوی عذابونه راتلونکي دي، دوی منتظر دي ستا و مرګ ته يا پر تا باندي غلبې ته.

درويش وايي: چي بحمد الله وحسن توفيقه تفسير د سورة الدخان په اخيري تاريخ کي د رجب الخير په ورځ د جمعې بعد صلوة الجمعة په سنه (۱۴۳۲) هجري على مهاجرها صلواته التامة وعلى آله وصحبه الکملة البررة پای ته ورسېدی، وروسته تر دې تفسير د سورة الجاثية په پسې دی ان شاء الله تعالى وها انا في التاريخ المذکور اشرع في تفسير سورة الجاثية ان شاء الله تعالى.

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سکين او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

سُوْرَةُ الْجَاثِيَةِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ سَبْعٌ وَثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّاَرْبَعُ رُكُوْعَاتٍ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

حٰمٓ ۝١ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ۝٢

درویش وايي: چي تفصيل د بيان د مقطعات قرانيه ؤ په اول کي د تفسير د سورة البقرة تېر سو فلانعيده "تنزيل" مبتدا ده "من الله العزيز الحكيم" يې خبر دی، ترجمه: په تدريج سره نزول د کتاب يعني القرآن، وانما قلت په تدريج لان التنزيل چي باب د تفعيل دی يقال لنزول الشيئ تدريجًا بخلاف الانزال فانه النزول دفعةً لکه نزول د تورات والانجيل او ګاهي انزال صفت د قرآن هم راغلی دی لان القرآن انزله جبرئيل من اللوح المحفوظ دفعةً الی السماء الدنيا بامر الله تعالی ثم من هناک انزله جبرئيل على رسول الله ﷺ بواسطة الضرورات والوقائع في زمان رسالته (۲۳) کاله ومعنی العزيز الغالب الذي لايرد قضائه شيئ في السمٰوات والارض ومعنى الحكيم هو الذي يفعل ما يفعل بحكمة وفائدة عظيمة ولايفعل العبث اصلاً وانه محال.

اِنَّ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ لَاٰيٰتٍ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۝٣

په تحقيق په خلق السمٰوات (بحذف المضاف) او د ځمکي دلائل سته پر قدرت عاليه د خدای او پر وحدانيت د خدای، کريمه: لو کان فيهما الهة الا الله لفسدتا چي برهان تمانع يې بولي، چي تمام تفصيل يې په شرح العقائد او شرح المقاصد کي للعلامة التفتازاني موجود دی "للمؤمنين" لپاره د مؤمنانو قيد به لان غير المؤمنين لاينظر الی هذه الآيات بنظر العبرة... بيت:

برگ درختان سبز در نظر هوشيار ..... هر ورقی دفتريست معرفت کردگار

وَفِيْ خَلْقِكُمْ وَمَا يَبُثُّ مِنْ دَآبَّةٍ

او دغه رنګه آيات د قدرت سته ستاسي په پيدا ايښت کي (يعني من نطفة ثم من علقة ثم من مضغة الی ان صار انسانًا، کريمه: فتبارک الله احسن الخالقين) او هغه چي متفرق يې پيدا کړي دي، والدابة کلما يدب على وجه الارض من الحيوانات مع اختلاف صورها واشكالها وكثرة انواعها.

فائده: دا کلمه معطوف ده پر مضاف چي خلق دی نه پر مضال اليه، ولي چي

مضاف او مضاف اليه لکه يوه کلمه نو عطف پر بعض د کلمه لازميږي، سعدي المفتي وايي چي عطف پر ضمير مجرور چي دلته کم دى بيله اعادې د جاره منع کړى دى سيبويه وجمهور البصريين، واجازه الکوفيون ويونس والاخفش قال ابو حيان وهو الصحيح، فالمعنى على مختار اهل البصرة وفي خلق مايبث آه فافهم.

اٰيٰتٌ لِّقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ﴿٤﴾

دلائل دي پر وجود د صانع و توحيده وكما صفاته، د هغو كسانو لپاره چي پر انه لا اله الا الله او پر بعث بعد الموت يقين لري بخلاف الكفرة فان على قلوبهم الران.

وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ

عطف دى پر خلقكم بالطول والقصر صيفًا و شتاءً والذهاب والمجئ.

وَمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ السَّمَآءِ مِنْ رِّزْقٍ

او هغه چي نازل کړي الله له اسمانه له رزق څخه، نازل د اسمانه خو باران دى لکن چونکه باران سبب دى د موادو ارزاقيهؤ نو ځکه يې رزق نازل وباله.

فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا

نو يې ژوندى کړه په هغه سره مځکه وروسته تر مرګ.

پوه سه: چي حيات د مځکي عبارت دى له نباتاتو څخه او موت د مځکي وچوالى دى له نباتاتو څخه.

وَتَصْرِيْفِ الرِّيٰحِ اٰيٰتٌ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿٥﴾

او بدلولو د باد من الشرق والغرب والجنوب والشمال، نښاني ده د هغه قوم لپاره چي عقل لري اى عقل خال عن التعنت والعناد والتعصب والحسد وتقليد الاباء، اى دلائل لوجود الخالق القادر الواحد لاشريک له.

سوال: کفار خو هم د ذوى العقول څخه دي؟

ځواب: لا بل هم کالانعام بل هم اضل.

پوښتنه: په دې آيتو کي خداى پاک يو ځاى يوقنون او په بل ځاى کي لقوم يعقلون و وايه سبب يې څه دى؟

Scanned by CamScanner

جواب: قال البيضاوي اختلاف الفواصل الثلاث لتفنن العبارة چي د محسناتو څخه د عربيت دي، والا فالابيان والايقان واحد وهو من ثمرات العقل فان العقل يقتضى الابيان بمتدع السمٰوات والارض وما بينهما.

تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ

يعني دغه آيات المتلوه دلائل قدرته، چي موږ يې تلاوت کوو پر تا باندي "ايات الله" مبتداء او خبر دي "نتلوها عليک" يا خبر ثان ده يا حال ده له ايات الله څخه عامل يې معنوي دی يعني معنى الاشارة په تلک کي کما في قوله تعالى وهذا بعلي شيخًا. "بالحق" يعني متلبسة بالحق،

فَبِاَيِّ حَدِيْثٍ بَعْدَ اللّٰهِ وَاٰيٰتِهٖ يُؤْمِنُوْنَ ۝۶

الفاء جزاء لشرط محذوف اى ان لم تؤمنوا بآيات نو په کومه خبره سره "بعد الله" اى بعد کتاب "وایاتهم" اى دلائل قدرته و وجود وحدته "يؤمنون" دوی ايمان راوړي يعني کفار مکه، والحاصل انهم لايؤمنون اصلاً، او بعض مفسرين وايي چي معنا ددې داده چي ان القرآن اخير الكتب المنزلة ومحمد ﷺ اخير رسله عزوجل فان لم يؤمنوا به فباى كتاب بعده يؤمنون لانه لا كتاب بعده ولا نبي بعده ليرشد هم الى الحق، روى عن حذيفة رضي الله عنه قال سمعت رسول الله ﷺ مات رجل من بني اسرائيل من قوم موسىٰ عليه السلام فاذا كان يوم القيامة خداى پاک ملائکو ته وايي چي تاسي وګورئ چي په کتاب العمل کي دده يوه حسنه سته يفوذ بها اليوم، نو ملکي وايي چي موږ نه وينو په عمل نامه کي دده سواى له دې څخه چي په ګتمي کي دده نقش ده لا اله الا الله، خداى پاک وايي چي داخل يې کړئ جنت ته فقد غفرت له.

درويش وايي: چي صدق من قال: به بهانه مى بخشد و به بهانه مى بخشد.

وَيْلٌ لِّكُلِّ اَفَّاكٍ اَثِيْمٍ ۝۷

هلاک دی هر افاک چي ډېر درواغ وايي او کثير الاثم هم وي، راوي وايي چي دا آيت په نضر بن الحارث کي نازل سوی دی چي دا دوه وصفه په کمال سره په ده کي موجود وه.

سوال: ويل خو مبتداء ده او لکل آه يې خبر دی او سره ددې چي ويل نکره

محضه ده او د نکره محضه ابتدائیه خو نحات روا نه بولي؟

ځواب: ویل نکره محضه نه ده بلکې وصف ورسره محذوف دی بقرينة المقام ای ویل عظیم کما قالوا في مثل شر اهر ذاناب، فافهم.

يَسْمَعُ اٰيٰتِ اللّٰهِ تُتْلٰى عَلَيْهِ

دا جمله صفت دی د وهم د افاک.

فائده: دا صفت يې مضارع راوړی له دې سببه چي سمع د آيات د خدای ج چي تلاوت به يې پرده کېدی همېشه به وه د رسول اللهﷺ له خوا.

پوه سه: چي تتلى عليه حال دی له آياتو څخه.

ثُمَّ يُصِرُّ مُسْتَكْبِرًا كَاَنْ لَّمْ يَسْمَعْهَا ۚ فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ۝۸

عطف دی پر يسمع او ثم لپاره د استبعاد د اصرار پر کفر بعد سماع الآيات کرات و مرات (مستکبرًا) چي کبر به يې کاوه له ايمان راوړلو څخه.

فائده: کان مخفف د مثقل څخه دی اسم يې ضمير شان محذوف دی ای کانه ای شان دا دی چي ده به نه واورېده دغه آيات قرآنيه (فبشره بعذاب اليم) کلمه د فاء لپاره د سببيت ده يعني ما ذکر اولاً سبب دی د بشارت د عذاب اليم.

فائده: بشارت خو زېري ته د خوشالۍ د خبري وايي چي تاثير د خوشحالۍ په بشرت کي پيدا سي، نو د عذاب اليم خبر که څه هم د خوشالۍ خبر نه دی مګر دلته تحکمًا په خبر الحزن کي استعمال کړی چي د غم اثر يې پر بشرت پيدا سي.

وَاِذَا عَلِمَ مِنْ اٰيٰتِنَا شَيْئًا اتَّخَذَهَا هُزُوًا ۗ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ۝۹

او کله چي دده علم راسي (عطف دی پر يسمع) پر يو شي زموږ د آياتو اذا بلغه من القرآن، نو دوی هغه ونيسي، ضمير مؤنث په ''اتخذها'' کي راجع دی و شي ته ولي هغه عبارت دی له آياتو څخه ''هزوًا'' يعني پسخند، مصدر دی په معنی مهزوبها يعني بيله تفکره مبادرت و استهزاء ته وکړي ''اولئک'' دغه کل افاک الی اخيره دوی لره دی ذو اهانت عذاب په قبرو کي.

پوه سه: چي لفظ د کل که څه هم مفرد دی لکن په معنی د جمع دی نو ځکه يې ضمير د جمع ورته راجع کړی.

Scanned by CamScanner

مِنْ وَّرَآئِهِمْ جَهَنَّمُ

پوه سه: چي وراء په معنى د جهت دى چي د سړي سره برابر وي كه تر مخ وي او كه ترشا، ولهذا عد من الاضداد، نو دوږخ په مخ كي دى په دې اعتبار چي د كفارو هغه خواته مخ دى او وروسته دى په اعتبار ددې چي وروسته تراجالو ددوى دى.

وَلَا يُغْنِيْ عَنْهُمْ مَّا كَسَبُوْا شَيْئًا

او فائده نه كوي په رفع كي د عذاب هغه شيان چي دوى يې كسب كړى من الاموال والاولاد "شيئًا" هيڅ شى له عذاب څخه د خداى ﷻ.

وَّلَا مَا اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْلِيَآءَ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿١٠﴾

ولايغني عنهم هغه شيان چي دوى ګرځولي ماسوى له خداى څخه اولياء او دوستان چي يا عبارت د بتانو څخه دي باعتباره درسيانو څخه چي دوى د هغه په متابعت كفر او شرك مختاره كړى ؤ.

پوه سه: چي جمله د ولايغني الى اخيرها حال آخر ده له ضمير څخه د لهم في اولئک لهم "ولهم عذاب عظيم" دوى لره دى لوى عذاب يعني لايعلم مقداره الا الله په ورځ د قيامت كي حال آخر من الضمير المذكور.

هٰذَا هُدًى وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ لَهُمْ عَذَابٌ مِّنْ رِّجْزٍ اَلِيْمٌ ﴿١١﴾

دا قرآن هدايت دى، او هغه كسان چي كفر كوي په آياتو سره د رب ددوى، هغو لره عذاب دى له قسم څخه د سخت عذاب چي درد وركونكى به هم وي.

اَللّٰهُ الَّذِيْ سَخَّرَ لَكُمُ الْبَحْرَ

اسم جليل مبتداء موصول مع الصلة يې خبر دى يعني چي خداى ج په خپل قدرت درياب مسخر ګرځولى دى ستا د نفع لپاره (فاللام للنفع كما سيئاتي قريبًا) ومعنى التسخير چي سطح د درياب يې بنوى پيدا كړې چي لرګي او خاشې يې پر سر راپورته كوي او په هغه كي غوټې او آب بازي ممكنه ده.

لِتَجْرِيَ الْفُلْكُ فِيْهِ بِاَمْرِهٖ وَلِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿١٢﴾

چي چلېږي او رواني وي په ده كي كښتى يا كښتياني (لان لفظ الفلک

مشترک بین الواحد والجمع والفرق تقديري كما مر في التفسير الايوبي) ومعنى بامره بتسخيره "ولتبتغوا" چي تاسي طلب وکړئ په ذريعه د كښتيو من رزقه بالتجارة فيها او الغوص فيها لطلب اللؤلؤ والمرجان، يعني غوټې ووهئ تر مځکي پوري او ملغلري او مرجان ځني راوکاږئ او ښکار د ماهيانو پکښې وکړئ "ولعلكم تشكرون" ولكى تشكروا دا لوى نعمتونه چي په ذريعه د كښتيو يا د غوص يا د ښکاريې له دريابه تاسي تر لاسه کوئ.

فائده: جمله د الله الذي سخر لكم البحر مرتبطه ده بما سبق من آيات قدرته تعالى او په مابين کي جمل معترضه دي.

وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا مِّنْهُ

او مسخر يې کړځولي دي ستاسي لپاره، عطف على سخر السابق، هغه مخلوق چي په اسمانو کي دي من شمس وقمر والنجوم والماء والثلج وغيرها، او هغه څه چي په مځکه کي دي من الحيوانات بانواعها النافعة لكم ونبات من الاشجار وغيرها والمعدنيات والعيون والانهار "جميعًا" تاكيد دى يا حال دي يعني نفع يې ټوله وتاسي ته راجع ده "منه" حال دى له ما څخه اى سخرها جميعًا كائنة منه تعالى او يا خبر دى له محذوف څخه اى هي جميعًا منه تعالى.

إِنَّ فِي ذٰلِكَ لَآيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ⑬

يعني په دغه مذکوره شيانو کي هر آئينه ډېر آيات او دلائل د قدرت او د وحدت د خداى ج سته هغه قوم لره چي فکر وهي په عجائبو کي د صنع د خداى جل جلاله، نو هغه ايمان راوړي، البغوي رح روايت کړى دى چي قال ابن عباس وقتاده رض ان رجلاً من بني غفار شتم عمر رضي الله عنه په مکه کي، نو عمر رض قصد وکړى چي ګينګ يې کړي او جزاء د ښکنځلو ورکړي، فانزل الله تعالى.

قُلْ لِّلَّذِينَ آمَنُوا يَغْفِرُوا

ته ووايه يا محمد (صلى الله عليه وسلم) هغه کسانو ته چي ايمان يې راوړى دى چي بخښنه دي وکړي او عفو او صلح دي وکړي.

پوه سه: چي يغفروا كه څه هم مضارع دى لكن دلته په معنى د امر دى اى اغفروا.

لِلَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ اَيَّامَ اللّٰهِ لِيَجْزِيَ قَوْمًا بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۱۴﴾

وهو كسانو ته چي توقع نه لري او نه بيريږي، د ه وقائعه د خداى يا عذابه ولايتوقعون الاوقات التي وقتها لاعدائه اى لنصر المؤمنين عليهم وثوابهم، قال البغوي رح قال القرطبي والسدي نزلت في جميع اصحاب النبي ﷺ من اهل مكة لانهم كانوا في اذى شديد من المشركين قبل ان يؤمروا بقتال (چي دوى يعني مؤمنان نه وه امر سوي په قتال سره د كفارو) نو اصحابو و عليه الصلوة والسلام ته شكايت وكړى فانزل الله هذه الآية، وروسته دا آيت منسوخ سو په اية القتال سره "ليجزي" متعلق بقوله يغفروا "قومًا" يعني يجزي المؤمنين على صبرهم على اذية المشركين، او يا معنى داده چي جزاء وركړي كامله جزاء و كافرانو ته بالانتقام في الدنيا، او يا دا اړو ډلو ته جزاء وركړي چي ثواب دى مؤمنانو ته پر صبر باندي او جزاء وركړي د انتقام و كافرانو ته په اذيت د مؤمنانو "بما كانوا يكسبون" من الخير والشر.

مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ اَسَآءَ فَعَلَيْهَا ۘ ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ تُرْجَعُوْنَ ﴿۱۵﴾

كه څوك عمل صالح وكړي د خپلي فائدې لپاره دى لان نفعه راجع اليه، كه څوك بد عمل وكړي ضرر يې و ده ته راجع وي "ومن اساءآه" يعني وروسته چي تاسي مستحق وګرځېداست د ثواب يا د عقاب په دنيا كي تاسي به راجع كړه كيږئ و رب ته ستاسي فيجازي كلا منكم بعملكم ان كان خيرًا فخيرًا وان كان شرًا فشرًا.

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ الْكِتٰبَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ

پوه سه: چي كلمه د لام جواب د قسم محذوف دى.

ترجمه: په تحقيق موږ وركړى ؤ و بني اسرائيلو ته كتاب (اللام للجنس اى جنس الكتاب اى التورات على موسٰى ؑ والانجيل على عيسٰى ؑ و زبور على داؤد ؑ لان هؤلاء كلهم كانوا انبياء بني اسرائيل "والحكم" يعني په دوى كي اهل حكم من العلماء والملوك هم وه.

پوښتنه: تخصيص د نبوت يې په ذكر سره ولي وكړى؟

ځواب: لكثرة الانبياء فيهم.

وَرَزَقْنٰهُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ وَفَضَّلْنٰهُمْ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۶﴾

او موږ دوی ته رزق ورکړی د پاکو شیانو، ای المن والسلوٰی وغيرهما من الاطعمة اللذيذة الحلال "وفضلناهم" موږ تفضيل ورکړی و دوی ته په مراتبو سره د قرب الى الله "على العالمين" ای عالمی زمانهم لئلا يلزم تفضيلهم على امة محمد ﷺ، کريمه: کنتم امة اخرجت للناس الآية، ابن عباس رضي الله عنه وايي چي هيڅ څوک د دوی په زمانه کي اکرم على الله ولا احب الى الله نه ؤ تر دوی.

سوال: بني اسرائيلو خو ټولو مراتب د قرب الى الله نه درلودی، نو څرنګه يې ضمير ټولو بني اسرائيلو ته راجع کړی؟

ځواب: ارجاع الضمير اليهم باعتبار بعضهم وهم الانبياء عليهم السلام.

فائده: له دي آيت څخه دا معلومه سوه چي خواص البشر افضل دی تر خواص د ملکو لان خواص الملائکة داخلون في عالمي زمانهم.

وَاٰتَيْنٰهُمْ بَيِّنٰتٍ مِّنَ الْاَمْرِ

موږ دوی ته ورکړي وه دلائل واضحه يعني په امورو کي د دين بحيث يحصل لهم بکل مايجب به العلم حتى لهم العلم بمبعث رسول الله ﷺ، کريمه: يعرفونه کما يعرفون ابنائهم.

فَمَا اخْتَلَفُوْٓا اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ

نو دوی اختلاف نه دی کړی په امر کي د دين او کتاب خپل يا في امر محمد ﷺ، مګر نه وروسته تر دي چي دوی ته راغلی علم په حقيقت حال سره "بغيًا بينهم" ای عداوةً وحسدًا واتباعًا للهوٰی والشهوات والنفسانية لا علم مستند الى دليل کما ان الآئمة الاربعة من مجتهدی امة محمد ﷺ يعني الامام ابو حنيفة، الامام مالک، الامام احمد محمد بن ادريس الشافعي امام احمد بن حنبل رحمهم الله اما ما اختلفوا في فروع الدين طلبًا للحق او استناد په آيت قرآني سره، و ای من عبارته او من دلالته او من اشارته او من اقتضائه کما نين في اصول الفقه، يا په حديث نبوي سره وايي من اقسامه المختلفة کما بين في اصول الحديث، وبالجملة ليس الاختلاف بينهم لاتکبرًا ولا عنادًا ولا تعصبًا وهو العبادة القصوى لرب العالمين، والخدمت العليا للدين المبين.

تفریع: له دې ځخه دا معلومه سوه چي افتراق د یهودو د علماؤ په عقائدو (۷۱) فرقې ته و افتراق علماء النصارى في اصول الدين الى (۷۲) ده لو وكذا افراق امة محمد ﷺ ایضًا في باب العقائد الى (۷۳) فرقه لیس کلها مستند الى دليل شرعي بل هو باتباع الهوى في مقابلة النصوص القاطعة كالمعتزلة ذهبوا الى بعض العقائد الباطلة زعما منهم ان العقل كاف في كثير من العقائد كعقول الفلاسفة والمجسمة حيث يقولون الموجود لايكون الا جسمًا فالواجب تعالى جسم بناء على مثل المتشابهات القرآنية والحديثية يد الله فوق ايديهم اينما تكونوا فثم وجه الله، يداه مبسوطتان الى غير ذالک او بناء على الحسد والعناد كالروافض والخوارج الى غير ذالک، ولهذا قال رسول الله ﷺ ستفترق امتي (۷۳) فرقة كلهم في النار الا الناجية الى اخير الحديث الذي رواه البخاري وغيره.

إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِي بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۱۷﴾

په تحقیق ستا خدای به حکم وکړي فیصله به وکړي په مابین ددوی په ورځ د قیامت په هغو مسائلو کي چي د دوی پکښي اختلاف ؤ من امور الدين بالمواخذة والمجازات.

ثُمَّ جَعَلْنٰكَ عَلٰى شَرِيْعَةٍ

وروسته بیا موږ ته وګرځولې یا محمد (ﷺ) على طريقة حقة وصراط مستقيم چي د نورو رسولانو د شرائع سره موافق دی (الا في بعض فروع الدين)

پوه سه: چي على شريعة مفعول ثان دی د جعلنا.

مِّنَ الْاَمْرِ فَاتَّبِعْهَا وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸﴾

ای من امر الدين، پس ته متابعت وکړه یا محمد (ﷺ) د هغه شریعت حقة مستقيمة واصله الى رضى الرحمن في الدنيا والآخرة، او ته متابعت مه کوه د خواهشاتو زائغه ؤ د هغو کسانو چي دوی نه پوهېږي چي کفار د قریش دي، مظهري وايي چي خطاب خودي و نبي ﷺ ته دی او مراد یې امت دده دی انتهى.

درویش وايي: چي مبنى د قول د مظهري په نهي کي شرط امکان وقوعي دی او هغه امکان خو په عليه الصلوة والسلام کي نه ؤنو ځکه یې امت مراد کړی، لکن محققان پر دې مسلک دي چي شرط د نهي امکان ذاتي دی وهو لاينافي الامتناع

الوقوعي بلکې مظهري صراحةً ويلي دي چي خطاب د امت دی او د اهواء تفسير په خپله مظهري چي رؤساء د قريشو به د نبي ﷺ ته ويل ارجع الى دين ابائک فانهم کانوا افضل منک آه، نو دا مخاطبه د دوی پر تقدير بايد رؤساؤ د قريشو او امتيانو د عليه الصلوة والسلام دواړو کړی وای، او مظهري په ترجمه کي د آيت ويلي ای لاتبع امتک، او روح البيان او روح المعاني مخاطب په نهي عليه الصلوة والسلام خو ګرځولی دی دا خبره مسلمه ده چي امت تبعًا داخل دی لکن نه په اصل خطاب ورنه بيا خو بايد داسي ويل سوي وای ولا تتبعوا لکن اجماعًا ثابته ده چي نبي ﷺ چي د يو شي څخه نهي سي امت په طريق اولی نهي دی وهذا هو الدلالة الالتزامية.

إِنَّهُمْ لَن يُغْنُوا عَنكَ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا ۚ

دغه کسان چي تا و متابعت ته د دين د آباؤ را بولي، که يې فرضًا متابعت وکړې، نو هرګز نسي دفع کولای له تا څخه "من الله" ای من عذاب الله چي پر متابعت د دوی اهوا فرضًا خدای درکوي "شيئًا" هيڅ شی نه لږ نه ډېر، منصوب دی چي مفعول به دی د لن يغنوا او يا شيئًا مفعول مطلق دی ای شيئًا من الاغناء او کلمه د من لپاره د تبعيض ده ای بعض عذاب الله ومجموع الجملة علت ده نهی له متابعت څخه د اهوا د دوی.

وَإِنَّ الظَّالِمِينَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ ۖ

او بعض مشرکان د مکې دوستان د بعض دي ولي چي شرط د دوستی متجانست په شرک کي دی.

درويش وايي: چي مظهري دلته داسي ترجمه کړې ده فلا تتخذ انت منهم اولياء چي صريح مخاطب يې عليه الصلوة والسلام ګرځولی دی او د انت په ضمير سره يې دده مخاطبه تاکيد کړی دی، والله اعلم.

وَاللَّهُ وَلِيُّ الْمُتَّقِينَ ﴿١٩﴾

فاتخذه وليًا بالتقوى واتباع الشريعة الغراء النازلة من السمٰوات العلى.

فائده: په دې دوو جملو کي اشاره و دې ته ده چي مشرکان تا ته ضرر نه سي رسولای ولي دوی ظالمان يو د بله سره دوستان دي او خدای ج ولي د متقيانو دی

چي مخکښنه يې ته يې او څو مره دېر فرق دی د دې دوو ولايتو لانه بديهي ده چي د خدای ولايت قوي بلکې اقوی دی.

هٰذَا بَصَآئِرُ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُّوقِنُونَ ﴿٢٠﴾

هذا ای القرآن او اتباع الشريعة "بصائر" من اسباب البصيرة ای البصيرة في الدين "للناس" د خلګو لپاره چي خلګو ته لار د فلاح د دارينو وربښيي "وهدی" او لاربنوونه ده د نجات د ضلالت څخه "ورحمة" او رحمت دی د خدای له خوا د هغه قوم لپاره چي پر دې يې يقين وي چي دا قرآن د خدای کتاب دی.

اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ

عطف علی هذا بصائر و کلمة ام منقطعة په معنی د بل، همزه لپاره د انکار دی له داسي حسبان څخه، او يا لپاره د تويبخ دی علی ذالک الحسبان او کلمة د بل لپاره د اضراب ده عن ايقانهم بان القرآن بصائر وهدی يعني انهم لاقنون ذالک.

اجْتَرَحُوا السَّيِّاٰتِ اَنْ نَّجْعَلَهُمْ كَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۙ

چي دوی کسب کوي د کبائرو ګنهو، دا چي زه به دوی ګرځوم لکه هغه کسان چي ايمان يې راوړی وي او اعمال صالحه يې هم کړي وي، دا آيت په يو څو نفرو کي د مشرکانو د مکې نازل سوی دی چي دوی به مؤمنانو ته ويل ان کان ماتقولون ای البعث بعد الموت حقًا موږ به تر تاسي بالا يو لکه په دنيا کي چي په جاه، جلال او اموالو تر تاسي بالا يو.

سَوَآءً مَّحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ ۗ سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ﴿٢١﴾

برابره ده (دا کلمه بدل ده کالذين آمنوا بدل اشتمال) "محياهم ومماتهم" فاعل دی لسواء والضمير ان للموصول الاول وان کان الضميرين للموصول الثاني سواء حال من الموصول الثاني وضمير الاول فافهم جدًا وهذه الجملة مستأنفة والمعنی المؤمن مؤمن محب الله في الدنيا والآخرة والکافر مبغوض لله في الدنيا والآخرة "ساء مايحکمون" بد دی حکم د دوی يعني الحکم بالمساوات بين الفريقين.

درويش وايي: چي په صحيح حديث کي راغلي القرآن يدلکم علی دائکم (قرآن مبارک دلالت کوي ستاسي پر مرض ستاسي) و دوائکم (او پر دوا د مرض

ستاسي) اما دائكم فالذنوب (ستاسي مرض ګنهونه دي، اى على تفاوت درجاتها) أما دوائكم فالاستغفار، واعظم الذنوب الشرک وعلاجه التوحيد، اى كلمة لا اله الا الله (اى اقرارًا باللسان وتصديقًا بالقلب يعني لا كالمنافق يقربها باللسان وينكرها بالقلب، شيخ سعدي قدس سره وايي:

گر کسی وصف او زمن پرسد ...... بیدل از بی نشان چه گوید باز
عاشقان کشتگان معشوقند ...... بر نیاید ز تشنگان اواز

وَخَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ

پيدا كړي دي خداى ج اسمانونه او مځکه بالحق اى متلبسة بالحق اى ليدل على وجوده و وحدته وقدرته وسائر صفاته الكمالية يعني نه دى خلق د علوياتو چي اسمانونه دي مع مافيها من الشمس والقمر والنجوم وغيرها، والسفليات چي مځكه مع ما عليها من الحيوانات والاشجار والنبات وغيرها على سبيل اللهو واللعب متلبسة بالحق المتقضى لانتصار المظلوم من الظالم والتفاوت بين المسئ والمظلم وهذا الانتصار اذا لم يكن في المحيا لابد انيكون في الممات بعد المحشر والبعث.

درويش وايي: وهذا الدليل على قوله ام حسب الذين الى اخيره.

وَلِتُجْزٰى كُلُّ نَفْسٍۢ بِمَا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۲۲﴾

عطف دى على قوله بالحق لانه في معنى العلة كالمعطوف عليه، ترجمه: چي جزاء ورکړه سي هر نفس ته که محسن وي او که مسئ په هغه سره چي د کسب کړى وي من خير او شر "وهم لايظلمون" او پر دوى ظلم نه کړه کيږي له جانبه څخه د خداى ج چي يا دي حسنات ورکم كړي يا په سيئاتو كي بالابود راولي، ولي چي خداى ج پر بندګانو ظلم يو پر بل حرام ګرځولی دی نو په خپله به ظلم څرنګه كوي؟ مسروق رح د تميم الداري رضي الله عنه حال داسي بيان کړى دى چي ده يو شپه د مقام ابراهيم په نيز لمونځ كاوه ودې آيت ته چي ورسېدى ام حسب الذين اجترحوا السيئات ان نجعلهم كالذين آمنوا و عملوا الصالحات الآية استغراق ورپېښ سو چي دغه آيت يې تر سهاره پوري په ركوع، قيام، سجده او قعده كي وايه.

درويش وايي: چي په دې مناسبت زه په خپل هجره كي چي نه نر او نه ښځه

راسره سته او دا حجره زما لپاره کاهي حجرة الاحزان وګرځي چي خپل تېر سوي ګنهونه راپیاد کړم، او کاهي دار السرور راته وګرځي چي د خدای پاک عمومي رحم ته خصوصًا پر عمر رسیده خلګو چي عمر يې اته نيوي (۹۸) کاله وي راپیاد کړم، نو دا دوه بیته څو واره تکرار کړم:

الهی عبدک العاصی اتاکا .... مقرًا بالذنوب وقد دعاکا

فان ترحم فانت لـذاک اهل .... وان تطرد فمن یرحم سواکا

د زړه في الجملة تسلي په وکړم، د تاریخ په پاڼو کي فقیر دا قصه لیدلې ده چي یو وخت یو ځوان بنده د خدای ج چي صاحب الحال ؤ پیاده د حج پر لار روان ولاړی، نو د سفر په اوږدو کي یو سپين ږيری عالم هم ورسره ملګری سو یعني چي هغه هم حج بيت الله شریف ته راهي ؤ ځوان په لار کي د شيخ رفيق ډېر خدمت کاوه، د او داسه تر اوبو پوري او د کالو تر پرېولو پوري تر څو ميقات ته ورسېدل، ځوان ژر ژر خپل د تلبيه او دعاګانو څخه فارغه کړی بيا يې د شيخ اوبه او احرامونه ورسم کړه شيخ دوګانه رکعته وکړه لبيک اللهم لبيک آه يې شروع کړی هاتفي اوازيې واورېدی لا لبيک ولا اقبل بالرحمة عليک، ځوان دا هاتف واورېدی پر هغه کړي خدمت باندي پښېمانه سو، لکن په دې کي د ځوان شک ؤ چي شيخ به څه اورېدلي وي او که نه، نو پوښتنه يې ځني وکړه چي شيخه تا څه واورېده که نه؟ شيخ ورته وويل هو زويه وامي ورېده، نو ځوان ورته وويل چي بالا نو سفر الحج ته ولي دوام ورکوې خو د خدای جل جلاله له خوا جواب درکړه سو، سپين ږيري وژړل اوښکي يې راتوی سوې و ځوان ته يې وويل چي اول جواب نه دی بلکې پنځوس (۵۰) واره پر دغه ميقات جواب سوی يم لکن که بل خدای وای نو به مي هغه ته رجوع کړې وای، خدای دی يو خدای چي تر قيامته مي جوابوي مخ نه ځني اړوم، شيخ چي دا اوښکي د مخه توی کړې درياب د رحم په جوش راغلی هاتفي اوازوسو چي ستا پنځوس (۵۰) حجه مقبول سوه او ثواب يې د حج اکبر دی، انه تعالی علی کل شیئ قدير.

اَفَرَءَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ

الفاء للعطف علی محذوف تقديره اتهتم ان تهديهم، نو ستا رايه ده چي هغه څوک چي معبود يې خواهش نفسي يعني د هوا نفساني متابعت لکه عابد چي

معبود کوي خوښ وي.

پوه سه: چي اتخذ مع ما عطف عليه يعني واضله الله على علم علقت ارئيت عن العمل فمن يهديه جزائه وهواه مفعول اول لاتخذ والهه مفعول ثان، ذکر البغوي قول سعيد بن الجبير رحمه الله انه کانت العرب يعبدون الحجارة والذهب والفضة يعني الاصنام المتخذة منها فان وجدوا افضل من الاولى رموه وکسروه وعبد الاخر فنزلت هذه الآية، وقال الشعبي رحمه الله انما سمى هوى لانه يهوى صاحبه في النار (نو هوى په معنى د اچولو دى) وقال ابن عباس رضي الله عنه والحسن وقتاده رحمه الله وذالک ان الکافر اتخذوا دينه ما يهويه فلا يهوى شيئا الا رکبه لانه لايؤمن بالله ويخافه ولا يحرم ما حرم الله.

وَأَضَلَّهُ اللَّهُ عَلَىٰ عِلْمٍ وَخَتَمَ عَلَىٰ سَمْعِهِ وَقَلْبِهِ وَجَعَلَ عَلَىٰ بَصَرِهِ غِشَاوَةً

يعني چي خداى يې په علم ازلي کي په ضلال او فساد استعداده دده جزوي جرود محلقه ضالا، او خداى مهر لګولى ؤ په غوږو دده چي حق يې نه اوريدى او پر زړه دده چي فکر يې په آياتو کي د خداى پر کار نه اچاوه حتى يعرف حقية دين الاسلام مع تائيد بالمعجزات الباهرات، او خداى ګرځولي وه پر سترګو دده پرده چي حق او معجزات يې نه په ليدل.

پوه سه: چي د ختم پر سترګو او پر زړه او پر بصر د غشاوة ظاهري معنى نه ده لکون الکفرة سامعين ظاهرًا متفکرين بالقلب رائين بابصارهم لکن چونکه مقصود او حکمة الهى ددې درو قووو او په انسان داؤ چي په غوږو سره حق واوري بسمع القبول او په زړه سره تفکر په شان د رسول او دده په امين والي کي فکر وکړي او په سترګو دده و معجزاتو ته په نظر د عبرت وګوري لکن چونکه دغه حواس د حکمت سره دده برابر نه کړه استعمال جعلهم الله تعالى کانهم ناقدين لتلک الحواس.

فَمَن يَهْدِيهِ مِن بَعْدِ اللَّهِ ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٢٣﴾

نو څوک دی چي دوى ته هدايت او د لار حق ښوونه وکړي، استفهام لپاره د انکار دى يعني لا احد ان يهديهم بعد اضلال الله لهم في الازل يعني ازلي ګمراه ته څوک هدايت نسي کولاى که ټوله واعظان ورته جمع سي "افلا تذکرون" آيا تاسي فکر نه وهئ، ابن جرير او ابن المنذر د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت کړى دى چي اهل جاهليت به ويله انما يهلکنا مرور الليل والنهار والشهور والسنين.

وَقَالُوامَاهِيَ اِلَّاحَيَاتُنَا الدُّنْيَانَمُوْتُ وَنَحْيَا

ويل به کفارو د قريشو نه دی ژوند هيڅ شی يعني التي نحن فيها يعني که دا حيات چي په موت بدل سي بيا حيوة نسته چي معنا يې انکارؤ د بعث بعد الموت څخه "نموت ونحيا" مرو په بعض اوقاتو کي او ژوندي به يو په بعض اوقاتو کي.

سوال: دوی خو نموت د مخه کړی وروسته يې نحيا وويل نو داسي نه سوه معلومه چي دوی حيوة بعد الموت نه وايي؟

ځواب: لان الواو لمطلق الجمع بلا دلالة على الترتيب والتراخي مثلاً يو سړی داسي ووايي جائني زيد و عمر او سره ددې چي عمر د مخه راغلی وي دا ترکيب صحيح دی.

وَمَايُهْلِكُنَآاِلَّاالدَّهْرُ

او موږ نه هلاکوي مګر زمانه يعني چي په مرور د زمانو سړی زوړ سي نو مړ سي، چي حاصل ددې قول ددوی انکار دی د واجب صانع العالم څخه.

فائده: لفظ د دهر په اصل کي مدة د بقاء عالم د وجود ده الى انقضائه وروسته بيا دا لفظ په هره مده مديده کي استعماليږي بخلاف الزمان فانه يطلق على مطلق المدة قليلة كانت او كثيرة.

وَمَالَهُمْ بِذٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ

نسته دوی لره پر ما قالوا هيڅ علم، ولي چي علم خو يقين دی يقين خو يا په هدايت سره حاصليږي کالواحد نصف الاثنين والاربعة زوج الى غير ذالک يا په دليل قطعي المقدمات سره ولا شيئ من ذالک عندهم بل الدلائل العقلية والنقلية متواترة بوجود الصانع وان شئت الدلائل العقلية فارجع الى كتب علم الكلام وان شئت الدلائل النقلية فارجع الى علم الكلام المجيد والاحاديث النبوية.

اِنْ هُمْ اِلَّا يَظُنُّوْنَ ﴿۲۴﴾

نه دي دوی مګر صرف ظن کوي يعني حکم بلا علم وبلا دليل، دا جمله تاکيد د ما سبق ده يعني مالهم به من علم.

وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ

او چي کله تلاوت وکړل سي پر کفارو د مکې د آياتو زموږ چي عبارت د قرآن

ثخه دی په داسي حال کي چي واضح الدلالة دی پر خلاف د عقائدو ددوی یعني البعث بعد الموت.

مَّا كَانَ حُجَّتَهُمْ إِلَّآ أَن قَالُوا۟ ٱئْتُوا۟ بِـَٔابَآئِنَآ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٢٥﴾

نه دی دلیل ددوی هیڅ شی مګر دا چي وایي په ابطال کي د بعث بعد الموت دوی چي تاسي را ژوندي کړئ پلرونه او نیکه ګان زموږ که تاسي رشتیا وایاست چي بعث بعد الموت سته، شرط مستغن عن الجزاء بدما قبله.

سوال: قرآن مبارک ددوی باطلو خبرو ته حجت ځرنګه وو ایه مع ان الحجة ما یترکب من المقدمات الیقینیة و مقدمات دلیلهم باطلة و همیة؟

ځواب: حجة یې په زعم ددوی وایه چي دوی په ځای کي د حجت استعمالاوه مع انه لایلزم من عدم حصول الشي حالاً لکه احیاء د آباؤ ددوی امتناعه مطلقًا.

قُلِ ٱللَّهُ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يَجْمَعُكُمْ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ

ووایه ته الله تاسي را ژوندي کوي ای وقت شاء، بیا تاسي ته مرګ درکوي اذا اراد کما دلت علیه الحجج، بیرته به مو سره جمع کړي یعني ژوندي به مو کړي لپاره د جزاء په ورځ د قیامت.

پوه سه: چي مظهري رح وایي چي لفظ د الی زائد دی.

درویش وایي: چي د زیادت چندان وجه نه ده بلکې عند الضرورة باید تګ ورته وسي خصوصًا في القرآن لان الحروف الجارة تجیئ بعضها مقام بعض وههنا یمکن ان الی بمعنی اللام ای لیوم القیامة او في یوم القیامة.

لَا رَيْبَ فِيهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢٦﴾

هیڅ شک نسته د قیامت په ورځ کي (لانه موعود الله و موعود الله لابد ان یحقق والعقل لایأباه لان من یقدر علی الابداء یقدر علی الاعادة والحکمة یقتضی المجازات) لکن ډیر خلک چي کفره دي په قدرت د خدای جل جلاله نه پوهیږي لقلة تفکرهم وقصور نظرهم وقیاس قدرة الله الکاملة غایة الکمال علی قدرتهم النافعة غایة النقصان.

وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَّخْسَرُ الْمُبْطِلُوْنَ ﴿۲۷﴾

هذا بيان تعميم قدرة الله عزوجل بعد تحقيقها، خداى لره ده بادشاهي د اسمانو او د مځکي، او هغه ورځ چي قائم سي قيامت ظاهر سي خسران د هغو کسانو چي په صدد کي د ابطال د دين الاسلام وه، چي د خسران ظهور يې دا دى چي دوږخ ته ډکېل سي.

پوهسه: چي فقير ترجمه په ظهور د خسران وکړه لان خسرانهم يکون في الدنيا ايضًا.

وَتَرٰى كُلَّ اُمَّةٍ جَاثِيَةً ۫

ته به وويني اى مخاطب غير معين هر امة "جاثية" پر زنګنو، البغوي رح وايي چي جثى يا جثو پر زنګنو تاسي ته وايي لکه يو مخاصم چي په نېز د حاکم کښېني په انتظار د قضاء، د امير المؤمنين علي رضي الله عنه روايت دى چي په اول کي د سورة الحج ېې بيان تېر سوى دى، د سلمان فارسي رضي الله عنه څخه روايت دى چي په ورځ کي د قيامت يو ساعت دى چي طول يې لس کاله دى چي پراته وي خلګ په هغه ساعت کي جثات على رکبهم، حتى ابراهيم عليه السلام نارې وهي نفسي لا اسئلک غير نفسي .. بيت:

بجاى که دهشت خورد انبياء ..... تو غذرى گناه را چه دارى بيا

او بعض مفسرين وايي چي د کل امة جاثية معنى داده اى مجتمعة من الجثوة وهي الجماعة په صحيح حديث کي راغلي دي چي احمد يې روايت کړى دى له عبد بن ثانيه څخه قال رسول الله ﷺ کاني اراکم بالکرم حول جهنم جاثين، قال الحافظ ابن حجر رح المراد بالکرم المکان العالي الذي عليه محمد ﷺ، سعدى قدس سره ميگويد:

درآن روز کزفعل پرسند وقول ..... اوالعزم را تن بلرزد زهول.

كُلُّ اُمَّةٍ تُدْعٰۤى اِلٰى كِتٰبِهَا ؕ اَلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۸﴾

هره ډله بلل کېږي و خپل کتاب ته يعني صحيفه د اعمالو خپل ته کريمه: اقرء کتابک کفى بنفسک اليوم عليک حسيبًا، له انس رض څخه روايت دى عن النبي ﷺ قال الکتب (يعني عملنامې) لاندې تر عرش دي، فاذا کان الموقف (چي پر ځاى د حساب ودرېږي خلګ) بعث الله الريح فتطيرها بالايمان والشمائل يعني مؤمنانو ته په راسته لاس کي واقع کېږي او د کفارو دا په چپه لاس کي ورکړه کېږي د هري

عمل نامې په اول کي هغه د مخني آيت نوشته وي اقرأ كتابک الآية.
"اليوم تجزون آه" صفت ثاني لقوله كل امة كلمه د ما موصوله ده والعائد محذوف اى ما كنتم تعملونه، ترجمه: نن ورځ تاسي ته جزاء در كول كېږي د هغو شيانو يعني هغه عملونه چي تاسي يې عمل كاوه د هغو كارو ان خيرًا فخير وان شر فشر.

هٰذَا كِتٰبُنَا

دا زموږ ليکلي کتابونه دي يعني صحيفه د عملو ستاسي چي كرام كاتبين ليکلي دي زموږ په امر، نو چونکه دا عملنامې ملكو ليکلي وي د خداى ج په امر نو ځکه يې خداى ج نسبت و ځان ته وكړى يعني كتابنا.

يَنْطِقُ عَلَيْكُمْ بِالْحَقِّ ۚ إِنَّا كُنَّا نَسْتَنْسِخُ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۹﴾

اى يشهد عليكم "بالحق" په رښتيا سره بلا زيادة السيئة ولا نقصان الحسنة كريمه: لاظلم اليوم، موږ طلب د كتابت كاوه د كرام كاتبينو څخه د نوشتې د هغو عملونو چي تاسي به كوله، نو كلمه د ما موصوله ده عائد يې محذوف دى "تعملون"

فَأَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَيُدْخِلُهُمْ رَبُّهُمْ فِيْ رَحْمَتِهٖ ۚ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْمُبِيْنُ ﴿۳۰﴾

كلمة الفاء للتفصيل احوال العباد هر چي هغه كسان دي چي ايمان يې راوړى وي يعني پر وحدانيت د معبود او پر نبوت د نبي الوقت او عملونه د صالحاتو يې هم كړي وي من الفرائض و الواجبات والسنن والمستحبات من الاعمال والاقوال، نو داخلوي دوى رب د دوى په خپل رحمت كي چي حاصل د رحمت يې جنت دى (اى على تفاوت اعمال العمال) "ذالک هو الفوز المبين" دغه دخول د رحمت كاميابي ده ښكاره.

وَأَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۗ أَفَلَمْ تَكُنْ اٰيٰتِيْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ

او هر چي هغه كسان دي چي په دنيا كي يې كفر كاوه يعني فيقال لهم، آيا نه وه آيات زما په كتب منزلو كي چي تلاوت يې كېدى تاسي ته.

پوه سه: چي همزه لپاره د انكار دى او انكار د نفي اثبات دى د نفي وكلمة الفاء للعطف على محذوف تقديره الم يأتيكم رسلي فلم تكن تتلى الخ فحذف فيقال لهم والمعطوف عليه للفاء اكتفاءً بالمقصود واعتمادًا على القرائن

فَاسْتَكْبَرْتُمْ وَكُنْتُمْ قَوْمًا مُّجْرِمِينَ ﴿٣١﴾

تاسي روی ګرداني وکړه او تاسي واست چي عادت ستاسي کفر او جرمؤ او د اياتو څخه انکار کما هو عادة بنی نوعکم.

وَإِذَا قِيلَ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ وَالسَّاعَةُ لَا رَيْبَ فِيهَا

او چي کله وويل سول تاسي ته، عطف على استکبرتم، په تحقيق وعده د خدای ج يعني بعث بعد الموت "حق" يعني کائن لا محالة او قيامت چي دی شک نسته په راتګ کي د هغه، ولي چي په وعده او اخبار کي د خدای ج خلاف محال دی.

قُلْتُمْ مَّا نَدْرِي مَا السَّاعَةُ إِن نَّظُنُّ إِلَّا ظَنًّا وَمَا نَحْنُ بِمُسْتَيْقِنِينَ ﴿٣٢﴾

تاسي به ويل ايها الکفار الزنادقة من غاية عتوکم (سرکښي ستاسي) چي موږ نه پوهيږو چي ساعت يعني قيامت څه شی دی يعني د تعجب له لاري وايا ست.

پوښتنه: نظن خو بې مصدر ده ظن بل احتمال نه لري نو دا خو استثناء د شي د نفس څخه سوه وهو لايجوز؟

ځواب: مفسرين وايي چي اصل کلام داسي ؤ ما نحن بحال من الاحوال الا نظن ظنًا، او بعض مفسرين وايي چي تنکير د ظنًا لپاره د تحقير دی، فالمعنى ان نظن الا ظنًا حقيرًا لان الظن مقول بالتشکيک لان بعض الظنون قريب الى مرتبة العلم وبعض الظنون قريبة الى درجة الوهم.

"وما نحن بمستيقنين" موږ نه يو چي پر ساعت يقين ولرو دا جمله تاکيد د نفي د ظن ده.

وَبَدَا لَهُمْ سَيِّئَاتُ مَا عَمِلُوا

ای ښکاره سوه دوی ته جزاء د سيئاتو (بحذف المضاف) د عملو ددوی په دنيا کي.

سوال: ښکاره والی د جزاء د سيئاتو د ماعملوا في الدنيا خو په آخرت کي ده نو د بدأ په صيغه د ماضي څه توجيه ده؟

ځواب: د مستقبل متيقن الوقوع څخه په قرآن کريم کي ډېر ځايونه په ماضي سره تعبير راغلی دی لانه بمنزلة الماضي في التحقيق.

وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۳۳﴾

اى نزل (توجيه التعبير بالماضي قد مر قريبًا) اى جزاء استهزائهم چي دوی په دنيا کي استهزاء کول، او دا هم احتمال سته چي د حاق څخه دي مراد دوږخ وي يعني احاطه وکړه او نازل سو اور د دوږخ پر دوی چي په هغه اور به دوی استهزاء کول يعني انبيا عليهم السلام به يې ذکر ورته وکړی دوی به پسخند په واهه.

درويش وايي: چي هغه دوهم احتمال ددې وروسته آيت سره ډېر سمون لري يعني.

وَقِيْلَ الْيَوْمَ نَنْسٰىكُمْ كَمَا نَسِيْتُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا

وويل سي يعني د خداى جل جلاله له خوا څخه په واسطه د ملکو، نن ورځ موږ تاسي پرېږدو يعني په عذاب کي د اور لکه د سړي چي يو شی يو ځای هېر سي هوري پاته سي (نو اطلاق د نسيان مسامحة دی) "کما نسيتم لقاء يومکم هذا" اى کما ترکتم ملاقات ددې ورځي د قيامت چي تياری ددې ورځي لپاره مو نه کاوه په ايمان راوړو سره په دنيا کي.

پوه سه: چي اضافت د لقاء ويوم ته اضافت دی و ظرف ته، والحقيقة يوم لقاء ربکم في هذا اليوم او يوم لقاء جزاء اعمالکم في هذا اليوم.

وَمَاْوٰىكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿۳۴﴾

ځای ستاسي د قرار اور دی، نسته ستاسي کومک کونکی چي له دې عذابه مو خلاص کړي، نه ستاسي بتان چي جمادات دي او نه انبياء عليهم السلام چي ستاسي شفاعت دي وکړي او نه ملائکه وغير ذالک.

فائده: دا دوې جملې يا عطف دي پر مقول د قيل يا حال دي له مفعول څخه د ننساکم.

ذٰلِكُمْ بِاَنَّكُمُ اتَّخَذْتُمْ اٰيٰتِ اللّٰهِ هُزُوًا

دا ترک ستاسي په عذاب مؤبد کي "بانکم" په دې سبب دی چي تاسي اتخذتم ايات الله "هزوًا" مصدر دی په معنی د مهزو به دی يعني تاسي به په هغو آيتو د قرآن چي بيان د دوږخ به پکښې ؤ پسخند واهه او فکر مو نه پکښې واهه او سره ددې چي راوړونکی د قرآن يعني النبي صلى الله عليه وسلم مؤيد بالمعجزات الباهرات ؤ.

وَغَرَّتْكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ۚ فَالْيَوْمَ لَا يُخْرَجُوْنَ مِنْهَا وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ ﴿۳۵﴾

او تاسي غولولي واست ژوند د دنيا او شهوات د دنيا او مال او منال د دنيا حتی شيطان غرور په زړو کي دراچولی ؤ چي بل ژوند نسته، نو ننه ورځ نه خارج کېږي دوی له اور څخه "ولاهم يستعتبون" الاستعتاب الاسترضاء يعني نه طلب د رضی د خدای اوس يعني يوم القيامة، دوی دي اوس خدای ج راضي کړي په توبه سره ولي وخت د توبې تېر سو اوس وخت د جزاء دی، وفي الحديث قال رسول الله ﷺ لا بعد الموت من مستعتب يعني ليس بعد الموت نسته وروسته تر مرګ رضا د خدای ج طلبونکي لانها بالاعمال وقد انقضت زمانها تېره سوه زمانه د عملو.

فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَرَبِّ الْاَرْضِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۳۶﴾

خدای لره حمد دی چي وفا يې په وعده د مؤمنين او مکذبينو سره وکړه "رب السمٰوات" بدل دی د لفظ الله څخه يعني چي خالق او مالک د اسمانو دی او چي مالک او خالق دی د مځکي (يعني مع ما عليها و ما فيها) "رب العالمين" تعميم دی وروسته تر تخصيص.

فائده: لفظ د رب يې مقرر راوړی لان ربوبيته تعالی لکل شيئ نعمة مستقلة دالة على كمال قدرته تعالى وذكر العاطف بين السمٰوات والارض لتغاير ما بينهما، وترک العاطف في رب العالمين لان السمٰوات والارض معظم افراد العالم نو ګويا سمٰوات والارض عين عالمين دي.

وَلَهُ الْكِبْرِيَآءُ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۖ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۳۷﴾

او دده لپاره کبرياء يعني اثار د غاية عظمت او د نهايت قدرت دده سته په اسمانو کي من الشمس والقمر والنجوم وغيرها او په مځکه کي من الحيوانات والاشجار والنباتات وغير ذالک مما لا يعلم جميعًا الا الله "وهو العزيز" خدای دی غالب پر ما اراده څوک يې مانع د مشيت او ارادې نسي کېدای "الحكيم" په هر شي کي حکمت لري او عبث کار نه کوي.

درويش وايي: چي بحمده تعالی وحسن توفيقه تفسير د سورة الجاثية په تفسير ايوبي کي پر ځلور بجې د ماپښين د ورځي د جمعې مبارکي پر لس د شعبان المبارک سنه (١٤٣٢) هـ ق پای ته ورسېدی ومع ذالک جزء ٢٥ اليه يرد هم پايته ورسېده، وروسته سورة الاحقاف شروع کېږي ان شاء الله العزيز ومع ذالک پاره او جزء ٢٦ حم شروع کړه کېږي.

درويش وايي: چي فقير په دې تفسير فخر نه کوم لانه قد ورد في الحديث الصحيح ان الله قد يؤيد هذا الدين بالرجل الفاجر فلعل اکون ذالک الرجل الفاجر، لکن دا وايم:.. که فاسق يم که فاجريم ... پر تفسير باندي مين يم

روز محشر هر که آيد تصوير جانان دربغل

من نيز حاضر ميشويم تفسير قرآن دربغل

يا الله يا الله يا الله هذا التفسير منک واليک، يوه لويه رابطه په دې تفسير کي فقير د سيد المرسلين شفيع المذنبين ﷺ لري چي هر ځای چي د رسول کريم ﷺ ذکر په اوږدو کي د دې تفسير راغلی دی په پوره ﷺ سره فقير بدرګه کړی دی يعني په اشاره د ﴿يا صلعم يې کفايت نه دی کړی، اميد د فقير دادی چي امکان لري چي دا به د فقير سبب د شفاعت د شفيع المذنبين ﷺ وګرځي.

ع:... با کريمان کارها دشوار نيست

او په صحيح حديث کي راغلي دي چي عليه الصلوة والسلام ووېل: من صلی علي (که چا درود ووايه پر ما په يو کتاب کي) لايزال الملائکة يستغفرون له ما دام اسمي في ذالک الکتاب (همېشه به ملائکه طلب د بخښني کوي د خدای ﷻ څخه د دغه مصلي لپاره تر هغو چي نوم زما په هغه کتاب کي وي)

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ وَعَلٰى آلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سکين او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ٠٧٤٩٨٤٩٥٦٩

بسم الله الرحمن الرحيم

الجزء السادس والعشرون

حم ٢٦

تفسير ايوبي حنفي

حضرت مولانا محمد عبيد الله الأيوبي

الحنفي النقشبندي القندهاري

مكتبة القراءة والتجويد

كاسي روڈ كوئٹہ بلوچستان

Scanned by CamScanner

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ وَعَلٰى آلِهٖ وَصَحْبِهٖ اَجْمَعِيْنَ.

اما بعد: درويش وايي چي كه څه هم د جزء (۲۵) تفسير په خير او عافيت سره پای ته ورسېدی، لكن فقير ابتداء د تفسير د جزء (۲۶) وځنډاوه و ورځي ته د يكشنبې تبرگا يخلق الله عزوجل چي ده ابتداء د خلق الارض والسماء د احد له ورځي څخه شروع كړی ؤ، نو اوس ورځ د يكشنبې د ماپښين درې بجې د شعبان د مياشتي دوولسم تاريخ چي سنه (۱۴۲۳) هجري ده، نو شروع په دې ډول ده.

سُوْرَةُ الْاَحْقَافِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ خَمْسٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَّثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّاَرْبَعُ رُكُوْعَاتٍ

حٰمٓ ﴿۱﴾ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ﴿۲﴾

پوهـه سه: چي د متشابهات مقطعاتو د قرآن كريم د اختلافاتو بيان په اول كي د تفسير بقرة تېر سو خو مختاره د اكثر المفسرين″ داده چي دا اسرار د قرآن عزيز دی بناء على الوقف اللازم على قوله تعالى في حقها وما يعلم تأويله الا الله ط، واليه ذهب امام الائمة ابو حنيفة رحمه الله وروسته د آيت ترجمه داده چي نزول په تدريج د كتاب يعني چي مشتمل دی پر دې سورة يعني القرآن الكريم له جانبه څخه د الله عزوجل چي هغه غالب دی يعني چي يو شي ته اراده وكړي څوك يې مانع نسي كېدای او خاوند د حكمت په خپل مخلوق كي عبث كار نه كوي يعني كه يې څوك په حكمت پوهېږي او كه نه پوهېږي.

پوهـه سه: چي تنزيل الكتاب مبتداء ده او من الله العزيز العليم يې خبر دی په دې كي رد دی پر اهل مكه چي دوی به ويل چي قرآن مجيد عليه الصلوة والسلام له ځانه جوړوي، او بعضو به ويل يعلمه بشر، او دا هم احتمال سته چي تنزيل الكتاب آه خبر د مبتداء محذوفي وي ای هذا تنزيل الكتاب آه.

فائده: تنزيل چي باب د تفعيل دی لپاره د تدريج په كار كي چي قرآن مبارك هم پر عليه الصلوة والسلام تدريجًا نازل سوی دی په (۲۳) كاله زمانه كي د نبوت

او د قرآن په باب د انزال لفظ هم راغلی دی خو هغه باب د افعال يې بولي چي په عربي کي دفعةً واحدة وکړل سي هغه ته وايي لکه تورات او انجيل چي دفعةً نازل سوی دی، نو قرآن کريم ته لفظ د انزال استعمالول هم صحيح دی، ولي چي قرآن کريم د لوح محفوظ څخه په يوه وار جبرئيل نسخ کړی دی او په بيت العزة د اول اسمان يې محفوظ ايښی دی، له هغه ځای څخه تدريجًا بيا نازل سوی دی.

مَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ وَاَجَلٍ مُّسَمًّى

موږ نه دي پيدا کړي اسمانونه او ځمکه او په منځ کي د اسمانو او ځمکي چي کائنات الجو يې بولي لکه وريځ صاحقه، پيلبو وغيرها الا متلبسًا بالحق چي دليل دی پر وجود د صانع قديم حکيم وعلى البعث بعد الموت لاجل المجازات کما يقتضيه الحکمة "واجل مسمى" ای بتقدير اجل مسمى چي پر دې تقدير به اسمانونه و پای ته ورسيږي.

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَمَّآ اُنْذِرُوْا مُعْرِضُوْنَ ۝۳

يعني کفار مکة وغيرهم چي دوی په بېرول کيږي.

پوه سه: چي که ما مصدريه سي نو معنى يې عن الانذار دی او که ما موصوله سي نو عائد يې محذوف دی تقديره عما انذروا به في القرآن يعني عذاب د ورځي د قيامت اعراض کونکی دی يعني لايتفکرون فيها ولايستعدون لها چي ايمان يې راوړی وای سره ددې چي ورځ د قيامت خو له ممکناتو څخه ده او واجب الوقوع د سمعًا بشهادة المعجزات على صدق المخبربها وهو رسول الله ﷺ او د بتانو عبادت کوي مع عدم الدليل النقلي والعقلي على صحة عبادتها بلکې دلائل عقليه والنقلية قائمة على عدم صحت عبادتها لانها جمادات لاتضر لمن لايعبدها ولاينفع لمن يعبدها فکيف يصح عبادتها؟

قُلْ اَرَءَيْتُمْ مَّا تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَرُوْنِيْ مَاذَا خَلَقُوْا مِنَ الْاَرْضِ

او وايه ای محمد ﷺ "ارأيتم" حاصل يې دادی بالاتفاق تاسي خبر راکړئ، او دا استفهام لپاره د تقرير دی ای حمل المخاطب على الاقرار ليسکته في المناظرة "ما تدعون" ای تعبدونه کلمة د ما موصولة والعائد اليها محذوف کما اشرت اليه "من

دون الله" ماسوى لـه خداى ؒ څخـه چي مـراد ځني بتـان دي "اروني" تاسي ماتـه ووايـاست (دا تاكيد دى د ارأيتم) كوم شى دوى پيدا كړى دى له مځكي څخه.

پوه سه: چي من الارض بيان د ما دى او كلمه د ما استفهاميه منصوب محلاً مفعول به د خلقوا.

اَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِى السَّمٰوٰتِ ط

يا دوى لره شراكت سته د خداى ؒ سره "في السمٰوات" اى في خلق السمٰوات.

پوه سه: چي ام منقطعه دى په معنى د بل آه، كلمه د بل لپاره د انتقال ده، ما ذا خلقوا او همزه يې لپاره د انكار دى.

درويش وايي: چي علامه بغدادي ؒ د من الارض معنى داسي كړې ده اى من اجزاء الارض اى بقاعها بيا يې دا احتمال راوړى دى چي مراد ما على وجه الارض حيوان وغيره بتقدير المضاف بيا يې ويلي دي چي احتمال سته چي د ارض څخه دي مطلق سفليات مراد وي قال هو اولى، بيا ده السمٰوات اراده د مطلق علوياتو اولى بللې ده، وحاصل الكلام دادى چي تاسي خبر راكړئ د حال د خپلو خدايانو بعد فكر وترك التعصب چي آيا دا ستاسي عقلونه مني چي ستاسي خدايانو دي يو شى د اجزاء څخه د عالم سفلي يا علوي پيدا كړى وي يا دي د خداى ؒ سره شريكان وي په خلق كي، وكل منهما لايقبله عقل سليم من التعصب فكيف تجعلونها شركاء لله في استحقاق الشركة في العبادة معه تعالى: مصرع:

اين خيال است و محال است و جنون

نصيحت يناسب الانسانية والمخاطب فيها الرجال دي ظاهرًا.. بيت:

ياد دارى زر و ز زائدن تو..... خلق خندان بودند وتو گريان

يعني پلار مور او قريبان به خوشالۍ كولې، چا به ويل زوى مي پيدا سو چا به ويل ورور مي وزيږېدى، او تا به ژړل چي له شيريني مور څخه مي د نو پيوند په چاړه پرې سو كما يدل عليه التجربة چي د كوچني چي دايي يې له مور څخه په چاړه پيوند پرې كړي دى لويه بغاره وكړي.

همچنان زى كه روز مردن تو خلق گريان باشند وتو خندان.

چي پيدا سوې تا ژړل خلگو خندا کړه
هسي مړ سې چي ته خاندې خلک ژاړي

نو که انسان اراده په داسي ژوند وکړي په طاعت کي د رب العزة چي په ورځ د مرګ ستا خلک يعني مور، پلار او وروڼه مثلاً ژاړي څوک وای زوی مي مړ سو څوک وايي ورور مي مړ سو، او ته خاندې ولي ملکو به په زکندن کي پر تا زيري کړی وي چي لاخوف عليک ولاحزن، نه بيره سته پر تا ولي چي د اصحاب الجنة څخه يې او نه غم چي دنيا عبث را باندې تېره سوه، ولي د دنيا د ژوند حق دي پر ځای کړی وي په ايمان او په طاعت کي کما حقه.. مصرع

دا باران چي پر همه وو مځکو اوري .... مشرف يې کړی ذات د کيميا ولي

اِيْتُوْنِيْ بِكِتٰبٍ مِّنْ قَبْلِ هٰذَآ اَوْ اَثٰرَةٍ مِّنْ عِلْمٍ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝٤

تاسي ماته راوړئ يو کتاب من عند الله چي هغه کتاب شرک حق بولي د مخه تر دې قرآن چي ناطق بالتوحيد دی.

فائده: په قاموس کي وايي چي اثارة من الاثرة البقية من الشئ ځکه روح البيان يې داسي ترجمه کړې ده ای بقية کائنة من علوم الاولين شاهدة باستحقاقهم (ای الاصنام للعبادة) او روح المعاني بعينه دغه ترجمه کړې ده او تفسير کبير يې هم ورته ترجمه کړې ده وهکذا البيضاوي والقرطبي، او احمد د ابن عباس رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم څخه روايت کړی دی چي مراد له اثارة څخه خط دی (يعني يا يو خط راوړئ) "من علم" يعني له علم څخه د انبياء اولينو چي مستند و وحي قطعي ته وې چي شرک حق دی او هغه معنی مراد ده د مجاهد او عکرمه رحمهما الله بقولهما او رواية "ان کنتم صادقين" که تاسي ياست ای مشرکانو چي ان الله امرنا بعبادة الاوثان.

سوال: ان کنتم آه خو شرط دی جزاء يې څه شی ده؟

ځواب: جزاء يې له ماقبل څخه فهميږي (يعني فأتوني بها) وحاصل الآية چي هيڅ دليل عقلي يا نقلي پر صحت د عبادت د بتانو نسته بلکې عقل او نقل دواړه پر ضد د هغه دلالت کوي، سعدي شيرازي رحمه الله وايي:

برگ درختان سبز در نظر هوشيار ..... هر ورقی دفتريست معرفت کردگار

وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ يَّدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَنْ لَّا يَسْتَجِيْبُ لَهٗۤ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ وَهُمْ عَنْ دُعَآئِهِمْ غٰفِلُوْنَ۝٥

الاستفهام للانكار اى لا احد اضل عطف دى پر مقوله د قول يعني ارئيتم "ممن يدعوا" تر هغه چا چي عبادت كوي او حاجات غواړي، چي قبلونه يې نه سي كولاى ولو سمع دعائهم فرضًا "الى يوم القيامة" اى ما دامت الدنيا.

"وهم عن دعآئهم غٰفلون" الواو للحال اى والحال چي دوى يعني ماسواء الله چي دوى خواست ورته وكړى د دعا څخه ددوى غافله دي، ولي چي معبودات ددوى يا جمادات دي يعني بتان چي لايسمع ولايعقل يا عباد الله چي مشغول په خپلو احوالو سره دي لكه عيسىٰؑ چي نصارى ؤ ابن الله باله، يا عزيرؑ چي يهودان يې ابن الله بولي، يا ملائكه چي بني خزاعة يې بنات الله بولي او عبادت يې كوي.

سوال: والى يوم القيامة چي غاية د عدم استجابة د دعاء داسي فهميږئ چي وروسته تر وورځي د قيامت د هغو معبودانو اسجابة كيږي لان مفهوم الغاية معتبر بالاجماع؟

ځواب: مفهوم الغاية هلته معتبر دى چي د صريح منطوق څخه مخالف نه وي وههنا يخالف منطوق قوله تعالى واذا حشر الناس كانوا لهم اعداء الاية.

درويش وايي: چي علامه آلوسيؒ ددې سوال په دفع كي ډېري اوږدې خبري كړي دي ولا حاجة الى نقلها لان ما اوردنا كاف في دفعه كما لايخفىٰ.

وَاِذَا حُشِرَ النَّاسُ كَانُوْا لَهُمْ اَعْدَآءً وَّكَانُوْا بِعِبَادَتِهِمْ كٰفِرِيْنَ۝٦

او چي حشر كړل سي خلك يعني جمع كړل سي وهو يوم القيامة وي دا بتان چي د كافرانو معبودان وه، نو دې خلكو لره چي ددوى عبادت يې كاوه دښمنان يعني ضرر يې ورسيږي نفع يې نه ور رسيږي لكه د عابدينو چي خيال ؤ يعني چي موږ ته يې نفع را رسيږي، كريمه: هٰؤلاء شفعائنا الى الله "وكانوا بعبادتهم كافرين" او وي دغه بتان په عبادت سره د عابدينو منكر او ددوى تكذيب كوي چي دوى زموږ عبادت كاوه بلكې د شيطان عبادت يې كاوه او بتان خداىؐ پر خبرو راولي تبرئنا اليك ما كانوا ايانا يعبدون الآية.

درويش وايي: چي مفسرينو چي بزبان الحال ورسره زيات كړى لاحاجة اليه،

حاصل د آیت دادی چي د بتانو په دنیا کي عابدینو ته نفع نه رسیږي لکونها جمادات او په اخرت کي خو یې نفع نسته کما ظنوه بلکې ضرر دی ددوی لقوله تعالی وکانوا بعبادتهم کافرین، بلکې په حدیث شریف کي راغلي دي چي دغه بتان په اور کي ددوی سره یو ځای کړي چي داغ په ورکوي او کما قال فثبت مضمون قوله تعالی ومن اضل الآیة یعني ددې بتانو عبادت یې کاوه و ترکوا عبادة الله یعني علی وجه التوحید مع ان الله سمیع بصیر الخبیر النافع یعني لمن یوحده الضار لاعدائه یعني المشرکین الذین اشرکوا هؤلاء الجمادات معه في العبادة.

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ

چي تلاوت به وکړل سو پر دوی زموږ د آیتو چي مراد ځني آیتونه د قرآن عظیم الشان دي "بینات" چي واضح الدلالت وه پر حقیقت د هغو آیتو چي د اعجاز دلائل پکښې وه، کریمه: وان کنتم في ریب مما نزلنا علی عبدنا فأتوا بسورة الآیة.

پوه سه: چي واذا تتلی آه عطف دی علی قوله تعالی والذین کفروا عما انذروا معرضون.

قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلْحَقِّ

دا جزاء د اذا ده، ویل به هغه کسانو چي کافران للحق یعني په شان د حق چي مراد ځني آیاتنا دی.

سوال: آیات خو د مخه ذکر سوی دی نو په ځای د للحق یې ولي ضمیر راجع و ایاتو ته نه راوړی یعني لها، او دغه رنګه کافران خو هم د مخه ذکر سوي وه، نو الذین کفروا په ځای کي ضمیر د علیهم ولي نه راوړی؟

ځواب: اسم ظاهر د حق چي یې راوړی په ځای د ضمیر د لها لپاره د حکم پر آیاتو په حقیت سره او په صدق سره او علیهم ضمیر د ضمیر یې په ځای کي چي الذین کفروا د اعلان د کفر ددوی والانهماک في الضلالة والله اعلم.

لِلْحَقِّ لَمَّا جَاءَهُمْ هَٰذَا سِحْرٌ مُبِينٌ ۝

یعني بالفور بیله غور کولو په آیاتو کي ناپه د سحر بې پر ولګول "هذا" ای القرآن په دې غرض دفع د سوال ده چي د مخه خو قرآن نه دی ذکر سوی بلکې ایاتنا ذکر سوی

دی، نو بايد هذه په تانيث سره ذکر سوی وای، وحاصل الجواب چي اياتنا او قرآن يو شی دی "سحر مبين" دا قرآن سحر دی او سحروالی يې هر چاته ښکاره دی.

أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ ۖ قُلْ إِنِ افْتَرَيْتُهُ فَلَا تَمْلِكُونَ لِي مِنَ اللَّهِ شَيْئًا ۖ

ام منقطعه دی په معنی د بل آه بل يې لپاره د اضراب دی من قولهم انه سحر الی قولهم انه مفترا او همزه لپاره د انکار او تعجيب دی (يعني در تعجب انداختن مردم را از قول ايشان) ته ووايه چي که ما قرآن افتراءً په خدای پوري تړلی وي نو تاسي قادر نه ياست پر دې چي د ما څخه دي دفع کړئ د عذاب څخه د خدای يو شی، نوزه به ولي دلاوري کوم او خپل ځان به وعقاب ته د خدای اماده کوم او سره د دې چي په دې افتراء علی الله کي ما ته څه نفع راجع کېږي او نه دفع د ضرر را څخه کېږي ستاسي له خوا څخه، او زه هم سليم العقل يم دې کار ته يعني افتراء علی الله ته به څرنګه دست اندازي کوم.

هُوَ أَعْلَمُ بِمَا تُفِيضُونَ فِيهِ ۖ كَفَىٰ بِهِ شَهِيدًا بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ ۖ

او خدای خبر دی په هغه خبرو چي خوض يعني بحث کوي په هغو خبرو کي کفار د مکې يعني چي تکذيب د آياتو د خدای کوي او سحر "کفیٰ به" الباء زائدة په صله کي د کفیٰ في جميع القرآن لان کفی متعدي بنفسه دی، نو ضمير د به مرفوع محلاً دی فاعل د کفیٰ دی "شهيدًا بيني وبينکم" يعني خدای شاهد دی زما پر صدق په دعوی کي د رسالت بسبب خلق المعجزات الباهرات علی يدي، او خدای شاهد دی پر دروا غو ستاسي په نسبت کي سحر او د افتراء پر ما وهو وعيد شديد لهم لجزاء ذالک في الدنيا لکه په بدر کي او په اخيرت کي يعني بالادخال في دار البوار جهنم ذات القرار.

وَهُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ۝٨

او خدای پاک غفور دی لمن تاب عن الشرک او مهربان هم دی چي تعجيل په عقوبت د کفارو نه کوي مع عظيم جريمتهم.

فائده: کل من السحر و الافتراء علی الله کفر لکن الافتراء علی الله اشنع من السحر فتدبر.

حکايت: از ابو يزيد البسطامي قدس سره قومی پرسيدند که قومی ميگويند

که کليد بهشت لا اله الا الله است، بايزيد گفت بلی ولکن کليد بی دندان در بازنه کشايد ودندان او چهار است، زبان از دروغ وغيبت وبهتان دور کردن ودل از مکر وخيانت صافی، وشکم از حرام وشبهت خالي وعمل از هوا وبدعت پاک انتهی قوله الجامع للخيرات.

قُلْ مَا كُنْتُ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ وَمَآ اَدْرِيْ مَا يُفْعَلُ بِيْ وَلَا بِكُمْ

ته ورته ووايه و کفارو ته د مکې چي زه نه يم بديعًا (يعني نوی) يعني اول د رسولانو چي ما دعوی د رسالت کړې ده چي تر ما دمخه دغه دعوی د رسالت هيڅ چا نه ده کړې بلکې تر ما دمخه خدای ډېر رسولان را استولي دي، نو تاسي ولي انکار زما له رسالت څخه کوئ بعد شهادة المعجزات على صدقي، البته که په نوع کي د انسان دعوی د رسالت چا نه وای کړې نو تاسي ته به تعجب معلومېدای، نو که تاسي زه مفتر بللی حق په جانب واست لکن چونکه خدای چي د انسانو نوع يې په مځکي کي نشر کړې ده د هغې سره يې دعوی د رسالت هم پرانېزلې ده، د دعوی د رسالت زما ځای د انکار او تعجب نه دی البته د محق او مبطل په دې دعوی کي د رسالت په کار دی هغه معجزاتي دي چي د طوق د بشر وتلي دي، نو تاسي ته هيڅ دليل د انکار نسته فما لکم لاتؤمنون.

پوه سه: چي مخکني آيت کي اول ما نافيه دی او دوهم ما يا موصوله دی منصوب دی په يفعل سره يا استفهاميه دی مرفوع، او کلمه د لا لپاره د تاکيد د نفي ده، بعض مفسرين وايي يعني په دنيا کي مثلاً چي نصرت او غلبه به زما نصيب وي او که ستاسي، او بعض مفسرين وايي چي په يوم القيامة کي.

درويش وايي: چي دا آيت چي نازل سو مشرکان خوشحاله سوه او وه يې ويل واللات والعزی ما امرنا وامر محمد عند الله الا واحد وماله علينا بفضيلة او که دی مبتدع په دعوی کي د رسالت نه وای نو هغه چا چي دی را استولی ؤ دی به يې خبر کړی وای په ما يفعل به، فانزل الله ليغفر لک الله ما تقدم من ذنبک وما تاخر، نو صحابه کرامو ووېل هنيئًا يعني مبارک دی ستا يا نبي الله قد اعطاک الله ما يفعل بک لکن لانعلم يفعل بنا فانزل الله ليدخل الله المؤمنين والمؤمنات جنات

الآية، وايضًا انزل وبشر المؤمنين بان لهم من الله فضلاً كبيرًا فبين الله مايفعل بهم، قال البغوي رحمه الله وهذا قول انس وقتاده وعكرمه رضي الله عنهم.

درويش وايي: چي دا قول كه څه هم بغوي رحمه الله و هؤلاء السادات المذكورين ته منسوب كړى دى لكن شايد په اسنادو كي د بغوي رحمه الله تر هؤلاء السادات پوري يا ضعيف يا انقطاع وي، له دې كبله مخلص خاص د بغوي يعني المظهري داسي ويلي دي، وهذا القول عندي غير مرضي، ولي يو سورت له سورتو څخه غالبًا كه مكي وي او كه مدني وي په هغه سورت وعده د مؤمنين (يعني وعده د ثواب او د جنت في يوم القيامة) او د وعيد د كافرانو (يعني وعده د عذاب او دوږخ في يوم القيامة د كافرانو سره) دواړه وعد او وعيده موجود دي، نو څرنگه به صحيح وي ولا ادري ما يفعل بي ولا بكم (يعني په اخرت كي)

پوه سه: چي اول وحي راغلي دي چي خداى پاک و عليه الصلوة والسلام ته وويل وانذر عشيرتک (يعني بعذاب الله ان لم يؤمنوا) نو له دې آية څخه خو صراحةً دا معلومه سوه چي و عليه الصلوة والسلام ته خو حال د كافرانو په قيامت كي معلوم ؤ او هم په دغه سورت كي راغلي دي وهذا كتاب لسانًا عربيًا لينذر الذين ظلموا (اى كفروا) وبشر المحسنين، نو له دې آيت څخه هم دا معلومه سوه چي عليه الصلوة والسلام د كافرانو او د مؤمنانو په ورځ د قيامت معلوم ؤ (يعني په نزول د دې آيت د قرآن) وايضًا قال الله عزوجل ان الذين قالوا ربنا الله ثم استقاموا فلا خوف عليهم ولاهم يحزنون، اولئک اصحاب الجنة الآية، يعني چي وروسته بيا د كافرانو حال بيان سوى دى اولئک اصحاب النار، نو د دې آيتو د وعد او وعيد په رڼا كي څرنگه ممكنه ده چي عاقبت د مؤمنانو او كافرانو يعني د ورځي د قيامت غير معلوم و عليه الصلوة والسلام ته وي فماذا نقول في جواب هذه الآيات، او پر دې تقدير چي دا حالات د مؤمنانو او د كافرانو په قيامت كي و عليه الصلوة والسلام ته معلومي نه وي خو هغه اعتراض د كافرانو كما مر، يعني ما امرنا وامر محمد عند الله الا واحدًا ومانرى لک (يا محمد) علينا من فضل فاى فائدة في ترک دين الآباء واتباع الرسل.

درويش وايي: چي هغه خبره چي بعض مفسرينو كړې ده لپاره د تصحيح د

احتمال د ورځې د قیامت په آیت کې د وما ادري آه (ای تفصیلاً) یعني چې د مؤمنانو په جنت کې کوم قسم قسم مېوې سته او څومره حوري او غلمان سته او په دوږخ کې څونه لړمان او ماران او شجرة الزقوم سته الی غیر ذالک فلا یدفع سوال الکافرین ما امرنا وامر محمد ؑ آه کما لایخفی.

درویش وایي: چې دد دې آیت وما ادري ما یفعل آه روح البیان یو ډېر زیبا او په زړه پوري تفصیل کړی دی، دی وایي وما اعلم ای شیئ یصیبنا فیما یستقبل من الزمان والی ما یصیر امرنا وامرکم في الدنیا، ولي چې بعض انبیاء علیهم السلام قد کان سالمًا من المحن ومنهم من یمتحن بالهجرة من الوطن ومنهم یبتلوا بانواع الفتن وکذالک امم الانبیاء في الدنیا منهم من اهلک بالخسف ومنهم من هلک بالقذف بالحجارة وکذا بالمسخ بالقردة والخنازیر، ومنهم هلکوا بالریح ومنهم بصیحة جبرئیل ؑ ومنهم من هلکوا بالغرق الی غیر ذالک ثم عرفه الله (ای النبي ﷺ) حاله بالهجرة من مکة الی المدینة وعلمه بالعصمة من الناس، واخبره ان دینه یظهر علی الادیان کلها ویسلطه علی اعدائه الی غیر ذالک انتهی.

پوښتنه: البغوي ؒ په خپل سند سره د خارجة بن یزید څخه روایت کړی دی چې ده وویل ام العلاء الاریة چې څه وخت چې مهاجرین د مکې مکرمې مدینې منورې ته راغله (نو چونکه مهاجرینو نه کور درلودی نه ډودی، نو په امر د علیه الصلوة والسلام انصارو ؓ قرعه کشي وکړه پر سکنی وغیر ذالک د مهاجرینو چې دی په هغه زمانه کې اخوة وویل کېدی یعني ورور ولي) نو زموږ په قرعه کې عثمان بن مظعون ؓ په برخه سو في السکنی یعني وغیرها من الامور الضروریة، څو زمانه وروسته عثمان بن مظعون ؓ مریض سو، دا وایي چې موږ یې د دوا وغیره دده ډېر حسب الطاقة خدمت وکړی اخیر الامر داعي الاجل ورسېدی وفات سو، علیه الصلوة والسلام دده له وفات څخه خبر سوی ؤ نو زموږ کور ته راغلی ام العلاء ؓ وایي چې زه هم ورغلم ما داسي وویل رحمة الله علیک ابا السائب (چې د عثمان بن مظعون ؓ کنیت ؤ) شهادتي (یعني زه شاهدي اداء کوم چې) اکرمک الله، فقال النبي ﷺ ما یدریک ان الله قد اکرمه قلت لا والله لا ادري (قسم په خدای دی چې زه په اکرام د خدای ده لره نه یم خبره) فقال رسول الله ﷺ اما هو فقد اتاه الیقین (ای الموت) من ربه وانی لارجوا له الخیر (زما امید دی

چي ده ته به خداىٔ خير ورکړي) والله ما ادري و انا رسول الله ما يفعل بي ولابکم، ام العلاء وايي چي فوالله لا ازکی احدًا بعده ابدًا، دا وايي چي څو ورځي وروسته ما عثمانؓ په خوب وليدی چي يوه چينه د جاري اوبو يې درلوده، نو خوب مي و عليه الصلوة والسلام ته ووايه، فقال ذالک عمله، نو حاصل د سوال دادی چي ددې حديث په ښکاره طور معلومېږي چي قول د هغه چي وايي معنی د آيت متلوه يعني ما ادري ما يفعل بي ولا بکم سره مراد د احوال د يوم القيامة ده والا فما معنی هذا الحديث؟

الجواب: معنی ددې حديث داده انه لايجوز الحکم قطعًا علی شخص معين لکه عثمان بن مظعونؓ بالنجات والاکرام عند الله او العذاب عند الله في يوم القيامة لانه ادعاء د علم الغيب ده ولا علم بالبواطن والسرائر الا لله سبحانه وتعالی، او قبلاً چي موږ ويلي وه چي حال د اخرت د مسلمانانو او کافرانو في يوم القيامة په قرآن سره ثابت دی هغه خو دا ؤ چي دا ثابته په قرآن سره ده چي مؤمنان مطلقًا علی الاجمال اهل النجات دي او کافران مطلقًا اهل العذاب دي، ولا منافات بين عدم جواز الحکم بالاکرام عند الله علی شخص معين لانه من الغيب الذي لا يعلم الا الله وبين الحکم علی طائفة المؤمنين والکافرين علی الاطلاق لانه ثابت بالقرآن، وحیٔ المراد في هذا الحديث بقول النبي ﷺ وما ادري وانا رسول الله ما يفعل بي ولا بکم في جزاء کل عمل مخصوص وانما قال ذالک مبالغة في سد دعوی علم الغيب، ولا يجوز مثل هذا التأويل في الآية المتلوه يعني وما ادري ما يفعل بي ولا بکم لان الحکم هنالک مردد بين الذات الانور ﷺ وبين ذوات الخبيثة للکفرة فان کان حال يوم القيامة فهو معلوم بالقرآن فما معنی النفي بخلاف احوال الدنيا کما مر نقلاً من روح البيان.

سوال: احوال د دنيا خو هم په قرآن سره ثابت وه قال الله انا لننصر رسلنا الآية؟

ځواب: دا خو يو شخصي حکم د دنيا دی مقصود په لا ادري ما يفعل بي نفي جميع احوال د دنيا دي فافهم.

درويش وايي: چي والکلام في تفسير الآية المذکورة وان افضی الی التطويل لکن د شکوکو او د شبهاتو قمع او قلع من کل الوجوه وسوه ان شاء الله العزيز بتوفيق الملک العزيز.

اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوْحٰى اِلَيَّ وَمَآ اَنَا اِلَّا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۝

زه متابعت نه كوم مګر نه د هغه شي چي ماته يې وحي كړه سوي دي (يعني له جانبه څخه د خداى ج) چي قرآن مبارک دى يعني لا اتركه ابدًا.

شان نزول: د مكې كفارو اراده درلوده له رسول الله ﷺ څخه چي ته زمونږ د دين متابعت وكړه او دوى طمع و عليه الصلوة والسلام ته وركول د جمع د اموال كثيره دده لپاره چي اغنى الناس به په مكه كي دى وي او په نكاح وركولو د ډېرو لوښو خپل بلا سوق مهر، او دى ع به يې ډېر ازاراوه او بېراوه به يې پر ترک د اتباع د دوى د دين، نو مقتضى د مخ د آيت او ددې آيت داده چي عليه الصلوة والسلام دوى ته خبر وركړى چي انه لا يطمعهم ولا يخافهم كما قالوا، او دا يې ورته وويل چي تاسي قدرت نه لرئ پر هغه شي چي تاسي يې اراده وكړئ (يانفع يا ضرر وماته) بل النفع والضرر كلاهما من الله يحكم ما يشاء ويحكم ما يريد فمعنى الآية السابقة لا ادري ما يفعل ولا بكم من النصر والهزيمة يعني ترک النصر چي شكست ورته وايي وانا لا اتبعكم على شيئ من التقادير بلكې ان اتبع الآية، بيضاوي په شان نزول كي د آيت متلوه داسي ويلي دي چي آيت جواب د هغه غوښتني د كافرانو د مكې دى چي ته مونږ ته اخبار د هغه وكړه چي تا ته يې وحي نه وي كړه سوي.

درويش وايي: چي دا شان نزول غير مرضي دى ولي دوى په غيب څه پوهېدل البته كه ددوى مراد دا وي چي مونږ ته قصه د روستم او اسفنديار وكړه چي تا ته يې وحي نه دي كړه سوي او دوى دا قصه د تاريخ د لاري اورېدلې وه لكان لقول البيضاوي وجه فافهم، او بعض مفسران وايي چي بعض مسلمانان د ژر خلاص والي له ازاره څخه د كفارو تعيين د تاريخ غوښتى وبه قال البغوي ج، او بعض مفسرين وايي لما اشتد البلاء بالمسلمين في مكة نو عليه الصلوة والسلام چي دى په مكه كي ؤ خوب يې ليدى چي يوې مځكي ته چي اكثره يې ښره وه او د خورما درختي هم پكښې وې چي ته به دغي مځكي ته هجرت كوې فقال له ٤ اصحابه متى تهاجر فسكت ونزل ان اتبع الا مايوحى الي، كذا قال ابن سباس.

فائده: علم بالغيب مختص دى بالذات په خداى ﷻ پوري، واما اخبار الانبياء عليهم السلام والاولياء رحمة الله عليهم فبواسطة الوحي والالهام، ومن هذا القبيل اخباره عليه

الصلوة والسلام عن اشراط الساعة وما يظهر في اخير الزمان من غلبة البدع والاهواء كما في كتب الآحاديث الشريفة، وكذا اخباره ﷺ لاصحابه اول من يدخل من هذا الباب رجل من اهل الجنة (نو اصحابو ټولو و هغې دروازې ته سترګي نيولي وې) چي عبد الله بن سلام رضي الله عنه داخل سو، نو بعض صحابه كرام رض ور ولاړ سوه نو عبد الله بن سلام رض يې په ما قال ؟ سره خبر كړی او اصحابو رض ده ته وويل كه موږ خبر كړې په اوثق عمل سره خپل چي ته اميد ورته لرې، ده ورته وويل چي زه ضعيف يم وان اوثق ما ارجوه سلامة الصدر (يعني من النفاق والشكوك) او بل ترک ما لا يعنيني (او بل هغه زه نه كوم چي هغه زما په ښه نه راځي) ومثل هذا الالهام ما نقل عن سيد الطائفة الجنيد البغدادي قدس سره، دی وايي چي ما ته زما ماما وويل يعني السري السقطي رح چي تكلم على الناس چي سبا خبري يعني وعظ وكړه خلګو ته، جنيد رح وايي چي ما خپل ځان قابل د وعظ او تبليغ لائق نه باله، نو ما نبي ﷺ په خوب وليدی چي شپه هم د جمعې وه، ما ته يې وويل چي په ورځ د جمعې خلګو ته وعظ او تبليغ وكړه، فقعد (ای للوعظ) من غدٍ چي ورځ د جمعې وه، دمخه تر دې دروازې ته د ماما يعني السري السقطي رح ورغلم چي د خوب قصه ورته وكړم، نو زما د بيان كولو دمخه مي ماما راته وويل: لم تصدقنا (زما تصديق دې نه كاوه يعني چي ما درته وويل چي ته وعظ وكړه) حتى قيل لک يعني من جانب رسول الله ﷺ، نو هغهٔ چي د جمعې په ورځ و تبليغ او وعظ ته په مجمع عظيم كي كښېنستم، نو ډېر په زړه پوري وعظ مي وكړی.

قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كَانَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ وَكَفَرْتُمْ بِهٖ

ته ووايه يا محمد (ﷺ) و كفارو ته د مكې چي تاسي خبر راكړئ چي ستاسي حال به څه وي، كه وي قرآن له جانب څخه د خدای ؟، يعني لكه زه چي درته وايم "وكفرتم به" دا جمله حال ده په تقدير د قد كما هو القانون النحوي في الماضي الواقع حالاً، والتقدير قد كفرتم به ايها المشركون.

وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ عَلٰى مِثْلِهٖ

"وشهد شاهد" دا جمله هم حال ده په تقدير د قد او شاهدي اداء كړې وه يعني تصديق د قرآن يې كړی وُ "من بني اسرائيل" له بني اسرائيلو څخه، قتاده او

الضحاک وايي چي دا شاهد عبدالله بن سلام بن الحارث د يوسف عليه السلام له اولاد څخه (يعني بالوسائط) يعني يوسف بن يعقوب بن اسحاق بن ابراهيم عليهم السلام "عَلٰى مِثْلِه" بعض مفسرين وايي چي لفظ د مثل زائد دى و ضمير مثله راجع الى القرآن فالمعنى شهد شاهد على القرآن يعني انه من عندالله، او يا لفظ د مثل زائد نه دى فالمعنى شهد شاهد على مثل ما قلتم ايها المشركون يعني ان القرآن من عندالله نه دى اى قبل الاسلام او روح البيان يې هم زائد نه بولي اى مثل القرآن من المعاني المندرجة في التورات من التوحيد والوعد والوعيد والجنة والنار وغير ذالک، فان ذالک الامور التي آمن به عبدالله في التوراة مثل ما في القرآن بل عينها في الحقيقة.

درويش وايي: چي مسروق له دې څخه منكر دى چي نزول دد دې آيت دي په عبدالله بن السلام كي وي، وقال (يعني په صريح قسم سره) والله ما نزلت فيه لان سورة آل حم نزلت بمكة او اسلام د عبدالله بن السلام خو په مدينه منوره كي ؤ، ده زياته كړې ده چي دا آيت په دليل ويلو كي د رسول الله ﷺ د خپل قوم سره (چونكه پر مسروق دا سوال وارديدى چي ستا پر تقرير د شهد شاهد من بني اسرائيل څخه نو په دې آيت كي څوک مراد دى؟) ده په جواب كي داسي ويلي دي چي مراد شهادت د موسٰى عليه السلام دى او شهادت د موسٰى عليه السلام ما في التورات من خبر بعثة محمد ﷺ على مثله اى مثل القرآن وهو ما في التورات من الآيات المصدقة للقرآن فآمن موسٰى واستكبرتم يا معشر قريش عن الايمان بمحمد ﷺ والقرآن، وجواب الشرط وهو قوله تعالى ان كان من عندالله آه محذوف تقديره فمن اضل منكم او لستم ظالمين انتهى قول مسروق.

درويش وايي: چي كه د ايمان د عبدالله بن السلام تو له قصه راوي كړې واى نو انكار د مسروق به پاى ته رسيدلى واى، وتمام قصة داده: روى البخاري والبيهقي عن موسٰى بن عقبة وعن ابن شهاب قال عبدالله بن السلام لما سمعت رسالة محمد ﷺ وهو بمكة او ما د خلكو څخه دده نوم او هيئت هغه ټوله د تورات سره برابر وه و علمت انه الذي نتوقع (وهذا منه الايمان من عبدالله في الحقيقة بنبوته) عبدالله بن السلام وايي فكنت مسرًّا كذالک، دا حال ما پټ ساتلى ؤ او پټه خوله وم حتى قدم رسول الله ﷺ نزل معنا في بني عمر بن عوف فاخبرني رجل بقدومه او زه د خورما د درختي په